Scanned with CamScanner

کفایت دینی کتب خانه

په دی چینل کی دتلیگرام کتابونه نشرکیږی
دحنفی مذهب په رڼاکی
لکه تفاسیر شریف
اوفقه شریفه
اوفتاوی؟
د درجون کتابونه
اوداسی نور کتابونه لکه.
صرف اونحو
اومنطق
اوعقائد
نوهیله لرم چی دالینک دثواب په خاطر نشر کړی
https://t.me/kafayat2395

کفایت الله واٹس ایپ نمبر 03052488551

د دا کتاب pdf کول خاص د الله تعالی د رضا د پاره دی

د ټولو لوستونکو او فایده اخستونکو
د دعا په هیله

د مانځه د مختلفو موضوعاتو متعلق ضروري بحثونه ، او ډير را پيښيدونکي
آهم فقهي مسائل

اِصلاحي مُدَلَّل تقرِيرُونه

جلد ۸

تاليف

اَبُو الشَّمس مولانا نُورُالهُدىٰ عُفِيَ عَنْهُ
مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القُرآن اکاخيل کالونی ، مردان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د کتاب نوم : اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنَه جلد ۸

مؤلف : اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيض القرآن اکاخيل کالوني مردان

فون نمبر ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴

کمپوزر : مؤلف پخپله

د چاپ کال : ۱۴۳۹ھ ق ، ۱۳۹۶ھ ش، مطابق ۲۰۱۸ ء

مکتبه اعزازيه

محله جنگي پشاور

زير اهتمام : کفايت الله ارماني ۰۳۴۴-۹۹۹۵۹۹۰

Scanned with CamScanner

سریزه (د اتم جِلد)

نَحۡمَدُهٗ وَنُصَلِّيۡ عَلٰی رَسُوۡلِهِ الۡکَرِیۡمِ . اَمَّابَعۡدُ!

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ . اَلشُّکۡرُ لِلّٰهِ . ددې کتاب آتم (۸) جِلد هم ستاسو په لاس کې دی، د شپږم جلد په آخر کې مې دا خبره لیکلې وه چې اِنۡ شَآءَ اللّٰه په اُووَم جلد کې به د مانځه، روژې، حَج او جهاد متعلق تقریرونه لیکم، خو لیکن تاسو ته به د تېرو کتابونو نه زما طبعیت معلوم شوې وي چې کله زه یوه موضوع راشروع کړم نو تر هاغه وخته پورې مې پوره تسلّي نه کیږي چې تر څو پورې مې ددې موضوع هر اړخ نه وي واضح کړی.

نوچې کله مې خپلې خبرې ته د عمَلي جامې وَراغوستلو په خاطر په اُووَم جلد کې د مانځه موضوع شروع کړه نو هغه مې دومره په تفصیل او دلائلو سره اولیکله چې په هغې کې صرف پنځه موضوع ګانې ځای شوی ، فِقهي مسائل او د مانځه متعلق بعضې اهمې موضوع ګانې هم په کې پاتې شوی.

بیا مې چې په دې آتم جلد کې د مانځه متعلق آهم او ضروري فِقهي مسائل راشروع کړل نو دا مې هم داسې د مُعتمدو حوالو او تفصیل سره اولیکل چې په دې جلد کې صرف فِقهي مسائل راغلل او نورې موضوع ګانې بیا پاتې شوی.

اِنۡ شَآءَ اللّٰه زما حَوصله مضبوطه ده، او همدې ته مې توَجّه ورکړې، په کومو موضوع ګانو باندې مې چې د شپږم جلد په آخر کې د لیکلو تذکره کړې وه هغه به هم پوره کوم، او ورسره به دا سلسله همداسې جاري ساتم، ځکه تر اوسه ډیرې آهمې موضوع ګانې د لیکلو نه پاتې دي.

مونځ چونکه ډیر اهم عبادت دی ، او ددې بعضې مسائل ډیر پیچیده دي، نو په همدې خاطر مې په دې اتم جلد کې صرف د مانځه متعلق اهمې او زیاتې راپیښیدونکې مسئلې راجمع کړي .

لهذا خطیبان کولې شي چې په اووم جلد کې د مانځه متعلق کوم تقریرونه ذکر دي د هر تقریر په آخر کې ددې فقهي مسائلو نه څه مسائل هم بیان کړي.

ورسره ورسره که د جماتونو امامان هره ورځ خپلو مقتدیانو ته ددې فقهي مسائلو نه یوڅو مسائل بیانول شروع کړي نو فائده به یې نوره هم عامه شي ، ځکه هر کس به د مانځه د ضروري فقهي مسائلو نه هم خبر شي ، او په خپله به ده ته هم یادې پاتې شي .

خوشخبري : اِنْ شَاءَ الله **نهم (۹) جلد** به هم ډیر زر

راأووځي ، او د الله ﷻ په توفیق سره به دا سلسله همداسې جاري وي .

ربِ کریم دې دا ټول کتابونه د خپلې رضا ذریعه اوګرځوي ، پروردګارِ عالَم دې دا د معاشرې د اِصلاح سبب اُوګرځوي ، او رَبِّ لایزال دې دا کتابونه زما ، زما د والدینو ، اُستاذانو او ټول اُمتِ مُسلمه د پاره د مغفرت او نجات ذریعه اوګرځوي .

آمین یَارَبَّ الْعَالَمِین .

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ

ستاسو د دُعاؤ اُمیدوار :

ابوالشمس نُورُالهدیٰ عفی عنه

نوټ : که د کتاب متعلق یا بل څه مفیده مشوره وي نو مؤلف سره په دې نمبر رابطه کولې شئ . موبائل نمبر : ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اجمالي فهرست

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

نمبرشمار	موضوع	صفحه
.۴۳	۲. د سورة فاتحې سره يو سورة ، يا درې آيتونه ويل	۲۲
.۴۴	۳. د فرضو اول دوه رکعتونه د قرأت د پاره مُتعيّن کول واجب دي	۲۳
.۴۵	۴. سورة فاتحه د سورة نه مخکې ويل واجب ده	۲۴
.۴۶	۵. قومه ۶. جَلسه . ۷. تعديل د آرکانو	۲۴
.۴۷	۸. د ترتيب لحاظ ساتل واجب دي	۲۶
.۴۸	۹. اوله قعده کول واجب ده	۲۶
.۴۹	۱۰. په دواړو قعدو کې تشهّد ويل واجب دي	۲۷
.۵۰	۱۱. د امام د پاره په جَهري مونځونو کې په زوره ، او سرّي مونځونو کې په پټه قرأت کول واجب دي	۲۸
.۵۱	۱۲. د مانځه نه په لفظ د سلام سره وتل واجب دي	۲۹
.۵۲	۱۳. د وِترو په دريم رکعت کې د دُعای قُنوت د پاره تکبير ويل ، او دُعای قنوت لوستل واجب دي	۲۹
.۵۳	۱۴. د عيد الفِطر او عيدُ الاضحی په مانځه کې زياتي شپږ تکبيرونه ويل واجب دي	۳۰
.۵۴	چې په مانځه کې واجبات پاتې شي ددې حُکم	۳۱
.۵۵	**د مانځه سنت (اِجمالا)**	۳۲
.۵۶	**د مانځه سُنت (سره د دلائلو)**	۳۳
.۵۷	۱. د تکبيرِ تحريمه په وخت لاسونه د غوږونو پورې اوچتول سُنت دي	۳۴
.۵۷	۲. د تکبيرِ تحريمه په وخت ګوتې قِبلې طرف ته په خپل حالت ګلاؤ پريخودل	۳۴
.۵۸	۳. د تکبيرِ تحريمه په وخت سَر نه ښکته کول سُنت دي	۳۴
.۵۹	۴. د اِمام د پاره په قدر د حاجت په زُوره تکبير ويل سُنت دي	۳۵
.۶۰	۵. د سړي د پاره خي لاس په چَپ لاس باندې د نامه نه لاندې اِيخودل....	۳۵
.۶۱	۶. سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ ... تر آخِره پورې ويل سُنت ده	۳۶
.۶۲	۷. أَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ په پټه ويل سُنت دي	۳۶

نمبر شمار	موضوع	صفحه

نمبرشمار	موضوع	صفحه
۱۱۸	۵. دخاورو نه‌ېچ کولو د پاره، یا سجدې ته د تللو په وخت کېږې راغونډول، همدارنګې لستونړي د څنګلو پورې رابډ وهلو په حالت کې مونځ کول	۷۵
۱۱۹	٦. په مانځه کې د سپي په شان کیناستل	۷۵
۱۲۰	۷. په مانځه کې د ګوتو نه تسونه ویستل، یا د یو لاس ګوتې د بل لاس په ګوتو کې ورکول	۷۷
۱۲۱	۸. په مانځه کې په مَلا، چُختو، یا تشو باندې لاسونه اېخودل	۷۸
۱۲۲	۹. د سړو د پاره د سجدې په وخت دواړه څنګلې په زمکه غوړول، او خپټه د ورنونو سره جَنګول	۷۹
۱۲۳	۱۰. داسې چا طرف ته مونځ کول چې د هغه مَخ مونځ ګزار طرف ته وي	۷۹
۱۲۴	۱۱. هره پیره سجدې ته د تللو په وخت د سجدې د ځای نه کانې صفا کول	۸۰
۱۲۵	په مانځه کې د تَندې نه خاورې وغیره صفا کول هم مکروه دي	۸۱
۱۲٦	۱۲. په مانځه کې څادر یا بله کپړه د ځان نه داسې تاوول چې د هغې نه په آسانه لاسونه نه را اُوځي	۸۲
۱۲۷	۱۳. په مانځه کې اِعتجار مکروهِ تحریمي دی	۸۲
۱۲۸	۱۴. په مانځه کې په څادر وغیره سره خُوله او پوزه پټول	۸۳
۱۲۹	۱۵. په مانځه کې قصدًا خُوله وازې (اَسویلې) کول	۸۳
۱۳۰	۱٦. په داسې جامو کې مونځ کول چې په هغې کې د ذِي رُوح تصویرونه وي	۸۵
۱۳۱	۱۷. په شاته صَف کې ځان له اُودریدل مکروهِ تحریمي دي	۸۷
۱۳۲	۱۸. اِمام د پاره د مقتدیانو نه اُوچت اُودریدل مکروهِ تحریمي دي	۸۸
۱۳۳	۱۹. د مُقتدي د پاره د امام پسې قِرأت کول مکروهِ تحریمي دي	۸۹
۱۳۴	په جهري مونځونو کې د قِرأت نه کولو دلائل دادي	۸۹
۱۳۵	د مقتدي د پاره په سِرّي مونځونو کې د قِرأت نه کولو دلائل دادي	۹۱
۱۳٦	د فقهاء کرامو اقوال	۹۴
۱۳۷	دیو څو فتاوو عبارات	۹٦

Scanned with CamScanner

نمبرشمار	موضوع	صفحه

نمبرشمار	موضوع	صفحه
۲۳۴	د بیمارۍ په حالت کې د قضاء شوو مونځونو حکم	۱۸۸
۲۳۵	د یو مونځ فِدیه به په ډیرو فقیرانو نشي تقسیمولی ، البته د ډیرو مونځونو فِدیه یو فقیر ته ورکولی شي	۱۸۹
۲۳۶	د نفلو په ځای قضاء مونځ راګرځول بهتر دي	۱۹۰
۲۳۷	د قضاء مونځ د پاره څه خاص وخت مُقرر نه دی	۱۹۱
۲۳۸	چې مونځ قضاء شي نو فورًا اَداء کول په کار دي	۱۹۲
۲۳۹	په بعضې خلقو باندې د مانځه قضاء نشته	۱۹۲
۲۴۰	د سُنتو قضاء ضروري نه ده	۱۹۳
۲۴۱	قضاء مونځ په جُمات کې په ښکاره طریقې سره په کار نه دی	۱۹۴
۲۴۲	**د رمضانُ المبارک په آخِري جمعه کې مُرَوّجه قضاء عُمري کول بِدعت ده**	۱۹۵
۲۴۳	په مُروجه قضاء عُمرۍ کې ډیر مَفاسِد دي	۱۹۷
۲۴۴	د مروّجه قضاء عُمرۍ د ثبوت د پاره د غزوه خندق او لیلة التّعریس د احادیثو نه اِستدلال کول صحیح نه دی	۱۹۹
۲۴۵	د مروّجه قضاء عُمري کوونکو خلقو بې اَصله دلائل ، او د هغې جوابات	۲۰۵
۲۴۶	د مروّجه قضاء عُمري کوونکو خلقو اول دلیل	۲۰۶
۲۴۷	جواب	۲۰۶
۲۴۸	د مروّجه قضاء عُمري کوونکو خلقو دویم دلي	۲۰۸
۲۴۹	جواب	۲۰۸
۲۵۰	د مروّجه قضاء عُمري کوونکو خلقو دریم دلیل	۲۰۸
۲۵۱	جواب	۲۰۹
۲۵۲	د مروّجه قضاء عُمري کوونکو خلقو څلورم دلیل	۲۰۹
۲۵۳	جواب	۲۰۹
۲۵۴	د مروّجه قضاء عُمري کوونکو خلقو پنځم دلیل	۲۰۹

نمبر شمار	موضوع	صفحه
۲۷۶	په هر رکعت کې يو مُعَيّن سورت ويل	۲۳۵
۲۷۷	که په هېره سره يې په اول رکعت کې سورۃُ الناس وويل نو په دې نورو کې به هم همدا سورت وايي	۲۳۶
۲۷۸	په يو رکعت کې يو سورت يا يو آيت بار بار ويل	۲۳۶
۲۷۹	په مانځه کې د خلافِ ترتيب سورتونو ويلو حکم	۲۳۷
۲۸۰	د دوه سورتونو په مينځ کې ورو کې سورة قصدًا پرېښودل مکروهِ تنزيهي دی	۲۳۷
۲۸۱	د پګړۍ په وَل باندې د سجدې کولو حُکم	۲۳۸
۲۸۲	په داسې نرۍ جامو کې مونځ نه کيږي چې په هغې کې د ښځې يا سړي عورت ښکاري	۲۳۹
۲۸۳	که د ښځې د سَر ويښتان څلورمه حصه ښکاره وي نو مونځ نه کيږي	۲۴۰
۲۸۴	که د ښځې د سَر رازوړند ويښتان ښکاره شي د دې حُکم	۲۴۱
۲۸۵	چې په مانځه کې څادر د يو طرف اُوګې نه اُوغورځيږي د دې حکم	۲۴۲
۲۸۶	چې په مانځه کې د سَر نه ټوپۍ يا پګړۍ اُوغورځيږي د دې حُکم	۲۴۲
۲۸۷	د اَلتَّحِيّات په حالت کې بَغير عُذره لمَن صحيح کول مکروه ده	۲۴۳
۲۸۸	په تَخته پُوش باندې د مونځ کولو حُکم	۲۴۳
۲۸۹	په قالين او آسپنج باندې د مونځ کولو حُکم	۲۴۴
۲۹۰	د رکعت رالاندې کولو د پاره په جُمات کې مَنډه وهل صحيح نه ده	۲۴۵
۲۹۱	د سجدۀ شکر کولو حکم	۲۴۵
۲۹۲	د مانځه نه پس صرف سجده کول مکروه ده	۲۴۶
۲۹۳	د مالي نقصان راپيښيدو په وجه مونځ ماتول جائز دي	۲۴۷
۲۹۴	په مانځه کې د يو سورت شروع کولو نه پس بَغير عُذره بل سورت شروع کول مکروه دی	۲۴۷
۲۹۵	په مانځه کې د عربي نه علاوه په نورو ژبو کې دُعا غوښتل مکروهِ تنزيهي ده	۲۴۷
۲۹۶	د سجدې او تشهّد نه د پورته کيدو په وخت په زمکه د لاس آتِک لږولو حکم	۲۴۸

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ إِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ﴾ العنكبوت آية ۴۵.

د مانځه متعلق ضروري بَحثونه

نوټ : اوس درته د مانځه متعلق يو څو ضروري بَحثونه او فِقهي مسائل ذكر كوم ، نفسِ مسئله مې په پښتو ژبه کې رانقل کړې خو لاندې په حاشيه مې چې د قرآن كريم كوم آيتونه ، احاديث ، يا د فقهاؤ كوم عبارات رانقل كړي ، نو د هغې ترجمه مې نده رانقل كړې ، ځكه يا كتاب ډير اُوږديږي ، اهلِ علم حضرات ورته په آسانه اِستفاده كولې شي . ابوالشمس عفي عنه

د يو څو ضروري اصطلاحاتو پيژندنه

د بندګانو سره چې کوم کارونه تعلق لري د هغې اووه (۷) قِسمونه دي:

۱. فرض ۲. واجِب ۳. سُنت ۴. مُستحب ۵. حرام ۶. مکروه ۷. مُباح

د فرضو تعريف

اَلْفَرْضُ: مَا ثَبَتَ وُجُوْبُهُ بِدَلِيْلٍ لَا شُبْهَةَ فِيْهِ. (۱)

فرض هغې ته وايي چې ددې لزوم په داسې دليلِ قطعي او يقيني سره ثابِت وي چې په هغې هيڅ شک و شُبهه نه وي.

د فرضو حُکم

د فرضو حُکم دادی چې ددې کول ضروري دي، کوونکې يې د ثواب مُستحِق دی، او بَغير عُذره پريخودونکې يې فاسِق و فاجِر او د عذاب مُستحق دی، او اِنکار کوونکې يې کافر دی. (۲)

---

(۱) حسامي فصل في العزيمة والرخصة.

علامه شامي رحمه الله د فرضو تعريف داسې کړی: اِعْلَمْ أَنَّ الْفَرْضَ مَا ثَبَتَ بِدَلِيْلٍ قَطْعِيٍّ لَا شُبْهَةَ فِيْهِ كَالْإِيْمَانِ وَالْأَرْكَانِ الْأَرْبَعَةِ. رد المحتار على الدر المختار ۶/ ۳۱۳ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ طبع دار الفكر بيروت.

په التعريفات کې د فرضو تعريف داسې ذکر شوی: الفرض ما ثبت بدليل قطعي لا شبهة فيه، ويكفر جاحده ويعذب تاركه. الفريضة: فعيلة من الفرض وهو في اللغة التقدير، وفي الشرع: ما ثبت بدليل مقطوع كالكتاب والسنة والإجماع. كتاب التعريفات ۱/ ۱۶۵ باب الفاء طبع دار الكتب العلمية بيروت لبنان.

(۲) په حسامي کې د فرضو حُکم داسې ذکر شوی: وَحُكْمُهُ اللُّزُوْمُ عِلْمًا، وَتَصْدِيْقًا بِالْقَلْبِ، وَعَمَلًا بِالْبَدَنِ حَتّٰى يَكْفُرَ جَاحِدُهُ وَيَفْسُقَ تَارِكُهُ بِلَا عُذْرٍ. حسامي فصل في العزيمة والرخصة.

په شامي کې ذکر دي: وَحُكْمُهُ اللُّزُوْمُ عِلْمًا: أَيْ حُصُوْلُ الْعِلْمِ الْقَطْعِيِّ بِثُبُوْتِهِ وَتَصْدِيْقًا بِالْقَلْبِ: أَيْ لُزُوْمُ اعْتِقَادِ حَقِيَّتِهِ. وَعَمَلًا بِالْبَدَنِ حَتّٰى يَكْفُرَ جَاحِدُهُ وَيَفْسُقَ تَارِكُهُ بِلَا عُذْرٍ. رد المحتار على الدر المختار ۶/ ۳۱۳ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ.

د فرضو اَقسام

بيا فرض په دوه قِسمه دي : ۱ . فرضِ عين ۲ . فرضِ کفايه

فرضِ عين هغې ته وايي چې په هر يو مُکلّف کس باندې د دې کول ضروري وي ، لکه دا پنځه وَخته فرضي مونځ ، روژه .... وغيره .

فرضِ کفايي هغې ته وايي چې په هر کس د دې کول ضروري نه وي بلکه د بعضې په کولو سره د نورو غاړه خلاصيږي ، او که هيڅوک يې هم اونکړي نو بيا ټول گناهگاريږي ، لکه د جنازې مونځ ، بيمار پُرسي .... وغيره . (۱)

د واجبو تعريف

وَالْوَاجِبُ مَا ثَبَتَ وُجُوْبُهُ بِدَلِيْلٍ فِيْهِ شُبْهَةٌ . (۲)

واجب هغې ته وايي چې د دې وُجوب په داسې دليل سره ثابت وي چې په هغې کې شُبهه وي (يعنى په دليلِ ظَنّي سره ثابِت وي) .

---

(۱) په التعريفات کې د فرضو اقسام داسې ذکر شوي : وهو على نوعين : فرض عين، وفرض كفاية. ففرض العين : ما يلزم كل واحد إقامته ولا يسقط عن البعض بإقامة البعض، كالإيمان ونحوه . وفرض الكفاية: ما يلزم جميع المسلمين إقامته ويسقط بإقامة البعض عن الباقين كالجهاد وصلاة الجنازة . كتاب التعريفات ۱ / ۱۶۵ باب الفاء طبع دار الكتب العلمية بيروت لبنان .

علامه شامي رحمه الله ذکر کړي : فَإِنَّهُ (اي فَرْضَ الْكِفَايَةِ) يَجِبُ عَلَى جُمْلَةِ الْمُكَلَّفِيْنَ كِفَايَةً، بِمَعْنَى أَنَّهُ لَوْ قَامَ بِهِ بَعْضُهُمْ كَفَى عَنِ الْبَاقِيْنَ وَإِلَّا أَثِمُوْا كُلُّهُمْ. رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۳۵۲ كِتَابُ الصَّلَاةِ طبع دار الفكر بيروت

(۲) حسامي فصل في العزيمة والرخصة .

په رد المحتار کې ذکر دي : وَالْوَاجِبُ مَا ثَبَتَ بِدَلِيْلٍ فِيْهِ شُبْهَةٌ كَصَدَقَةِ الْفِطْرِ وَالْأُضْحِيَّةِ . رد المحتار على الدر المختار ۶ / ۳۱۳ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ طبع دار الفكر بيروت .

په التعريفات کې د واجبو تعريف داسې ذکر شوی : الواجبُ في اللغة : عبارة عن السقوط. قال الله تعالى: {فَإِذَا وَجَبَتْ جُنُوْبُهَا} أي سقطت ، وهو في عرف الفقهاء : عبارة عما ثبت وجوبه بدليل فيه شبهة العدم، كخبر الواحد . وهو ما يثاب بفعله ويستحق بتركه عقوبة، لولا العذر، حتى يضلل جاحده ولا يكفر به. كتاب التعريفات ۱ / ۲۴۹ باب الواو طبع دار الكتب العلمية بيروت لبنان .

Scanned with CamScanner

دواجبو حکم

د واجبو حُکم دادی چې دا هم د فرضو په شان کول لازمي دي ، بِلا تَاویله بَغیر عُذره پریښودونکې یې فاسِق او د عذاب حَقدار دی ، خو مُنکِر یې کافِر ندی .(۱)

د سُنتو تعريف

اَلسُّنَّةُ مَا وَاظَبَ عَلَيْهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ خُلَفَاؤُهُ مِنْ بَعْدِهِ . (۲)

سُنت هغې ته وايي چې رسول الله ﷺ يا صحابه کرامو په دې باندې هميش والې کړې وي (خو کله کله یې پريښي هم وي) .

---

(۱) وَحُكْمُهُ اللُّزُوْمُ عَمَلًا بِالْبَدَنِ كَالْفَرْضِ لَا عِلْمًا عَلَى الْيَقِيْنِ ، حَتّٰى لَا يَكْفُرَ جَاحِدُهُ وَيَفْسُقَ تَارِكُهُ ... حسامي فصل في العزيمة والرخصة .

په رد المحتار کې د واجبو حکم داسې ذکر دي : وَحُكْمُهُ اللُّزُوْمُ عَمَلًا كَالْفَرْضِ لَا عِلْمًا عَلَى الْيَقِيْنِ لِلشُّبْهَةِ ، حَتّٰى لَا يَكْفُرَ جَاحِدُهُ وَيَفْسُقَ تَارِكُهُ بِلَا تَأْوِيلٍ كَمَا هُوَ مَبْسُوْطٌ فِي كُتُبِ الْأُصُوْلِ .

يا علامه شامي رحمه الله د واجبو مراتب بيان کړي : ثُمَّ إِنَّ الْوَاجِبَ عَلٰى مَرَاتِبَ كَمَا قَالَ الْقُدُوْرِيُّ بَعْضُهَا آكَدُ مِنْ بَعْضٍ . فَوُجُوْبُ سَجْدَةِ التِّلَاوَةِ آكَدُ مِنْ وُجُوْبِ صَدَقَةِ الْفِطْرِ ، وَوُجُوْبُهَا آكَدُ مِنْ وُجُوْبِ الْأُضْحِيَّةِ ، وَذٰلِكَ بِاعْتِبَارِ تَفَاوُتِ الْأَدِلَّةِ فِي الْقُوَّةِ . رد المحتار على الدر المختار ۶/ ۳۱۳ كِتَابُ الْأُضْحِيَّةِ .

(۲) رد المحتار على الدر المختار ۱/ ۱۰۵ سُنَنُ الْوُضُوْءِ . مَطْلَبٌ فِي السُّنَّةِ وَتَعْرِيْفِهَا .

په حُسامي کې د سُنتو تعريف او حُکم داسې بيان شوی : اَلسُّنَّةُ : اَلطَّرِيْقَةُ الْمَسْلُوْكَةُ فِي الدِّيْنِ ، وَحُكْمُهَا أَنْ يُطَالَبَ الْمَرْءُ بِإِقَامَتِهَا مِنْ غَيْرِ افْتِرَاضٍ وَلَا وُجُوْبٍ ، لِأَنَّهَا طَرِيْقَةٌ أُمِرْنَا بِإِحْيَائِهَا فَتَسْتَحِقُّ اللَّائِمَةَ بِتَرْكِهَا . حسامي فصل في العزيمة والرخصة .

په التعريفات کې د سُنتو تعريف داسې ذکر شوی : اَلسُّنَّةُ : في اللغة: الطريقة، مرضية كانت أو غير مرضية . وفي الشريعة: هي الطريقة المسلوكة في الدين من غير افتراض و وجوب . فالسُّنة : ما واظب النبي صلى الله عليه وسلم عليها مع الترك أحياناً .

په التعريفات کې د سُنتو دويم تعريف داسې ذکر دی : السنة : لغةً : العادة ، وشريعةً: مشترك بين ما صدر عن النبي صلى الله عليه وسلم من قول ، أو فعل ، أو تقرير ، وبين ما واظب النبي صلى الله عليه وسلم بلا وجوب . كتاب التعريفات ۱/ ۱۲۲ باب السين طبع دار الكتب العلمية بيروت لبنان .

د سُنتو اقسام

سُنت په دوه قسمه دي : ١. سُنتِ مؤكد (ديته سُنَنُ الْهُدٰى هم وايي)

٢. سُنتِ غير مؤكد (ديته سُنتِ عاديه او سُنَنُ الزَّوَائِد هم وايي) .

سُنت مؤكد هغه دي چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم يا صحابه كرامو هميشه كړي وي ، او بَغير د عُذره يې كله هم نه وي پريښي ، خو د پريښودونكي رټنه يې هم نه وي كړي . (١)

د سُنت مؤكد حكم : سُنتِ مؤكد هم د واجبو په شان دي : چې په كولو كې يې ثواب وي ، بَغير عُذره پريښودونكې او عادت گرځوونكې يې فاسِق و فاجِر او گناهگار دی ، او د نبي عليه السلام د شفاعتِ خاصه نه به مَحروم وي (البته د شفاعتِ عامه نه به مَحروم نه

---

(١) علامه شامي رحمه الله د سُنتو تقسيم داسې كړی : وَالسُّنَّةُ نَوْعَانِ: سُنَّةُ الْهُدٰى، وَتَرْكُهَا يُوجِبُ إِسَاءَةً وَكَرَاهِيَةً كَالْجَمَاعَةِ، وَالْأَذَانِ، وَالْإِقَامَةِ وَنَحْوِهَا. وَسُنَّةُ الزَّوَائِدِ وَتَرْكُهَا لَا يُوجِبُ ذٰلِكَ كَسِيَرِ النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فِي لِبَاسِهِ وَقِيَامِهِ ، وَقُعُوْدِهِ . رد المحتار على الدر المختار ١ / ١٠٥ سُنَنُ الْوُضُوءِ . مَطْلَبٌ فِي السُّنَّةِ وَتَعْرِيفِهَا .

په حُسامي كې د سُنتو تقسيم داسې بيان شوی : وَالسُّنَّةُ نَوْعَانِ : سُنَّةُ الْهُدٰى ، وَتَارِكُهَا يَسْتَوْجِبُ إِسَاءَةً وَكَرَاهَةً . وَسُنَّةُ الزَّوَائِدِ ، وَتَارِكُهَا لَا يَسْتَوْجِبُ إِسَاءَةً وَكَرَاهَةً . كَسِيَرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قِيَامِهِ وَقُعُوْدِهِ وَلِبَاسِهِ . حسامي فصل في العزيمة والرخصة .

په التعريفات كې د سُنتو تقسيم داسې ذكر شوی : فالسُّنة : ما واظب النبي صلى الله عليه وسلم عليها مع الترك أحيانًا، فإن كانت المواظبة المذكورة على سبيل العبادة فسنن الهدى ، وإن كانت على سبيل العادة فسنن الزوائد . فسنة الهدى ما يكون إقامتها تكميلًا للدين، وهي التي تتعلق بتركها كراهةً أو إساءة . وسنة الزوائد هي التي أخذها هدى أي إقامتها حسنة ولا يتعلق بتركها كراهة ولا إساءة كسير النبي صلى الله عليه وسلم في قيامه وقعوده ولباسه وأكله .

په التعريفات كې يې د سُنتو دويم تقسيم داسې ذكر دی : وهي نوعان: سنة هدى، ويقال لها: السنة المؤكدة، كالأذان والإقامة، والسنن الرواتب، والمضمضة، والاستنشاق، على رأي. وحكمه كالواجب المطالبة في الدنيا إلا أن تاركه يعاقب وتاركها لا يعاقب. وسنن الزوائد، كأذان المنفرد، والسواك، والأفعال المعهودة في الصلاة وفي خارجها، وتاركها غير معاقب. كتاب التعريفات ١ / ١٢٢ باب السين طبع دار الكتب العلمية بيروت لبنان

وي) په کله کله پرېښودو کې څه بَدِيَت نه لري ، خو د واجبو پرېښودو نه ددې ګناه کمه ده . د سُنتو نه مُنکِر بِدعتي او ګناهګار دی (البته د سُنتو توهين کوونکې کس کافر دی) .(۱)

سُنتِ غير مؤكده هغه دي چې نبي عليه السلام او صحابه کرامو کړي وي ، او بغير عُذره يې هم کله پرېښي وي .

د سُنتِ غير مؤكده حكم : ددې حُکم دادی چې کوونکې يې د ثواب حقدار وي ، او پرېښودونکې يې د عذاب حقدار نه وي .(۲)

---

(۱) په دُرمختار کې ذکر دي : وَحُكْمُهَا (اى السنة) مَا يُؤْجَرُ عَلَى فِعْلِهِ ، وَيُلَامُ عَلَى تَرْكِهِ . وَكَثِيرًا مَا يَعْرِفُونَ بِهِ لِأَنَّهُ مَحَطُّ مَوَاقِعِ أَنْظَارِهِمْ . وَعَرَّفَهَا الشُّمُنِّيُّ بِمَا ثَبَتَ بِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَوْ بِفِعْلِهِ وَلَيْسَ بِوَاجِبٍ وَلَا مُسْتَحَبٍّ . لَكِنَّهُ تَعْرِيفٌ لِمُطْلَقِهَا ، وَالشَّرْطُ فِي الْمُؤَكَّدَةِ الْمُوَاظَبَةُ مَعَ تَرْكٍ وَلَوْ حُكْمًا . لَكِنْ شَأْنَ الشُّرُوطِ أَنْ لَا تُذْكَرَ فِي التَّعَارِيفِ . الدر المختار ۱/ ۱۰۳ سُنَنُ الْوُضُوءِ .

علامه شامي رحمه الله ددې تشريح کړې : (قَوْلُهُ : وَيُلَامُ) أَيْ يُعَاتَبُ بِالتَّاءِ لَا يُعَاقَبُ ، كَمَا أَفَادَهُ فِي الْبَحْرِ وَالنَّهْرِ . لَكِنْ فِي التَّلْوِيحِ تَرْكُ السُّنَّةِ الْمُؤَكَّدَةِ قَرِيبٌ مِنَ الْحَرَامِ يَسْتَحِقُّ حِرْمَانَ الشَّفَاعَةِ ، لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : « مَنْ تَرَكَ سُنَّتِي لَمْ يَنَلْ شَفَاعَتِي » . وَفِي التَّحْرِيرِ : إِنَّ تَارِكَهَا يَسْتَوْجِبُ التَّضْلِيلَ وَاللَّوْمَ . وَالْمُرَادُ التَّرْكُ بِلَا عُذْرٍ عَلَى سَبِيلِ الْإِصْرَارِ كَمَا فِي شَرْحِ التَّحْرِيرِ لِابْنِ أَمِيرِ حَاجٍّ .... وَلَا شَكَّ أَنَّ الْإِثْمَ مَقُولٌ بِالتَّشْكِيكِ بَعْضُهُ أَشَدُّ مِنْ بَعْضٍ ، فَالْإِثْمُ لِتَارِكِ السُّنَّةِ الْمُؤَكَّدَةِ أَخَفُّ مِنَ الْإِثْمِ لِتَارِكِ الْوَاجِبِ . قَالَ فِي النَّهْرِ هُنَاكَ : وَيُؤَيِّدُهُ مَا فِي الْكَشْفِ الْكَبِيرِ مَعْزِيًّا إِلَى أُصُولِ أَبِي الْيُسْرِ : حُكْمُ السُّنَّةِ أَنْ يُنْدَبَ إِلَى تَحْصِيلِهَا ، وَيُلَامُ عَلَى تَرْكِهَا مَعَ لُحُوقِ إِثْمٍ يَسِيرٍ . رد المحتار على الدر المختار ۱/ ۱۰۴ سُنَنُ الْوُضُوءِ

وَتَرْكُ السُّنَّةِ الْمُؤَكَّدَةِ قَرِيبٌ مِنَ الْحُرْمَةِ ، يَسْتَحِقُّ حِرْمَانَ الشَّفَاعَةِ ، وَمُقْتَضَاهُ أَنَّ تَرْكَ السُّنَّةِ الْمُؤَكَّدَةِ مَكْرُوهٌ تَحْرِيمًا لِجَعْلِهِ قَرِيبًا مِنَ الْحَرَامِ . وَالْمُرَادُ سُنَنُ الْهُدَى كَالْجَمَاعَةِ وَالْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ فَإِنَّ تَارِكَهَا مُضَلَّلٌ مَلُومٌ كَمَا فِي التَّحْرِيرِ . وَالْمُرَادُ التَّرْكُ عَلَى وَجْهِ الْإِصْرَارِ بِلَا عُذْرٍ وَلِذَا يُقَاتَلُ الْمُجْمِعُونَ عَلَى تَرْكِهَا لِأَنَّهَا مِنْ أَعْلَامِ الدِّينِ ، فَالْإِصْرَارُ عَلَى تَرْكِهَا اسْتِخْفَافٌ بِالدِّينِ فَيُقَاتَلُونَ عَلَى ذَلِكَ ذَكَرَهُ فِي الْمَبْسُوطِ . رد المحتار على الدر المختار ۶/ ۳۳۸ كِتَابُ الْحَظْرِ وَالْإِبَاحَةِ

(۲) ...... وَحِينَئِذٍ فَمَعْنَى كَوْنِ سُنَّةِ الزَّوَائِدِ عَادَةً أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاظَبَ عَلَيْهَا حَتَّى صَارَتْ عَادَةً لَهُ وَلَمْ يَتْرُكْهَا إِلَّا أَحْيَانًا ، لِأَنَّ السُّنَّةَ هِيَ الطَّرِيقَةُ الْمَسْلُوكَةُ فِي الدِّينِ ، فَهِيَ فِي نَفْسِهَا عِبَادَةٌ وَسُمِّيَتْ عَادَةً لِمَا ذَكَرْنَا . وَلَمَّا لَمْ تَكُنْ مِنْ مُكَمِّلَاتِ الدِّينِ وَشَعَائِرِهِ سُمِّيَتْ سُنَّةَ الزَّوَائِدِ ، بِخِلَافِ سُنَّةِ الْهُدَى ، وَهِيَ السُّنَنُ الْمُؤَكَّدَةُ الْقَرِيبَةُ مِنَ الْوَاجِبِ الَّتِي يُضَلَّلُ تَارِكُهَا ، لِأَنَّ تَرْكَهَا اسْتِخْفَافٌ بِالدِّينِ . رد المحتار على الدر المختار ۱/ ۱۰۵ سُنَنُ الْوُضُوءِ .

د مُستحبو تعريف

وَهُوَ مَا فَعَلَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّةً ، وَتَرَكَهُ أُخْرَى ، وَمَا أَحَبَّهُ السَّلَفُ . (۱)

مُستحب هغې ته وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم (او صحابه کرامو) کله کړې وي ، او کله يې پرېښې وي ، او سَلفو دا خوښې کړې وي .

د مُستحبو حکم : وَحُكْمُهُ أَنَّهُ يُثَابُ الْمَرْءُ عَلَى فِعْلِهِ ، وَلَا يُعَاقَبُ عَلَى تَرْكِهِ . (۲)

د مستحبو حکم دادی چې انسان ته ددې په کولو ثواب ورکول کيږي ، او ددې په پرېخودو ورته سزا نشي ورکولی .

د فقهاؤ په اِصطلاح کې ديته نفل ، مَندوب او تطوّع هم وايي .

د مُستحبو نه مُنکِر نه کافِر وي ، نه بِدعتي وي او نه گناهګار وي . (۳)

---

(۱) په درمختار کې ذکر دي : (وَمُسْتَحَبُّهُ) وَيُسَمَّى مَنْدُوبًا وَأَدَبًا وَفَضِيلَةً ، وَهُوَ مَا فَعَلَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّةً ، وَتَرَكَهُ أُخْرَى ، وَمَا أَحَبَّهُ السَّلَفُ . الدرالمختار ۱/ ۱۲۳ سُنَنُ الْوُضُوءِ .

په التعريفات کې د مُستحبو تعريف داسې ذکر شوی : اَلمستحبُّ : اسم لما شرع زيادة على الفرض والواجبات .
وقيل : المستحب : ما رغب فيه الشارع ولم يوجبه . کتاب التعريفات ۱/۲۱۳ باب الميم

النفل : لغةً : اسم للزيادة ، ولهذا سميت الغنيمة نفلاً لأنه زيادة على ما هو المقصود من شرعية الجهاد وهو إعلاء کلمة الله وقهر أعدائه . وفي الشرع اسم لما شرع زيادة على الفرائض والواجبات وهو المسمى بالمندوب والمستحب والتطوع . کتاب التعريفات ۱/۲۴۵ باب النون . /همدا تعريف حسامي والهٔ د نفلو هم کړی .

وَالنَّفْلُ وَمِنْهُ الْمَنْدُوبُ يُثَابُ فَاعِلُهُ وَلَا يُسِيءُ تَارِكُهُ . قِيلَ : وَهُوَ دُونَ سُنَنِ الزَّوَائِدِ . شامي ۱/ ۱۰۵ سُنَنُ الْوُضُوءِ

(۲) حسامي والهٔ دا حُکم د نفلو ذکر کړی ، نفل او مُستحب چونکه دواړه يو شی دی ، لهذا دا د مُستحب حُکم هم شو . حسامي فصل في العزيمة والرخصة .

(۳) (وَالْمَنْدُوبُ) ... وَلَمْ يَذْكُرِ الْمُسْتَحَبَّ لِعَدَمِ الْفَرْقِ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْمَنْدُوبِ عِنْدَ الْأُصُولِيِّينَ ، وَهُوَ مَا لَمْ يُوَاظِبْ عَلَيْهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِنْ لَمْ يَفْعَلْهُ بَعْدَ مَا رَغَّبَ إِلَيْهِ كَمَا فِي التَّحْرِيرِ . وَعِنْدَ الْفُقَهَاءِ الْمُسْتَحَبُّ مَا فَعَلَهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّةً وَتَرَكَهُ أُخْرَى ، وَالْمَنْدُوبُ مَا فَعَلَهُ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ تَعْلِيمًا لِلْجَوَازِ . وَعَكَسَ فِي الْمُحِيطِ . رد المحتار على الدر المختار ۲/ ۳۷۵ سَبَبُ صَوْمِ رَمَضَانَ .

نوټ: د اصوليينو په نزد باندې په مُستحب، نفل، مَندوب او تطوّع کې هيڅ فرق نشته. (۱)

د حرامو تعريف

مَا ثَبَتَتْ حُرْمَتُهُ بِدَلِيلٍ مَقْطُوعٍ بِهِ. (۲)

حرام هغه دي چې د هغې ممانعت په دليلِ قطعي (او يقيني) سره ثابت وي.

د حرامو حُکم: د حرامو حکم دا دی چې ددې مُنکِر کافر وي، او بِلا عُذره کوونکې يې فاسِق و فاجِر، او د عذاب مُستحِق وي.

د مکروه تعريف

مَکروه په دوه قِسمه دی: ۱. مکروهِ تحريمي. ۲. مکروهِ تنزيهي.

د مکروهِ تحريمي تعريف: مکروهِ تحريمي هغه دی چې ددې ممانعت په دليلِ ظنّي سره ثابت وي، دا حرامو ته نزدې وي.

حُکم: ددې حُکم دادی چې ددې نه اِنکار کوونکې فاسِق و فاجِر وي، او بلا عُذره کوونکې يې گناهگار او د عذاب مستحِق وي. (خو دا سزا د حرامو نه کمه ده)

(۱) علامه شامي رحمه الله ليکلي دي: مَطْلَبٌ لَا فَرْقَ بَيْنَ الْمَنْدُوبِ وَالْمُسْتَحَبِّ وَالنَّفْلِ وَالتَّطَوُّعِ (قَوْلُهُ: وَيُسَمَّى مَنْدُوبًا وَأَدَبًا) زَادَ غَيْرُهُ وَنَفْلًا وَتَطَوُّعًا. وَقَدْ جَرَى عَلَى مَا عَلَيْهِ الْأُصُولِيُّونَ، وَهُوَ الْمُخْتَارُ مِنْ عَدَمِ الْفَرْقِ بَيْنَ الْمُسْتَحَبِّ وَالْمَنْدُوبِ وَالْأَدَبِ كَمَا فِي حَاشِيَةِ نُوحٍ أَفَنْدِي عَلَى الدُّرَرِ، فَيُسَمَّى مُسْتَحَبًّا مِنْ حَيْثُ إنَّ الشَّارِعَ يُحِبُّهُ وَيُؤْثِرُهُ، وَمَنْدُوبًا مِنْ حَيْثُ إنَّهُ بَيَّنَ ثَوَابَهُ وَفَضِيلَتَهُ، مِنْ نَدْبِ الْمَيِّتِ: وَهُوَ تَعْدِيدُ مَحَاسِنِهِ، وَنَفْلًا مِنْ حَيْثُ إنَّهُ زَائِدٌ عَلَى الْفَرْضِ وَالْوَاجِبِ، وَيَزِيدُ بِهِ الثَّوَابُ، وَتَطَوُّعًا مِنْ حَيْثُ إنَّ فَاعِلَهُ يَفْعَلُهُ تَبَرُّعًا مِنْ غَيْرِ أَنْ يُؤْمَرَ بِهِ حَتْمًا. مِنْ شَرْحِ الشَّيْخِ إسْمَاعِيلَ عَلَى الْبُرْجَنْدِيِّ. وَقَدْ يُطْلَقُ عَلَيْهِ اسْمُ السُّنَّةِ وَصَرَّحَ الْقُهُسْتَانِيُّ بِأَنَّهُ دُونَ سُنَنِ الزَّوَائِدِ. قَالَ فِي الْإِمْدَادِ: وَحُكْمُهُ الثَّوَابُ عَلَى الْفِعْلِ وَعَدَمُ اللَّوْمِ عَلَى التَّرْكِ. رد المحتار على الدر المختار ۱/ ۱۲۳ سُنَنُ الْوُضُوءِ

(۲) ... لِأَنَّ الْحَرَامَ الْمُطْلَقَ مَا ثَبَتَتْ حُرْمَتُهُ بِدَلِيلٍ مَقْطُوعٍ بِهِ. رد المحتار على الدر المختار ۶/ ۷۳۹ كِتَابُ الْخُنْثَى مَسَائِلُ شَتَّى

د مکروهِ تنزيهي تعريف : مکروهِ تنزيهي هغه دي چې د کولو په نسبت يې پرېښودل بهتر وي ، يعنى په نه کولو کې يې ثواب وي، او په کولو کې عذاب نه وي (خو څه نا څه خرابي په کې ضرور وي) . (١)

د مُباح تعريف

اَلْمُبَاحُ مَا أُجِيْزَ لِلْمُكَلَّفِيْنَ فِعْلُهُ وَتَرْكُهُ بِلَا اِسْتِحْقَاقِ ثَوَابٍ وَعِقَابٍ . (٢)

مُباح هغې ته وايي چې مُکلفينو ته ددې د کولو او پرېښودلو دواړو اِجازت ورکړې شوې وي، نه ددې په کولو کې ثواب وي ، او نه ددې په پرېښودلو کې گناه وي ، بلکه دواړه طرفونه يې برابر وي .

---

(١) مَطْلَبٌ فِيْ تَعْرِيْفِ الْمَكْرُوْهِ . وَأَنَّهُ قَدْ يُطْلَقُ عَلَى الْحَرَامِ وَالْمَكْرُوْهِ تَحْرِيْمًا وَتَنْزِيْهًا .... قَدْ يُطْلَقُ عَلَى الْحَرَامِ كَقَوْلِ الْقُدُوْرِيِّ فِيْ مُخْتَصَرِهِ : وَمَنْ صَلَّى الظُّهْرَ فِيْ مَنْزِلِهِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ قَبْلَ صَلَاةِ الْإِمَامِ وَلَا عُذْرَ لَهُ كُرِهَ لَهُ ذٰلِكَ . وَعَلَى الْمَكْرُوْهِ تَحْرِيْمًا : وَهُوَ مَا كَانَ إِلَى الْحَرَامِ أَقْرَبُ . وَيُسَمِّيْهِ مُحَمَّدٌ حَرَامًا ظَنِّيًّا . وَعَلَى الْمَكْرُوْهِ تَنْزِيْهًا : وَهُوَ مَا كَانَ تَرْكُهُ أَوْلٰى مِنْ فِعْلِهِ . وَيُرَادِفُ خِلَافَ الْأَوْلٰى كَمَا قَدَّمْنَاهُ . رد المحتار على الدر المختار ١ /١٣١ مَطْلَبٌ فِيْ تَعْرِيْفِ الْمَكْرُوْهِ .

قَالَ فِي الْبَحْرِ: وَالْمَكْرُوْهُ فِيْ هٰذَا الْبَابِ نَوْعَانِ . أَحَدُهُمَا: مَا يُكْرَهُ تَحْرِيْمًا وَهُوَ الْمَحْمَلُ عِنْدَ إِطْلَاقِهِمْ . وَذَكَرَ أَنَّهُ فِيْ رُتْبَةِ الْوَاجِبِ لَا يَثْبُتُ إِلَّا بِمَا يَثْبُتُ بِهِ الْوَاجِبُ ، يَعْنِيْ بِالنَّهْيِ الظَّنِّيِّ الثُّبُوْتِ أَوِ الدَّلَالَةِ . فَإِنَّ الْوَاجِبَ يَثْبُتُ بِالْأَمْرِ الظَّنِّيِّ الثُّبُوْتِ أَوِ الدَّلَالَةِ . ثَانِيْهِمَا : اَلْمَكْرُوْهُ تَنْزِيْهًا، وَمَرْجِعُهُ إِلٰى مَا تَرْكُهُ أَوْلٰى. وَكَثِيْرًا مَا يُطْلِقُوْنَهُ كَمَا ذَكَرَهُ فِي الْحِلْيَةِ . فَحِيْنَئِذٍ إِذَا ذَكَرُوْا مَكْرُوْهًا فَلَا بُدَّ مِنَ النَّظَرِ فِيْ دَلِيْلِهِ . فَإِنْ كَانَ نَهْيًا ظَنِّيًّا يُحْكَمُ بِكَرَاهَةِ التَّحْرِيْمِ إِلَّا لِصَارِفٍ لِلنَّهْيِ عَنِ التَّحْرِيْمِ إِلَى النَّدْبِ ، وَإِنْ لَمْ يَكُنِ الدَّلِيْلُ نَهْيًا بَلْ كَانَ مُفِيْدًا لِلتَّرْكِ الْغَيْرِ الْجَازِمِ فَهِيَ تَنْزِيْهِيَّةٌ . قُلْتُ: وَيُعْرَفُ أَيْضًا بِلَا دَلِيْلِ نَهْيٍ خَاصٍّ . بِأَنْ تَضَمَّنَ تَرْكَ وَاجِبٍ أَوْ تَرْكَ سُنَّةٍ . فَالْأَوَّلُ مَكْرُوْهٌ تَحْرِيْمًا، وَالثَّانِيْ تَنْزِيْهًا . رد المحتار على الدر المختار ١ /٦٣٩ مكروهات الصلاة .

په التعريفات کې د مکروه تعريف او أقسام داسې ذکر شوي : المكروهُ: ما هو راجحُ التّرك، فإن كان إلى الحرام اقرب تكون كراهته تحريمية، وإن كان إلى الحِلّ أقرب تكون تنزيهية، ولا يعاقب على فعله. كتاب التعريفات ١ /٢٢٨ باب الميم

(٢) الدر المختار ٦ /٣٣٦ كِتَابُ الْحَظْرِ وَالْإِبَاحَةِ

......

علامه شامي رحمه الله ددې تعريف پوره تشريح كړې . (١)

د عزيمت په ټولو اقسامو كې وجه د حصر

١ . بعضې علماؤ د عزيمت (يعنى أحكامِ أصليه ؤ) د څلورو آقسامو (يعنى فرض ، واجب ، سُنّت او نفل) په مينځ كې وجه د حصر داسې ذكر كړې چې : دا عزيمت به خالي نه وي يا به ددې مُنكِر كافِر وي يا نه . كه مُنكِر يې كافِر ؤ نو ديته فرض وايي .

او كه مُنكِر يې كافر نه ؤ نو دا بيا په دوه قِسمه دى : يا به ددې پرېخودونكې مُستحِق د سزا وي يا نه ، كه مُستحِق د سزا ؤ نو ديته واجِب وايي .

او كه پرېخودونكې يې مُستحِق د سزا نه ؤ نو دا بيا په خپل كور كې په دوه قِسمه دى : يا به ددې پرېخودونكې مُستحِق د مَلامَتيا وي يا نه ، كه مُستحِق د ملامتيا ؤ نو ديته سُنّت وايي ، او كه نه ؤ نو ديته نفل وايي . (٢)

---

(١) په در مختار كې د مباحو تعريف داسې شوى : اَلْمُبَاحُ مَا أُجِيْزَ لِلْمُكَلَّفِيْنَ فِعْلُهُ وَتَرْكُهُ بِلَا اِسْتِحْقَاقِ ثَوَابٍ وَعِقَابٍ. نَعَمْ يُحَاسَبُ عَلَيْهِ حِسَابًا يَسِيْرًا اخْتِيَارٌ .

علامه شامي رحمه الله د مذكوره تعريف په تشريح كې ليكلي : (قَوْلُهُ : وَالْمُبَاحُ مَا أُجِيْزَ لِلْمُكَلَّفِيْنَ فِعْلُهُ وَتَرْكُهُ) كَذَا فِي الْمِنَحِ . وَالَّذِيْ فِي الْجَوْهَرَةِ : مَا خُيِّرَ الْمُكَلَّفُ بَيْنَ فِعْلِهِ وَتَرْكِهِ ... (قَوْلُهُ : نَعَمْ يُحَاسَبُ عَلَيْهِ حِسَابًا يَسِيْرًا) لَا يُقَالُ إِنَّ ذٰلِكَ عَذَابٌ. بِدَلِيْلِ مَا وَرَدَ « مَنْ نُوْقِشَ الْحِسَابَ عُذِّبَ » لِأَنَّ الْمُنَاقَشَةَ الْاِسْتِقْصَاءُ فِي الْحِسَابِ كَمَا فِي الْقَامُوْسِ . رد المحتار على الدر المختار ٦ /٣٣٦ كِتَابُ الْحَظْرِ وَالْإِبَاحَةِ

په التعريفات كې د مُباح تعريف داسې ذكر شوي المباح : ما استوى طرفاه . كتاب التعريفات ١ / ٢٢٨ باب الميم

(٢) ، والعزيمةُ أقسامٌ اربعةٌ : فَرْضٌ ، وَوَاجِبٌ ، وَسُنَّةٌ ، وَنَفْلٌ ... وجهُ الحصر انّ العزيمة لا تخلو مِنْ أنْ يكفر جاحدها او لا ، والاوّل هو الفرضُ ، والثاني لا يخلو مِن أنْ يعاقب بتركه او لا ، والاوّل هو الواجب ، والثاني لايخلو مِنْ أنْ يستحق تاركه الملامة او لا ، والاوّل هو السنّة والثاني هو النّفل .

فإن قلتَ : يخرج من هذا الحصر الحرام والمكروه والمباح . قلتُ : الحرامُ داخلٌ في الفرض او في الواجب ، لانّ الحرامَ إن ثبَتَ تركُه بدليل قطعي فهو فرض كشرب الخمر ، او ظنّي فهو واجبٌ كترك اللعب بالشطرنج . والمكروهُ داخلٌ تحت السنّة لانّ تركه سنّة ، والمباحُ داخلٌ في النفل . النظامي حاشيه حسامي فصل في العزيمة والرخصة .

۲ . علامه شامي رحمه الله هم احکام مشروعه په څلور قِسمه تقسيم کړي : فرض ، واجب ، سُنت ، او نفل . بيا يې ددې په مينځ کې وجه د حصر هم ذکر کړې . (۱)

۳ . بعضې علماؤ د عزيمت (يعنى احكامِ اصليه ؤ) اووه قِسمونه ذِکر کړي : فرض ، واجِب ، سُنت ، نفل ، حرام ، مکروه ، او مُباح . بيا يې ددې په مينځ کې وجه د حصَر هم ذکر کړې چې :

يا خو به د مُکلف د پاره د فِعل (يعنى د کولو) جانِب راجِح وي ، يا به د پريخودو جانِب راجِح وي ، او يا به يو طرف هم راجِح نه وي (يعنى کول او نه کول دواړه به يې برابر وي) .

که اول ؤ (يعنى د کولو طرف يې راجِح ؤ) نو ددې دوه قِسمونه دي : يا خو به ددې مُنکِر کافِر وي يا نه . که مُنکِر يې کافِر ؤ نو ديته فرض وايي .

او که مُنکِر يې کافر نه ؤ نو دا بيا په دوه قِسمه دی : يا به ددې پريخودونکې مُستحِق د سزا وي يا نه ، که مُستحِق د سزا ؤ نو ديته واجِب وايي .

او که پريخودونکې يې مُستحِق د سزا نه ؤ نو دا بيا په څپل کور کې په دوه قِسمه دی :

ياخو به رسول الله صلى الله عليه وسلم په دې باندې مُواظبَت (هميش والې) کړې وي يا نه ، که مُواظبَت يې ورباندې کړې ؤ نو ديته سُنتِ مُؤکد وايي ، او که نه يې ؤ کړی ديته نفل (مُستحب ، مَندوب ، او تَطوّع) وايي .

او که د مُکلف د پريخودو جانِب راجِح وي نو ددې هم دوه قِسمونه دي : يا به ددې په کولو سره دې د عذاب مُستحِق ګرځي يا نه ، که د عذاب مُستحِق ګرځيدو نو ديته حرام وايي ، او که نه ګرځيدو نو ديته مکروه وايي .

او که د مُکلف يو طرف هم راجِح نه ؤ (يعنى کول او نه کول دواړه يې برابر وو) نو ديته مُباح وايي . (۲)

---

(۱) إعْلَمْ أَنَّ الْمَشْرُوْعَاتِ أَرْبَعَةُ أَقْسَامٍ : فَرْضٌ ، وَوَاجِبٌ ، وَسُنَّةٌ ، وَنَفْلٌ . فَمَا كَانَ فِعْلُهُ أَوْلَى مِنْ تَرْكِهِ مَعَ مَنْعِ التَّرْكِ إِنْ ثَبَتَ بِدَلِيْلٍ قَطْعِيٍّ فَفَرْضٌ ، أَوْ بِظَنِّيٍّ فَوَاجِبٌ . وَبِلَا مَنْعِ التَّرْكِ إِنْ كَانَ مِمَّا وَاظَبَ عَلَيْهِ الرَّسُوْلُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوِ الْخُلَفَاءُ الرَّاشِدُوْنَ مِنْ بَعْدِهِ فَسُنَّةٌ ، وَإِلَّا فَمَنْدُوْبٌ وَنَفْلٌ . رد المحتار على الدر المختار ۱/ ۱۰۵ سُنَنُ الْوُضُوْءِ .

(۲) فيض سبحاني شرح حسامي .

Scanned with CamScanner

د مانځه فرائض (اجمالا)

په مانځه کې ديارلس (١٣) فرائض دي ، په دې کې اُووه (٧) د مانځه نه بهَر او مخکې دي ديته شرائط وايي ، او شپږ (٦) په مانځه کې دننه دي ديته اَرکان وايي .

د مانځه شرائط

د مانځه اُووه (٧) شرطونه دادي : ١. د بَدن پاکوالي ٢. د جامو پاکوالي ٣. د ځای پاکوالي ۴. عَورت پټول ۵. وخت پيژندل ٦. قبلې ته مخ کول ٧. نيت کول.

د مانځه اَرکان

د مانځه شپږ (٦) اَرکان دادي : ١. تکبيرِ تَحريمه ٢. قِيام (يعنى په ولاړه مونځ کول) ٣. قرأت ۴. رُکوع ۵. سجده ٦. اَخيري قِعده (يعنى په اَندازه د تشهّد باندې کيناستل) . د بعضې علماؤ په نزد په خپلې اِرادې سره د مانځه نه وتل هم فرض دي .

نوټ : که په دې ديارلس (١٣) فرائضو کې څه شی (بغير عُذره) پاتې شي نو مونځ نه کيږي ، دوباره به بيا مونځ کوي .

د مانځه فرائض (سره د دلائلو)

دا پاس د مانځه فرائض اِجمالاً ذکر شو ، اوس درته د مانځه فرائض د د لائلو سره ذکر کوم ددې د پاره چې اَهلِ عِلمو ته دا هم معلومه شي چې دا فرض د کوم آيت يا کوم حديث نه ثابت دی ؟ دلائل لاندې په حاشيه کې ذکر دي. په مانځه کې اُووه (٧) شرطونه دي:

١ . د بَدن پاکوالي (د حقيقي او حُکمي نِجاست نه)

مونځ گزار د پاره ضروري ده چې دده بَدن به د حقيقي نِجاست (يعنى بَول و بَراز ، وينې ، شرابو ، گندگی وغيره) او حُکمي نِجاست (يعنى بې آودسی او جنابت) نه پاک وي .[1]

(١) هداية ج١ ص٥٨ ، شرح النقاية ج١ ص٦٣ ، کبيري ص١٧٧ ، وص١۴ . / يَجبُ أن يكونَ بدنُ المصلّي طاهرًا مِن حَدَثٍ و خَبَثٍ .

ځکه په دې باندې د اُمت اتفاق دی چې د مانځه د صحت د پاره طهارت شرط دی، او بغیر د طهارت نه مونځ حرام دی، که دا فرض مونځ وي، که نفل وي، که سجده د تلاوت وي، او که د جنازې مونځ وي. (۱)

په قرآن کریم او صحیح احادیثو کې د مانځه د پاره د بدن د پاکوالي حُکم شوی. (۲)

۲. د جامو پاکوالې. د مانځه دویم شرط د جامو (کپړو) پاکوالې دی، په قرآن کریم کې د مونځ ګزار د پاره جامو د پاکوالي حُکم راغلی. (۳)

---

(۱) أجمعتِ الأمّةُ على أنّ الطهارةَ شرطٌ في صحةِ الصّلاة، وعلى تحريمها بغير طهارة من ماءٍ او ترابٍ، ولا فرق بين الصّلاةِ المفروضةِ والنّافلةِ وسجودِ التلاوةِ والشّكرِ وصلاةِ الجنازةِ ... بذل المجهود (م).

(۲) قال الله تعالى: ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَوٰةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ ۚ وَإِن كُنتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا ﴾ المائدة آية ٦.

قالَ رسولُ الله صلى الله عليه وسلم: لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَا وُضُوءَ لَهُ. سنن ابي داؤد كتاب الطَّهارة بَابٌ فِي التَّسْمِيَةِ عَلَى الْوُضُوءِ رقم الحديث ۱۰۱، سنن ابن ماجة كتاب الطهارة رقم الحديث ۳۹۹، المستدرك على الصحيحين للحاكم ۱ / ۲۴۵ رقم الحديث ۵۱۸، ۵۱۹.

وقال عليه السلام: لَا يَقْبَلُ اللهُ صَلَاةَ أَحَدِكُمْ إِذَا أَحْدَثَ حَتَّى يَتَوَضَّأَ. صحيح البخاري كتابُ الحِيَلِ بَابٌ فِي الصَّلَاةِ رقم الحديث ۶۹۵۴، صحيح مسلم كتاب الطهارة رقم الحديث ۲۲۵، سنن الترمذي كتاب الطهارة رقم ۷۶، سنن ابي داؤد كتاب الطهارة رقم ۶۰.

وقال ﷺ: لَا يَقْبَلُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ صَدَقَةً مِنْ غُلُولٍ، وَلَا صَلَاةً بِغَيْرِ طُهُورٍ. سنن ابي داؤد كتاب الطهارة رقم ۵۹، صحيح مسلم كتاب الطهارة رقم ۲۲۴، سنن الترمذي كتاب الطهارة رقم ۱، سنن النسائي كتاب الطهارة رقم ۱۳۹.

وقال عليه السلام: مِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الطُّهُورُ، وَتَحْرِيمُهَا التَّكْبِيرُ، وَتَحْلِيلُهَا التَّسْلِيمُ. سنن الترمذي كتاب الطهارة رقم الحديث ۳، و رقم ۲۳۸ كتاب الصلاة، سنن ابي داؤد كتاب الطهارة رقم ۶۱، و رقم ۶۱۸ كتاب الصلاة، سنن ابن ماجة كتاب الطهارة وسننها رقم ۲۷۵.

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ أَبِي حُبَيْشٍ كَانَتْ تُسْتَحَاضُ. فَسَأَلَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «ذَلِكِ عِرْقٌ وَلَيْسَتْ بِالْحَيْضَةِ. فَإِذَا أَقْبَلَتِ الْحَيْضَةُ فَدَعِي الصَّلَاةَ وَإِذَا أَدْبَرَتْ فَاغْتَسِلِي وَصَلِّي. صحيح البخاري رقم الحديث ۳۲۰ كِتَابُ الحَيْضِ بَابٌ: لَا تَقْضِي الحَائِضُ الصَّلَاةَ.

(۳) قال الله تعالى: وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ. سورة المدثر آية ۴.

په احاديثو کې هم د مونځ ګزار د پاره د جامو (کپړو) د پاکوالي حکم راغلی . (۱)

۳ . د ځای پاکوالي . د مانځه دريم شرط د ځای پاکوالي دی . (۲)

۴ . عورت پټول . د مانځه څلورم شرط عورت پټول دي . (۳)

---

(۱) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه قَالَ: بَيْنَمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي بِأَصْحَابِهِ إِذْ خَلَعَ نَعْلَيْهِ فَوَضَعَهُمَا عَنْ يَسَارِهِ ، فَلَمَّا رَأَى ذَلِكَ الْقَوْمُ أَلْقَوْا نِعَالَهُمْ ، فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاتَهُ ، قَالَ: « مَا حَمَلَكُمْ عَلَى إِلْقَاءِ نِعَالِكُمْ ؟ » قَالُوا: رَأَيْنَاكَ أَلْقَيْتَ نَعْلَيْكَ فَأَلْقَيْنَا نِعَالَنَا ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ جِبْرِيلَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَانِي فَأَخْبَرَنِي أَنَّ فِيهِمَا قَذَرًا ... سنن ابي داؤد كِتَاب الصَّلَاةِ بَاب الصَّلَاةِ فِي النَّعْلِ رقم الحديث ۶۵۰ .

نوټ : چونکه د نبي عليه السلام څپلو پورې ګند ؤ نو ځکه يې لرې کړې ، همدغه شان چې جامې (کپړې) پليتې وي نو هم د دې سره مونځ نه کيږي .

(۲) قال الله تعالى: وَعَهِدْنَا إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ أَنْ طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْعَاكِفِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ . سورة البقرة آية ۱۲۵ .

قال الله تعالى: ﴿ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ﴾ . سورة المدثر آية ۴ ./ إذا وجب تطهير ثياب المصلي وجب تطهير بدنه و مكانه ، لانها ألزم له من ثوبه لعدم وجود الصلاة بدونهما بخلافه . شرح النقاية

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: « أَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبِنَاءِ الْمَسَاجِدِ فِي الدُّورِ وَأَنْ تُنَظَّفَ وَتُطَيَّبَ » . سنن ابي داؤد كِتَاب الصَّلَاةِ بَاب اتِّخَاذِ الْمَسَاجِدِ فِي الدُّورِ رقم الحديث ۴۵۵ ، سنن الترمذي رقم الحديث ۵۹۴ بَاب مَا ذُكِرَ فِي تَطْيِيبِ الْمَسَاجِدِ .

(۳) قال الله تعالى : ﴿ يَا بَنِي آدَمَ خُذُوا زِينَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ ﴾ . سورة الاعراف آية ۳۱ . أي ما يواري عورتكم عند كل صلاة ، و لايجب أخذ الزينة لعين المسجد ، فدلّ أنه للصلاة ، لكن كنّى عن الصلاة بالمسجد ، فالأول من إطلاق اسم الحال على المحل ، والثاني إطلاق اسم المحل على الحال . شرح نقاية

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: « لَا يَقْبَلُ اللهُ صَلَاةَ حَائِضٍ إِلَّا بِخِمَارٍ » . سنن ابي داؤد كِتَاب الصَّلَاةِ بَاب الْمَرْأَةِ تُصَلِّي بِغَيْرِ خِمَارٍ رقم الحديث ۶۴۱ ، سنن الترمذي كتاب الصلاة رقم ۳۷۷ ، سنن ابن ماجه كتاب الطهارة رقم ۶۵۵ . (والمراد من الحائض : البالغة ، او من شأنها الحيض لتعمّ المراهقة) .

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « لَا يَقْبَلُ اللهُ مِنِ امْرَأَةٍ صَلَاةً حَتَّى تُوَارِيَ زِينَتَهَا ، وَلَا مِنْ جَارِيَةٍ بَلَغَتِ الْمَحِيضَ حَتَّى تَخْتَمِرَ » . المعجم الاوسط للطبراني رقم ۷۶۰۶ ، والمعجم الصغير للطبراني رقم ۹۲۰ ، مجمع الزوائد ۲ / ۵۲ ، مصنف عبدالرزاق ۳ / ۱۳۱ رقم الحديث ۵۰۴۲ .

Scanned with CamScanner

نوټ : د سري عورت د نوم نه تر زنګونانو پورې دی ، او د آصيلي (آزادې) ښځې د مخ ، ورغوو ، او قدمونو نه علاوه نور ټول بدن عورت دی ۰ (۱)

په احاديثو کې په تفصيل سره ددې تذکره شته ۰ (۲)

۵ . وخت پيژندل . د مانځه پنځم شرط د وخت پيژندل دي ۰ (۳)

(۱) هداية ج۱ ص ۸۵ ، شرح الهاية ج۱ ص ۶۴ ، كبيري ص ۲۱۰ .

(۲) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ..... فَإِنَّ مَا أَسْفَلَ مِنْ سُرَّتِهِ إِلَى رُكْبَتَيْهِ مِنْ عَوْرَتِهِ . مسند احمد رقم الحديث ۶۷۵۶ ، دارقطني ج۱ ص ۲۳۰ .

عَنْ أَبِي أَيُّوبَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : « مَا فَوْقَ الرُّكْبَتَيْنِ مِنَ الْعَوْرَةِ ، وَمَا أَسْفَلَ مِنَ السُّرَّةِ مِنَ الْعَوْرَةِ » . سنن الدارقطني رقم الحديث ۸۹۰ بَابُ الْأَمْرِ بِتَعْلِيمِ الصَّلَوَاتِ وَالضَّرْبِ عَلَيْهَا وَحَدِّ الْعَوْرَةِ الَّتِي يَجِبُ سَتْرُهَا . و رواه البيهقي في السنن الكبرى رقم ۳۰۵۴ ، و ضعفه السيوطي في الجامع الصغير رقم ۷۹۵۱ ، و أورده المتقي الهندي في كنز العمال رقم ۱۹۱۰۲ .

وَقَالَ عليه السلام : اَلْمَرْأَةُ عَوْرَةٌ ، فَإِذَا خَرَجَتْ اِسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ .... سنن الترمذي أَبْوَابُ الرَّضَاعِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باب ۱۸ رقم الحديث ۱۱۷۳ ، صحيح ابن حبان رقم ۵۵۹۸ ، صحيح ابن خزيمة رقم ۱۶۸۶ ، المعجم الاوسط للطبراني رقم ۲۸۹۰ ، ورقم ۲۸۹۶ .

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ : ﴿ وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا . سورة النور آية ۳۱ . ﴾ قَالَ : " مَا فِي الْكَفِّ وَالْوَجْهِ " . السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۳۲۱۴ بَابُ عَوْرَةِ الْمَرْأَةِ الْحُرَّةِ .

﴿ وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا ﴾ أي إلا ما جرت به العادة على ظهورها لأجانب من الوجه والكف والقدم ، إذ من ضرورة إبداء الزينة إبداء مواضعها . والكحلُ زينةُ الوجه ، والخاتمُ زينةُ الكفِّ ، ولانّ المرأة لا تجدُ بدًّا من مزاولة الأشياء بيدها ، ومن الحاجة إلى كشف وجهها خصوصا للشهادة والمحاكمة ، و تضطر إلى المشي في الطرقات و ظهور قدميها خصوصًا الفقيرات . وعن أبي حنيفة رحمه الله : القدم عورة ، و به قال الشافعي . ادلة الحنفية من الاحاديث النبوية ص ۱۴۷ .

(۳) قَالَ اللهُ تعالى : ﴿ إِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا ﴾ . سورة النساء آية ۱۰۳ . ترجمه : بيشكه مونځ په مؤمنانو باندې په خپل مقرر وختونو کې فرض کړې شوې دی .

اتفق المسلمون على أنّ للصلوات الخمس أوقاتا خمسًا هي شرط لأدائها ، اي لصحة أدائها لا لقضائها .

۶ . **قبلې ته مخ کول** . د مانځه شپږم شرط قبلې ته مخ کول دي ، په قرآن کريم او احاديث دواړو کې د مونځ ګزار د پاره قبلې ته د مخ کيدو حکم راغلی . (۱)

۷ . **نيت کول** . د مانځه اووم شرط نيت کول (يعنې د زړه اراده کول) دي . (۲)

(**نوټ** . د نيت متعلق تفصيلي بحث روستو په فقهي مسائلو کې ذکر دی چې د نيت نه مراد څه شی دی ؟ او ژبه باندې د نيت ويلو څه حکم دی ؟ . ابوالشمس عفه)

---

(۱) قال الله تعالى : ﴿ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ ﴾ سورة البقرة آية ۱۴۴ ، وآية ۱۵۰ .

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ..... إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ فَأَسْبِغِ الْوُضُوءَ ، ثُمَّ اسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ ، فَكَبِّرْ .... صحيح البخاري رقم الحديث ۶۶۶۷ بَابُ إِذَا حَنِثَ نَاسِيًا فِي الأَيْمَانِ ، ورقم ۶۲۵۱ كِتَابُ الاِسْتِئْذَانِ بَابُ مَنْ رَدَّ فَقَالَ: عَلَيْكَ السَّلَامُ . صحيح مسلم رقم الحديث ۴۶ (۳۹۷) كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ وُجُوبِ قِرَاءَةِ الْفَاتِحَةِ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ .... مشكوة المصابيح رقم الحديث ۷۹۰ (۱) بَابُ صفة الصَّلَاة الفصل الأول .

عَنْ عَطَاءٍ ، قَالَ : سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ : لَمَّا دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَيْتَ ، دَعَا فِي نَوَاحِيهِ كُلِّهَا ، وَلَمْ يُصَلِّ حَتَّى خَرَجَ مِنْهُ . فَلَمَّا خَرَجَ رَكَعَ رَكْعَتَيْنِ فِي قُبُلِ الْكَعْبَةِ ، وَقَالَ : « هَذِهِ الْقِبْلَةُ » . صحيح البخاري كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: ﴿وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى﴾ رقم الحديث ۳۹۸ ، صحيح مسلم كِتَابُ الْحَجِّ بَابُ اسْتِحْبَابِ دُخُولِ الْكَعْبَةِ لِلْحَاجِّ وَغَيْرِهِ ... رقم الحديث ۳۹۵ (۱۳۳۰) .

(فِي قُبُلِ الْكَعْبَةِ) قبل الشيء أوله وما استقبلك منه بضمتين وبإسكان الباء . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم

(۲) قال الله تعالى : ﴿ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ ﴾ . سورة البينة آية ۵ . والإخلاص لا يكون إلا بالنية .

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ . صحيح البخاري بَابُ بَدْءِ الوَحْيِ كَيْفَ كَانَ بَدْءُ الوَحْيِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ رقم الحديث ۱ . صحيح مسلم كتاب الإمارة رقم الحديث ۱۹۰۷ ، سنن الترمذي كتاب فضائل الجهاد رقم ۱۶۴۷ ، سنن ابي داؤد كتاب الطلاق رقم الحديث ۲۲۰۱ ، سنن النسائي كتاب الطهارة رقم ۷۵ .

هذا الحديث رواه الائمة الستة في كتبهم ، وروى البخاري في سبعة مواضع من كتابه .

د مانځه اركان (سره د دلائلو)

په مانځه کې شپږ (۶) اركان دي :

۱ . تكبير تحريمه . (يعنى د مانځه اولنى تكبير . (۱)) .

د تكبيرِ تحريمه ثبوت د قرآن كريم او احاديثو دواړو نه راغلې دى . (۲)

۲ . قيام (يعنى په ولاړه مونځ كول) .

په مانځه كې د قيام فرضيت د قرآن كريم او احاديثو دواړو نه ثابت دى . (۳)

---

(۱) أي تكبيرة الإفتتاح . سُميت تحريمةً لأنّ بها تحرمُ أمورٌ كانت مباحةً قبلها .

(۲) لقوله تعالى: ﴿ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ﴾. سورة المدثر آية ۳ .

وقال تعالى: ﴿ وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّى ﴾. سورة الاعلى آية ۱۵ .

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الطُّهُوْرُ ، وَتَحْرِيْمُهَا التَّكْبِيْرُ ، وَتَحْلِيْلُهَا التَّسْلِيْمُ . سنن الترمذي أَبْوَابُ الطَّهَارَةِ بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ مِفْتَاحَ الصَّلَاةِ الطُّهُوْرُ رقم الحديث ۳ ، و كتاب الصلاة رقم ٦١٨ . وقال الترمذي: هَذَا الحَدِيثُ أَصَحُّ شَيْءٍ فِي هَذَا البَابِ وَأَحْسَنُ . سنن ابن ماجه كتاب الطهارة رقم ۲۷۵ ، ۲۷٦ ، و رواه الدارمي في سننه كتاب الطهارة رقم ٦٨٧ ، والطحاوي في شرح معاني الآثار ۱ / ۲۷۳ ، والحاكم في المستدرک عن ابي سعيد مرفوعا .

وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ .... إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ فَأَسْبِغِ الوُضُوْءَ ، ثُمَّ اسْتَقْبِلِ القِبْلَةَ ، فَكَبِّرْ ... صحيح البخاري رقم الحديث ٦٦٦٧ بَابُ إِذَا حَنِثَ نَاسِيًا فِي الأَيْمَانِ ، و رقم ٦٢٥١ كِتَابُ الاِسْتِئْذَانِ بَابُ مَنْ رَدَّ فَقَالَ: عَلَيْكَ السَّلَامُ . صحيح مسلم رقم الحديث ٤٦ (٣٩٧) كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ وُجُوبِ قِرَاءَةِ الفَاتِحَةِ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ ... ، مشكوة المصابيح رقم الحديث ٧٩٠ (١) بَابُ صفة الصَّلَاةِ الفَصْلُ الأول .

(۳) لقوله تعالى : ﴿ وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ ﴾ . سورة البقرة آية ٢٣٨ .

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، قَالَ: كَانَتْ بِي بَوَاسِيْرُ ، فَسَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الصَّلَاةِ ، فَقَالَ: « صَلِّ قَائِمًا ، فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَقَاعِدًا ، فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَعَلَى جَنْبٍ » . صحيح البخاري أَبْوَابُ تَقْصِيرِ الصَّلَاةِ بَابُ إِذَا لَمْ يُطِقْ قَاعِدًا صَلَّى عَلَى جَنْبٍ رقم الحديث ١١١٧ ، سنن الترمذي كتاب الصلاة رقم الحديث ٣٧١ ، سنن ابي داؤد كتاب الصلاة رقم ٩٥٢ ، سنن ابن ماجه كتاب الصلاة رقم ١٢٢٣ ، مسند احمد رقم ١٩٨٣٢ .

۳. **قرأت**. په مانځه کې مطلقِ قرأت فرض دی ، د قرأت فرضيت د قرآن کريم او احاديثو دواړو نه ثابت دی.(١)

۴. **رکوع**. د رکوع فرضيت د قرآن او احاديثو دواړو نه ثابت دی.(٢)

۵. **سجده**. د سجدې حُکم او فرضيت په قرآن کريم کې ذکر شوی.(٣)

---

(١) لقوله تعالى: ﴿فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ﴾. سورة المزّمّل آية ٢٠.

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ..... إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ فَكَبِّرْ، ثُمَّ اقْرَأْ مَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ ....
صحيح البخاري كِتَابُ الأَذَانِ بَابُ وُجُوبِ القِرَاءَةِ لِلإِمَامِ وَالمَأْمُومِ فِي الصَّلَوَاتِ كُلِّهَا رقم الحديث ٧٥٧ ، صحيح مسلم كتاب الصلاة رقم الحديث ٣٩٧ . سنن الترمذي كتاب الصلاة رقم الحديث ٣٠٢ ، سنن ابي داؤد كتاب الصلاة رقم ٨٥٦.

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ..... إِنَّهُ لَا تَتِمُّ صَلَاةٌ لِأَحَدٍ مِنَ النَّاسِ حَتَّى يَتَوَضَّأَ فَيَضَعَ الْوُضُوءَ مَوَاضِعَهُ، ثُمَّ يَقُولُ: اللَّهُ أَكْبَرُ، ثُمَّ يَحْمَدُ اللهَ ؏ ، وَيُثْنِي عَلَيْهِ وَيَقْرَأُ مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ ... المعجم الكبير للطبراني ٥/٣٨ رقم الحديث ٤٥٢٦.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « لَا صَلَاةَ إِلَّا بِقِرَاءَةٍ » . صحيح مسلم كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ وُجُوبِ قِرَاءَةِ الْفَاتِحَةِ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ رقم الحديث ٤٢ (٣٩٦).

(٢) قَالَ اللهُ تعالى: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا ﴾. سورة الحج آية ٧٧.

﴿ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ ﴾. سورة البقرة آية ٤٣.

﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ارْكَعُوا لَا يَرْكَعُونَ . وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِلْمُكَذِّبِينَ ﴾ سورة المرسلات آية ٤٨ ، ٤٩.

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَا تُجْزِئُ صَلَاةٌ لَا يُقِيمُ فِيهَا الرَّجُلُ ، يَعْنِي، صُلْبَهُ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ. سنن الترمذي أَبْوَابُ الصَّلَاةِ بَابُ مَا جَاءَ فِيمَنْ لَا يُقِيمُ صُلْبَهُ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ رقم الحديث ٢٦٥ ، سنن ابن ماجه كتاب اقامة الصلاة رقم الحديث ٨٧٠ ، سنن النسائي كتاب التطبيق رقم ١٠٢٧ ، ١١١١ ، سنن ابي داؤد كتاب الصلاة رقم ٨٥٥ ، سنن الدارقطني ١/٣٤٨.

وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ ... « لَا خَيْرَ فِي دِينٍ لَيْسَ فِيهِ رُكُوعٌ » . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٨٣٧٢ . مسند احمد ٢٩/٣٨ رقم الحديث ١٧٩١٣.

(٣) قَالَ اللهُ تعالى: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا ﴾. سورة الحج آية ٧٧. ﴿ كَلَّا لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ ﴾ سورة العلق آية ١٩. ﴿ وَمِنَ اللَّيْلِ فَاسْجُدْ لَهُ وَسَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيلًا ﴾ سورة الدهر آية ٢٦.

په احاديثو مُباركه وُ کې هم د سجدې حُکم او فضائِل ذکر شوي . (١)

٦. **آخِري قعده** . د امام ابو حنيفه او امام ثوري رحمه الله په نزد باندې په آخِري قعده کې په آندازه د تشهّد باندې کيناستل فرض دي . (٢)

---

(١) قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أُمِرْتُ أَنْ أَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةِ أَعْظُمٍ عَلَى الْجَبْهَةِ ، وَأَشَارَ بِيَدِهِ عَلَى أَنْفِهِ وَالْيَدَيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ ، وَأَطْرَافِ الْقَدَمَيْنِ وَلَا نَكْفِتَ الثِّيَابَ وَالشَّعرَ » . صحيح البخاري كِتَابُ الأَذَانِ بَابُ السُّجُودِ عَلَى الأَنْفِ رقم الحديث ٨١٢ ، صحيح مسلم كتاب الصلاة رقم ٤٩٠ ، سنن الترمذي كتاب الصلاة رقم ٢٧٣ ، سنن النسائي كتاب التطبيق رقم ١٠٩٧ ، سنن الدارمي كتاب الصلاة رقم ١٣١٩ ، سنن ابن ماجه كتاب اقامة الصلاة رقم ٨٨٣

وفي رواية : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما : أُمِرَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم أَنْ يَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةِ أَعْضَاءٍ ... صحيح البخاري كِتَابُ الأَذَانِ بَابُ السُّجُودِ عَلَى سَبْعَةِ أَعْظُمٍ رقم الحديث ٨٠٩ ، سنن النسائي كتاب التطبيق رقم الحديث ١٠٩٣ .

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَقْرَبُ مَا يَكُوْنُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ ، فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ . صحيح مسلم كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ مَا يُقَالُ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ رقم الحديث ٢١٥ (٤٨٢) ، سنن ابي داؤد باب في الدعاء في الركوع والسجود ، مشكاة المصابيح باب السجود وفضله الفصل الاول رقم الحديث ٨٩٤ (٨) .

نبي عليه السلام حضرت ثوبان رضي الله عنه ته فرمايلي وو : « عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُوْدِ لِلّٰهِ ، فَإِنَّكَ لَا تَسْجُدُ لِلّٰهِ سَجْدَةً إِلَّا رَفَعَكَ اللهُ بِهَا دَرَجَةً ، وَحَطَّ عَنْكَ بِهَا خَطِيْئَةً » . صحيح مسلم كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ فَضْلِ السُّجُودِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ رقم ٢٢٥ (٤٨٨) ، مشكاة المصابيح باب السجود وفضله الفصل الاول رقم ٨٩٧ (١١) ، صحيح الترغيب والترهيب رقم ٣٨٥ (٣)

(٢) ... أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ بِيَدِ عَبْدِ اللهِ (بن مسعود رضي الله عنه) فَعَلَّمَهُ التَّشَهُّدَ فِي الصَّلَاةِ ..... « إِذَا قُلْتَ هٰذَا أَوْ قَضَيْتَ هٰذَا فَقَدْ قَضَيْتَ صَلَاتَكَ ، إِنْ شِئْتَ أَنْ تَقُوْمَ فَقُمْ ، وَإِنْ شِئْتَ أَنْ تَقْعُدَ فَاقْعُدْ » . سنن ابي داؤد بَابُ تَفْرِيعِ أَبْوَابِ الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ بَابُ التَّشَهُّدِ رقم الحديث ٩٧٠ ، ورواه ابن حبان في صحيحه رقم الحديث ١٩٦ ، والبيهقي في سننه رقم الحديث ١٣٣٩ ، واحمد في مسنده رقم ٤٠٠٦ ، وهو في مسند ابي حنيفة ص ٩٣ .

فعلّق عليه الصلاة والسلام تمام الصلاة بالقعود مع القراءة او بالقعود دونها . لان معنى قوله : إذا

..... نور د آينده صفحې په لاندې حاشيه کې اوګوره ....

نوټ : بعضي علماؤ **د مانځه نه په خپلې ارادې سره وتل** هم په فرائضو کې شمار کړي، ليکن صحيح داده چې دا فرض نه دي. (١)

......د تيرې صفحې باقي پاتې حصه......

قلت هذا . اى التشهد فى القعود . لانّ قول التشهد من دون القعود غير معتبر . شرح النقاية ..

عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ الْحَضْرَمِيِّ ، قَالَ : " صَلَّيْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ : لَأَحْفَظَنَّ صَلَاةَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : فَلَمَّا قَعَدَ لِلتَّشَهُّدِ فَرَشَ رِجْلَهُ الْيُسْرَى ثُمَّ قَعَدَ عَلَيْهَا ... شرح معاني الآثار للطحاوي ١/٢٥٩ رقم الحديث ١٥٣٢ ، المعجم الكبير للطبراني ٣٤/٢٢ ، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ١٠٢٠ .

قَالَ التِّرمذي : .... وقَالَ بَعْضُهُمْ : إِذَا صَلَّى الظُّهْرَ خَمْسًا وَلَمْ يَقْعُدْ فِي الرَّابِعَةِ مِقْدَارَ التَّشَهُّدِ فَسَدَتْ صَلَاتُهُ . وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ ، وَبَعْضِ أَهْلِ الْكُوفَةِ . سنن الترمذي ١/٥٠٨ بَابُ مَا جَاءَ فِي سَجْدَتَيِ السَّهْوِ بَعْدَ السَّلَامِ وَالْكَلَامِ

(۲) فتاوى فريديه ج ۲ ص ۴۶۳ باب القراءة في الصلوة .

(۳) وعند محمد يأتي بها اى بالتسمية في اول السورة اذا خافت بالقراءة لا اذا جهر . حلبي كبير ص ۳۰۸ صفة الصلوة ، شامي ج۱ ص ۴۹۰ باب صفة الصلوة ، البحر الرائق ج۱ ص ۳۱۲ في بيان شروع الصلاة . فتاوى محموديه ج۹ ص ۳۲۳ سنن نماز .

په فتاوی دارالعلوم دیوبند کې ذکر دي : د دُرمختار د عبارت نه معلومیږي چې د سورة فاتحې او سورة په مینځ کې بسم الله الرحمن الرحيم ويل بهتر ده ، اگر چې داسې مؤکد نده لکه څرنګې چې د هر رکعت په اول کې ده.(۱)

په فتاوی فریدیه کې ذکر دي چې : د امام د پاره د سورة فاتحې او سورة په مینځ کې بسم الله الرحمن الرحيم ويل جائز غير مكروه (يعنى حَسَن) ده.(۲)

---

(۱) (وَ) كَمَا تَعَوَّذَ (سَمّٰى) غَيْرُ الْمُؤْتَمِّ بِلَفْظِ الْبَسْمَلَةِ ... (سِرًّا فِيْ) أَوَّلِ (كُلِّ رَكْعَةٍ) ..... وَلَا تُكْرَهُ اِتِّفَاقًا . الدر المختار

قال ابن عابدين رحمه الله : (قَوْلُهُ : وَلَا تُكْرَهُ اِتِّفَاقًا) وَلِهٰذَا صَرَّحَ فِي الذَّخِيْرَةِ وَالْمُجْتَبٰى بِأَنَّهُ إِنْ سَمّٰى بَيْنَ الْفَاتِحَةِ وَالسُّوْرَةِ الْمَقْرُوْءَةِ سِرًّا أَوْ جَهْرًا كَانَ حَسَنًا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَرَجَّحَهُ الْمُحَقِّقُ ابْنُ الْهُمَامِ . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۴۹۰ بَابُ صِفَةِ الصَّلَاةِ . فتاوی دارالعلوم دیوبند ج۲ ص ۱۳۲ كتاب الصلوة .

(۲) قال الحصكفي رحمه الله .... (لَا) تُسَنُّ (بَيْنَ الْفَاتِحَةِ وَالسُّوْرَةِ مُطْلَقًا) وَلَوْ سِرِّيَّةً ، وَلَا تُكْرَهُ اِتِّفَاقًا . وَمَا صَحَّحَهُ الزَّاهِدِيُّ مِنْ وُجُوْبِهَا ضَعَّفَهُ فِي الْبَحْرِ . الدر المختار

قال ابن عابدين رحمه الله : (قَوْلُهُ : وَلَا تُكْرَهُ اِتِّفَاقًا) وَلِهٰذَا صَرَّحَ فِي الذَّخِيْرَةِ وَالْمُجْتَبٰى بِأَنَّهُ إِنْ سَمّٰى بَيْنَ الْفَاتِحَةِ وَالسُّوْرَةِ الْمَقْرُوْءَةِ سِرًّا أَوْ جَهْرًا كَانَ حَسَنًا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَرَجَّحَهُ الْمُحَقِّقُ ابْنُ الْهُمَامِ وَتِلْمِيْذُهُ الْحَلَبِيُّ لِشُبْهَةِ الْاِخْتِلَافِ فِيْ كَوْنِهَا آيَةً مِنْ كُلِّ سُوْرَةٍ . بحر . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۴۹۰ بَابُ صِفَةِ الصَّلَاةِ .

وفي منهاج السنن ... و روي عن محمد إستحبابُ التسمية بين السورة والفاتحة ، وعند ابي حنيفة و ابي يوسف تجوز بلاكراهة ، ولاتسن . صَرَّحَ فِي الذَّخِيْرَةِ وَالْمُجْتَبٰى بِأَنَّهُ إِنْ سَمّٰى بَيْنَ الْفَاتِحَةِ وَالسُّوْرَةِ الْمَقْرُوْءَةِ سِرًّا أَوْ جَهْرًا كَانَ حَسَنًا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَرَجَّحَهُ الْمُحَقِّقُ ابْنُ الْهُمَامِ وَتِلْمِيْذُهُ الْحَلَبِيُّ لِشُبْهَةِ الْاِخْتِلَافِ فِيْ كَوْنِهَا آيَةً مِنْ كُلِّ سُوْرَةٍ . منهاج السنن شرح جامع السنن ج۲ ص ۱۲۰ باب في ترك الجهر ببسم الله الرحمن الرحيم . فتاوی فریدیه ج۲ ص ۲۶۴ باب القراءة في الصلوة ، و ص ۳۵۰ باب سنن الصلوة .

آمين په پټه باندې ويل بهتر دی

(**نوټ** : د امام او مقتدي دواړو د پاره آمين په پټه باندې ويلو په باره کې تفصيلي احاديث مخکې د مانځه د سُنتو په بحث کې د دې عنوان '' آمين په پټه باندې ويل سُنت دی '' د لاندې تېر شوي ، اول هلته هغه احاديث ضرور اوګوره . دلته د رته صرف د مشهورو فتاوٰ يو څو اقوال رانقل کوم . ابوالشمس علي عنه)

په **فتاوى دار العلوم ديوبند** کې ذکر دي : د آمين په پټه او په زوره ويلو باره کې دواړه قسمه احاديث موجود دي ، لېکن راجح په پټه آمين ويل دي . په پټه باندې د آمين ويلو حکم د قرآن کريم نه هم معلومېږي .

الله تعالى فرمايي : ﴿ اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً ۚ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ﴾ .(١)

ترجمه : تاسو رااوبلئ خپل رب په عاجزۍ او پټه سره ، بېشکه هغه د حَد نه تجاوز کوونکي نه خوښوي .

همدارنګې په حديث شريف کې هم موجود دي :

... إِنَّكُمْ لَا تَدْعُوْنَ أَصَمَّ وَلَا غَائِبًا إِنَّكُمْ تَدْعُوْنَ سَمِيْعًا بَصِيْرًا وَهُوَ مَعَكُمْ وَالَّذِيْ تَدْعُوْنَهُ أَقْرَبُ إِلَى أَحَدِكُمْ مِنْ عُنُقِ رَاحِلَتِهِ . (٢)

وَلِقَوْلِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ: أَرْبَعٌ يُخْفِيهِنَّ الْإِمَامُ . وَذَكَرَ مِنْهَا التَّعَوُّذَ وَالتَّسْمِيَةَ وَآمِيْنَ . (٣)

همدارنګې په احاديثو کې چې د '' وخفض واخفى به صوته '' وغيره الفاظ راغلي دا هم په پټه آمين ويلو باندې دلالت کوي ، همدارنګې د ابن مسعود ﷺ او حضرت وائل بن

(١) سورة الاعراف آية ٥٥ .

(٢) متفق عليه مشكاة المصابيح كتاب الدعوات باب ثواب التسبيح والتحميد والتهليل والتكبير الفصل الأول رقم الحديث ٢٣٠٣ (١٠) .

(٣) الهداية باب صفة الصلوة .

حجر ﷺ احاديث هم په دې دلالت کوي چې آمين په پټه باندې ويل سنت دی ۰ (۱)

په **فتاوی محموديه** کې ذکر دي : د آمين په باره کې دواړه قسمه احاديث راغلي ۰ په بعضو کې په پټه آمين راغلی، او په بعضو کې په ښکاره باندې ۰

امام ابو حنيفه او امام مالک رحمهما الله فرمايي چې آمين به په پټه ويلې شي ، امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمايي چې په زُوره به ويلې شي ، د امام شافعي رحمه الله نه په دې باره کې دوه قوله نقل دي : مخکيني قول يې په زُوره د آمين ويلو ؤ او روستوني قول يې په پټه د آمين ويلو دی ۰ (۲)

لهذا د امام د پاره په پټه آمين ويل بهتر دی ۰

عن وَائِل بن حُجْرٍ ﷺ قَالَ : صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا قَرَأَ : غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ قَالَ : «آمِينَ» وَأَخْفَى بِهَا صَوْتَهُ ۰ (۳)

په **كفاية المفتي** کې ذکر دي : آمين بالجهر په صحيح روايت کې ثابت نه دی نو ځکه احناف په پټه باندې آمين ويل بهتر ګڼړي ۰ (۴)

---

(۱) فتاوی دار العلوم ديوبند ج۲ ص۱۳۷ ، ۱۳۸ ، ۱۳۰ كتاب الصلاة ۰

(۲) قال الحنفية ومالک والشافعي في الجديد يأتي بها سرًا ، وقال الشافعي في القديم واحمد يجهر بها في الجهرية . كذا في العيني والبذل . اوجز المسالک ج۲ ص۱۰۸ ماجاء في التامين خلف الامام ، بذل المجهود ج۲ ص۱۰۰ كتاب الصلاة باب التامين وراء الامام ، سعاية ج۲ ص۱۷۳ باب صفة الصلاة صفة التامين ، فتاوی محموديه ج۹ ص۳۲۶ سنن نماز

(۳) رواه احمد في مسنده رقم الحديث ۱۸۸۵۴ حديث وَائِلِ بنِ حُجْرٍ ، وابوداؤد في سننه كتاب الصلاة رقم ۹۳۲ ، ورقم ۹۳۳ ، آثار السنن ج۱ ص۹۶ كتاب الصلاة باب ترک الجهر بالتامين ، ترمذي شريف ج۱ ص۵۸ ، فتاوی محموديه ج۹ ص۳۲۵ سنن نماز

(۴) قال العلامة الحصكفي رحمه الله : (وَأَمَّنَ الْإِمَامُ سِرًّا كَمَأْمُومٍ وَمُنْفَرِدٍ) وَلَوْ فِي السِّرِّيَّةِ إذَا سَمِعَهُ وَلَوْ مِنْ مِثْلِهِ فِي نَحْوِ جُمُعَةٍ وَعِيدٍ. الدر المختار ۱ /۴۹۲ فَصْلٌ فِي بَيَانِ تَأْلِيفِ الصَّلَاةِ إلَى انْتِهَائِهَا ، كفاية المفتي ج۹ ص۴۵۹ كتاب السباسيات ۰

Scanned with CamScanner

د نفلو په اوله قعده کې درود شریف ویل، او په دریم رکعت کې ثناء او تعوذ ویل په کار دي

که چا د څلور رکعته نفلو نیت تړلې وي نو دې به په اوله قعده کې درود شریف هم وایي، او چې دریم رکعت ته پاڅي نو سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ... ، أَعُوْذُ بِاللهِ... او بسم الله ... به هم وایي، ځکه د نفلو هره شُفعه (یعنی دوه رکعته) مستقل مونځ دی.

البته د سُنتِ مؤکده وُ حکم داسې ندی، یعنی په څلور رکعته سُنتِ مؤکد کې به په اوله قعده کې صرف تشهد وایي، درود شریف به ورسره نه وایي، همدارنګې په دریم رکعت کې به سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ او أَعُوْذُ بِاللهِ هم نه وایي، بلکه شروع به د بسم الله نه کوي.(۱)

د امام د پاره د سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ ویلو نه پس د رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ ویلو حکم

زمونږ په مذهب کې دا مسئله اختلافي ده چې د امام د پاره د سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ ویلو نه پس رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ ویل شته او که نه؟ په دې کې توسّع ده، د ویلو او نه ویلو دواړو

---

(۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله: (وَلَا يُصَلِّي عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْقَعْدَةِ الْأُوْلَى فِي الْأَرْبَعِ قَبْلَ الظُّهْرِ وَالْجُمُعَةِ وَبَعْدَهَا) وَلَوْ صَلَّى نَاسِيًا فَعَلَيْهِ السَّهْوُ، وَقِيْلَ: لَا. شُمُنِّيٌّ (وَ لَا يَسْتَفْتِحُ إِذَا قَامَ إِلَى الثَّالِثَةِ مِنْهَا) لِأَنَّهَا لِتَأَكُّدِهَا أَشْبَهَتِ الْفَرِيْضَةَ (وَفِي الْبَوَاقِيْ مِنْ ذَوَاتِ الْأَرْبَعِ يُصَلِّيْ عَلَى النَّبِيِّ) صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (وَيَسْتَفْتِحُ) وَيَتَعَوَّذُ وَلَوْ نَذْرًا لِأَنَّ كُلَّ شَفْعٍ صَلَاةٌ. الدر المختار ۲/ ۱۶ باب الوتر والنوافل

قال ابن نجيم رحمه الله: وَفِي الْمُجْتَبٰى وَفِي الْأَرْبَعِ قَبْلَ الظُّهْرِ وَالْجُمُعَةِ وَبَعْدَهَا لَا يُصَلِّيْ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْقَعْدَةِ الْأُوْلَى وَلَا يَسْتَفْتِحُ إِذَا قَامَ إِلَى الثَّالِثَةِ بِخِلَافِ سَائِرِ ذَوَاتِ الْأَرْبَعِ مِنَ النَّوَافِلِ. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۲ / ۵۳ باب الوتر والنوافل الصَّلَاةُ الْمَسْنُوْنَةُ كُلَّ يَوْمٍ. ومثله في الهندية ج۱ ص ۱۱۳ باب النوافل فتاوى حقانيه ج۳ ص ۲۵۴.

اجازت شته، خو ډيرو فقهاؤ ويل راجح ګرځولي. (۱)

د جمعې نه روستو به امام سُنت چيرته اداء کوي؟

په **فتاوی عثمانيه** کې ذکر دي: د کوم فرض مونځونو نه روستو چې سُنت وي (يعنی د ماسپخين، ماښام او ماسخوتن په مانځه کې) چې کله په دې مونځونو کې امام سلام اوګرځوي نو د امام د پاره په خپل ځای پاندې ډير کيناستل مکروه دي، بلکه امام ته په کار دي چې په کوم ځای کې يې فرض کړي دي د هغې ځای نه ښي طرف يا چپ طرف يا شاته راشي او سنت اداء کړي.

او د کوم فرض مونځونو نه پس چې سُنت نه وي لکه د سهر او مازيګر په مانځه کې نو په هغې کې هم امام د پاره د سلام ګرځولو نه پس قبلې طرف ډير وخت کيناستل صحيح ندي، بلکه يا به ښي طرف يا به چپ طرف مقتديانو طرف ته مخ راګرځوي. (۲)

---

(۱) وَالتَّسْبِيعُ لِلْإِمَامِ، وَالتَّخْمِيسُ لِغَيْرِهِ. الدرالمختار. (قَوْلُهُ: لِغَيْرِهِ) أَيْ لِمُؤْتَمٍّ وَمُنْفَرِدٍ، لَكِنْ سَيَأْتِي أَنَّ الْمُعْتَمَدَ أَنَّ الْمُنْفَرِدَ يَجْمَعُ بَيْنَ التَّسْبِيعِ وَالتَّخْمِيسِ، وَكَذَا الْإِمَامُ عِنْدَهُمَا وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنِ الْإِمَامِ جَزَمَ بِهَا الشُّرُنْبُلَالِيُّ فِي مُقَدِّمَتِهِ. رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۴۷۷ بَابُ صِفَةِ الصَّلَاةِ، فتاوى فريديه ج ۲ ص ۲۹۱ باب اداب الصلاة.

(۲) وفى الهندية: وَإِذَا سَلَّمَ الْإِمَامُ مِنَ الظُّهْرِ وَالْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ كُرِهَ لَهُ الْمُكْثُ قَاعِدًا لَكِنَّهُ يَقُومُ إِلَى التَّطَوُّعِ، وَلَا يَتَطَوَّعُ فِي مَكَانِ الْفَرِيضَةِ وَلَكِنْ يَنْحَرِفُ يَمْنَةً وَيَسْرَةً أَوْ يَتَأَخَّرُ وَإِنْ شَاءَ رَجَعَ إِلَى بَيْتِهِ يَتَطَوَّعُ فِيهِ. وَإِنْ كَانَ مُقْتَدِيًا أَوْ يُصَلِّي وَحْدَهُ إِنْ لَبِثَ فِي مُصَلَّاهُ يَدْعُو جَازَ، وَكَذَلِكَ إِنْ قَامَ إِلَى التَّطَوُّعِ فِي مَكَانِهِ أَوْ تَأَخَّرَ أَوِ انْحَرَفَ يَمْنَةً وَيَسْرَةً جَازَ وَالْكُلُّ سَوَاءٌ.
وَفِي صَلَاةٍ لَا تَطَوُّعَ بَعْدَهَا كَالْفَجْرِ وَالْعَصْرِ يُكْرَهُ الْمُكْثُ قَاعِدًا فِي مَكَانِهِ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ، وَالنَّبِيُّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ سَمَّى هَذَا بِدْعَةً. ثُمَّ هُوَ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ ذَهَبَ، وَإِنْ شَاءَ جَلَسَ فِي مِحْرَابِهِ إِلَى طُلُوعِ الشَّمْسِ وَهُوَ أَفْضَلُ. وَيَسْتَقْبِلُ الْقَوْمَ بِوَجْهِهِ إِذَا لَمْ يَكُنْ بِحِذَائِهِ مَسْبُوقٌ فَإِنْ كَانَ يَنْحَرِفُ يَمْنَةً أَوْ يَسْرَةً. وَالصَّيْفُ وَالشِّتَاءُ سَوَاءٌ هُوَ الصَّحِيحُ. كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ. الفتاوى الهندية ۱ / ۷۷ الْفَصْلُ الرَّابِعُ فِي الْقِرَاءَةِ، فتاوى عثمانيه ج ۲ ص ۲۱۱ باب الامامة.

Scanned with CamScanner

په **كفاية المفتي** کې ذکر دي : مستحب داده چې فرض مونځ انسان په کوم ځای کې کړې وي سُنت او نفل په بدل ځای کې اوکړي .

د استحباب وجه داده چې دغه ځایونه دده د پاره گواه جوړ شي ، یا په فرائضو او نوافلو کې اِمتیاز پیدا شي . (۱)

د کومو فرضو نه پس چې سُنت وي په هغې کې د امام د پاره د سلام نه پس د زر اوچتیدلو حُکم

په **فتاوي حقانيه** کې ذکر دي چې د کومو فرضو نه پس سنت وي (لکه د ماسپخین ، ماښام او ماسخوتن په مانځه کې) نو په دې کې د امام د پاره د سلام گرځولو نه پس بهتر داده چې فوراً پاڅي ، او د څه لږ تقدیم و تاخیر نه پس سُنت اداء کړي ، د امام د پاره په اوږدو دُعاگانو کې ځان مشغوله کول خلافِ اولی دي . (۲)

ذِکر و اَذکار د فرضو نه پس بهتر دي او که د سنتو نه پس ؟

په **فتاوی فریدیه** کې ذکر دي : د کومو فرضو نه پس چې سُنت وي په هغې کې د فرضو

---

(۱) وَيُكْرَهُ لِلْإِمَامِ التَّنَفُّلُ فِي مَكَانِهِ لَا لِلْمُؤْتَمِّ ، وَقِيلَ يُسْتَحَبُّ كَسْرُ الصُّفُوفِ . الدرالمختار (قَوْلُهُ : يُكْرَهُ لِلْإِمَامِ التَّنَفُّلُ فِي مَكَانِهِ) بَلْ يَتَحَوَّلُ مُخَيَّرًا كَمَا يَأْتِي عَنِ الْمُنْيَةِ . وَكَذَا يُكْرَهُ مُكْثُهُ قَاعِدًا فِي مَكَانِهِ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ فِي صَلَاةٍ لَا تَطَوُّعَ بَعْدَهَا كَمَا فِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ عَنِ الْخُلَاصَةِ . وَالْكَرَاهَةُ تَنْزِيهِيَّةٌ كَمَا دَلَّتْ عَلَيْهِ عِبَارَةُ الْخَانِيَّةِ (قَوْلُهُ : لَا لِلْمُؤْتَمِّ) وَمِثْلُهُ الْمُنْفَرِدُ . لِمَا فِي الْمُنْيَةِ وَشَرْحِهَا : أَمَّا الْمُقْتَدِي وَالْمُنْفَرِدُ فَإِنَّهُمَا إنْ لَبِثَا أَوْ قَامَا إلَى التَّطَوُّعِ فِي مَكَانِهِمَا الَّذِي صَلَّيَا فِيهِ الْمَكْتُوبَةَ جَازَ . وَالْأَحْسَنُ أَنْ يَتَطَوَّعَا فِي مَكَانٍ آخَرَ . رد المحتار على الدر المختار ۱ /۵۳۱ فَصْلٌ فِي بَيَانِ تَأْلِيفِ الصَّلَاةِ إلَى انْتِهَائِهَا كفاية المفتي ج۳ ص۳۱۳ كتاب الصلاة .

(۲) وفى الهندية : وَفِي الْحُجَّةِ : الْإِمَامُ إذَا فَرَغَ مِنَ الظُّهْرِ وَالْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ يَشْرَعُ فِي السُّنَّةِ وَلَا يَشْتَغِلُ بِأَدْعِيَةٍ طَوِيلَةٍ . كَذَا فِي التَّتَارْخَانِيَّةِ . الفتاوى الهندية ۱ / ۷۷ الْفَصْلُ الرَّابِعُ فِي الْقِرَاءَةِ ، الفتاوى التاتارخانية ج۱ ص۵۵۷ الفصل الثالث في بيان ما يفعله المصلي في صلاته بعد الافتتاح . فتاوى حقانيه ج۳ ص۱۰۸ .

Scanned with CamScanner

نه پس هم ذکرو آذکار (لکه درود شریف، آیة الکرسي وغیره) ویل جائز دي. او د سُنتو نه پس هم، خو آفضل د سُنتو نه پس دي.(۱)

مفتي صاحب روستو د مانځه د مکروهاتو په بحث کې لیکلي چې د فرضو او سُنتو په مینځ کې د وظائفو او آورادو کولو جواز اګرچې بعضې علماؤ ورکړی لیکن بهتر نه دی، لکه دا خبره په طحطاوي او نورو کتابونو کې ذکر ده.(۲)

(بلکه دا به د سُنتو نه روستو کوي، ددې دپاره چې د فرضو او سُنتو په مینځ کې اوږده فاصله رانشي).

د فرضو او سُنتو په مینځ کې د مسنون دُعاګانو او آورادو ویلو حکم

په **فتاوی عثمانیه** کې ذکر دي چې: د فرضو او سُنتو په مینځ کې بغیر ضرورته تاخیر کول مکروه دی، لیکن ددې په مینځ کې مسنون دُعاګانې او آوراد ویل بغیر د کراهته جائز

(۱) ألقيام الى السنة متصلا بالفرض مسنونٌ. وعن شمس الأئمة الحلواني لا بأس بقراءة الأوراد بين الفريضة والسنة. نورالايضاح.

"و" قال الكمال "عن شمس الأئمة الحلواني أنه قال لا بأس بقراءة الأوراد بين الفريضة والسنة" فالأولى تأخير الأوراد عن السنة. فهذا ينفي الكراهة ويخالفه ما قاله في الاختيار كل صلاة بعدها سنة يكره القعود بعدها والدعاء بل يشتغل بالسنة كيلا يفصل بين السنة والمكتوبة، وعن عائشة أن النبي صلى الله عليه وسلم كان يقعد مقدار ما يقول: "اللهم أنت السلام" الخ كما تقدم فلا يزيد عليه أو على قدره. ثم قال الكمال ولم يثبت عنه صلى الله عليه وسلم الفصل بالأذكار التي يواظب عليها في المساجد في عصرنا من قراءة آية الكرسي والتسبيحات وأخواتها ثلاثا وثلاثين وقوله صلى الله عليه وسلم لفقراء المهاجرين: "تسبحون وتكبرون وتحمدون دبر كل صلاة" الخ لايقتضي وصلها بالفرض بل كونها عقب السنة من غير اشتغال بما ليس من توابع الصلاة فصح كونها دبرها. مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۱ / ۱۱۸ فصل في الأذكار الواردة بعد الفرض، فتاوى فريديه ج۲ ص ۲۹۰ باب آداب الصلاة.

(۲) حاشية الطحطاوي مع مراقي الفلاح ص ۳۱۱ فصل في صفة الأذكار، فتاوى فريديه ج۲ ص ۲۸۰ باب مكروهات الصلاة.

Scanned with CamScanner

بلکه افضل دي .(۱)

په **فتاوى دارالعلوم ديوبند** کې ... : د نبي عليه السلام نه چې کوم ذکرونه او دعاګانې په احاديثو کې نقل دي دا د فرضو نه پس او د سُنتو نه مخکې ټول جائز او مستحب دي ، په دې کې څه حرج نشته ، او کومو بعضو فقهاؤ چې دا ليکلي چې (د کومو فرضو نه روستو چې سنت وي په هغې کې به) د فرضو نه پس د اَللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ ... نه زيات نور څه نه وايي نو ددې مطلب دا ندی چې ګڼي زيات ويل مکروه دي ، او نه ورنه د همدې مقدار وخت مراد دی .

که چيرته د بعضې احاديثو د ظاهر په وجه د بعضو فقهاؤ رائ همدا وي (چې د اَللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ ... مقدار نه زياته ناسته مکروه ده) نو بيا د ډيرو احاديثو په وجه د ډيرو فقهاؤ رای دا هم ده چې د فرضو نه پس او د سُنتو نه مخکې اذکار او آدعيه ماثوره ويل جائز او مستحب دي .(۲) لکه دا دُعاګانې شاه ولي الله رحمه الله په حجة الله البالغه کې ذکر کړي دي .

په **کفاية المفتي** کې ذکر دي : د ډيرو صحيح رواياتو نه دا خبره ثابته ده چې د فرضو نه پس د اَللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ ... د مقدار نه زياتې دُعاګانې هم نبي عليه السلام ويلي دي .(۳)

---

(۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله : وَيُكْرَهُ تَأْخِيرُ السُّنَّةِ إِلَّا بِقَدْرِ اَللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ ... قَالَ الْحَلْوَانِيُّ : لَا بَأْسَ بِالْفَصْلِ بِالْأَوْرَادِ وَاخْتَارَهُ الْكَمَالُ . قَالَ الْحَلَبِيُّ : إِنْ أُرِيدَ بِالْكَرَاهَةِ التَّنْزِيهِيَّةُ ارْتَفَعَ الْخِلَافُ قُلْتُ : وَفِي حِفْظِي حَمْلُهُ عَلَى الْقَلِيلَةِ ؛ وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَسْتَغْفِرَ ثَلَاثًا وَيَقْرَأَ آيَةَ الْكُرْسِيِّ وَالْمُعَوِّذَاتِ وَيُسَبِّحَ وَيَحْمَدَ وَيُكَبِّرَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ ؛ وَيُهَلِّلُ تَمَامَ الْمِائَةِ وَيَدْعُو وَيَخْتِمُ بِسُبْحَانَ رَبِّكَ ..... رد المحتار ۱ / ۵۳۰ كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ صِفَةِ الصَّلَاةِ . فتاوى عثمانيه ج ۲ ص ۱۷۵ فصل في المكروهات .

(۲) وَيُكْرَهُ تَأْخِيرُ السُّنَّةِ .... (پوره عبارت په مخکې حاشيه کې ذکر شو) . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۳۰ كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ صِفَةِ الصَّلَاةِ . فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۲ ص ۱۴۶ كتاب الصلوة .
همدا شي مسئله په فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۱۶۴ کې هم ذکر ده .

(۳) كفاية المفتي ج ۳ ص ۳۱۴ كتاب الصلوة طبع دارالاشاعت كراچي .

د اَللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ... ويلو په وخت د لاسونو اوچتول نشته

اَللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ... دُعا نده ، بلکه ذکر دی ، او د ذکر په وخت د لاسونو اُوچتول نشته ، نبي کريم صلى الله عليه وسلم او صحابه کرامو په هيئت اجتماعي سره دا ذکر (اَللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ) نه دي کړی . بلکه هر يو انفرادي طريقې سره کړی . لهذا هر کس له اِنفرادي طريقې سره مخ په قبله بغير د لاسونو اوچتولو نه دا ويل په کار دي . (۱)

چې د سهر جمعه ولاړه وي او ده سُنت نه وي کړي نو څه به کوي ؟

د سهر د سُنتو په احاديثو کې ډير تاکيد راغلي دی . (۲)

لهذا که يو کس سهر جُمات ته داسې وخت کې راشي چې د سهر جَمعه ولاړه وي او ده د سهر دوه رکعته سُنت نه وي کړي ، نو که دده دا اُميد وُ چې د سنتو کولو نه پس زه د امام سره د فرضو د آخري رکعت رکوع پورې شريکيدی شم ، يا د بعضو فقهاؤ په نزد دې تشهد

---

(۱) عَنْ ثَوْبَانَ رضي الله عنه قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا انْصَرَفَ مِنْ صَلَاتِهِ اسْتَغْفَرَ ثَلَاثًا وَقَالَ: « اَللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ، تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ » . صحيح مسلم رقم الحديث ١٣٦ (٥٩٢) كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةِ بَابُ اسْتِحْبَابِ الذِّكْرِ بَعْدَ الصَّلَاةِ وَبَيَانِ صِفَتِهِ .

عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَلَّمَ لَمْ يَقْعُدْ إِلَّا مِقْدَارَ مَا يَقُولُ: « اَللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ، تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ » . وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ نُمَيْرٍ « يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ » . صحيح مسلم رقم الحديث ١٣٦ (٥٩٢) كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةِ بَابُ اسْتِحْبَابِ الذِّكْرِ بَعْدَ الصَّلَاةِ وَبَيَانِ صِفَتِهِ . فتاوى فريديه ج ۲ ص ۲٦۲ باب سنن الصلوة .

(۲) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « لَا تَدَعُوهُمَا، وَإِنْ طَرَدَتْكُمُ الْخَيْلُ » . سنن ابي داود رقم الحديث ١٢٥٨ بَابُ تَفْرِيعِ أَبْوَابِ التَّطَوُّعِ وَرَكَعَاتِ السُّنَّةِ بَابٌ فِي تَخْفِيفِهِمَا .

وفي رواية: عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: « إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ عَلَى شَيْءٍ مِنَ النَّوَافِلِ أَشَدَّ مُعَاهَدَةً مِنْهُ عَلَى الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ الصُّبْحِ » . سنن ابي داود رقم الحديث ١٢٥٤ بَابُ تَفْرِيعِ أَبْوَابِ التَّطَوُّعِ وَرَكَعَاتِ السُّنَّةِ بَابُ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ .

Scanned with CamScanner

رالاندې کولې شي ، د ابن همام د قول موافق چې د امام سره د سلام نه مخکې شريکيدې شي نو په دې تولو صورتونو کې به دې يو څنډې ته ځان له ځای کې سُنت اوکړي او د امام سره به شريک شي.

خو که دده د سُنتو کولو په وجه دده نه د سهر جَمعه مکمل تلله نو بيا به سُنت پريږدي او په جَمعه کې به د امام سره شريکيږي. (۱)

چې کله د سهر جَمعه ولاړه وي نو سُنت د صف سره نزدې کول نه دي په کار ، بلکه يو طرف ته يې کول په کار دي ، خو که چا د صف سره نزدې اوکړل نو جائز دي خو بهتر نه دي.

---

(۱) قال الحصكفي رحمه الله : (وَإِذَا خَافَ فَوْتَ) رَكْعَتَيْ (الْفَجْرِ لِاشْتِغَالِهِ بِسُنَّتِهَا تَرَكَهَا) لِكَوْنِ الْجَمَاعَةِ أَكْمَلَ (وَ إِلَّا) بِأَنْ رَجَا إِدْرَاكَ رَكْعَةٍ فِي ظَاهِرِ الْمَذْهَبِ . وَقِيلَ التَّشَهُّدَ وَاعْتَمَدَهُ الْمُصَنِّفُ وَالشُّرُنْبُلَالِيُّ تَبَعًا لِلْبَحْرِ، لَكِنْ ضَعَّفَهُ فِي النَّهْرِ (لَا) يَتْرُكُهَا بَلْ يُصَلِّيهَا عِنْدَ بَابِ الْمَسْجِدِ إِنْ وَجَدَ مَكَانًا وَ إِلَّا تَرَكَهَا لِأَنَّ تَرْكَ الْمَكْرُوهِ مُقَدَّمٌ عَلَى فِعْلِ السُّنَّةِ. الدرالمختار ۲/ ۵۶ بَابُ إِدْرَاكِ الْفَرِيضَةِ مَطْلَبٌ هَلِ الْإِسَاءَةُ دُونَ كَرَاهَةٍ أَوْ أَفْحَشُ

قال برهان الدين المرغيناني رحمه الله : (وَمَنِ انْتَهَى إِلَى الْإِمَامِ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ وَهُوَ لَمْ يُصَلِّ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ إِنْ خَشِيَ أَنْ تَفُوتَهُ رَكْعَةٌ وَيُدْرِكَ الْأُخْرَى يُصَلِّي رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ عِنْدَ بَابِ الْمَسْجِدِ ثُمَّ يَدْخُلُ) لِأَنَّهُ أَمْكَنَهُ الْجَمْعُ بَيْنَ الْفَضِيلَتَيْنِ (وَإِنْ خَشِيَ فَوْتَهُمَا دَخَلَ مَعَ الْإِمَامِ) لِأَنَّ ثَوَابَ الْجَمَاعَةِ أَعْظَمُ . وَالْوَعِيدَ بِالتَّرْكِ أَلْزَمُ، بِخِلَافِ سُنَّةِ الظُّهْرِ حَيْثُ يَتْرُكُهَا فِي الْحَالَتَيْنِ لِأَنَّهُ يُمْكِنُهُ أَدَاؤُهَا فِي الْوَقْتِ بَعْدَ الْفَرْضِ هُوَ الصَّحِيحُ . الهداية بَابُ إِدْرَاكِ الْفَرِيضَةِ .

قال العلامة ابن الهمام : (قَوْلُهُ : وَإِنْ خَشِيَ فَوْتَهُمَا) اَلْحَاصِلُ أَنَّهُ إِذَا أَمْكَنَ الْجَمْعُ بَيْنَ الْفَضِيلَتَيْنِ ارْتَكَبَ الْأَرْجَحَ . وَفَضِيلَةُ الْفَرْضِ بِجَمَاعَةٍ أَعْظَمُ مِنْ فَضِيلَةِ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ لِأَنَّهَا تَفْضُلُ الْفَرْضَ مُنْفَرِدًا بِسَبْعٍ وَعِشْرِينَ ضِعْفًا لَا تَبْلُغُ رَكْعَتَا الْفَجْرِ ضِعْفًا وَاحِدًا مِنْهَا . لِأَنَّهَا أَضْعَافُ الْفَرْضِ، وَالْوَعِيدُ عَلَى التَّرْكِ لِلْجَمَاعَةِ أَلْزَمُ مِنْهُ عَلَى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ ..... وَلَوْ كَانَ يَرْجُو إِدْرَاكَهُ فِي التَّشَهُّدِ قِيلَ هُوَ كَإِدْرَاكِ الرَّكْعَةِ عِنْدَهُمَا. فتح القدير لابن الهمام ۱/ ۴۷۶ بَابُ إِدْرَاكِ الْفَرِيضَةِ ، فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۲۸۸ باب ادراک الفريضة . فتاوى فريديه ج ۲ ص ۲۷۰ باب المدرک والمسبوق واللاحق ، فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۱۵۸ ، وص ۱۶۰ .

Scanned with CamScanner

البته د جمعې اودريدو نه منځکې بې د جمات په هر ځای کې کولی شي . (۱)

په فتاوی دارالعلوم ديوبند کې ذکر دي : د صحابه کرامو د آثارو نه دا ثابته ده چې دوی به د سهر د فرضو د قرأت آواز اوريدو خو بيا به يې هم يو طرف ته د سهر سُنت کول ، لهذا که د سهر فرض مکمل نه فوت کيدل نو د سهر سنت به اوکړي او بيا به په جمعه کې شريک شي ، ددې د پاره چې د سُنتو او جمعې دواړه فضيلتونه حاصل کړي . (۲)

---

(۱) قال ابن عابدين رحمه الله: (قَوْلُهُ : وَإِلَّا تَرَكَهَا) قَالَ فِي الْفَتْحِ: وَعَلَى هَذَا أَيْ عَلَى كَرَاهَةِ صَلَاتِهَا فِي الْمَسْجِدِ يَنْبَغِي أَنْ لَا يُصَلِّيَ فِيهِ إذَا لَمْ يَكُنْ عِنْدَ بَابِهِ مَكَانٌ لِأَنَّ تَرْكَ الْمَكْرُوهِ مُقَدَّمٌ عَلَى فِعْلِ السُّنَّةِ. غَيْرَ أَنَّ الْكَرَاهَةَ تَتَفَاوَتُ . فَإِنْ كَانَ الْإِمَامُ فِي الصَّيْفِيِّ فَصَلَاتُهُ إيَّاهَا فِي الشَّتْوِيِّ أَخَفُّ مِنْ صَلَاتِهَا فِي الصَّيْفِيِّ وَعَكْسُهُ، وَأَشَدُّ مَا يَكُونُ كَرَاهَةً أَنْ يُصَلِّيَهَا مُخَالِطًا لِلصَّفِّ كَمَا يَفْعَلُهُ كَثِيرٌ مِنْ الْجَهَلَةِ.

وَالْحَاصِلُ أَنَّ السُّنَّةَ فِي سُنَّةِ الْفَجْرِ أَنْ يَأْتِيَ بِهَا فِي بَيْتِهِ . وَإِلَّا فَإِنْ كَانَ عِنْدَ بَابِ الْمَسْجِدِ مَكَانٌ صَلَّاهَا فِيهِ ، وَ إِلَّا صَلَّاهَا فِي الشَّتْوِيِّ أَوْ الصَّيْفِيِّ إنْ كَانَ لِلْمَسْجِدِ مَوْضِعَانِ ، وَإِلَّا فَخَلْفَ الصُّفُوفِ عِنْدَ سَارِيَةٍ . لَكِنْ فِيمَا إذَا كَانَ لِلْمَسْجِدِ مَوْضِعَانِ وَالْإِمَامُ فِي أَحَدِهِمَا . ذَكَرَ فِي الْمُحِيطِ أَنَّهُ قِيلَ لَا يُكْرَهُ لِعَدَمِ مُخَالَفَةِ الْقَوْمِ ، وَقِيلَ يُكْرَهُ لِأَنَّهُمَا كَمَكَانٍ وَاحِدٍ.

قَالَ : فَإِذَا اخْتَلَفَ الْمَشَايِخُ فِيهِ فَالْأَفْضَلُ أَنْ لَا يَفْعَلَ . قَالَ فِي النَّهْرِ : وَفِيهِ إفَادَةُ أَنَّهَا تَنْزِيهِيَّةٌ اهـ. لَكِنْ فِي الْحِلْيَةِ قُلْت: وَعَدَمُ الْكَرَاهَةِ أَوْجَهُ لِلْآثَارِ الَّتِي ذَكَرْنَاهَا . ثُمَّ هَذَا كُلُّهُ إذَا كَانَ الْإِمَامُ فِي الصَّلَاةِ . أَمَّا قَبْلَ الشُّرُوعِ فَيَأْتِي بِهَا فِي أَيِّ مَوْضِعٍ شَاءَ كَمَا فِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ . رد المحتار على الدر المختار ۲ / ۵۶ بَابُ إدْرَاكِ الْفَرِيضَةِ مَطْلَبٌ قَالَ الْإِسَاءَةُ دُونَ كَرَاهَةٍ أَوْ أَفْحَشُ . فتاوى فريديه ج۲ ص ۴۸۳ باب المدرك والمسبوق واللاحق ، و ص ۵۲۹ باب السنن والنوافل.

(۲) عن ابن مسعود رضي الله عنه انه دخل المسجد وقد اقيمت الصلاة فصلى ركعتي الفجر في المسجد الى اسطوانته و ذلك بمحضر حذيفة و ابي موسى رضي الله عنهما .... فكانت سنة الفجر مستثناة بأدلة اخرى عارضت حديث ابي هريرة ﷺ و رجحت عليه. غنية المستملي ص ۳۷۹ و ص ۳۸۰ ، فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۳ ص ۱۵۸ و ص ۱۶۱ .

چې د سهر په سُنتو ولاړ وي او جمعه اودريږي . نو څه به کوي ؟

که يو کس د سهر په سُنتو باندې ولاړ وي او په دې وخت کې جمعه اودريږي نو دې به اندازه اولږوي : که د سُنتو په پوره کولو سره دې په جمعه کې شريکيدو شو نو بيا به سُنت پوره کړي . او که د سُنتو په کولو سره د ده غالب ګمان دا وي چې جمعه به رانه لاړه شي نو بيا فقهاؤ دا صورت ذکر کړی چې د سهر په سُنتو کې چې کوم شيان سُنت دي لکه سبحانک اللّهم ، اعوذبالله ، بسم الله وغيره ويل به پريږدي او صرف يو آيت به اولولي ، په دې طريقې سره به سُنت پوره کړي او په جمعه کې به شريک شي .

او که په دې طريقې کولو سره هم دده نه جمعه تلله نو بيا به سُنت مات کړي او په فرضو کې به شريک شي ، خو د نمر راختلو نه پس به ددې سُنتو قضاء راأوګرځوي. (۱)

چې د سهر سُنت پاتې شي نو د جمعې نه پس يې فوراً کول ناجائز دي

کله چې دچا نه د سهر دوه رکعته سُنت پاتې شي نو د فرضو نه پس متصل ددې کول ناجائز دي ، ځکه په احاديثو مُبارکه وُ کې په مکروه وختونو کې د مونځ کولو نه ممانعت راغلی ، او د سهر فرض اداء کولو نه پس تر د نمر راختلو پورې په دې وخت کې هم مونځ مکروه دی . د بخاري شريف حديث دی :

أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتَّى تَشْرُقَ الشَّمْسُ، وَبَعْدَ الْعَصْرِ حَتَّى تَغْرُبَ . (۲)

---

(۱) قال ابن عابدين رحمه الله : قَالَ فِي الْقُنْيَةِ : لَوْ خَافَ أَنَّهُ لَوْ صَلَّى سُنَّةَ الْفَجْرِ بِوَجْهِهَا تَفُوتُهُ الْجَمَاعَةُ، وَلَوْ اقْتَصَرَ فِيهَا بِالْفَاتِحَةِ وَتَسْبِيحَةٍ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ يُدْرِكُهَا فَلَهُ أَنْ يَقْتَصِرَ عَلَيْهَا لِأَنَّ تَرْكَ السُّنَّةِ جَائِزٌ لِإِدْرَاكِ الْجَمَاعَةِ، فَسُنَّةُ السُّنَّةِ أَوْلَى. وَعَنِ الْقَاضِي الزَّرَنْجَرِيِّ : لَوْ خَافَ أَنْ تَفُوتَهُ الرَّكْعَتَانِ يُصَلِّي السُّنَّةَ وَيَتْرُكُ الثَّنَاءَ وَالتَّعَوُّذَ وَسُنَّةَ الْقِرَاءَةِ . وَيَقْتَصِرُ عَلَى آيَةٍ وَاحِدَةٍ لِيَكُونَ جَمْعًا بَيْنَهُمَا وَكَذَا فِي سُنَّةِ الظُّهْرِ . رد المحتار على الدر المختار ۲ / ۵۷ بَابُ إِدْرَاكِ الْفَرِيضَةِ مَطْلَبٌ هَلْ الْإِسَاءَةُ دُونَ الْكَرَاهَةِ أَوْ أَفْحَشُ . فتاوى عثمانيه ج۲ ص ۳۱۰ باب السنن والنوافل.

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ مَوَاقِيتِ الصَّلَاةِ بَابُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْفَجْرِ حَتَّى تَرْتَفِعَ الشَّمْسُ رقم الحديث ۵۸۱ ، واخرجه مسلم في صلاة المسافرين وقصرها باب الأوقات التي نهي عن الصلاة فيها رقم الحديث ۸۲۶ .

نبي علیه السلام د سهر مانځه نه پس تر د نمر راختلو پورې (په دې وخت کې) د مونځ کولو نه منع کړی، او د مازیګر مانځه نه پس تر د نمر پریوتلو پورې (په دې وخت کې یې) د مونځ نه منع کړی.

په هدایه کې ذکر دي:

(وَيُكْرَهُ أَنْ يَتَنَفَّلَ بَعْدَ الْفَجْرِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ وَبَعْدَ الْعَصْرِ حَتَّى تَغْرُبَ) لِمَا رُوِيَ أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نَهَى عَنْ ذٰلِكَ. (۱)

د سهر د مونځ نه پس تر د نمر راختلو پورې، او د مازیګر د مونځ نه پس تر د نمر ډوبیدلو پورې نفل کول مکروه دي، ځکه په روایاتو کې دا ذکر دي چې نبي علیه السلام په دې وخت کې د مانځه نه منع کړی. (۲)

(البته په دې وخت کې قضائي مونځ کول، سجده تلاوت کول او د جنازې مونځ کول جائز دي). (۳)

د سهر د سُنتو د قضاء حکم

په احادیثو کې د سهر د سُنتو ډیر تاکید راغلی، حَتَّی الإمکان دا د فرض مانځه نه مخکې کول په کار دي، خو که د څه عُذر او مجبوریت په وجه صرف سُنت پاتې شي نو د سهر فرض مانځه نه پس تر د نمر راختلو پورې د احنافو په نزد باندې اتفاقًا د دې قضاء راګرځول نشته.

البته د نمر راختلو نه پس د دې سُنتو په قضاء راګرځولو کې اختلاف دی: د امام ابوحنیفه او امام ابویوسف رحمهما الله په نزد چې څانله سُنت پاتې شوې وي نو د نمر راختلو نه پس

---

(۱) الهداية كِتَابُ الصَّلَاةِ فَصْلٌ فِي الْأَوْقَاتِ الَّتِي تُكْرَهُ فِيهَا الصَّلَاةُ.

(۲) فتاوی عثمانیه ج۲ ص ۳۰۷ باب السنن والنوافل.

(۳) وفي الهداية: (وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يُصَلِّيَ فِي هٰذَيْنِ الْوَقْتَيْنِ الْفَوَائِتَ وَيَسْجُدَ لِلتِّلَاوَةِ وَيُصَلِّيَ عَلَى الْجِنَازَةِ) لِأَنَّ الْكَرَاهَةَ كَانَتْ لِحَقِّ الْفَرْضِ لِيَصِيرَ الْوَقْتُ كَالْمَشْغُولِ بِهِ لَا لِمَعْنًى فِي الْوَقْتِ فَلَمْ تَظْهَرْ فِي حَقِّ الْفَرَائِضِ، وَفِيمَا وَجَبَ لِعَيْنِهِ كَسَجْدَةِ التِّلَاوَةِ. الهداية كِتَابُ الصَّلَاةِ فَصْلٌ فِي الْأَوْقَاتِ الَّتِي تُكْرَهُ فِيهَا الصَّلَاةُ.

Scanned with CamScanner

هم دي قضاء نشته. (۱)

او د امام محمد رحمه الله په نزد د نمر راختلو نه پس په ددې سُنتو قضاء راګرځوي. او دا قول د امام مالک، امام احمد بن حنبل رحمهم الله هم دی. او د امام شافعي رحمه الله اولنې قول هم همدا دی. خلاصه داده چې افضل داده چې د نمر راختلو نه پس ددې سُنتو

---

(۱) (قَوْلُهُ: وَلَمْ تُقْضَ إِلَّا تَبَعًا) أَيْ لَمْ تُقْضَ سُنَّةُ الْفَجْرِ إِلَّا إِذَا فَاتَتْ مَعَ الْفَرْضِ فَتُقْضَى تَبَعًا لِلْفَرْضِ سَوَاءٌ قَضَاهَا مَعَ الْجَمَاعَةِ أَوْ وَحْدَهُ. لِأَنَّ الْأَصْلَ فِي السُّنَّةِ أَنْ لَا تُقْضَى لِاخْتِصَاصِ الْقَضَاءِ بِالْوَاجِبِ. وَالْحَدِيثُ وَرَدَ فِي قَضَائِهَا تَبَعًا لِلْفَرْضِ فِي غَدَاةِ لَيْلَةِ التَّعْرِيسِ فَبَقِيَ مَا وَرَاءَهُ عَلَى الْأَصْلِ. فَأَفَادَ الْمُصَنِّفُ أَنَّهَا لَا تُقْضَى قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ أَصْلًا وَلَا بَعْدَ الطُّلُوعِ إِذَا كَانَ قَدْ أَدَّى الْفَرْضَ، وَشَمَلَ كَلَامُهُ مَا إِذَا قَضَاهَا بَعْدَ الزَّوَالِ أَوْ قَبْلَهُ وَلَا خِلَافَ فِي الثَّانِي وَاخْتَلَفَ الْمَشَايِخُ فِي الْأَوَّلِ عَلَى قَوْلِهِمَا وَالصَّحِيحُ كَمَا فِي غَايَةِ الْبَيَانِ أَنَّهَا لَا تُقْضَى تَبَعًا لِأَنَّ النَّصَّ وَرَدَ بِقَضَائِهَا فِي الْوَقْتِ الْمُهْمَلِ بِخِلَافِ الْقِيَاسِ، وَمَا وَرَدَ عَلَى خِلَافِ الْقِيَاسِ فَغَيْرُهُ عَلَيْهِ لَا يُقَاسُ. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۲ / ۸۰ بَابُ إِدْرَاكِ فَرِيضَةِ الصَّلَاةِ قَضَاءُ سُنَّةِ الْفَجْرِ.

قَالَ الحصكفي رحمه الله: (وَلَا يَقْضِيهَا إِلَّا بِطَرِيقِ التَّبَعِيَّةِ لِ) قَضَاءِ (فَرْضِهَا قَبْلَ الزَّوَالِ لَا بَعْدَهُ فِي الْأَصَحِّ) لِوُرُودِ الْخَبَرِ بِقَضَائِهَا فِي الْوَقْتِ الْمُهْمَلِ، بِخِلَافِ الْقِيَاسِ فَغَيْرُهُ عَلَيْهِ لَا يُقَاسُ. الدر المختار ۲ / ۵۸ بَابُ إِدْرَاكِ الْفَرِيضَةِ. فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۲۸۹ باب ادراک الفريضة.

قَالَ العلامة برهان الدين المرغيناني رحمه الله: (وَإِذَا فَاتَتْهُ رَكْعَتَا الْفَجْرِ لَا يَقْضِيهِمَا قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ) لِأَنَّهُ يَبْقَى نَفْلًا مُطْلَقًا وَهُوَ مَكْرُوهٌ بَعْدَ الصُّبْحِ (وَلَا بَعْدَ ارْتِفَاعِهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ. وَقَالَ مُحَمَّدٌ: أَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ يَقْضِيَهُمَا إِلَى وَقْتِ الزَّوَالِ) لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ قَضَاهُمَا بَعْدَ ارْتِفَاعِ الشَّمْسِ غَدَاةَ لَيْلَةِ التَّعْرِيسِ.

وَلَهُمَا أَنَّ الْأَصْلَ فِي السُّنَّةِ أَنْ لَا تُقْضَى لِاخْتِصَاصِ الْقَضَاءِ بِالْوَاجِبِ، وَالْحَدِيثُ وَرَدَ فِي قَضَائِهَا تَبَعًا لِلْفَرْضِ فَبَقِيَ مَا وَرَاءَهُ عَلَى الْأَصْلِ. وَإِنَّمَا تُقْضَى تَبَعًا لَهُ، وَهُوَ يُصَلِّي بِالْجَمَاعَةِ أَوْ وَحْدَهُ إِلَى وَقْتِ الزَّوَالِ، وَفِيمَا بَعْدَهُ اخْتِلَافُ الْمَشَايِخِ رَحِمَهُمُ اللهُ. وَأَمَّا سَائِرُ السُّنَنِ سِوَاهَا فَلَا تُقْضَى بَعْدَ الْوَقْتِ وَحْدَهُ.
الهداية ۱ / ۷۲ بَابُ إِدْرَاكِ الْفَرِيضَةِ

قضاء را اوګرځوي. (۱)

نوټ: که د يو کس نه د سهر فرض او سنت دواړه قضاء شوي وي نو بيا چې دې د نمر راختلو نه پس تر د زوال الشمس پورې ددې قضائي راګرځوي نو د فرضو د تابع والي په وجه به ورسره ددې سُنتو قضائي هم راګرځوي. (۲)

چې د ماسپښين په سُنتو ولاړ وي او جمعه اودريږي، ددې حکم

په **فتاوی محموديه** کې ذکر دي: که يو کس په مخکيني صف کې په سنتو يا نفلو

(۱) قال ابن عابدين رحمه الله: (قَوْلُهُ: وَلَا يَقْضِيهَا إِلَّا بِطَرِيقِ التَّبَعِيَّةِ) أَيْ لَا يَقْضِي سُنَّةَ الْفَجْرِ إِلَّا إِذَا فَاتَتْ مَعَ الْفَجْرِ فَيَقْضِيهَا تَبَعًا لِقَضَائِهِ لَوْ قَبْلَ الزَّوَالِ؛ وَمَا إِذَا فَاتَتْ وَحْدَهَا فَلَا تُقْضَى قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ بِالْإِجْمَاعِ لِكَرَاهَةِ النَّفْلِ بَعْدَ الصُّبْحِ. وَأَمَّا بَعْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ فَكَذَلِكَ عِنْدَهُمَا. وَقَالَ مُحَمَّدٌ: أَحَبُّ إلَيَّ أَنْ يَقْضِيَهَا إلَى الزَّوَالِ كَمَا فِي الدُّرَرِ. قِيلَ هَذَا قَرِيبٌ مِنْ الِاتِّفَاقِ، لِأَنَّ قَوْلَهُ "أَحَبُّ إلَيَّ" دَلِيلٌ عَلَى أَنَّهُ لَوْ لَمْ يَفْعَلْ لَا لَوْمَ عَلَيْهِ. وَقَالَا: لَا يَقْضِي، وَإِنْ قَضَى فَلَا بَأْسَ بِهِ، كَذَا فِي الْخَبَّازِيَّةِ؛ وَمِنْهُمْ مَنْ حَقَّقَ الْخِلَافَ وَقَالَ: الْخِلَافُ فِي أَنَّهُ لَوْ قَضَى كَانَ نَفْلًا مُبْتَدَأً أَوْ سُنَّةً، كَذَا فِي الْعِنَايَةِ، يَعْنِي نَفْلًا عِنْدَهُمَا سُنَّةً عِنْدَهُ كَمَا ذَكَرَهُ فِي الْكَافِي إسْمَاعِيلُ. رد المحتار على الدر المختار ۲ / ۵۷ بَابُ إِدْرَاكِ الْفَرِيضَةِ مَطْلَبٌ هَلْ الْإِسَاءَةُ دُونَ الْكَرَاهَةِ أَوْ أَفْحَشُ

وفي المنهاج: اتفق ابوحنيفة و صاحباه على انه لا يصلي ركعتي الفجر قبل طلوع الشمس، واختلفوا هل يصليهما بعد طلوع الشمس ام لا؟ فقال محمد: نعم، وهو مذهب مالك واحمد وقال به الشافعي في قوله القديم، وقال في الجديد يصليهما بعد صلوة الصبح قبل طلوع الشمس واحتج بحديث الباب. ولنا احاديث النهي عن الصلوة بعد الصبح والعصر، و هي احاديث صحيحة مشهورة بل متواترة، وكذا هي محرمة من قبيل التشريع العام بخلاف حديث الباب فإنه منقطع لم يسمع محمد بن ابراهيم عن قيس جد سعد بن سعيد. منهاج السنن شرح جامع السنن ج۲ ص ۲۹۲ باب في من تفوته الركعتان قبل الفجر. فتاوى فريديه ج۲ ص ۵۵۳. فتاوى دار العلوم ديوبند ج۴ ص ۱۶۰ فصل ثالث سنن مؤكده وغير مؤكده.

(۲) لکه پاس په بحرالرائق او شامي کې دا خبره صراحة ذکر شوه.

Scanned with CamScanner

ولاړ وي او په دې وخت کې جمعه اودرېږي نو په کار ده چې دې په دې سُنتو او نفلو کې تخفيف اوکړي ، دا پوره کړي او په جمعه کې شريک شي .(۱)

په **كفاية المفتي** کې ذکر دي : که يو کس د ماسپخين څلور رکعته سُنت شروع کړي وي او په دې وخت کې جمعه اودرېږي نو ده ته په کار دي چې سُنت پوره کړي او جمعه کې شريک شي ، ليکن که ده د دوه رکعته پوره کولو نه پس سلام اوګرځول او په جمعه کې شريک شو بيا يې د فرضو نه پس دا سُنت اداء کړل نو دا هم جائز ده ، خو ليکن بهتر اولنۍ صورت دی (يعنی سُنت به پوره کوي) .(۲)

په **فتاوی عثمانيه** کې ذکر دي : په شريعت کې د عباداتو باطلول صحيح نه دي خو شرط دا دی چې د دې نه د اَعلی عبادت ضائع کيدلو خطره نه وي . (او که وه نو بيا خبر دی) مثلاً که د سُنتو په مشغوله کيدو سره د جمعې تللو خطره وي نو بيا په سُنتو کې مشغوله کيدل نه دي په کار .

لهذا که يو کس د ماسپخين څلور رکعته سُنت شروع کړي وي او په دې وخت کې جمعه اودرېږي نو د دې يو څو صورتونه دي :

که چيرته ده د اول رکعت سجده نه وه کړې نو سُنت به مات کړي او په جمعه کې به شريک شي . خو که د اول رکعت سجده يې هم کړې وه نو بيا به دوه رکعته پوره کړي ، سلام به اوګرځوي او په جمعه کې به شريک شي .

که دې د سُنتو په دريم رکعت کې ولاړ وي او د دريم رکعت سجده يې نه وي کړې نو سُنت به مات کړي او په جمعه کې به شريک شي .

---

(۱) فتاوی محموديه ج۹ ص ۳۸۶ جماعت کی اہميت وفضيلت.

(۲) قَالَ الحصكفي رحمه الله : (وَالشَّارِعُ فِي نَفْلٍ لَا يَقْطَعُ مُطْلَقًا) وَيُتِمُّهُ رَكْعَتَيْنِ (وَكَذَا سُنَّةُ الظُّهْرِ وَ) سُنَّةُ (الْجُمُعَةِ إِذَا أُقِيمَتْ أَوْ خَطَبَ الْإِمَامُ) يُتِمُّهَا أَرْبَعًا (عَلَى) الْقَوْلِ (الرَّاجِحِ) لِأَنَّهَا صَلَاةٌ وَاحِدَةٌ . وَلَيْسَ الْقَطْعُ لِلْإِكْمَالِ بَلْ لِلْإِبْطَالِ خِلَافًا لِمَا رَجَّحَهُ الْكَمَالُ . الدرالمختار ۲/ ۵۳ بَابُ إِدْرَاكِ الْفَرِيضَةِ . كفاية المفتي ج۳ ص ۳۲۱ كتاب الصلوة .

Scanned with CamScanner

نو که د دریم رکعت سجده یې هم کړې وه نو بیا به څلور رکعته سُنت پوره کړي او په جُمعه کې به شریک شي. (۱)

چې د ماسپخين څلور رکعته سُنت پاتې شي ددې د کولو ترتيب

که یو کس نه د ماسپخین څلور رکعته سُنت پاتې شي او په جُمعه کې شریک شي نو دا به اوس د جُمعې نه روستو کوي ، خو آیا دا به د فرضو پسې متصل کوي او که د دوه رکعته سنتو کولو نه پس ؟

نو په دې باره کې د فقهاءِ اَحناف اختلاف دی : امام محمد رحمه الله فرمايي چې دا څلور رکعته سُنت به د فرضو پسې متصل کوي (يعنی د دوه رکعته سُنتو نه مخکې به يې کوي) .

او امام ابویوسف رحمه الله فرمايي چې دا به د دوه رکعته سُنتو کولو نه پس کوي .

د فقهې په کتابونو کې اګر چې ډیر د امام محمد رحمه الله قول ذکر کیږي لیکن مُفتٰی بِهِ قول د امام ابویوسف رحمه الله دی .

د علامه شامي ، علام ابن الهمام او قاضي خان رحمهم الله په نزد باندې هم راجح قول همدا دی چې دا به د دوه رکعته سُنتو نه پس کولې شي . علامه شامي رحمه الله خو دا قول امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله طرف ته منسوب کړې دی .

همدارنګې په یو حدیث کې صراحتًا دا ذکر دي چې رسولُ الله صلی الله علیه وسلم دا څلور رکعته سُنت د دوه رکعته سُنتو نه پس اداء کړي وو . لهذا راجح او بهتر قول هم دادی چې دا څلور رکعته سُنت د دوه رکعته سُنتو نه پس اوکړې شي

---

(۱) ثُمَّ اعْلَمْ أَنَّ هٰذَا كُلَّهُ حَيْثُ لَمْ يَقُمْ إِلَى الثَّالِثَةِ ، أَمَّا إِنْ قَامَ إِلَيْهَا وَقَيَّدَهَا بِسَجْدَةٍ ، فَفِي رِوَايَةِ النَّوَادِرِ يُضِيفُ إِلَيْهَا رَابِعَةً وَيُسَلِّمُ، وَإِنْ لَمْ يُقَيِّدْهَا بِسَجْدَةٍ. قَالَ فِي الْخَانِيَّةِ: لَمْ يُذْكَرْ فِي النَّوَادِرِ. وَاخْتَلَفَ الْمَشَايِخُ فِيهِ : قِيلَ يُتِمُّهَا أَرْبَعًا وَيُخَفِّفُ الْقِرَاءَةَ ، وَقِيلَ يَعُودُ إِلَى الْقَعْدَةِ وَيُسَلِّمُ وَهٰذَا أَشْبَهُ. قَالَ فِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ : وَالْأَوْجَهُ أَنْ يُتِمَّهَا لِأَنَّهَا إِنْ كَانَتْ صَلَاةً وَاحِدَةً فَظَاهِرٌ، وَإِنْ كَانَتْ كَغَيْرِهَا مِنَ النَّوَافِلِ كُلُّ شَفْعٍ صَلَاةٌ فَالْقِيَامُ إِلَى الثَّالِثَةِ كَالتَّحْرِيمَةِ الْمُبْتَدَأَةِ ، وَإِذَا كَانَ أَوَّلُ مَا تَحَرَّمَ يُتِمُّ شَفْعًا فَكَذَا هُنَا . رد المحتار على الدر المختار ۲ / ۵۴ بَابُ إِدْرَاكِ الْفَرِيضَةِ ، فتاوى عثمانيه ج۲ ص ۲۰۵ باب السنن والنوافل

Scanned with CamScanner

بل دا چې ځلور رکعته سُنّت خو هسې هم د خپل ځای نه بې ځایه شوي نو کم از کم دا دوه رکعته خو په خپل ځای باندې اداء کول په کار دي (يعنی دا وروستي دوه رکعته سُنّت د فرضو پسې متصل په کار دي او بیا به ځلور رکعته سُنّت کوي). اګرچې جائز دواړه دي.[۱]

---

(۱) قال ابن عابدين رحمه الله: لٰكِنْ رَجَّحَ فِي الْفَتْحِ تَقْدِيمَ الرَّكْعَتَيْنِ. قَالَ فِي الْإِمْدَادِ: وَفِي فَتَاوَى الْعَتَّابِيِّ أَنَّهُ الْمُخْتَارُ، وَفِي مَبْسُوطِ شَيْخِ الْإِسْلَامِ أَنَّهُ الْأَصَحُّ لِحَدِيثِ عَائِشَةَ رضي الله عنها «أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ كَانَ إذَا فَاتَتْهُ الْأَرْبَعُ قَبْلَ الظُّهْرِ يُصَلِّيهِنَّ بَعْدَ الرَّكْعَتَيْنِ» وَهُوَ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ، وَكَذَا فِي جَامِعِ قَاضِي خَانْ. رد المحتار على الدر المختار ۲/ ۵۹ بَابُ إدْرَاكِ الْفَرِيضَةِ.

(ثم يقضيها قبل شفعة) اي الركعتين اللتين بعده، وهذا عند محمد رحمه الله. وعند ابي يوسف رحمه الله: يقضيها بعد شفعة..... وتأخيرها عن الظهر لايقتضي تأخيرها عن شفعة، ووجه تقديم الشفع على الاربع انها فاتت عن محلها فلايفوت الشفع عن محله وهو الاتصال بالفرض وهو المعتمد. لما رواه ابن ماجة عن عائشة رضي الله عنها: كان رسولُ الله صلى الله عليه وسلم إذا فاتته الاربع قبل الظهر صلاها بعد الركعتين بعد الظهر. القاري علي بن محمد سلطان شرح النقاية كتاب الصلاة فصل في ادراك الفريضة ۱/ ۲۵۲.

قال العلامة ابن الهمام: (قَوْلُهُ: وَإِنَّمَا الْخِلَافُ) فَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ بَعْدَ الرَّكْعَتَيْنِ وَهُوَ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ، وَعَلَى قَوْلِ مُحَمَّدٍ قَبْلَهُمَا. وَقِيلَ الْخِلَافُ عَلَى عَكْسِهِ. وَالْأَوْلَى تَقْدِيمُ الرَّكْعَتَيْنِ لِأَنَّ الْأَرْبَعَ فَاتَتْ عَنِ الْمَوْضِعِ الْمَسْنُونِ فَلَا تَفُوتُ الرَّكْعَتَانِ أَيْضًا عَنْ مَوْضِعِهِمَا قَصْدًا بِلَا ضَرُورَةٍ. فتح القدير للكمال ابن الهمام ۱/ ۴۷۶ بَابُ إدْرَاكِ الْفَرِيضَةِ

قال ابن نجيم المصري رحمه الله: وَأَمَّا الثَّانِي فَاخْتُلِفَ فِيهِ النَّقْلُ عَنِ الشَّيْخَيْنِ فَذَكَرَ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ لِلْحُسَامِيِّ أَنَّ أَبَا يُوسُفَ يُقَدِّمُ الرَّكْعَتَيْنِ، وَمُحَمَّدٌ يُؤَخِّرُهُمَا. وَفِي الْمَنْظُومَةِ وَشُرُوحِهَا عَلَى الْعَكْسِ وَفِي غَايَةِ الْبَيَانِ وَيَحْتَمِلُ أَنْ يَكُونَ عَنْ كُلِّ وَاحِدٍ مِنَ الْإِمَامَيْنِ رِوَايَتَانِ وَرَجَّحَ فِي فَتْحِ الْقَدِيرِ تَقْدِيمَ الرَّكْعَتَيْنِ لِأَنَّ الْأَرْبَعَ فَاتَتْ عَنِ الْمَوْضِعِ الْمَسْنُونِ فَلَا يَفُوتُ الرَّكْعَتَيْنِ عَنْ مَوْضِعِهِمَا قَصْدًا بِلَا ضَرُورَةٍ. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۲/ ۸۱ قَضَاءُ السُّنَّةِ الَّتِي قَبْلَ الظُّهْرِ فِي وَقْتِهِ

وقال في الهندية: وَأَمَّا الْأَرْبَعُ قَبْلَ الظُّهْرِ إذَا فَاتَتْهُ وَحْدَهَا بِأَنْ شَرَعَ فِي صَلَاةِ الْإِمَامِ.........

دا مسئله په فتاوی حقانیه، فتاوی عثمانیه، فتاوی فریدیه او نورو فتاؤ کې همداسې ذکر ده. (۱)

د ماسپښين څلور رکعته سنتو او فرضو په مينځ کې اوږده وقفه مناسب نده

که یو کس د ماسپښین څلور رکعته سُنت اوکړي بیا اوږده وقفه اوکړي مثلا یو دیا یو نیمه ګنټه خوب اوکړي، بیا دوباره اودس اوکړي او د جمعې سره مونځ اوکړي نو ددې حکم دادی چې د سُنتو او فرضو په مینځ کې دومره اوږده وقفه کول مناسب نه ده، ځکه سُنت د فرائضو د پاره مُکمِّلات دي، په دومره اوږدې وقفې کولو سره په ثواب کې کمې راځي. (۲)

د جُمعې په ورځ د آخِري دوه رکعتو حُکم، چې دا سُنتِ مؤکد دي او که مستحب؟ او په دې کې څنګه نیت په کار دی؟

په دې کې هیڅ شک نشته چې د جُمعې په ورځ د دوه رکعته فرضو نه مخکې دا څلور رکعته سُنتِ مؤکد دي، همدارنګې د فرض نه پس دا څلور رکعته هم سُنتِ مؤکد دي، دا خبره اِتفاقي ده.

البته اختلاف په دې کې دی چې دا آخِري دوه رکعته څه حکم لري؟ نو امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله وایي چې دا سُنتِ مؤکد نه دي بلکه مستحب دي.

او صاحبین وایي چې دا سُنتِ مؤکد دي. لیکن مُفتٰی بِهٖ قول دادی چې ددې کول افضل دي، او په دې دوه رکعتو کې به هم د جُمعې نیت کولې شي. بغیر عُذره ددې پرېخودل خلافِ اَولٰی دي.

.... وَلَمْ يَشْتَغِلْ بِالْأَرْبَعِ فَعَامَّتُهُمْ عَلَى أَنَّهُ يَقْضِيهَا بَعْدَ الْفَرَاغِ مِنَ الظُّهْرِ مَادَامَ الْوَقْتُ بَاقِيًا وَهُوَ الصَّحِيحُ هٰكَذَا فِي الْمُحِيطِ، وَفِي الْحَقَائِقِ يُقَدِّمُ الرَّكْعَتَيْنِ عِنْدَهُمَا، وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالَى يُقَدِّمُ الْأَرْبَعَ وَعَلَيْهِ الْفَتْوٰى. كَذَا فِي السِّرَاجِ الْوَهَّاجِ. الفتاوی الهندیة ۱ / ۱۱۲ الْبَابُ التَّاسِعُ فِي النَّوَافِلِ

(۱) فتاوی حقانیه ج۳ ص ۲۹۰ باب ادارک الفریضة، و ص ۲۹۷ باب القضاء، فتاوی عثمانیه ج۲ ص ۳۰۰ و ص ۲۸۸ باب السنن والنوافل، فتاوی فریدیه ج۲ ص ۵۵۵، و ص ۵۴۹ باب السنن والنوافل.

(۲) قال التمرتاشي: وَلَوْ تَكَلَّمَ بَيْنَ السُّنَّةِ وَالْفَرْضِ لَا يُسْقِطُهَا وَلٰكِنْ يَنْقُصُ ثَوَابُهَا. تنویر الابصار مع الدر المختار کتاب الصلاة باب الوتر والنوافل ۲ / ۱۹، فتاوی عثمانیه ج۲ ص ۳۰۰ و ص ۲۸۸ باب السنن والنوافل.

خلاصه دا چې د امام صاحب په نزد باندې د جُمعې په ورځ سُنتِ مؤکد اته (۸) رکعته دي ، څلور د فرضو نه مخکې ، او څلور د فرضو نه پس ، او دا آخري دوه مستحب دي . او د صاحبينو په نزد سُنتِ مؤکد لس رکعته دي . په بحر الرائق کې ددې بیان شته . (۱)

همدارنګې په بدائع الصنائع او نورو د فِقهې په کتابونو کې هم ددې پوره وضاحت شته . (۲)

(۱) قال ابن نجم المصري رحمه الله : وَالدَّلِيلُ عَلَى اِسْتِنَانِ الأَرْبَعِ قَبْلَ الْجُمُعَةِ مَا رَوَاهُ مُسْلِمٌ مَرْفُوعًا « مَنْ كَانَ مُصَلِّيًا قَبْلَ الْجُمُعَةِ فَلْيُصَلِّ أَرْبَعًا » مَعَ مَا رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : « كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْكَعُ مِنْ قَبْلِ الْجُمُعَةِ أَرْبَعًا لَا يَفْصِلُ فِي شَيْءٍ مِنْهُنَّ » .
وَعَلَى اسْتِنَانِ الأَرْبَعِ بَعْدَهَا مَا فِي صَحِيحِ مُسْلِمٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ مَرْفُوعًا « إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمُ الْجُمُعَةَ فَلْيُصَلِّ بَعْدَهَا أَرْبَعًا » وَفِي رِوَايَةٍ : « إِذَا صَلَّيْتُمْ بَعْدَ الْجُمُعَةِ فَصَلُّوا أَرْبَعًا » . وَذَكَرَ فِي الْبَدَائِعِ أَنَّهُ ظَاهِرُ الرِّوَايَةِ . وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ يَنْبَغِي أَنْ يُصَلِّيَ أَرْبَعًا ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ . وَذَكَرَ مُحَمَّدٌ فِي كِتَابِ الاِعْتِكَافِ أَنَّ الْمُعْتَكِفَ يَمْكُثُ فِي الْمَسْجِدِ الْجَامِعِ مِقْدَارَ مَا يُصَلِّي أَرْبَعًا أَوْ سِتًّا .
وَفِي الذَّخِيرَةِ وَالتَّجْنِيسِ وَكَثِيرٌ مِنْ مَشَايِخِنَا عَلَى قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ . وَفِي مُنْيَةِ الْمُصَلِّي : وَالأَفْضَلُ عِنْدَنَا أَنْ يُصَلِّيَ أَرْبَعًا ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۲/ ۵۳ الصَّلَاةُ الْمَسْنُونَةُ كُلَّ يَوْمٍ

(۲) قال الامام ابوبكر الكاساني رحمه الله : وَأَمَّا السُّنَّةُ قَبْلَ الْجُمُعَةِ وَبَعْدَهَا فَقَدْ ذُكِرَ فِي الأَصْلِ : وَأَرْبَعٌ قَبْلَ الْجُمُعَةِ ، وَأَرْبَعٌ بَعْدَهَا ، وَكَذَا ذَكَرَ الْكَرْخِيُّ . وَذَكَرَ الطَّحَاوِيُّ عَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ قَالَ يُصَلِّي بَعْدَهَا سِتًّا . وَقِيلَ : هُوَ مَذْهَبُ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . وَمَا ذَكَرْنَا أَنَّهُ كَانَ يُصَلِّي أَرْبَعًا مَذْهَبُ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . وَذَكَرَ مُحَمَّدٌ فِي كِتَابِ الصَّوْمِ أَنَّ الْمُعْتَكِفَ يَمْكُثُ فِي الْمَسْجِدِ الْجَامِعِ مِقْدَارَ مَا يُصَلِّي أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ ، أَوْ سِتَّ رَكَعَاتٍ .
أَمَّا الأَرْبَعُ قَبْلَ الْجُمُعَةِ ، فَلِمَا رُوِيَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ « أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَطَوَّعُ قَبْلَ الْجُمُعَةِ بِأَرْبَعِ رَكَعَاتٍ » ، وَلِأَنَّ الْجُمُعَةَ نَظِيرُ الظُّهْرِ . ثُمَّ التَّطَوُّعُ قَبْلَ الظُّهْرِ أَرْبَعُ رَكَعَاتٍ كَذَا قَبْلَهَا . وَأَمَّا بَعْدَ الْجُمُعَةِ فَوَجْهُ قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ إِنَّ فِيمَا قُلْنَا جَمْعًا ....

سُنت او نوافل په کور کې کول

په فتاوی دارالعلوم دیوبند کې ذکر دي: په دې کې هیڅ شک نشته چې د تراویحو نه علاوه نور سُنتِ مؤکده او غیر مؤکده، او نوافل په کور کې کول بهتر دي، لیکن که چیرته د فرضو نه پس کور ته د تللو یا په کور کې د سنتو په کولو کې څه حرَج واقع کیدو، یا په کور کې په دُنیوي کارونو کې د مشغولتیا په وجه د سُنتو پاتې کیدو یره وه نو بیا به یې په جُمات کې کوي، ځکه په جُمات کې کول هم ثابت دي. (۱)

.... بَيْنَ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَيْنَ فِعْلِهِ فَإِنَّهُ رُوِيَ «أَنَّهُ أَمَرَ بِالْأَرْبَعِ بَعْدَ الْجُمُعَةِ» وَرُوِيَ أَنَّهُ «صَلَّى رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْجُمُعَةِ»، فَجَمَعْنَا بَيْنَ قَوْلِهِ وَفِعْلِهِ. قَالَ أَبُو يُوسُفَ: يَنْبَغِي أَنْ يُصَلِّيَ أَرْبَعًا. ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ كَذَا رُوِيَ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَيْ لَا يَصِيرَ مُتَطَوِّعًا بَعْدَ صَلَاةِ الْفَرْضِ بِمِثْلِهَا. وَجْهُ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ مَا رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «مَنْ كَانَ مُصَلِّيًا بَعْدَ الْجُمُعَةِ فَلْيُصَلِّ أَرْبَعًا» وَمَا رُوِيَ مِنْ فِعْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَيْسَ فِيهِ مَا يَدُلُّ عَلَى الْمُوَاظَبَةِ. وَنَحْنُ لَا نَمْنَعُ مَنْ يُصَلِّي بَعْدَهَا كَمْ شَاءَ. غَيْرَ أَنَّا نَقُولُ: اَلسُّنَّةُ بَعْدَهَا أَرْبَعُ رَكَعَاتٍ لَا غَيْرُ، لِمَا رَوَيْنَا. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱/ ۲۸۵ فَصْلٌ اَلصَّلَاةُ الْمَسْنُونَةُ. فتاوی حقانیه ج۳ ص۲۲۵ باب السنن والنوافل

قال العلامة ابراهيم الحلبي: والافضل ان يصلي اربعًا ثم ركعتين للخروج عن الخلاف. غنية المستملي ص ۳۷۳ فصل في النوافل، فتاوی فریدیه ج۲ ص ۵۴۸ باب السنن والنوافل.

(۱) وَالْأَفْضَلُ فِي النَّفْلِ غَيْرِ التَّرَاوِيحِ الْمَنْزِلُ إِلَّا لِخَوْفِ شُغْلٍ عَنْهَا، وَالْأَصَحُّ أَفْضَلِيَّةُ مَا كَانَ أَخْشَعَ وَأَخْلَصَ. الدرالمختار قال ابن عابدين رحمه الله: (قَوْلُهُ: وَالْأَفْضَلُ فِي النَّفْلِ) شَمِلَ مَا بَعْدَ الْفَرِيضَةِ وَمَا قَبْلَهَا لِحَدِيثِ الصَّحِيحَيْنِ «عَلَيْكُمْ بِالصَّلَاةِ فِي بُيُوتِكُمْ فَإِنَّ خَيْرَ صَلَاةِ الْمَرْءِ فِي بَيْتِهِ إِلَّا الْمَكْتُوبَةَ» وَأَخْرَجَ أَبُو دَاوُد «صَلَاةُ الْمَرْءِ فِي بَيْتِهِ أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهِ فِي مَسْجِدِي هَذَا إِلَّا الْمَكْتُوبَةَ» وَتَمَامُهُ فِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ. وَحَيْثُ كَانَ هَذَا أَفْضَلَ يُرَاعَى مَا لَمْ يَلْزَمْ مِنْهُ خَوْفُ شُغْلٍ عَنْهَا لَوْ ذَهَبَ لِبَيْتِهِ، أَوْ كَانَ فِي بَيْتِهِ مَا يَشْغَلُ بَالَهُ وَيُقَلِّلُ خُشُوعَهُ، فَيُصَلِّيهَا حِينَئِذٍ فِي الْمَسْجِدِ لِأَنَّ اعْتِبَارَ الْخُشُوعِ أَرْجَحُ. رد المحتار على الدر المختار ۲/ ۲۲ بَابُ الْوِتْرِ وَالنَّوَافِلِ. فتاوی دارالعلوم دیوبند ج۴ ص ۱۶۲، وص ۱۶۳، وص ۱۷۴.

قال ابن عابدين رحمه الله .... لِاتِّفَاقِ كَلِمَةِ الْمَشَايِخِ عَلَى أَنَّ الْأَفْضَلَ فِي السُّنَنِ حَتَّى سُنَّةِ الْمَغْرِبِ الْمَنْزِلُ أَيْ فَلَا يُكْرَهُ الْفَصْلُ بِمَسَافَةِ الطَّرِيقِ. رد المحتار على الدر المختار ۱/ ۵۳۰ فَصْلٌ فِي بَيَانِ تَأْلِيفِ الصَّلَاةِ إِلَى انْتِهَائِهَا

د فقهاؤ د عباراتو نه دا هم معلوميږي چې په کوم ځای کې سنت په خُشوع او اطمينانِ قلب سره ادا، کولې شي په هماغه ځای کې کول يې بهتر دي، د غه وجه ده چې که کورته د تللو په وجه د سُنتو د تاخير، يا پاتې کيدو خطره وي نو بيا په جُمات کې کول يې بهتر دي. (١)

په **كفاية المفتي** کې ذکر دي: سُنت او نفل په کور کې کول افضل دي، همدا اصل حکم دی چې د احاديثو صحيحهؤ او د فقه حنفي نه ثابت دی.

عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « إِذَا قَضَى أَحَدُكُمُ الصَّلَاةَ فِي مَسْجِدِهِ، فَلْيَجْعَلْ لِبَيْتِهِ نَصِيبًا مِنْ صَلَاتِهِ. فَإِنَّ اللهَ جَاعِلٌ فِي بَيْتِهِ مِنْ صَلَاتِهِ خَيْرًا ». (٢)

وفي الهندية: اَلْأَفْضَلُ فِي السُّنَنِ وَالنَّوَافِلِ الْمَنْزِلُ لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ « صَلَاةُ الرَّجُلِ فِي الْمَنْزِلِ أَفْضَلُ إِلَّا الْمَكْتُوبَةَ ». (٣)

د حديث د عُموم په وجه د فرضو نه مخکې او روستو دواړه قِسمه سُنت په دې کې داخل دي. (يعنی دواړه په کور کې کول بهتر دي).

البته تراويح ددې نه مُستثنیٰ دي، ځکه تراويح په جَمعې سره ادا، کولې شي، نو دا په جُمات کې کول په کار دي.

وَذَكَرَ الْحَلْوَانِيُّ: اَلْأَفْضَلُ أَنْ يُؤَدِّيَ كُلَّهُ فِي الْبَيْتِ إِلَّا التَّرَاوِيحَ. (٤)

---

(١) فتاوی دارالعلوم ديوبند ج٤ ص١٦٤.

(٢) صحيح مسلم رقم الحديث ٢١٠ (٧٧٨) بَابُ اسْتِحْبَابِ صَلَاةِ النَّافِلَةِ فِي بَيْتِهِ، وَجَوَازِهَا فِي الْمَسْجِدِ.

وفي رواية... فَعَلَيْكُمْ بِالصَّلَاةِ فِي بُيُوتِكُمْ، فَإِنَّ خَيْرَ صَلَاةِ الْمَرْءِ فِي بَيْتِهِ إِلَّا الصَّلَاةَ الْمَكْتُوبَةَ». صحيح مسلم رقم الحديث ٢١٣ (٧٨١).

وفي رواية: عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «اِجْعَلُوا مِنْ صَلَاتِكُمْ فِي بُيُوتِكُمْ، وَلَا تَتَّخِذُوهَا قُبُورًا». صحيح مسلم رقم الحديث ٢٠٨ (٧٧٧) بَابُ اسْتِحْبَابِ صَلَاةِ النَّافِلَةِ فِي بَيْتِهِ، وَجَوَازِهَا فِي الْمَسْجِدِ.

(٣) الفتاوی الهندية ١/١١٣ اَلْبَابُ التَّاسِعُ فِي النَّوَافِلِ.

(٤) الفتاوی الهندية ١/١١٣ اَلْبَابُ التَّاسِعُ فِي النَّوَافِلِ، كفاية المفتي ج ٣ ص ٣٢٣، و ص ٣١٣ كتاب الصلاة طبع دارالاشاعت كراچي.

Scanned with CamScanner

په عالمګيري کې د دې پوره تفصيل موجود دی . (۱)

په **فتاوی عثمانیه** کې ذکر دي : نبي کريم صلى الله عليه وسلم به د فرائضو نه علاوه سُنت او نوافل په کور کې کول ، لکه دا د حضرت عائشې رضي الله عنها د روايت نه معلوميږي ، همدا رنګې پيغمبر عليه السلام صحابه کرامو ته هم په کور کې د سُنتو او نفلو کولو ترغيب ورکول ، او فرمايل يې چې د خپلو کورونو نه قبرستان مه جوړوئ .

او دا د نبي عليه السلام سره خاص نه دي بلکه اُمت ته يې هم د دې ترغيب ورکړی . لهذا د اِتباعِ سُنت په خاطر نوافل او سُنت په کور کې کول افضل دي ، اګر چې په جُمات کې کول يې هم جائز دي ، صرف د اَولويَت خبره ده .

خو که چيرته په کور کې د کورني مَصروفياتو په وجه سُنت کول مشکل وو ، يا د دې د پاتې کيدو يَره وه نو بيا په جُمات کې کول يې افضل دي . (۲)

---

(۱) د علماؤ د فائدې د پاره د عالمګيري مکمل عبارت درته رانقل کوم : اَلْأَفْضَلُ فِي السُّنَنِ وَالنَّوَافِلِ الْمَنْزِلُ لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ «صَلَاةُ الرَّجُلِ فِي الْمَنْزِلِ أَفْضَلُ إِلَّا الْمَكْتُوبَةَ» . ثُمَّ بَابُ الْمَسْجِدِ إِنْ كَانَ الْإِمَامُ يُصَلِّي فِي الْمَسْجِدِ . ثُمَّ الْمَسْجِدُ الْخَارِجُ إِنْ كَانَ الْإِمَامُ فِي الدَّاخِلِ ، وَالدَّاخِلُ إِنْ كَانَ فِي الْخَارِجِ . وَإِنْ كَانَ الْمَسْجِدُ وَاحِدًا فَخَلْفَ أُسْطُوَانَةٍ ، وَكُرِهَ خَلْفَ الصُّفُوفِ بِلَا حَائِلٍ . وَأَشَدُّهَا كَرَاهَةً أَنْ يُصَلِّيَ فِي الصَّفِّ مُخَالِطًا لِلْقَوْمِ . وَهٰذَا كُلُّهُ إِذَا كَانَ الْإِمَامُ فِي الصَّلَاةِ . أَمَّا قَبْلَ الشُّرُوعِ فَيَأْتِي بِهَا فِي الْمَسْجِدِ فِي أَيِّ مَوْضِعٍ شَاءَ . فَأَمَّا السُّنَنُ الَّتِي بَعْدَ الْفَرَائِضِ فَيَأْتِي بِهَا فِي الْمَسْجِدِ فِي مَكَانٍ صَلَّى فِيهِ فَرْضَهُ . وَالْأَوْلَى أَنْ يَتَخَطَّى خُطْوَةً ، وَالْإِمَامُ يَتَأَخَّرُ عَنْ مَكَانٍ صَلَّى فِيهِ فَرْضَهُ لَا مَحَالَةَ . كَذَا فِي الْكَافِي .

وَذَكَرَ الْحَلْوَانِيُّ : اَلْأَفْضَلُ أَنْ يُؤَدِّيَ كُلَّهُ فِي الْبَيْتِ إِلَّا التَّرَاوِيحَ . وَمِنْهُمْ مَنْ قَالَ : يَجْعَلُ ذٰلِكَ أَحْيَانًا فِي الْبَيْتِ وَالصَّحِيحُ أَنَّ كُلَّ ذٰلِكَ سَوَاءٌ فَلَا تَخْتَصُّ الْفَضِيلَةُ بِوَجْهٍ دُونَ وَجْهٍ . وَلٰكِنَّ الْأَفْضَلَ مَا يَكُونُ أَبْعَدَ مِنَ الرِّيَاءِ وَأَجْمَعَ لِلْإِخْلَاصِ وَالْخُشُوعِ . كَذَا فِي النِّهَايَةِ . الفتاوى الهندية ۱ / ۱۱۳ اَلْبَابُ التَّاسِعُ فِي النَّوَافِلِ

(۲) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ ، قَالَ : سَأَلْتُ عَائِشَةَ رضي الله عنها عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ تَطَوُّعِهِ ؟ فَقَالَتْ : « كَانَ يُصَلِّي فِي بَيْتِي قَبْلَ الظُّهْرِ أَرْبَعًا ، ثُمَّ يَخْرُجُ فَيُصَلِّي بِالنَّاسِ ، ثُمَّ يَدْخُلُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ ، وَكَانَ يُصَلِّي بِالنَّاسِ الْمَغْرِبَ ، ثُمَّ يَدْخُلُ ....

چې جمعه شوې وي نو مونځ چیرته بهتر دی؟

که یو کس جُمات ته جُمعې ته روان وي، په لاره کې ورته معلومه شي چې جُمعه شوې ده نو ددې حکم دادی چې په کور کې د ځان له مونځ کولو نه په جُمات کې ځان له مونځ کول بهتر دی. (او دا هم ورته جائز ده چې کورته راشي او د کور والو ته جمعه اوکړي). (۱)

د سجده سهوې متعلق ضروري مسائل

اوس درته د سجده سهوې متعلق یو څو ضروري فقهي مسائل ذکر کوم:

په فرضو او سنتو کې چې اوله قعده پاتې شي ددې حکم

د فرضو او سُنتو په څلور رکعته (یا درې رکعته وِتر واجب) مونځ کې اوله قعده واجب ده، که دیو کس نه اوله قعده پاتې شي نو ددې یو څو صورتونه دي:

قال العلامة برهان الدين المرغيناني رحمه الله : (وَإِذَا فَاتَتْهُ رَكْعَتَا الْفَجْرِ لَا يَقْضِيهِمَا قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ) لِأَنَّهُ يَبْقَى نَفْلًا مُطْلَقًا . وَهُوَ مَكْرُوهٌ بَعْدَ الصُّبْحِ ....

Scanned with CamScanner

قضاء مونځ په جُمات کې په ښکاره طريقې سره په کار ندی

په فتاوی دارالعلوم دیوبند کې دا مسئله ذکر ده: په دُرمختار کې ليکلي چې په جُمات کې قضاء مونځ ښکاره طريقې سره کول مکروه تحريمي دی، او دليل دادی چې په بَغير عُذره مونځ د خپل وخت نه روستو کول گناه ده، او گناه ښکاره کول نه دي په کار.

علامه شامي رحمه الله ددې په باره کې ليکلي چې قضاء مونځ به په داسې ښکاره طريقې سره نه کوي چې خلقو ته پته اولږي چې دې قضاء مونځ کوي، بلکه په داسې طريقې سره به يې کوي چې خلقو ته معلوم نه شي.

البته که دې په جُمات کې په داسې طريقې سره قضاء مونځ کوي چې خلق دا گمان کوي چې گني دې نفل مونځ کوي نو بيا په جُمات کې قضاء مونځ کول هم جائز دی.

خلاصه دا چې انسان به حَتّی الوَسع دا کوشش کوي چې قضاء مونځ په ښکاره طريقې سره اونکړي.(۱)

...... (وَلَا بَعْدَ إِرْتِفَاعِهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ. وَقَالَ مُحَمَّدٌ: أَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ يَقْضِيَهُمَا إِلَى وَقْتِ الزَّوَالِ) لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ قَضَاهُمَا بَعْدَ إِرْتِفَاعِ الشَّمْسِ غَدَاةَ لَيْلَةِ التَّعْرِيْسِ. وَلَهُمَا أَنَّ الْأَصْلَ فِي السُّنَّةِ أَنْ لَا تُقْضَى لِإِخْتِصَاصِ الْقَضَاءِ بِالْوَاجِبِ، وَالْحَدِيْثُ وَرَدَ فِي قَضَائِهَا تَبَعًا لِلْفَرْضِ فَبَقِيَ مَا رَوَاهُ عَلَى الْأَصْلِ، وَإِنَّمَا تُقْضَى تَبَعًا لَهُ. وَهُوَ يُصَلِّي بِالْجَمَاعَةِ أَوْ وَحْدَهُ إِلَى وَقْتِ الزَّوَالِ، وَفِيْمَا بَعْدَهُ إِخْتِلَافُ الْمَشَايِخِ رَحِمَهُمُ اللهُ. وَأَمَّا سَائِرُ السُّنَنِ سِوَاهَا فَلَا تُقْضَى بَعْدَ الْوَقْتِ وَحْدَهُ. الهداية ۱/ ۷۲ بَابُ إِدْرَاكِ الْفَرِيْضَةِ فتاوى حقانيه ج۳ ص ۲۹۸ باب القضاء

(۱) فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۴ ص ۳۳۸ الباب العاشر في قضاء الفوائت.

قال الحصكفي رحمه الله: وَيَنْبَغِي أَنْ لَا يُطْلِعَ غَيْرَهُ عَلَى قَضَائِهِ لِأَنَّ التَّأْخِيْرَ مَعْصِيَةٌ فَلَا يُظْهِرُهَا. الدرالمختار. قال ابن عابدين رحمه الله: (قَوْلُهُ: وَيَنْبَغِي) تَقَدَّمَ فِي بَابِ الْأَذَانِ أَنَّهُ يُكْرَهُ قَضَاءُ الْفَائِتَةِ فِي الْمَسْجِدِ، وَعَلَّلَهُ الشَّارِحُ بِمَا هُنَا مِنْ أَنَّ التَّأْخِيْرَ مَعْصِيَةٌ فَلَا يُظْهِرُهَا. وَظَاهِرُهُ أَنَّ الْمَمْنُوْعَ هُوَ الْقَضَاءُ مَعَ الْإِطِّلَاعِ عَلَيْهِ، سَوَاءٌ كَانَ فِي الْمَسْجِدِ أَوْ غَيْرِهِ..............

د رمضانُ المبارک په آخري جُمعه کې مُروّجه قضاء عُمري کول بدعت ده

(**نوټ**: دا مسئله چونکه په بعضو علاقو کې عام ده نو ځکه په تفصیل سره یې درته د مختلفو فتاؤ نه رانقل کوم چې پوره تسلي مو پرې اوشي. ابوالشمس عفي عنه)

په **فتاوی حقانیه** کې ذکر دي: د رمضانُ المبارک په آخِري جُمعه کې په بعضې علاقو کې په یو خاص طریقې سره اِمام په جُمعه باندې پنځه واره مونځونه کوي او دا یې عقیده وي چې په دې سره د ټول عُمر قضاء مونځونه اداء کیږي، او دیته دوی قضاء عُمري وایي نو ددې شرعي حکم دادی چې:

دا مروّجه قضاء عُمري چې کومه د رمضانُ المبارک په آخري جُمعه کې مُتعارَف ده دا د نبي علیه السلام نه په هیڅ صحیح حدیث کې ثابت نده، او نه پیغمبر علیه السلام په خپله دا مونځ کړی، او نه یې ددې ترغیب ورکړی.

همدارنګې دا مونځ د صحابه کرامو، تابعینو، او تبع تابِعینو د قول او فِعل نه هم ندې ثابت، د ائمه اربعهؤ د مذهب په معتبر کتابونو کې ددې مونځ څه ذِکر او نوم و نښان هم نشته، لهذا دا مروّجه قضاء عُمري بدعت ده، او ددې کوونکي د شریعت په نظر کې بِدعتي دی.

.... كَمَا أَفَادَهُ فِي الْمِنَحِ قُلْتُ: وَالظَّاهِرُ أَنْ يَنْبَغِيَ هُنَا لِلْوُجُوبِ وَأَنَّ الْكَرَاهَةَ تَحْرِيمِيَّةٌ لِأَنَّ إِظْهَارَ الْمَعْصِيَةِ مَعْصِيَةٌ لِحَدِيثِ الصَّحِيحَيْنِ «كُلُّ أُمَّتِي مُعَافًى إِلَّا الْمُجَاهِرِينَ. وَإِنَّ مِنَ الْجِهَارِ أَنْ يَعْمَلَ الرَّجُلُ بِاللَّيْلِ عَمَلًا ثُمَّ يُصْبِحُ وَقَدْ سَتَرَهُ اللَّهُ فَيَقُولُ عَمِلْتُ الْبَارِحَةَ كَذَا وَكَذَا وَقَدْ بَاتَ يَسْتُرُهُ رَبُّهُ وَيُصْبِحُ يَكْشِفُ سِتْرَ اللَّهِ عَنْهُ» وَاللَّهُ تَعَالَى أَعْلَمُ. رد المحتار على الدر المختار ٢/٧٧ فروع في قضاء الفوائت قبيل باب سجود السهو.

وفي الهندية: وَلَا يَقْضِي الْفَوَائِتَ فِي الْمَسْجِدِ وَإِنَّمَا يَقْضِيهَا فِي بَيْتِهِ. كَذَا فِي الْوَجِيزِ لِلْكَرْدَرِيِّ. الفتاوى الهندية ١/١٢٥ اَلْبَابُ الْحَادِي عَشَرَ فِي قَضَاءِ الْفَوَائِتِ

د احنافو کتابونو ته ددې جواز او طريقه منسوب کول دروغ دي، او دا د دين په ائمهؤ باندې افتراء ده.

د فقه حنفي په کتابونو کې چې د قضاء شوي مونځونو کومه طريقه بيان شوی هغه جدا ده، او دا مُروّجه قضاء عُمري جدا ده، ځکه په دې مروّجه قضاء عُمري کې خو صرف د رمضان المبارک په آخري جُمعه کې پنځه مونځونه د آذان اقامت او جَمعې سره کولې شي او بيا دا د ټول عُمر، اَويا يا آتيا کالو قضاء شوو مونځونو قائم مقام کرځولې شي.

حالانکه په فقه حنفي کې مسئله دا ذکر ده چې د چا نه څومره مونځونه قضاء شوي وي د هماغومره مونځونو قضاء به راوړي، مثلا زر (۱۰۰۰) مونځونه ورنه قضاء شوي وي نو د زرو مونځونو قضاء به راوړي.

اوس تاسو سوچ اوکړې په دې دواړو طريقو کې څومره ډير فرق دی؟

پاتې شو هغه حديث چې د هغې په وجه د قضاء عُمري په جواز باندې استدلال کولې شي نو ددې جواب دادی چې دې حديث ته ائمهؤ د جَرحې او تَعديل او مُحدِّثينو مَوضوعي ويلی، يعنی دا حديث چا د ځان نه په دروغه جوړ کړې دی، لهذا په دې باندې استدلال کول جائز نه دی.

ددې حديث په مَوضوع والي باندې درته د يو څو علماؤ اقوال رانقل کوم:

۱. ملاعلي قاري رحمه الله فرمايي:

حَدِيثُ « مَنْ قَضٰى صَلَوَاتٍ مِّنَ الفَرَائِضِ فِي آخِرِ جُمُعَةٍ مِنْ رَمَضَانَ كَانَ ذٰلِكَ جَابِرًا لِكُلِّ صَلَاةٍ فَائِتَةٍ مِنْ عُمْرِهِ إِلَى سَبْعِيْنَ سَنَةً » بَاطِلٌ قَطْعًا لانه مناقض لِلإجماع على اَن شيئًا مِنَ العبادات لايقومُ مقام فائتة سنوات.(۱)

۲. علامه قاضي شوکاني رحمه الله فرمايي:

حديث « مَنْ صَلّٰى فِي آخِرِ جُمُعَةٍ مِنْ رَمَضَانَ الْخَمْسَ الصَّلَوَاتِ الْمَفْرُوْضَةَ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ قَضَتْ عَنْهُ مَا أَخَلَّ بِهِ مِنْ صَلَاةِ سنتِهِ » هٰذَا مَوْضُوْعٌ لَا إِشْكَالَ فِيْهِ وَلَمْ أَجِدْهُ فِي شَيْءٍ مِنَ

(۱) الموضوعات الكبرى ص ۲۴۲ رقم الحديث ۹۵۳ حرف الميم.

الْكُتُبِ الَّتِيْ جَمَعَ مُصَنِّفُوهَا فِيهَا الْأَحَادِيْثَ الْمَوْضُوعَةَ . وَلٰكِنَّهُ اشْتَهَرَ عِنْدَ جَمَاعَةٍ مِنَ الْمُتَفَقِّهَةِ بِمَدِيْنَةِ صَنْعَاءَ فِيْ عَصْرِنَا هٰذَا وَصَارَ كَثِيْرٌ مِنْهُمْ يَفْعَلُوْنَ ذٰلِكَ وَلَا أَدْرِيْ مَنْ وَضَعَهُ لَهُمْ فَقَبَّحَ اللهُ الْكَذَّابِيْنَ . (۱)

۳ . شاه عبدالعزيز محدث دهلوي رحمه الله ليكلي :

اَلْخَامِسُ أَنْ يَكُوْنَ الحديثُ مُخَالِفًا لِمُقْتَضَى العقل والنقل وَتُكَذِّبه الْقَوَاعِد الشَّرْعِيَّة مثل حديث قَضَاءِ الْعُمْرِيْ وَنَحْوِه . (۲)

۴ . علامه ابن حجر مکي رحمه الله فرمايي :

وَأَقْبَحُ مِنْ ذٰلِكَ مَا أُعْتِيْدَ فِيْ بَعْضِ الْبِلَادِ مِنْ صَلَاةِ الْخَمْسِ فِيْ هٰذِهِ الْجُمُعَةِ عَقِبَ صَلَاتِهَا زَاعِمِيْنَ أَنَّهَا تُكَفِّرُ صَلَوَاتِ الْعَامِ أَوِ الْعُمْرِ الْمَتْرُوْكَةِ . وَذٰلِكَ حَرَامٌ أَوْ كُفْرٌ لِوُجُوْهٍ لَا تَخْفٰى . (۳)

ددې صريحي اَقوالو نه معلومه شوه چې د مرّوجه قضاء عُمري په استدلال کې چې کوم حديث پيش کولې شي هغه مَوضوعي دی (يعنی د ځان نه چا په دروغه جوړ کړې دی).

ددې باوجود هم که يو کس ديته د نبي عليه السلام حديث وايي او دا د قضاء عُمری د اِثبات د پاره پيش کوي نو مونږ دده معامله الله ﷻ ته سپارو ، ځکه د مُعانِد (ضِدي کس) علاج ممکن نه دی .

په مُروجه قضاء عُمری کې ډير مَفاسِد دي :

بل دا چې په دې مروّجه قضاء عمری کې ډير مِفاسِد او نقصانات هم دي چې ددې نه بچ کيدل هم ډير ضروري دي ، يو څو دادي :

۱ . ددې مونځ متعلق بعضې عوام بلکه بعضې بې عِلمه خواص هم دا عقيده لري چې په دې سره د ټول عُمر يا د اَويا کالو قضاء شوو مونځونو نه ذِمه فارغيږي ، دغه وجه ده چې

(۱) الفوائد المجموعة في الأحاديث الموضوعة ۱ / ۵۴ رقم الحديث ۱۱۵ باب التطوع النوع الثامن: صلوات مقيدة بأيام الشهور وبليال منها .

(۲) العجالة النافعة ص ۳۰ بيان قرائن وضع الحديث .

(۳) تحفه منهاج النووي ، تحفة المحتاج في شرح المنهاج ۲ / ۴۵۷ كِتَابُ الصَّلَاةِ .

دا خلق ددې مونځ دومره اهتمام کوي چې دومره د فرضو او واجبو هم نه کوي .

بلکه فرض او واجب بغير د څه عذره قضاء کوي او دا يې عقيده وي چې د قضاء عمری مونځ به او کړو په دې سره به راته دا ټول معاف شي ، حالانکه فقهاؤ صراحتًا دا ذکر کړي چې دا کفري عقيده ده . په فتاوی هنديه کې ذکر دي :

رَجُلٌ يُصَلِّيْ فِيْ رَمَضَانَ لَا غَيْرَ وَيَقُوْلُ : اين خود بسيار است . أَوْيَقُوْلُ : زياده می آيد ، لِأَنَّ كُلَّ صَلَاةٍ فِيْ رَمَضَانَ تُسَاوِيْ سَبْعِيْنَ صَلَاةً يَكْفُرُ . (۱)

۲ . په مروّجه قضاء عُمری کې دويم نقصان دادی چې په دې کې دا مونځ ښکاره عَلَی الإعلان کولې شي ، او دا مکروهِ تحريمي دی . ځکه فقهاؤ دا ليکلي چې قضاء مونځ په داسې طريقې سره کول چې خلقو ته دا معلومه شي چې دا قضاء مونځ کوي دا مکروهِ تحريمي دی ، وجه داده چې قصدًا مونځ قضاء کول ګناه ده او بيا ګناه ښکاره کول هم ګناه ده چې په صحيح احاديثو کې ددې نه سخته منع راغلی .

قال العلامة الحصكفي رحمه الله : ﴿ وَيُكْرَهُ قَضَاؤُهَا فِيْهِ ﴾ لِأَنَّ التَّأْخِيْرَ مَعْصِيَةٌ فَلَا يُظْهِرُهَا بَزَّازِيَّةٌ . الدرالمختار قال ابن عابدين رحمه الله : وَيَظْهَرُ مِنَ التَّعْلِيْلِ أَنَّ الْمَكْرُوْهَ قَضَاؤُهَا مَعَ الْإِطِّلَاعِ عَلَيْهَا وَلَوْ فِيْ غَيْرِ الْمَسْجِدِ كَمَا أَفَادَهُ فِي الْمِنَحِ فِيْ بَابِ قَضَاءِ الْفَوَائِتِ . (۲)

همدارنګې علامه حصکفي رحمه الله فرمايلي دي : وَيَنْبَغِيْ أَنْ لَا يُطْلِعَ غَيْرَهُ عَلَى قَضَائِهِ لِأَنَّ التَّأْخِيْرَ مَعْصِيَةٌ فَلَا يُظْهِرُهَا . الدرالمختار . قال ابن عابدين رحمه الله : ﴿ قَوْلُهُ : وَيَنْبَغِيْ ﴾ تَقَدَّمَ فِيْ بَابِ الْأَذَانِ أَنَّهُ يُكْرَهُ قَضَاءُ الْفَائِتَةِ فِي الْمَسْجِدِ ، وَعَلَّلَهُ الشَّارِحُ بِمَا هُنَا مِنْ أَنَّ التَّأْخِيْرَ مَعْصِيَةٌ فَلَا يُظْهِرُهَا . وَظَاهِرُهُ أَنَّ الْمَمْنُوْعَ هُوَ الْقَضَاءُ مَعَ الْإِطِّلَاعِ عَلَيْهِ ، سَوَاءٌ كَانَ فِي الْمَسْجِدِ أَوْ غَيْرِهِ كَمَا أَفَادَهُ فِي الْمِنَحِ . قُلْتُ : وَالظَّاهِرُ أَنْ يَنْبَغِيْ هُنَا لِلْوُجُوْبِ وَأَنَّ الْكَرَاهَةَ

---

(۱) الفتاوی الهندية ۲ / ۲۶۸ كِتَابُ السِّيَرِ اَلْبَابُ التَّاسِعُ فِيْ أَحْكَامِ الْمُرْتَدِّيْنَ مطلب في مُوجِبَاتُ الْكُفْرِ أَنْوَاعٌ مِنْهَا مَا يَتَعَلَّقُ بِالْإِيْمَانِ وَالْإِسْلَامِ ، ومثله في جامع الفصولين ج۲ ص ۲۲۳ .

(۲) رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۳۹۱ بَابُ الْأَذَانِ فَائِدَةُ التَّسْلِيْمِ بَعْدَ الْأَذَانِ .

تَحْرِيمِيَّةٌ لِأَنَّ إِظْهَارَ الْمَعْصِيَةِ مَعْصِيَةٌ لِحَدِيثِ الصَّحِيحَيْنِ «كُلُّ أُمَّتِي مُعَافًى إِلَّا الْمُجَاهِرِينَ، وَإِنَّ مِنَ الْجِهَارِ أَنْ يَعْمَلَ الرَّجُلُ بِاللَّيْلِ عَمَلًا ثُمَّ يُصْبِحُ وَقَدْ سَتَرَهُ اللهُ فَيَقُولُ عَمِلْتُ الْبَارِحَةَ كَذَا وَكَذَا وَقَدْ بَاتَ يَسْتُرُهُ رَبُّهُ وَيُصْبِحُ يَكْشِفُ سِتْرَ اللهِ عَنْهُ» وَاللهُ تَعَالَى أَعْلَمُ. (۱)، (۲)

د مروّجه قضاء عُمرى د ثبوت د پاره د غزوه خندق او ليلة التعريس د احاديثو نه استدلال کول صحيح نه دى

د غَزوه خندق او ليلةُ التعريس د احاديثو نه مروّجه قضاء عُمري ثابتول صحيح نه دي، ځکه د غزوه خندق په احاديثو کې خو صرف دا ذکر دي چې د نبي عليه السلام نه په جهاد کې د مصروفه کيدو په وجه يو څو مونځونه قضاء شوي وو، خو چې د جهاد نه فارغ شو نو فورًا يې د هغه ټولو مونځونو قضاء رااوګرځوله.

همدارنګې د ليلةُ التعريس په احاديثو کې خو صرف دا ذکر دي چې د څه عارِض په وجه د نبي عليه السلام نه د سهَر مونځ قضاء شوې وُ بيا يې د نمر راختلو نه پس فورًا د هغې قضاء رااوګرځوله.

په دې دواړو احاديثو کې خو نه د رمضان ذکر شته، نه د رمضان د آخِري جُمعې ذکر شته، او نه په کې ددې ذکر شته چې دغه مونځونه د ټول عُمر قضاء شوو مونځونو د پاره کافي ګڼل شوي. نو اوس تاسو په خپله سوچ اوکړئ چې د غزوه خندق يا د ليلة التعريس د احاديثو نه څنګه د مروّجه قضاء عُمري ثبوت کيږي؟

بهر حال، په شريعتِ مُقدّسه کې د قضاء شوي مونځونو د پاره قطعي فيصله دا ذکر شوى چې د انسان نه څومره مونځونه قضاء شوي وي د هغې ټولو مونځونو قضاء به راګرځوي، ددې نه بغير د انسان ذِمه نه فارغيږي.

---

(۱) رد المحتار على الدر المختار ۲/ ۷۷ بَابُ قَضَاءِ الْفَوَائِتِ قبيل بَابُ سُجُودِ السَّهْوِ.

(۲) عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ رضي الله عنه يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "كُلُّ أُمَّتِي مُعَافًى ...... صحيح البخاري ۶۰۶۹ كِتَابُ الْأَدَبِ بَابُ سَتْرِ الْمُؤْمِنِ عَلَى نَفْسِهِ. صحيح مسلم رقم الحديث ۵۲ (۲۹۹۰) كِتَابُ الزُّهْدِ وَالرَّقَائِقِ بَابُ النَّهْيِ عَنْ هَتْكِ الْإِنْسَانِ سِتْرَ نَفْسِهِ.

Scanned with CamScanner

د بخاري شريف حديث دی ، نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ نَسِيَ صَلَاةً فَلْيُصَلِّ إِذَا ذَكَرَهَا. لَا كَفَّارَةَ لَهَا إِلَّا ذَٰلِكَ ﴿ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي. طه ۱۴﴾. (۱)

په فتاوى حقانيه کې ددې بحث په آخر کې ليکلي چې د فقهاء کرامو ، ائمه جَرح و تعديل ، او د محدّثينو ددې صريحو اقوالو په رڼا کې مونږ د رمضان المبارک په آخري جُمعه کې مرَوّجه قضاء عُمرى ته بِدعتِ قبيحه او مُداخلت فِي الدِّين وايو . (۲)

د فتاوى حقانيه په دريم جلد کې ذکر دي : د قضاء مونځ راګرځول لازمي دي ، ليکن د رمضان المبارک په آخري جُمعه کې د مُروّجه قضاء عُمرى دا رَسم کوم چې صرف د پښتنو په علاقو کې موجود دی دا په هيڅ صحيح دليل سره ثابت نه دی ، بلکه دا د شريعت د عامو قواعدو او اُصولو خلاف دی ، علماءِ ديوبند دا په بدعتِ سَيِّئه کې شمار کړی ، دا د عوامو د پاره هلاکوونکي دی ، او خواصو ته ددې ضرورت نشته ، لهذا په دې مونځ کې شرکت نه دې په کار . (۳)

په **فتاوى عثمانيه** کې ذکر دي : شرعي اِعتبار سره چې د مسلمان نه څومره مونځونه قضاء شي ددې نه دده ذِمه هغه وخت فارغيږي چې کله دې ددې ټولو مونځونو قضاء راواګرځوي ، په مروّجه قضاء عُمرى کې چونکه د شريعت ددې امر لحاظ نشي ساتلی ، نو د رمضانُ المبارک په آخِري جُمعه کې چې د يو امام په اِقتداء کې صرف د پنځو مونځونو قضاء راګرځولې شي په دې سره د ټولو قضاء شوو مونځونو نه ذِمه نه فارغيږي ، لهذا مروّجه قضاء عُمري په بِدعت کې داخله ده .

---

(۱) صحيح البخاري رقم الحديث ۵۹۷ كِتَابُ مَوَاقِيتِ الصَّلَاةِ بَابُ مَنْ نَسِيَ صَلَاةً فَلْيُصَلِّ إِذَا ذَكَرَ وَلَا يُعِيدُ إِلَّا تِلْكَ الصَّلَاةَ.
وفي رواية : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَنْ نَسِيَ صَلَاةً ، أَوْ نَامَ عَنْهَا، فَكَفَّارَتُهَا أَنْ يُصَلِّيَهَا إِذَا ذَكَرَهَا » . صحيح مسلم رقم الحديث ۳۱۵ (۶۸۴) كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةَ بَابُ قَضَاءِ الصَّلَاةِ الْفَائِتَةِ وَاسْتِحْبَابِ تَعْجِيلِ قَضَائِهَا.
(۲) فتاوى حقانيه ج۲ ص۵۷ تا ۶۰ كتاب البدعة والرسوم .
(۳) فتاوى حقانيه ج۳ ص ۳۰۱ باب القضاء عزيز الفتاوى المعروف بدار العلوم ديوبند فصل في قضاء الفوائت ج۱ ص ۲۵۴

ددې نه علاوه په دې کې يو څو نور مفاسد هم شته :

۱ . ټولو فقهاؤ صراحةً دا خبره ذکر کړې چې قضاء مونځ خانله په کار دی چې نورو خلقو ته پته او نه لږي ، ځکه قصداً مونځ پرېښودل ګناه ده او د خلقو د وړاندې ښکاره ددې قضاء راګرځول د ګناه اظهار دی . او د مروّجه قضاء عُمرئ دومره ډېر اهتمام کولې شي چې ددې په وجه د ګناه اظهار کيږي چې دا صحيح نه دی .

۲ .. بعضې وخت خلق د داسې امام پسې دا قضاء عُمري اوکړي چې د هغه په ذِمه باندې يو قضاء مونځ هم نه وي ، نو دده د پاره خو دا مونځ نفل شو ، او چې د شاته مقتديانو په ذِمه باندې قضاء مونځ پاتې وي نو د هغوی مونځ فرض شو ، نو ددې امام پسې دداسې خلقو مونځ نه کيږي ، ځکه په دې کې اِقتداء د مُفترِض راځي په مُتنفِل پسې ، او دا ناجائز ده .

۳ . د مُروّجه قضاء عُمرئ د ناجائز والي يوه وجه دا هم ده چې دا ضروري نه ده چې د امام نه د کومې ورځې د ماسپخين مونځ قضاء شوې وي نو د مقتدي نه دې هم د هم‌دغه ورځې د ماسپخين مونځ قضاء شوې وي ، بلکه ډېر قوي اِمکان دادی چې د امام او مقتدي نه دې د جُدا جدا ورځو د ماسپخين مونځ قضاء شوې وي ، نو اوس چې امام د يوې ورځې د ماسپخين مونځ قضاء راګرځوي او مقتدي وريسې د بلې ورځې د ماسپخين د قضاء مونځ نيت تړلې وي نو په دې سره خو د مقتدي غاړه نه خلاصيږي .

۴ . د مُروّجه قضاء عُمرئ د نه صحيح کيدو يوه غټه واجه دا هم ده چې په دې سره خلق د فرض مونځونو په قضاء کولو باندې زړه‌وَر کيږي (هر کس به دا وايي چې که اوس فرض مونځ قضاء کړم نو دا خبر دی ځکه قضاء عُمري به اوکړم په هغې سره به راته ټول معاف شي) حالانکه فرض مونځ بغير د څه شرعي عُذر نه پرېښودل ګناهِ کبيره ده ، نو که د مُروّجه قضاء عُمرئ اجازت ورکړې شي نو دا ټول خلق په ګناهِ کبيره کې مبتلاء کيږي .

ددې ټولو خبرو نه دا واضحه شوه چې مروّجه قضاء عُمري يو بدعتِ قبيحه دی ، چې ددې نه ځان ساتل ډېر ضروري دي .

اعلم أنهم قد احدثوا في آخر جمعة شهر رمضان اموراً لا اصل لها . والتزموا أموراً لا اصل للزومها ... فمنها القضاء العمري حدث ذلک في بلاد خراسان واطرافها و بعض بلاد اليمن .(۱)

---

(۱) محمد عبدالحي مجموعة رسائل اللکهنوي ، ردالاخوان عن محدثات آخر جمعة رمضان ۲ / ۳۴۹ .

پوهه شه چې خلقو د رمضان المبارک په آخري جمعه کې داسې نوي کارونه ایجاد کړي چې ددې په شریعت کې هیڅ دلیل نشته ، او داسې کارونه یې په ځان باندې لازم کړي دي چې ددې د لزوم د پاره هیڅ دلیل نشته ... په دې کې یو قضاء عُمري هم ده چې دا په خراسان او ددې په اطرافو کې ، او د یمَن په بعضو ښارونو کې ایجاد شوې ده . (۱)

په **فتاوی محمودیه** کې ذکر دي : د رمضان المبارک په آخري جُمعه کې مروّجه قضاء عُمري ناجائزه ده ، او دا د شرعي دلائلو خلاف ده . (۲)

په **فتاوی دارالعلوم دیوبند** کې ذکر دي : د رمضان المبارک په آخري جُمعه کې چې د قضاء عُمری کوم رِواج دی ، دا ثابِت نه دی ، په شامي کې ذکر دي چې امام صاحب ته دا منسوب کول صحیح نه دي ، د فخر الاسلام او قاضي خان نه ددې کراهت نقل دی . لهٰذا دا پریخودل په کار دي .

وَمَا نُقِلَ أَنَّ الإِمَامَ قَضٰى صَلَاةَ عُمُرِهِ . الدر المختار

قال ابن عابدين رحمه الله : وَالْجَوَابُ أَوَّلًا أَنَّهُ لَمْ يَصِحَّ نَقْلُ ذٰلِكَ عَنِ الإِمَامِ ... (۳)

---

(۱) فتاوی عثمانیه ج ۱ ص ۱۶۸ البدعات والرسوم . همدغه شان مسئله په دې فتاوی عثمانیه ج ۳ ص ۱۵۵ کې هم ذکر ده .

(۲) اعلم أنهم قد احدثوا في آخر جمعة شهر رمضان اموراً لا اصل لها ، والتزموا أموراً لا اصل للزومها ... فمنها القضاء العمري حدث ذلک في بلاد خراسان و اطرافها و بعض بلاد اليمن واكنافها . ولهم في ذلک طرق مختلفة و مسالک متشتة . فمنهم من يصلي في آخر جُمعة رمضان خمس صلوات قضاءً بأذان واقامة مع الجماعة ويجهرون في الجهرية ويسرون في السرية وينوون لها بقولهم : "نويتُ أنْ أصلي اربع ركعات مفروضة قضاءً لما فات من الصلوات في تمام العمر مما مضى " ويعتقدون انها كفارة لجميع الصلوات الفائتة مما مضى . رد الاخوان عن محدثات آخر جمعة رمضان ج۲ ص ۳۲۹ طبع كراچي ، فتاوى محموديه ج ۱۱ ص ۳۵۴ قضاء رمضان .

(۳) رد المحتار على الدر المختار ۲ /۳۸ بَابُ الوِتْرِ وَالنَّوَافِلِ . فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۲۴۸ كتاب الصلوة الباب العاشر في قضاء الفوائت .

Scanned with CamScanner

په فتاوی حقانیه کې د **عزیز الفتاوی** په حواله ذکر دي : قال العلامه عزیز الرحمن في فتاوی: قضاء عمری عند الحنفیه مشروع نیست، پس التزام آن خصوصا در آخر جمعه رمضان المبارک که چهار رکعت نفل به نیت قضاء عمری ادا کرده شود شرعا بے اصل است، واین چنین اعتقاد کردن که از چهار رکعت نفل صلوة فائته عمر حاصل شود خلاف نصوص صحیحه وصریحه قواعد شرعیه است.(۱)

په **كفاية المفتي** کې ذکر دي: د مروّجه قضاء عُمری مونځ بې أصل دی، په جمعې سره دا کول ناجائز دي.(۲)

په **فتاوی فریدیه** کې ذکر دي: د رمضان المبارک په آخري جُمعه کې چې کومه مروّجه قضاء عُمري کیږي دا بدعتِ قبیحه دی، نه په قرآن کریم کې ددې مشروعیت شته، نه په احادیثو کې، او نه د فقهاء کرامو نه ددې جواز منقول دی.

او ددې د ثبوت د پاره چې کوم حدیث پیش کولې شي هغه حدیث موضوعي او مَردود دی، او د مروّجه قضاء عُمری ټول دلائل بې أصله او د احنافو د اصولو خلاف دي.

وَأَمَّا حَدِيثُ " مَنْ قَضٰى صَلَوَاتٍ مِنَ الْفَرَائِضِ فِيْ آخِرِ جُمُعَةٍ مِنْ رَمَضَانَ كَانَ ذٰلِكَ جَابِرًا لِكُلِّ صَلَاةٍ فَائِتَةٍ مِنْ عُمْرِهِ إِلٰى سَبْعِيْنَ سَنَةً " قَالَ عَلِيُّ الْقَارِيُّ فِيْ مَوْضُوْعَاتِهِ الصُّغْرٰى وَالْكُبْرٰى: بَاطِلٌ قَطْعِيًّا لِأَنَّهُ مُنَاقِضٌ لِلْإِجْمَاعِ عَلٰى أَنَّ شَيْئًا مِنَ الْعِبَادَاتِ لَا يَقُوْمُ مَقَامَ فَائِتَةِ سَنَوَاتٍ.

ثُمَّ لَا عِبْرَةَ بِنَقْلِ صَاحِبِ النِّهَايَةِ وَلَا بَقِيَّةِ شُرَّاحِ الْهِدَايَةِ لِأَنَّهُمْ لَيْسُوْا مِنَ الْمُحَدِّثِيْنَ وَلَا أَسْنَدُوا الْحَدِيْثَ إِلٰى أَحَدٍ مِنَ الْمُخَرِّجِيْنَ.(۳)

همدارنګې د فقهي په کتابونو کې هم د مروّجه قضاء عُمری جواز نشته.

---

(۱) فتاوی حقانیه ج۳ ص۳۰۱ باب القضاء. عزیز الفتاوی المعروف بدار العلوم دیوبند فصل في قضاء الفوائت ج۱ ص۲۵۳.

(۲) كفاية المفتي ج۳ ص۳۳۸ قضا نمازیں. فتاوی حقانیه ج۳ ص۳۰۱ باب القضاء.

(۳) الموضوعات الكبرى لملا علي قاري رحمه الله ص۲۴۲ رقم الحديث ۹۵۳.

او په کومو کتابونو کې چې د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله متعلق نقل شوي چې " قَضٰى صَلَاةَ عُمُرِهِ " نو علامه شامي رحمه الله ليکلي د امام صاحب نه ددې نقل صحيح نه دی ، او که چيرته دا نقل صحيح شي نو ددې نه د رمضان المبارک د آخري جُمعې مروّجه قضاء عُمري مراد نه ده ، بلکه ددې نه اِحتياطا د ټول عُمر مونځونو قضائي مراد ده .

و ما روي ان الامام اباحنيفة قضى صلاة عمره ، فعلى تقدير الثبوت معناه قضاء صلواة جميع العمر احتياطاً لا ما فهمه المتعبدون . او قضاء الفوائت على قدر الفوائت على الزعمية .

وصرح في الشامي ان هذه الرواية لم تصح عنه .(۱)

همدارنګې دا مروّجه د قضاء عُمری مونځ د قواعد حنفيه وُ هم مخالِف دی ، ځکه په دې کې اقتداء د مُفترِض په مُتَنَفِل پسې راځي ، او اِقتداء د يو فرض کوونکي د بل فرض کوونکي پسې راځي ، حالانکه دا ناجائز ده .

---

(۱) فتاوی فريديه ج ۲ ص ۶۱۸ باب قضاء الفوائت .

نوټ : د امام صاحب نه چې کومه خبره نقل ده د هغې تعلق د رمضان المبارک د آخري جُمعې د مروّجه قضاء عُمری سره بالکل نشته ، بلکه هغه بله مسئله ده ، ستاسو د پوهې : پاره درته هغه مسئله رانقل کوم (ابوالشمس علي عنه)

قَالَ الحصكفي رحمه الله : (وَلَا يُصَلِّيْ بَعْدَ صَلَاةٍ) مَفْرُوْضَةٍ (مِثْلَهَا) فِي الْقِرَاءَةِ أَوْ فِي الْجَمَاعَةِ أَوْ لَا تُعَادُ عِنْدَ تَوَهُّمِ الْفَسَادِ لِلنَّهْيِ، وَمَا نُقِلَ أَنَّ الْإِمَامَ قَضٰى صَلَاةَ عُمْرِهِ. فَإِنْ صَحَّ نَقْوْلُ كَانَ يُصَلِّي الْمَغْرِبَ وَالْوِتْرَ أَرْبَعًا بِثَلَاثِ قَعَدَاتٍ . الدر المختار قال ابن عابدين رحمه الله : وَالْجَوَابُ أَوَّلًا أَنَّهُ لَمْ يَصِحَّ نَقْلُ ذٰلِكَ عَنِ الْإِمَامِ، وَثَانِيًا أَنَّهُ لَوْ صَحَّ نَقُوْلُ إِنَّهُ كَانَ يُصَلِّي الْمَغْرِبَ وَالْوِتْرَ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ بِثَلَاثِ قَعَدَاتٍ كَمَا نَقَلَهُ فِي الْبَحْرِ عَنْ مَآلِ الْفَتَاوٰى : أَيْ وَيَكُوْنُ حِيْنَئِذٍ إِعَادَةُ الصَّلَاةِ لِمُجَرَّدِ تَوَهُّمِ الْفَسَادِ غَيْرَ مَكْرُوْهٍ . وَيَكُوْنُ النَّهْيُ مَحْمُوْلًا عَلٰى غَيْرِ هٰذَا الْوَجْهِ. لٰكِنْ لَمَّا كَانَتِ الصَّلَاةُ عَلٰى هٰذَا مُحْتَمِلَةً لِوُقُوْعِهَا نَفْلًا وَالتَّنَفُّلُ بِالثَّلَاثِ مَكْرُوْهٌ نَقُوْلُ إِنَّهُ كَانَ يَضُمُّ إِلَى الْمَغْرِبِ وَالْوِتْرِ رَكْعَةً. فَعَلٰى اِحْتِمَالِ صِحَّةِ مَا كَانَ صَلَاهُ أَوَّلًا تَقَعُ هٰذِهِ الصَّلَاةُ نَفْلًا . . رد المحتار على الدر المختار ۲ /۳۸ باب الوتر والنوافل

قال العلامة ابن نجيم رحمه الله : (قَوْلُهُ : وَمُفْتَرِضٍ بِمُتَنَفِّلٍ وَبِمُفْتَرِضٍ آخَرَ) أَيْ وَفَسَدَ إِقْتِدَاءُ الْمُفْتَرِضِ بِإِمَامٍ مُتَنَفِّلٍ أَوْ بِإِمَامٍ يُصَلِّي فَرْضًا غَيْرَ فَرْضِ الْمُقْتَدِي ، لِأَنَّ الْإِقْتِدَاءَ بِنَاءٌ، وَ وَصْفُ الْفَرْضِيَّةِ مَعْدُومٌ فِي حَقِّ الْإِمَامِ فِي الْأُوْلَى وَهُوَ مُشَارَكَةٌ وَمُوَافَقَةٌ فَلَا بُدَّ مِنَ الْإِتِّحَادِ وَهُوَ مَعْدُومٌ فِي الثَّانِيَةِ . (١)

همدارنګې په دې مروّجه قضاء عُمرى کې په جُمات کې د قضاء شوي مونځونو د پاره آذان هم کولې شي ، حالانکه دا ناجائز دی .

قال العلامة ابن نجيم رحمه الله : وَإِذَا كَانُوا قَدْ صَرَّحُوا بِأَنَّ الْفَائِتَةَ لَا تُقْضَى فِي الْمَسْجِدِ لِمَا فِيهِ مِنْ إِظْهَارِ التَّكَاسُلِ فِي إِخْرَاجِ الصَّلَاةِ عَنْ وَقْتِهَا فَالْوَاجِبُ الْإِخْفَاءُ . فَالْأَذَانُ لِلْفَائِتَةِ فِي الْمَسْجِدِ أَوْلَى بِالْمَنْعِ . (٢)

و ايضا هي مخالفة عن حديث " مَنْ نَسِيَ صَلَاةً فَلْيُصَلِّ إِذَا ذَكَرَهَا. لَا كَفَّارَةَ لَهَا إِلَّا ذٰلِكَ ".(٣)

ثم هي مهلكة للعوام لانهم يعتقدون كفايتها كما لايخفى .(٤)

د مروّجه قضاء عُمري کوونکو خلقو بې أصله دلائل . او د هغې جوابات :

په فتاوى فريديه کې دا هم ذکر دي : چې د مروّجه قضاء عُمرى هيڅ اصل نشته ، ددې جواز د پاره چې دوی کوم دلائل ذکر کوي هغه ټول بې أصله او د احنافو د اصولو خلاف دي

(**نوټ** : مفتي صاحب ددې خلقو دلائل او جوابات په تفصيل سره ذکر کړي خو زه به يې درته مختصر رانقل کړم . ابو الشمس عفي عنه)

(١) البحر الرائق شرح كنز الدقائق ١ / ٣٨٢ إِقْتِدَاءُ الْمُفْتَرِضِ بِإِمَامٍ مُتَنَفِّلٍ أَوْ بِإِمَامٍ يُصَلِّي فَرْضًا غَيْرَ فَرْضِ الْمُقْتَدِي .

(٢) البحر الرائق شرح كنز الدقائق ١ . ٢٧٦ بَابُ الْأَذَانِ .

(٣) صحيح البخاري رقم الحديث ٥٩٧ كِتَابُ مَوَاقِيتِ الصَّلَاةِ بَابُ مَنْ نَسِيَ صَلَاةً فَلْيُصَلِّ إِذَا ذَكَرَ وَلَا يُعِيدُ إِلَّا تِلْكَ الصَّلَاةَ ،
صحيح مسلم رقم الحديث ٣١٥ (٦٨٣) كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةِ بَابُ قَضَاءِ الصَّلَاةِ الْفَائِتَةِ وَاسْتِحْبَابِ تَعْجِيلِ قَضَائِهَا.

(٣) فتاوى فريديه ج ٢ ص ٦١٧ تا ٢١٩ باب قضاء الفوائت (مع الاختصار) .

Scanned with CamScanner

د مروجه قضاء عمري کوونکو خلقو اول دلیل : دوی ددې د اثبات د پاره دا حدیث " مَنْ قَضَى صَلَوَاتٍ مِنَ الْفَرَائِضِ فِي آخِرِ جُمُعَةٍ مِنْ رَمَضَانَ كَانَ ذٰلِكَ جَابِرًا لِكُلِّ صَلَاةٍ فَائِتَةٍ مِنْ عُمْرِهِ إِلَى سَبْعِينَ سَنَةً " پیش کوي ، او وايي چې دا حدیث صاحب د نهايه ذکر کړی . او دا هم وايي چې که دا حدیث ضعیف شي نو بیا هم په فضائلو کې په ضعیف حدیث باندې عمل کول جائز دی .

جواب : دا مذکوره حدیث ضعیف نه دی بلکه دا موضوعي دی (یعنی چا د ځان نه په دروغه جوړ کړی)

وَأَمَّا حَدِيثُ " مَنْ قَضَى صَلَوَاتٍ مِنَ الْفَرَائِضِ فِي آخِرِ جُمُعَةٍ مِنْ رَمَضَانَ كَانَ ذٰلِكَ جَابِرًا لِكُلِّ صَلَاةٍ فَائِتَةٍ مِنْ عُمْرِهِ إِلَى سَبْعِينَ سَنَةً " قَالَ عَلِيُّ الْقَارِيُّ فِي مَوْضُوعَاتِهِ الصُّغْرَى وَالْكُبْرَى: بَاطِلٌ قَطْعِيًّا لِأَنَّهُ مُنَاقِضٌ لِلْإِجْمَاعِ عَلَى أَنَّ شَيْئًا مِنَ الْعِبَادَاتِ لَا يَقُومُ مَقَامَ فَائِتَةٍ سَنَوَاتٍ .

ثُمَّ لَا عِبْرَةَ بِنَقْلِ صَاحِبِ النِّهَايَةِ وَلَا بَقِيَّةِ شُرَّاحِ الْهِدَايَةِ لِأَنَّهُمْ لَيْسُوا مِنَ الْمُحَدِّثِينَ وَلَا أَسْنَدُوا الْحَدِيثَ إِلَى أَحَدٍ مِنَ الْمُخَرِّجِينَ . (۱)

وَذَكَرَهُ الشَّوْكَانِيُّ فِي الْفَوَائِدِ الْمَجْمُوعَةِ فِي الْأَحَادِيثِ الْمَوْضُوعَةِ بِلَفْظِ " مَنْ صَلَّى فِي آخِرِ جُمُعَةٍ مِنْ رَمَضَانَ الْخَمْسَ صَلَوَاتِ الْمَفْرُوضَةِ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ قَضَتْ عَنْهُ مَا أَخَلَّ بِهِ مِنْ صَلَاةِ سَنَةٍ " وَقَالَ: هٰذَا مَوْضُوعٌ بِلَا شَكٍّ . وَلَمْ أَجِدْهُ فِي شَيْءٍ مِنَ الْكُتُبِ الَّتِي جمع مُصَنِّفُوهَا فِيهَا الْأَحَادِيثَ الْمَوْضُوعَةَ وَلٰكِنَّهُ اشْتَهَرَ عِنْدَ جَمَاعَةٍ مِنَ الْمُتَفَقِّهَةِ بِمَدِينَةِ صَنْعَاءَ فِي عَصْرِنَا هٰذَا وَصَارَ كَثِيرٌ مِنْهُمْ يَفْعَلُونَ ذٰلِكَ وَلَا أَدْرِي مَنْ وَضَعَهُ لَهُمْ . فَقَبَّحَ اللهُ الْكَذَّابِينَ . (۲)

---

(۱) الموضوعات الكبرى لملا علي قاري رحمه الله ص ۲۴۲ رقم الحديث ۹۵۳ .

(۲) الآثار المرفوعة في الأخبار الموضوعة محمد عبد الحي بن محمد عبد الحليم الأنصاري اللكنوي الهندي ۱ / ۸۵ القضاء العمري في رمضان .

او په موضوعي حديث باندې استدلال صحيح نه دی ، همدارنګې موضوعي حديث په فضائلو کې هم معتبر نه دی ، مولانا عبدالحي لکهنوي رحمه الله ليکلي دي :

إعْلَمْ أَنَّه قد صرّح الْفُقَهَاء والمحدّثون بأجمعهم فِي كُتُبهمْ بِأَنَّهُ تحرم رِوَايَة الْمَوْضُوع وَذكره وَنَقله وَالْعَمَل بِمَا فاده مَعَ اعْتِقَاد ثُبُوته إِلَّا مَعَ التَّنْبِيه على أَنه مَوْضُوع ، وَيحرم التَّساهل فِيهِ سَوَاء كَانَ فِي الْأَحْكَام والقصص أَو التَّرْغِيب والترهيب أَو غير ذَلِك ، وَيحرم التَّقْلِيد فِي ذكره وَنَقله إِلَّا مَقْرُونا بِبَيَان وَضعه ، بِخِلَاف الحَدِيث الضَّعِيف فَإِنَّهُ إِن كَانَ فِي غير الْأَحْكَام يتساهل فِيهِ وَيقبل بِشُرُوط عديدة قد بسطتها فِي تعليقي على رسالتي " تحفة الطلبة فِي مسح الرَّقَبَة " الْمُسَمّى بتحفة الكملة ، وَفِي رسالتي " الْأَجْوِبَة الفاضلة للأسئلة الْعشْرَة الكاملة " وصرحوا أَيْضا بِأَن الْكَذِب على النَّبِي من أكبر الْكَبَائِر.

بَالغ بعض الشَّافِعِيَّة فَحكم بِكُفْرِهِ ، وَذَلِكَ لوُرُود الْأَحَادِيث الصَّحِيحَة بِأَلْفَاظ مُخْتَلفَة الدَّالَّة على مَا ذكرنَاهُ ، وأشهرها لفظ " مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا، فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ .(۱) "

وَله طرق كَثِيرَة حَتَّى قيل انه من الْأَحَادِيث المتواترة .... قُلتُ : قَدْ ثَبَتَ مِنْ هٰذِهِ الرِّوَايَاتِ أَنَّ الْوَضعَ عَلَى النَّبِيِّ وَنِسْبَةَ مَا لَمْ يَقُلْهُ إِلَيْهِ حَرَامٌ مُطْلَقًا وَمُسْتَوْجِبٌ لِعَذَابِ النَّارِ سَوَاءٌ كَانَ ذٰلِكَ فِي الحَلالِ وَالْحَرَامِ أَوْ تَرْغِيبٍ أَوْ تَرْهِيبٍ أَوْ غَيْرِ ذٰلِكَ. فَبَطَلَ ظَنُّ بَعْضِ الْوَضَّاعِيْنَ الْجَهَلَةِ أَنَّ الْكَذِبَ عَلَيْهِ لِلتَّرْغِيبِ وَالتَّرْهِيبِ يَجُوزُ لِأَنَّهُ كَذِبٌ لَهُ لَا عَلَيْهِ.

وَأَيْضًا ثَبَتَ مِنَ الرِّوَايَاتِ الْمَذْكُورَةِ أَنَّهُ كَمَا أَنَّ الْكَذِب عَلَيْهِ قَوْلًا وَعَمَلًا بِأَن يُنْسَبَ إِلَيْهِ قَوْلًا لم يقلهُ وَعَمَلًا لَمْ يَفْعَلهُ مِنْ أكبر الْكَبَائِر .(۲)

---

(۱) صحيح البخاري رقم الحديث ۱۲۹۱ بَابُ مَا يُكْرَهُ مِنَ النِّيَاحَةِ عَلَى المَيِّتِ ، ورقم ۱۰۷ بَابُ إِثْمِ مَنْ كَذَبَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . صحيح مسلم رقم الحديث ۳ (۳) بَابُ فِي التَّحْذِيرِ مِنَ الْكَذِبِ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ،

(۲) الآثار المرفوعة في الأخبار الموضوعة محمد عبد الحي بن محمد عبد الحليم الأنصاري اللكنوي الهندي ۱ / ۲۱ ، ۳۶ حُرْمَة رِوَايَة الحَدِيث الْمَوْضُوع .

د مروّجه قضاء عُمري كوونكو خلقو دويم دليل : دوی د دې د اثبات د پاره دويم دليل دا بيانوي چې اګر چې دا مذكوره حديث موضوعي دی خو په دې سره خلقو ته د مانځه ترغيب راځي ، بل دا چې دا دروغ خو (نعوذُ بِالله) د نبي عليه السلام د فائدې او د دين د نفعې د پاره دي ، او په دې كې خو نبي عليه السلام د پاره ضرر نشته .

جواب : د مانځه د ترغيب د پاره صحيح احاديث بې شماره موجود دي نو دې دروغو ته هيڅ ضرورت نشته ، بل دا چې د هر قِسمه دروغو نسبت نبي عليه السلام ته كول حرام دي ، ځكه په كومو احاديثو كې چې د دروغو د حديث نه منع راغلې هغه عام او مطلقا ذكر دي .

نبي عليه السلام فرمايي : مَنْ حَدَّثَ عَنِّيْ بِحَدِيْثٍ يُرٰى أَنَّهُ كَذِبٌ ، فَهُوَ أَحَدُ الْكَاذِبِيْنَ .(۱)

وفي رواية : مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا ، فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ .(۲)

د مروّجه قضاء عُمري كوونكو خلقو دريم دليل : دوی دريم دليل دا بيانوي چې دا مُروّجه قضاء عُمري هغه بزرګانو او تقوی دارو خلقو كړې چې هغوی د دُنيا نه بې رَغبته وو ، او آخرت طرف ته يې توجّه زياته وه ، نو چې كله هغوی دا كړې ده نو په كار ده چې مونږ

---

(۱) صحيح مسلم بَابُ وُجُوبِ الرِّوَايَةِ عَنِ الثِّقَاتِ وَتَرْكِ الْكَذَّابِيْنَ .

(۲) صحيح البخاري رقم الحديث ۱۲۹۱ بَابُ مَا يُكْرَهُ مِنَ النِّيَاحَةِ عَلَى الْمَيِّتِ ، و رقم ۱۰۷ بَابُ إِثْمِ مَنْ كَذَبَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . صحيح مسلم رقم الحديث ۳ بَابٌ فِي التَّحْذِيرِ مِنَ الْكَذِبِ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وفي رواية : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « لَا تَكْذِبُوا عَلَيَّ ، فَإِنَّهُ مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ فَلْيَلِجِ النَّارَ » . صحيح البخاري رقم الحديث ۱۰۶ بَابُ إِثْمِ مَنْ كَذَبَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . صحيح مسلم رقم الحديث ۱ بَابٌ فِي التَّحْذِيرِ مِنَ الْكَذِبِ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

مولانا عبدالحي لكهنوي رحمه الله فرمايي .... قُلْتُ : قَدْ ثَبَتَ مِنْ هٰذِهِ الرِّوَايَاتِ أَنَّ الْوَضْعَ عَلَى النَّبِيِّ وَنِسْبَةَ مَا لَمْ يَقُلْهُ إِلَيْهِ حَرَامٌ مُطْلَقًا وَمُسْتَوْجِبٌ لِعَذَابِ النَّارِ سَوَاءٌ كَانَ ذٰلِكَ فِي الْحَلَالِ وَالْحَرَامِ أَوْ تَرْغِيبٍ أَوْ تَرْهِيبٍ أَوْ غَيْرِ ذٰلِكَ . فَبَطَلَ قَوْلُ بَعْضِ الْوَضَّاعِيْنَ الْجَهَلَةِ أَنَّ الْكَذِبَ عَلَيْهِ لِلتَّرْغِيبِ وَالتَّرْهِيبِ يَجُوزُ لِأَنَّهُ كَذِبٌ لَهُ لَا عَلَيْهِ . وَأَيْضًا ثَبَتَ مِنَ الرِّوَايَاتِ الْمَذْكُورَةِ أَنَّهُ كَمَا أَنَّ الْكَذِبَ عَلَيْهِ قَوْلًا وَعَمَلًا بِأَنْ يُنْسَبَ إِلَيْهِ قَوْلًا لَمْ يَقُلْهُ وَعَمَلًا لَمْ يَفْعَلْهُ مِنْ أَكْبَرِ الْكَبَائِرِ . الآثار المرفوعة في الأخبار الموضوعة محمد عبد الحي بن محمد عبد الحليم الأنصاري اللكنوي الهندي ۱ / ۲۱ ، ۳۶ حُرْمَةُ رِوَايَةِ الْحَدِيثِ الْمَوْضُوعِ .

هم د هغوی اتباع اوکړو . د قرآن کریم آیت دی : وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ .

جواب چې تر څو پورې یو عبادت په شریعت کې ثابت نه وي د یو چا په کولو سره هغه عبادت او دلیل نه شي جوړیدی . (ځکه که د هر چا خُود ساخته عمل عبادت او دلیل شي نو بیا خو به خلق په دین کې ډیر خُرافات داخل کړي ، لهذا عبادت هماغه معتبر دی کوم چې په شریعت کې ثابت وي) .

د مروجه قضاء عُمري کوونکو خلقو څلورم دلیل : د دوی څلورم دلیل دادی چې د نبي علیه السلام نه په غزوه خندق کې څلور مونځونه قضاء شوي وو بیا یې ماسخوتن ددې ټولو مونځونو قضاء رااوګرځوله ، هم دارنګې د لیلة التعریس په واقعه کې هم ذکر دي چې د دوی نه د سهر مونځ قضاء شوې وُ بیا یې د نمر راختلو نه پس په جَمعې سره ددې قضاء رااوګرځوله ، او ددې د پاره یې آذان او اِقامت هم اوکړو .

جواب : ددې دواړه قِسمه واقعو او احادیثو نه خو صرف دا معلومیږي چې نبي علیه السلام د فوت شوو مونځونو قضاء رااوګرځوله ، په دې کې خو د هیڅچا اختلاف نشته ، ځکه د انسان نه چې څومره مونځونه فوت شوي وي د هغې ټولو قضاء راګرځول خو لازمي ده ، ددې واقعاتو نه خو دا نه معلومیږي چې نبي علیه السلام د رمضانُ المبارک په آخري جُمعه کې د پنځو مونځونو قضاء رااوګرځوله او دا پنځه مونځونه یې د ټول عُمر قضاء شوي مونځونو د پاره کافي اوګڼل .

د مروجه قضاء عُمري کوونکو خلقو پنځم دلیل : د دوی پنځم دلیل دادی چې په درمختار کې د امام ابوحنیفه رحمه الله متعلق ذکر دي : قَضٰى صَلَاةَ عُمُرِهِ .

جواب : ددې نه دا مروّجه قضاء عُمري مراد نه ده ، بلکه دا یوه بله مسئله بیانوي چې آیا یو انسان اِحتیاطًا د ټول عُمر مونځونونه دوباره کولې شي او که نه ؟

نو یو مرجوح روایت دادی چې دا جائز دي ، لیکن علامه شامي رحمه الله ویلي چې ددې قول نسبت امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله ته صحیح نه دی .

بهر حال که دا قول صحیح هم شي نو ددې نه دا د رمضان المبارک په آخري جُمعه کې مروّجه قضاء عُمري مراد نه ده، او نه فقهاوو ددې نه د مروّجه قضاء عُمری اخیستې ده، بلکه دا ځان له مستقل بله مسئله ده، په شامي کې ددې تفصیل ذکر دی. (۱)

لهذا ددې ټول تفصیل نه دا خبره واضحه شوه چې: رمضان المبارک په آخري جُمعه کې، ددې مروّجه قضاء عُمري کولو هیڅ اصل نشته، بلکه دا د شریعت د اصولو خلاف ده. (۲)

علامه عبدالحي لکهنوي رحمه الله د مروّجه قضاء عُمری د حدیث په باره کې لیکلي چې دا موضوعي او باطل دی. (۳)

---

(۱) **نوټ**: د امام صاحب نه چې کومه خبره نقل ده د هغې تعلق د رمضان المبارک د آخري جُمعې د مروّجه قضاء عُمری سره بالکل نشته، بلکه هغه بله مسئله ده، ستاسو د پوهې د پاره درته هغه مسئله رانقل کوم (ابوالشمس عفي عنه)

قَالَ الحصكفي رحمه الله: (وَلَا يُصَلِّي بَعْدَ صَلَاةٍ) مَفْرُوضَةٍ (مِثْلَهَا) فِي الْقِرَاءَةِ أَوْ فِي الْجَمَاعَةِ أَوْ لَاتُعَادُ عِنْدَ تَوَهُّمِ الْفَسَادِ لِلنَّهْيِ. وَمَا نُقِلَ أَنَّ الْإِمَامَ قَضَى صَلَاةَ عُمْرِهِ، فَإِنْ صَحَّ نَقُولُ كَانَ يُصَلِّي الْمَغْرِبَ وَالْوِتْرَ أَرْبَعًا بِثَلَاثِ قَعَدَاتٍ. الدر المختار قال ابن عابدين رحمه الله: وَالْجَوَابُ أَوَّلًا أَنَّهُ لَمْ يَصِحَّ نَقْلُ ذَلِكَ عَنِ الْإِمَامِ. وَثَانِيًا أَنَّهُ لَوْ صَحَّ نَقُولُ إِنَّهُ كَانَ يُصَلِّي الْمَغْرِبَ وَالْوِتْرَ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ بِثَلَاثِ قَعَدَاتٍ كَمَا نَقَلَهُ فِي الْبَحْرِ عَنْ مَآلِ الْفَتَاوَى: أَيْ وَيَكُونُ حِينَئِذٍ إِعَادَةُ الصَّلَاةِ لِمُجَرَّدِ تَوَهُّمِ الْفَسَادِ غَيْرَ مَكْرُوهٍ، وَيَكُونُ النَّهْيُ مَحْمُولًا عَلَى غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ. لَكِنْ لَمَّا كَانَتِ الصَّلَاةُ عَلَى هَذَا مُحْتَمِلَةً لِوُقُوعِهَا نَفْلًا وَالتَّنَفُّلُ بِالثَّلَاثِ مَكْرُوهٌ نَقُولُ إِنَّهُ كَانَ يَضُمُّ إِلَى الْمَغْرِبِ وَالْوِتْرِ رَكْعَةً. فَعَلَى احْتِمَالِ صِحَّةِ مَاكَانَ صَلَّاهُ أَوَّلًا تَقَعُ هَذِهِ الصَّلَاةُ نَفْلًا ... رد المحتار على الدر المختار ۲/ ۳۸ بَابُ الْوِتْرِ وَالنَّوَافِلِ

(۲) فتاوی فریدیه ج ۲ ص ۶۲۰ تا ۶۲۲ باب قضاء الفوائت (مع الاختصار).

(۳) وَأَمَّا حَدِيثُ " مَنْ قَضَى صَلَوَاتٍ مِنَ الْفَرَائِضِ فِي آخِرِ جُمُعَةٍ مِنْ رَمَضَانَ كَانَ ذَلِكَ جَابِرًا لِكُلِّ صَلَاةٍ فَائِتَةٍ مِنْ عُمْرِهِ إِلَى سَبْعِينَ سَنَةً " قَالَ عَلِيٌّ الْقَارِيُّ فِي مَوْضُوعَاتِهِ الصُّغْرَى وَالْكُبْرَى: بَاطِلٌ قَطْعِيًّا لِأَنَّهُ مُنَاقِضٌ لِلْإِجْمَاعِ عَلَى أَنَّ شَيْئًا مِنَ الْعِبَادَاتِ لَا يَقُومُ مَقَامَ فَائِتَةٍ سَنَوَاتٍ.
ثُمَّ لَا عِبْرَةَ بِنَقْلِ صَاحِبِ النِّهَايَةِ وَلَا بَقِيَّةِ شُرَّاحِ الْهِدَايَةِ لِأَنَّهُمْ لَيْسُوا مِنَ الْمُحَدِّثِينَ وَلَا أَسْنَدُوا الْحَدِيثَ إِلَى أَحَدٍ مِنَ الْمُخَرِّجِينَ. الموضوعات الكبرى لملا علي قاري رحمه الله ص ۲۴۲ رقم الحديث ۹۵۳، الآثار المرفوعة في الأخبار الموضوعة محمد عبد الحي بن محمد عبد الحليم الأنصاري اللكنوي الهندي ۱/ ۸۵ الْقَضَاءُ الْعُمْرِيُّ فِي رَمَضَانَ

همدارنګې، قاضي شوکاني رحمه الله هم د مروّجه قضاء عُمرى د حديث په باره کې ؤ وايي چې دا بغير د شک و شُبهې نه مَوضوعي دی.(۱)

شاه عبدالعزيز محدث دهلوي رحمه الله ليکلي چې د مروّجه قضاء عمرى حديث د عقل او نقل دواړو خلاف دی، او شرعي قواعد هم ددې تکذيب کوي.

بلکه علامه عبدالحي لکهنوي رحمه الله د مروّجه قضاء عُمرى د حديث په باره کې مستقل رساله ليکلې ده، نوم يې دی "ردع الأخوان عَن محدثات آخر جُمُعَة رَمَضَان" ... يې په دې رساله کې په پوره تفصيل او دلائلو سره دا ثابته کړې چې دا حديث موضوعي ... باطل دی. (۲)

---

(۱) وَذَكَرَه الشَّوْكَانِيُّ فِي " الْفَوَائِد الْمَجْمُوعَة فِي الأَحَادِيثِ الْمَوْضُوعَة " بِلَفْظِ " مَنْ صَلَّى فِي آخِرِ جُمُعَةٍ مِنْ رَمَضَانَ الْخَمْسَ صَلَوَاتِ الْمَفْرُوضَةِ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ قَضَتْ عَنْهُ مَا أَخَلَّ بِهِ مِنْ صَلَاةِ سَنَةٍ " وَقَالَ: هٰذَا مَوْضُوعٌ بِلَا شَكٍّ . وَلَمْ أَجِدْهُ فِي شَيْءٍ مِنَ الْكُتُبِ الَّتِي جمع مُصَنِّفُوهَا فِيهَا الأَحَادِيث الْمَوْضُوعَة وَلٰكِنَّهُ اشْتَهَرَ عِنْدَ جَمَاعَةٍ مِنَ الْمُتَفَقِّهَةِ بِمَدِينَةِ صَنْعَاءَ فِي عَصْرِنَا هٰذَا وَصَارَ كَثِيرٌ مِنْهُمْ يَفْعَلُونَ ذٰلِكَ وَلَا أَدْرِي مَنْ وَضَعَهُ لَهُمْ ؟ فَقَبَّحَ اللهُ الْكَذَّابِينَ . الآثار المرفوعة في الأخبار الموضوعة محمد عبد الحي بن محمد عبد الحليم الأنصاري اللكنوي الهندي ۱ / ۸۵ الْقَضَاء الْعمري فِي رَمَضَان.

(۲) وَقَالَ الْعَلَّامَة الدهلوي فِي رسَالَته " العجالة النافعة " عِنْد ذكر قَرَائِن الْوَضْع ... أَن يكون الحديث مُخَالِفًا لِمُقْتَضَى الْعقل والنقل وَتكذبه الْقَوَاعِد الشَّرعِيَّة مثل حديث قضاء العمري وَنَحْوه. انْتهى معربا.

قلتُ وَقد أَلفتُ لِإِثْبَات وضع هٰذَا الحَدِيث الَّذِي يُوجد فِي كتب الأوراد والوظائف بِأَلفاظ مُخْتَلِفَة مختصرة ومطولة بالدلائل الْعَقْلِيَّة والنقلية رِسَالَة مُسَمَّاة بِـ " ردع الأخوان عَن محدثات آخر جُمُعَة رَمَضَان " وأدرجتُ فِيهَا فَوَائِد تنشط بهَا الأذهان وتصغي إِلَيْهَا الآذان فلتطالع فَإِنَّهَا نفيسة فِي بَابهَا رفيعة الشَّأْن. العجالة النافعة ص ۳۰ بيان قرائن وضع الحديث. الآثار المرفوعة في الأخبار الموضوعة محمد عبد الحي بن محمد عبد الحليم الأنصاري اللكنوي الهندي ۱ / ۸۵ الْقَضَاء الْعمري فِي رَمَضَان.

همدارنګې نورو علماؤ هم دې مروّجه قضاء عُمرئ ته بدعت ویلی او ددې په باره کې چې کوم حدیث رانقل شوی هغې ته یې موضوعي ویلی .(۱)

د مروّجه قضاء عُمرئ په باره کې د نورو مذاهبو فتوی

لکه څرنګې چې د احنافو په کتابونو او فتاؤو کې مروّجه قضاء عُمرئ ته بدعت ویل شوی ، همدغه رنګې د نورو مذاهبو په فتاؤو کې هم مروّجه قضاء عمري ته بدعت او ناجائز ویل شوی ، د نورو مذاهبو یو څو فتاؤو عبارتونه درته رانقل کوم :

1 . **سوال** : إنّ بعض أئمة المساجد يصلون في رمضان بعد صلاة جمعة الوداع خمس صلوات

---

(۱) ومن البدع المذمومة التي يأثم فاعلها ويجب على ولاة الأمر منع فاعلها ...صلاة آخر جمعة من رمضان سبعة عشر ركعة، بنية قضاء الصلوات الخمس التي لم يقضها... أما أحاديثها فموضوعة باطلة، ولا تغتر بمن ذكرها . إعانة الطالبين على حل ألفاظ فتح المعين ۱ / ۳۱۲ باب الصلاة .

بيان أنه لا عبرة بالأحاديث المنقولة في كتب الفقه والتصوف ، ما لم يظهر سندها وإن كان مصنفها جليلا: قال العلامة ملا علي القاري في رسالة الموضوعات: "حديث: من قضى صلاته من الفرائض في آخر جمعة من رمضان، كان ذلك جابرًا لكل صلاة فائتة في عمره إلى سبعين سنة" باطل قطعا . ولا عبرة بنقل صاحب النهاية وغيره من بقية شراح الهداية، فإنهم ليسوا من المحدثين ولا أسندوا الحديث إلى أحد من المخرجين. قواعد التحديث من فنون مصطلح الحديث ۱ / ۱۸۳ الكلام على الحديث الموضوع .

أو أن يكون مخالفاً للإجماع. مثل في « مَنْ قَضَى صَلَوَاتٍ مِنَ الفَرَائِضِ فِي آخِرِ جُمُعَةٍ مِنْ رَمَضَانَ كَانَ ذَلِكَ جَابِرًا لِكُلِّ صَلَاةٍ فَائِتَةٍ مِنْ عُمْرِهِ إِلَى سَبْعِينَ سَنَةً » . فإنّ هذا مخالف لما أجمع عليه من أن الفائتة لا يقوم مقامها شيء من العبادات. السنة ومكانتها في التشريع الإسلامي. مصطفى بن حسني السباعي ۱ / ۹۹ عَلَامَاتُ الوَضْعِ فِي المَتْنِ

ومثال المخالف للإجماع حديث: "من قضى صلوات من الفرائض في آخر جمعة من رمضان كان ذلك جابرا لكل صلاة فائتة في عمره إلى سبعين سنة" . فإنّ هذا وما شاكله باطل كذب لمخالفته للإجماع على أن شيئا من العبادات لا يسقط فائتة سنة فضلا عن سبعين سنة ولا تغتر بما يوجد من هذا وأمثاله في بعض كتب الفقه أو كتب الأوراد، وكن منه على حذر شديد. الوسيط في علوم ومصطلح الحديث ۱ / ۳۳۹ أمارات الوضع

لأوقاتها، بجماعة بأذان وإقامة، بالالتزام كالفرض والواجب، ويسمونها "صلاة القضاء العمري" والعوام يصلونها حسب اسمها، عقيدة أنها قضاء لسائر صلواته الفائتة في عمره. والخواص أي الأئمة يؤدونها بأنها جبيرة لنقائص صلواته. وهؤلاء المحدثون يطعنون بالذين لا يصلون هذه الصلاة. فالمسئول من جنابكم: هل يجوز أداء هذه الصلاة أي القضاء العمري من الالتزام في رمضان بعد صلاة جمعة الوداع، وهل لها مبنى في شريعة الإسلام؟...

جواب: الصلاة عبادة، والأصل فيها التوقيف، وطلب قضائها وبيانه تشريع، وذلك لا يصح أن يرجع فيه إلا إلى كتاب الله وسنة رسوله صلى الله عليه وسلم، والإجماع المستند إليهما، أو إلى أحدهما، ولم يثبت عن النبي صلى الله عليه وسلم ولا عن أصحابه رضي الله عنهم، ولا عن أئمة الهدى رحمهم الله: أنهم صلوا هذه الصلاة أو أمروا بها وحثوا عليها، أو رغبوا فيها، ولو كانت ثابتة لعرفها أصحابه رضي الله عنهم، ونقلوها إلينا، وأرشد إليها أئمة الهدى من بعدهم، لكن لم يثبت ذلك عن أحد منهم قولا أو فعلا؛ فدل ذلك على أن ما ذكر في السؤال من صلاة القضاء العمري بدعة في الشرع لم يأذن به الله، وقد ثبت عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال: « من أحدث في أمرنا هذا ما ليس منه فهو رد » وإنما الذي أمر به رسول الله صلى الله عليه وسلم أن يقضي من الصلوات ما فات الإنسان؛ لنوم أو نسيان حتى خرج وقته، وبين لنا أن نصليها نفسها إذا استيقظنا أو تذكرناها، لا في آخر جمعة من رمضان.(۱)

۲: **سوال**: يوجد في باكستان بلد يقوم أهله في آخر جمعة من رمضان وبعد صلاة الجمعة مباشرة بالأذان، ويصلون خمسة فروض كل منها اربع ركعات بسلام منفصل، ويعتبرون هذه الصلوات قضاء عما فاتهم، وطبعا هذه الحادثة تحصل في العام مرة واحدة في آخر جمعة في رمضان مباشرة. فأرجو الإفادة هل هذه الصلوات لها أصل في الشرع الإسلامي أم أنها بدعة؟ وجزاكم الله كل خير.

---

(۱) فتاوى اللجنة الدائمة المجموعة الأولى، الرئيس عبد العزيز بن عبد الله بن باز ۸/۱٦٦ صلاة القضاء العمري الفتوى رقم (۲۲۳۸).

Scanned with CamScanner

جواب: لا نعلم أصلا لما ذكر، بل هو بدعة محدثة، وقد قال عليه الصلاة والسلام: « من أحدث في أمرنا هذا ما ليس منه فهو رد » . متفق على صحته، وفي لفظ: « من عمل عملا ليس عليه أمرنا فهو رد » .(۱)

۳ . **سئل** الشيخ حفظه الله تعالى : هناك جماعة من الناس عندهم عادة في رمضان وهي صلاتهم الفروض الخمسة بعد صلاة آخر جمعة ويقولون : إنها قضاء عن أي فرض من هذه الفروض لم يصله الإنسان أو نسيه في رمضان . فما حكم هذه الصلاة ؟ أفتونا مأجورين.

فأجاب فضيلته بقوله : الحكم في هذه الصلاة أنها من البدع ، وليس لها أصل في الشريعة الإسلامية، وهي لا تزيد الإنسان من ربه إلا بعداً، لأن رسول الله صلي الله عليه وسلم يقول : "كل بدعة ضلالة، وكل ضلالة في النار" . فالبدع وإن استحسنها مبتدعوها ورأوها حسنة في نفوسهم فإنها سيئة عند الله عز وجل ، لأنّ نبيه صلي الله عليه وسلم يقول : "كل بدعة ضلالة، وكل ضلالة في النار". وهذه الصلوات الخمس التي يقضيها الإنسان في آخر جمعة من رمضان لا أصل لها في الشرع. ثم إننا نقول هل لم يخل هذا الإنسان إلا في خمس صلوات فقط ربما أنه أخل في عدة أيام لا في عدة صلوات، والمهم أن الإنسان ما علم أنه مخل فيه فعليه قضاءه متي علم ذلك لقوله صلي الله عليه وسلم " من نام عن صلاة أو نسيها فليصلها إذا ذكرها " . وأما أن الإنسان يفعل هذه الصلوات الخمس احتياطاً كما يزعمون فإن هذا منكر ولا يجوز. (۲)

٤ . (**سئل**) عن من صلى خمس صلوات من الفرائض في آخر جمعة من شهر رمضان كان ذلك جابرا لكل صلاة فائتة في عمره إلى سبعين سنة ولكل صلاة صلاها بوسوسة أو بغير طهارة أو نسيان إلى غير ذلك . فهل هذا حديث صحيح ورد في السنة عنه صلى الله عليه وسلم أو غير صحيح ؟ وما المراد بالفرائض التي يصليها هل هي الحاضرة أم الفائتة ؟ أوضحوا الجواب أنلتم الثواب .

---

(۱) مذكوره حواله ۸/ ۱٦۹ الفتوى رقم (۸۹۰۳) .

(۲) مجموع فتاوى ورسائل فضيلة الشيخ محمد بن صالح العثيمين ۱۲ /۲۲۸ رقم الفتوى ۱٦٦ .

(**أجاب**) الحمد لله وحده ممن منه التوفيق لعتمه التحقيق اعلم ، فقك الله تعالى أن من مارس السنة النبوية واشتغل بفؤاد أنوارها البهية وعلم مبدأ فيضها من الأنوار القدسية وشهد أصولها الربانية وخاض في بحار أودية جامعها النورانية ودرس في دروس بلغتها وفصاحتها العدنانية علم أن هذا من غير الأحاديث المروية بالأسانيد المقومة للبرية. ونادته أصول أحاديثها المحررة عند أئمتنا العلية : لا تنسب هذه المقالة إلى خير من نطق بالضاد بكل فضل ومزية . فهذه الكتب الصحاح فهل تجد ذلك فيها بالرواية القوية ؟ ...

ومما يرد هذا ما ذكره أئمة الأصول والفقه أن الفرض لا ينوب عنه غيره . ولو أخذ بظاهره لأدى إلى فساد كبير وخلل عظيم ، لأن الخمس صلوات إذا جبرت فائتة سبعين سنة خرج الناس من عهدة الصلاة بخمس صلوات يصليها في آخر رمضان . سواء كانت أداء أو قضاء. كيف وقد نص الأئمة على وجوب قضاء الصلاة إجماعا . سواء فاتته بعذر أو غيره . ثم إن حملت الخمس صلوات على أنها أداء فهذا لا معنى له لأنه واجب عليه أداؤها . وإن حملت على القضاء فهذا مناقض لغيره من الأحاديث . ولقوله تعالى { أقيموا الصلاة } إذ كيف يكون تأخير الصلاة وفعلها قضاء سببا في هذا التكفير؟ فلا يقول بذلك البشير النذير . وهذا من جملة ما يستدل به على وضع الحديث . وفي كلام ابن حجر أن مما يدل أيضا على الوضع سير ما بأيدي الناس من الحديث . ولم يوجد في الكتب المعول عليها، والله أعلم . (۱)

همدارنګې په نورو فتاوو کې هم په دې مروّجه قضاء عمري باندې رد شوی. (۲)

---

(۱) فتاوى الحلبي على المذهب الشافعي ۱ /۴۸ مطلب : في من صلى خمس صلوات من الفرائض في آخر جمعة من رمضان

(۲) فتاوى الشبكة الإسلامية ۳ / ۲۰۳۰ رتبة حديث "من صلى في آخر جمعة من رمضان الخمس" . فتاوى دار الإفتاء المصرية ۹ / ۱۲۲ صلاة الكفارة . فتاوى د حسام عفانة حسام الدين بن موسى محمد بن عفانة ۶ / ۱۳۵ قضاء صلاة . فتاوى يسألونك الأستاذ الدكتور حسام الدين بن موسى عفانة ۶/ ۳۱۹ حديث مكذوب في قضاء الصلاة الفائتة

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

﴿ حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى ۚ وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ ﴾ البقرة آية ۲۳۸

د مانځه متعلق مُتفرِق فِقهي مسائِل

تاليف

آبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القرآن اکاخيل کالونی، مردان

د تکبر په وجه پېنځې د ګیټو نه ښکته ساتل مکروه تحریمي دي

د سرو د پاره د تکبر په وجه د پرتوګ پېنځې د ګیټو (خنګرو) نه ښکته ساتل مکروه تحریمي دي ، لهذا په دې حالت کې مونځ کول هم د کراهت نه خالي نه دی.(١)

البته بغیر د تکبّر نه بیا مکروهِ تنزیهي دي.(٢)

فقهاؤ دا هم لیکلي چې د سړو د پاره په عامو حالاتو کې هم پېنځې د ګیټو نه ښکته ساتل ناجائز دي برابره خبره ده چې دا سړي په مانځه کې وي او که بهر د مانځه نه وي ، خو

---

(١) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلَاءَ لَمْ يَنْظُرِ اللهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ » . صحيح البخاري رقم الحديث ٣٦٦٥ بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا » .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « مَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ مِنَ الْإِزَارِ فَفِي النَّارِ » . صحيح البخاري كِتَابُ اللِّبَاسِ بَابُ مَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ فَهُوَ فِي النَّارِ رقم الحديث ٥٧٨٧ .

(٢) عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ ، عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : « مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلَاءَ لَمْ يَنْظُرِ اللهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ » قَالَ أَبُو بَكْرٍ : يَا رَسُولَ اللهِ ! إِنَّ أَحَدَ شِقَّيْ إِزَارِي يَسْتَرْخِي ، إِلَّا أَنْ أَتَعَاهَدَ ذَلِكَ مِنْهُ ؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « لَسْتَ مِمَّنْ يَصْنَعُهُ خُيَلَاءَ » . صحيح البخاري كِتَابُ اللِّبَاسِ بَابُ مَنْ جَرَّ إِزَارَهُ مِنْ غَيْرِ خُيَلَاءَ رقم الحديث ٥٧٨٤ .

وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « لَا يَنْظُرُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى مَنْ جَرَّ إِزَارَهُ بَطَرًا » مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ مشكاة المصابيح كِتَابُ اللِّبَاسِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ رقم الحديث ٤٣١١ .

قَالَ ابْنُ الْمَلَكِ: يُفْهَمُ مِنْهُ أَنَّ جَرَّهُ لِغَيْرِ ذَلِكَ يَكُونُ حَرَامًا. لَكِنَّهُ مَكْرُوهٌ كَرَاهَةَ تَنْزِيهٍ .

قَالَ النَّوَوِيُّ : اَلْإِسْبَالُ يَكُونُ فِي الْإِزَارِ وَالْقَمِيصِ وَالْعِمَامَةِ . وَلَا يَجُوزُ الْإِسْبَالُ تَحْتَ الْكَعْبَيْنِ إِنْ كَانَ لِلْخُيَلَاءِ ، وَقَدْ نَصَّ الشَّافِعِيُّ عَلَى أَنَّ التَّحْرِيمَ مَخْصُوصٌ بِالْخُيَلَاءِ لِدَلَالَةِ ظَوَاهِرِ الْأَحَادِيثِ عَلَيْهَا ، فَإِنْ كَانَ لِلْخُيَلَاءِ فَهُوَ مَمْنُوعٌ مَنْعَ تَحْرِيمٍ ، وَإِلَّا فَمَنْعَ تَنْزِيهٍ ، وَأَجْمَعُوا عَلَى جَوَازِ الْإِسْبَالِ لِلنِّسَاءِ ، وَقَدْ صَحَّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَهُنَّ فِي إِرْخَاءِ ذُيُولِهِنَّ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ٢٧٦٦/٧ كِتَابُ اللِّبَاسِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ في تشريح رقم الحديث ٤٣١١ .

مونځ چونکه اَهم عبادت دی، ددې د آدابو لحاظ هم په کار دی لهذا د مانځه په دوران کې د خپو ګیټی ښکاره کول په کار دي، ورنه مونځ به مکروه وي. (۱)

د نمر راختو، پریوتو او اِستواء په وخت مونځ کول

د نمر راختو، پریوتو او اِستواء په وخت مونځ کول مکروهِ تحريمي دی، البته د نمر پریوتو په وخت د همدغه ورځې مازیګر مونځ سره د کراهته جائز دی. (۲)

---

(۱) فتاوی عثمانیه ج۲ ص۱۸۱ فصل في المكروهات.

تَقْصِيْرُ الثِّيَابِ سُنَّةٌ، وَإِسْبَالُ الْإِزَارِ وَالْقَمِيْصِ بِدْعَةٌ. يَنْبَغِي أَنْ يَكُوْنَ الْإِزَارُ فَوْقَ الْكَعْبَيْنِ إِلَى نِصْفِ السَّاقِ، وَهٰذَا فِي حَقِّ الرِّجَالِ. وَأَمَّا النِّسَاءُ فَيُرْخِيْنَ إِزَارَهُنَّ أَسْفَلَ مِنْ إِزَارِ الرِّجَالِ لِيَسْتُرَ ظَهْرَ قَدَمِهِنَّ. إِسْبَالُ الرَّجُلِ إِزَارَهُ أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ إِنْ لَمْ يَكُنْ لِلْخُيَلَاءِ فَفِيْهِ كَرَاهَةُ تَنْزِيْهٍ. الفتاوى الهندية ۵/ ۳۳۳ كِتَابُ الْكَرَاهِيَةِ اَلْبَابُ التَّاسِعُ فِي اللُّبْسِ مَا يُكْرَهُ مِنْ ذٰلِكَ وَمَا لَا يُكْرَهُ.

(۲) عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ يَقُوْلُ: ثَلَاثُ سَاعَاتٍ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَانَا أَنْ نُصَلِّيَ فِيْهِنَّ، أَوْ أَنْ نَقْبُرَ فِيْهِنَّ مَوْتَانَا: «حِيْنَ تَطْلُعُ الشَّمْسُ بَازِغَةً حَتّٰى تَرْتَفِعَ، وَحِيْنَ يَقُوْمُ قَائِمُ الظَّهِيْرَةِ حَتّٰى تَمِيْلَ الشَّمْسُ، وَحِيْنَ تَضَيَّفُ الشَّمْسُ لِلْغُرُوْبِ حَتّٰى تَغْرُبَ». صحيح مسلم كِتَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِيْنَ وَقَصْرِهَا بَابُ الْأَوْقَاتِ الَّتِي نُهِيَ عَنِ الصَّلَاةِ فِيْهَا رقم الحديث ۲۹۳ (۸۳۱). سنن الترمذي أَبْوَابُ الْجَنَائِزِ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ۱۰۳۰ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الصَّلَاةِ عَلَى الْجَنَازَةِ عِنْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَعِنْدَ غُرُوْبِهَا

وقَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ: مَعْنٰى هٰذَا الْحَدِيْثِ، أَنْ نَقْبُرَ فِيْهِنَّ مَوْتَانَا، يَعْنِي: الصَّلَاةَ عَلَى الْجَنَازَةِ، وَكَرِهَ الصَّلَاةَ عَلَى الْجَنَازَةِ عِنْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ، وَعِنْدَ غُرُوْبِهَا، وَإِذَا انْتَصَفَ النَّهَارُ حَتّٰى تَزُوْلَ الشَّمْسُ. سنن الترمذي أَبْوَابُ الْجَنَائِزِ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في تشريح رقم الحديث ۱۰۳۰.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «نَهٰى عَنِ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ، وَعَنِ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ». صحيح مسلم كِتَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِيْنَ وَقَصْرِهَا بَابُ الْأَوْقَاتِ الَّتِي نُهِيَ عَنِ الصَّلَاةِ فِيْهَا رقم الحديث ۲۸۵ (۸۲۵)، ورقم (۸۲۶).

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا صَلَاةَ بَعْدَ صَلَاةِ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ، وَلَا صَلَاةَ بَعْدَ صَلَاةِ الْفَجْرِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ». صحيح مسلم كِتَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِيْنَ وَقَصْرِهَا بَابُ الْأَوْقَاتِ الَّتِي نُهِيَ عَنِ الصَّلَاةِ فِيْهَا رقم الحديث (۸۲۷) .... نور په بله صفحه او ګوره ....

د سهر او مازيگر مانځه نه پس قضاء مونځ کول صحيح دی خو نوافل صحيح ندي

د صُبحِ صادِق (يعنی طلوع فجر) نه پس تر د نمر راختلو پورې د سهر د سُنتو او فرضو نه علاوه نور نوافل کول مکروهِ تحريمي دي، همدارنگې د مازيگر د مانځه نه پس هم نوافل جائز ندي، خو په دې دواړو وختونو کې قضاء مونځ کول جائز دي.(۱)

.... په درمختار کې ذکر دي: (وَكُرِهَ) تَحْرِيمًا، وَكُلُّ مَا لَا يَجُوزُ مَكْرُوهٌ (صَلَاةٌ) مُطْلَقًا (وَلَوْ) قَضَاءً أَوْ وَاجِبَةً أَوْ نَفْلًا أَوْ (عَلَى جِنَازَةٍ وَسَجْدَةُ تِلَاوَةٍ وَسَهْوٍ) لَا شُكْرٍ، قُنْيَةٌ (مَعَ شُرُوقٍ) إلَّا الْعَوَامَّ فَلَا يُمْنَعُونَ مِنْ فِعْلِهَا؛ لِأَنَّهُمْ يَتْرُكُونَهَا، وَالْأَدَاءُ الْجَائِزُ عِنْدَ الْبَعْضِ أَوْلَى مِنْ التَّرْكِ، كَمَا فِي الْقُنْيَةِ وَغَيْرِهَا (وَاسْتِوَاءٍ) إلَّا يَوْمَ الْجُمُعَةِ عَلَى قَوْلِ الثَّانِي الْمُصَحَّحِ الْمُعْتَمَدِ، كَذَا فِي الْأَشْبَاهِ. وَنَقَلَ الْحَلَبِيُّ عَنْ الْحَاوِي أَنَّ عَلَيْهِ الْفَتْوَى (وَغُرُوبٍ، إلَّا عَصْرَ يَوْمِهِ) فَلَا يُكْرَهُ فِعْلُهُ لِأَدَائِهِ كَمَا وَجَبَ. بِخِلَافِ الْفَجْرِ وَالْأَحَادِيثُ تَعَارَضَتْ فَتَسَاقَطَتْ كَمَا بَسَطَهُ صَدْرُ الشَّرِيعَةِ. الدر المختار ۱ / ۳۷۰ كِتَابُ الصَّلَاةِ.

په عالمگيري کې ذکر دي: ثَلَاثُ سَاعَاتٍ لَا تَجُوزُ فِيهَا الْمَكْتُوبَةُ وَلَا صَلَاةُ الْجِنَازَةِ وَلَا سَجْدَةُ التِّلَاوَةِ إذَا طَلَعَتْ الشَّمْسُ حَتَّى تَرْتَفِعَ، وَعِنْدَ الِانْتِصَافِ إلَى أَنْ تَزُولَ، وَعِنْدَ احْمِرَارِهَا إلَى أَنْ يَغِيبَ إلَّا عَصْرَ يَوْمِهِ ذَلِكَ فَإِنَّهُ يَجُوزُ أَدَاؤُهُ عِنْدَ الْغُرُوبِ. هَكَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ. قَالَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ أَبُو بَكْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْفَضْلِ مَا دَامَ الْإِنْسَانُ يَقْدِرُ عَلَى النَّظَرِ إلَى قُرْصِ الشَّمْسِ فَهِيَ فِي الطُّلُوعِ. الفتاوى الهندية ۱ / ۵۲ كِتَابُ الصَّلَاةِ الْفَصْلُ الثَّالِثُ فِي بَيَانِ الْأَوْقَاتِ الَّتِي لَا تَجُوزُ فِيهَا الصَّلَاةُ وَتُكْرَهُ فِيهَا

(۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله: (وَكُرِهَ نَفْلٌ) قَصْدًا وَلَوْ تَحِيَّةَ مَسْجِدٍ (وَكُلُّ مَا كَانَ وَاجِبًا) لَا لِعَيْنِهِ بَلْ (لِغَيْرِهِ) وَهُوَ مَا يَتَوَقَّفُ وُجُوبُهُ عَلَى فِعْلِهِ (كَمَنْذُورٍ، وَرَكْعَتَيْ طَوَافٍ) وَسَجْدَتَيْ سَهْوٍ (وَالَّذِي شَرَعَ فِيهِ) فِي وَقْتٍ مُسْتَحَبٍّ أَوْ مَكْرُوهٍ (ثُمَّ أَفْسَدَهُ وَ) لَوْ سُنَّةَ الْفَجْرِ (بَعْدَ صَلَاةِ فَجْرٍ وَ) صَلَاةِ (عَصْرٍ) وَلَوْ الْمَجْمُوعَةَ بِعَرَفَةَ (لَا) يُكْرَهُ (قَضَاءُ فَائِتَةٍ وَ) لَوْ وِتْرًا أَوْ (سَجْدَةُ تِلَاوَةٍ وَصَلَاةُ جِنَازَةٍ وَكَذَا) الْحُكْمُ مِنْ كَرَاهَةِ نَفْلٍ وَ وَاجِبٍ لِغَيْرِهِ لَا فَرْضٍ وَوَاجِبٍ لِعَيْنِهِ (بَعْدَ طُلُوعِ فَجْرٍ سِوَى سُنَّتِهِ) لِشُغْلِ الْوَقْتِ بِهِ تَقْدِيرًا، حَتَّى لَوْ نَوَى تَطَوُّعًا كَانَ سُنَّةَ الْفَجْرِ بِلَا تَعْيِينٍ. الدر المختار .... نور په آینده صفحه ....

.... قال ابن عابدين: (قَوْلُهُ: وَكُرِهَ تَنَفُّلٌ) ... وَالْكَرَاهَةُ هُنَا تَحْرِيمِيَّةٌ أَيْضًا كَمَا صَرَّحَ بِهِ فِي الْحِلْيَةِ وَلِذَا عَبَّرَ فِي الْخَانِيَّةِ وَالْخُلَاصَةِ بِعَدَمِ الْجَوَازِ، وَالْمُرَادُ عَدَمُ الْحِلِّ لَا عَدَمُ الصِّحَّةِ كَمَا لَا يَخْفَى. رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۳۷۴ كِتَابُ الصَّلَاةِ، فتاوى حقانيه ج۳ ص ۴۱

تِسْعَةُ أَوْقَاتٍ يُكْرَهُ فِيهَا النَّوَافِلُ وَمَا فِي مَعْنَاهَا لَا الْفَرَائِضُ، هَكَذَا فِي النِّهَايَةِ وَالْكِفَايَةِ. فَيَجُوزُ فِيهَا قَضَاءُ الْفَائِتَةِ وَصَلَاةُ الْجِنَازَةِ وَسَجْدَةُ التِّلَاوَةِ. كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ. مِنْهَا مَا بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ قَبْلَ صَلَاةِ الْفَجْرِ. كَذَا فِي النِّهَايَةِ وَالْكِفَايَةِ. يُكْرَهُ فِيهِ التَّطَوُّعُ بِأَكْثَرَ مِنْ سُنَّةِ الْفَجْرِ..... وَمِنْهَا مَا بَعْدَ صَلَاةِ الْعَصْرِ قَبْلَ التَّغَيُّرِ. الفتاوى الهندية ۱ / ۵۲ كِتَابُ الصَّلَاةِ الْفَصْلُ الثَّالِثُ فِي بَيَانِ الْأَوْقَاتِ الَّتِي لَا تَجُوزُ فِيهَا الصَّلَاةُ وَتُكْرَهُ فِيهَا، ومثله في البحر الرائق ج۲ ص ۲۵۱ باب قضاء الفوائت، هكذا في فتاوى فريديه ج۲ ص ۱۶۸، و فتاوى حقانيه ج۳ ص ۲۹۹ باب القضاء

"ويكره التنفل بعد طلوع الفجر بأكثر من سنته" قبل أداء الفرض لقوله صلى الله عليه وسلم: "ليبلغ شاهدكم غائبكم ألا لا صلاة بعد الصبح إلا ركعتين" وليكون جميع الوقت مشغولا بالفرض حكماً ولذا تخفف قراءة سنة الفجر "و" يكره التنفل "بعد صلاته" أي فرض الصبح "و" يكره التنفل "بعد صلاة" فرض "العصر" وإن لم تتغير الشمس لقوله عليه السلام: "لا صلاة بعد صلاة العصر حتى تغرب الشمس ولا صلا بعد صلاة الفجر حتى تطلع الشمس" رواه الشيخان، والنهي بمعنى في غير الوقت وهو جعل الوقت كالمشغول فيه بفرض الوقت حكما وهو أفضل من النفل الحقيقي فلا يظهر في حق فرض يقضيه وهو المفاد بمفهوم المتن. حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ۱ / ۱۸۸ "فصل" في الأوقات المكروهة.

(وَ) مُنِعَ (عَنِ التَّنَفُّلِ وَرَكْعَتَيِ الطَّوَافِ بَعْدَ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَالْعَصْرِ) لِمَا ثَبَتَ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نَهَى عَنِ الصَّلَاةِ فِي هَذَيْنِ الْوَقْتَيْنِ (لَا عَنْ قَضَاءِ فَائِتَةٍ وَسَجْدَةِ تِلَاوَةٍ وَصَلَاةِ جِنَازَةٍ) لِأَنَّ الْكَرَاهَةَ كَانَتْ لِحَقِّ الْفَرْضِ لِيَصِيرَ الْوَقْتُ كَالْمَشْغُولِ بِفَرْضِهِ لَا لِمَعْنًى فِي الْوَقْتِ. وَالْفَرْضُ التَّقْدِيرِيُّ أَقْوَى مِنَ النَّفْلِ ثَوَابًا. فَمُنِعَ وَلَمْ يُمْنَعْ نَحْوُ قَضَاءِ الْفَرَائِضِ إِذِ الْفَرْضُ الْحَقِيقِيُّ أَقْوَى مِنَ الْفَرْضِ التَّقْدِيرِيِّ. (وَ) مُنِعَ (عَنِ النَّفْلِ) فَقَطْ (بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ) الصَّادِقِ (بِأَكْثَرَ مِنْ سُنَّتِهِ) فَظَاهِرُ الْعِبَارَةِ يُوهِمُ جَوَازَ التَّنَفُّلِ بِمِقْدَارِ سُنَّةِ مَا عَدَا رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ وَلَيْسَ كَذَلِكَ بَلِ الْمُرَادُ سُنَّةُ الْفَجْرِ فَقَطْ لَا غَيْرُ لِمَا رُوِيَ أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ قَالَ «إِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ فَلَا تُصَلُّوا إِلَّا رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ». مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر ۱ / ۷۳ الْأَوْقَاتُ الْمَنْهِيُّ عَنِ الصَّلَاةِ فِيهَا.

په کومو ملکونو کې چې د مانځه وخت نه وي هلته د مونځ کولو حکم

په بعضې قطبي ملکونو کې مسلسل شپې میاشتې ورځ وي ، بیا مسلسل شپې میاشتې شپه وي ، په داسې ملکونو کې د شپه او ورځ پوره تمییز نه کیږي نو په داسې ملکونو کې د احنافو په نزد باندې یو مونځ هم نه ساقطیږي ، بلکه د نږدې ګاونډي ملک د وختونو أندازه به أولږولې شي او په همغې حساب به دلته هم پنځه واړه مونځونه کولې شي .

د احنافو د پاره په دې خبره باندې دلیل د مسلم شریف هغه حدیث دی چې په هغې کې رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د دَجال تذکره کړې ، او وې وفرمایل : چې دَجال به تر څلویښتو ورځو پورې په زمکه کې وي ، په دې ورځو کې به یوه ورځ د یو کال په اندازه أوږده وي ، یوه ورځ به د مکمل میاشتې په اندازه ، او یوه ورځ به د مکمل جُمعې په اندازه أوږده وي .... راوي وایي چې مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه اوکړه :

يَا رَسُولَ اللهِ ! فَذٰلِكَ الْيَوْمُ الَّذِيْ كَسَنَةٍ أَتَكْفِيْنَا فِيْهِ صَلَاةُ يَوْمٍ ؟

اې د الله رسوله ! دا کومه ورځ چې د یو کال په مقدار أوږده وي نو آیا په دې کې به زمونږ د پاره د یوې ورځې مونځونه کافي وي ؟

نبي علیه السلام ورته فرمایل : لَا، اقْدُرُوْا لَهُ قَدْرَهُ . (۱)

نه ، بلکه د هر مونځ د پاره د وخت اندازه مقرر کړئ .

دا مسئله خو اتفاقي ده . (۲)

---

(۱) ..... قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا لَبْثُهُ فِي الْأَرْضِ؟ قَالَ : « أَرْبَعُوْنَ يَوْمًا ، يَوْمٌ كَسَنَةٍ ، وَيَوْمٌ كَشَهْرٍ ، وَيَوْمٌ كَجُمُعَةٍ ، وَسَائِرُ أَيَّامِهِ كَأَيَّامِكُمْ » قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ فَذٰلِكَ الْيَوْمُ الَّذِيْ كَسَنَةٍ أَتَكْفِيْنَا فِيْهِ صَلَاةُ يَوْمٍ؟ قَالَ : « لَا ، اقْدُرُوْا لَهُ قَدْرَهُ » . صحيح مسلم رقم الحديث ۱۱۰ (۲۹۳۷) كتاب الفتن وأشراط الساعة باب ذكر الدجال وصفته وما معه.

(۲) (وَفَاقِدُ وَقْتِهِمَا) كَبُلْغَارَ ، فَإِنَّ فِيْهَا يَطْلُعُ الْفَجْرُ قَبْلَ غُرُوْبِ الشَّفَقِ فِيْ أَرْبَعِيْنِيَّةِ الشِّتَاءِ (مُكَلَّفٌ بِهِمَا فَيُقَدِّرُ لَهُمَا) ، وَلَا يَنْوِي الْقَضَاءَ لِفَقْدِ وَقْتِ الْأَدَاءِ بِهِ أَفْتَى الْبُرْهَانُ الْكَبِيْرُ وَاخْتَارَهُ الْكَمَالُ ، وَتَبِعَهُ ابْنُ الشِّحْنَةِ فِي أَلْغَازِهِ فَصَحَّحَهُ ، فَزَعَمَ الْمُصَنِّفُ أَنَّهُ الْمَذْهَبُ . الدر المختار ۱ / ۳۶۲ كتاب الصلاة

قال ابن عابدين : وَفِيْ شَرْحِ الْمِنْهَاجِ : وَيَجْرِيْ ذٰلِكَ فِيْمَا .... نور په آئنده صفحه .....

Scanned with CamScanner

البته په کومو ملکونو کې چې د نمر پرېوتو سره متصل نمر دوباره راخيجي نو آيا په دغه ملکونو واله خلقو باندې د ماسخوتن مونځ او وتر واجب شته او که نه؟

نو د اکثره احنافو په نزد (لکه علامه حصکفي ، صاحب د کنز ، علامه بقالي ، حلواني ، مرغيناني ، شرنبلالي ، حلبي رحمهم الله او څه نورو علماؤ په نزد) په دوی باندې وتر واجب او د ماسخوتن مونځ واجب ندی . (۱)

ليکن علامه شامي رحمه الله او صاحب د تنوير الابصار واله په مضبوطو دلائلو سره دا ثابته کړی چې دې ملکونو واله خلقو باندې هم وتر او د ماسخوتن مونځ واجب دی . البته ددې حضراتو په نزد هم د ماسخوتن مانځه د پاره وخت مقرر کول ممکن ندي ځکه په داسې ملکونو کې خو د ماسخوتن وخت موجود نه وي د نمر پرېوتلو سره دوباره نمر راخيجي نو د دوی په نزد هم د ماسخوتن د مونځ صرف قضاء واجب ده .

.... لَوْ مَكَثَتِ الشَّمْسُ عِنْدَ قَوْمٍ مُدَّةً . قَالَ فِي إِمْدَادِ الْفَتَّاحِ قُلْتُ: وَكَذَلِكَ يُقَدَّرُ لِجَمِيعِ الْآجَالِ كَالصَّوْمِ وَالزَّكَاةِ وَالْحَجِّ وَالْعِدَّةِ وَآجَالِ الْبَيْعِ وَالسَّلَمِ وَالْإِجَارَةِ، وَيُنْظَرُ ابْتِدَاءُ الْيَوْمِ فَيُقَدَّرُ كُلُّ فَصْلٍ مِنَ الْفُصُولِ الْأَرْبَعَةِ بِحَسَبِ مَا يَكُونُ كُلُّ يَوْمٍ مِنَ الزِّيَادَةِ وَالنَّقْصِ كَذَا فِي كُتُبِ الْأَئِمَّةِ الشَّافِعِيَّةِ، وَنَحْنُ نَقُولُ بِمِثْلِهِ إِذْ أَصْلُ التَّقْدِيرِ مَقُولٌ بِهِ إِجْمَاعًا فِي الصَّلَوَاتِ . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۳٦٥ كِتَابُ الصَّلَاةِ .

وايضا قال : وَحَاصِلُهُ أَنَّا لَا نُسَلِّمُ لُزُومَ وُجُودِ السَّبَبِ حَقِيقَةً بَلْ يَكْفِي تَقْدِيرُهُ كَمَا فِي أَيَّامِ الدَّجَّالِ . وَيَحْتَمِلُ أَنَّ الْمُرَادَ بِالتَّقْدِيرِ الْمَذْكُورِ هُوَ مَا قَالَهُ الشَّافِعِيَّةُ مِنْ أَنَّهُ يَكُونُ وَقْتُ الْعِشَاءِ فِي حَقِّهِمْ بِقَدْرِ مَا يَغِيبُ فِيهِ الشَّفَقُ فِي أَقْرَبِ الْبِلَادِ إِلَيْهِمْ .... فَتَعَيَّنَ مَا قُلْنَا فِي مَعْنَى التَّقْدِيرِ مَا لَمْ يُوجَدْ نَقْلٌ صَرِيحٌ بِخِلَافِهِ . وَأَمَّا مَذْهَبُ الشَّافِعِيَّةِ فَلَا يَقْضِي عَلَى مَذْهَبِنَا . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۳٦۲ كِتَابُ الصَّلَاةِ .

(۱) وَمَنْ لَمْ يَجِدْ وَقْتَ الْعِشَاءِ وَالْوِتْرِ بِأَنْ كَانَ فِي بَلَدٍ يَطْلُعُ الْفَجْرُ فِيهِ كَمَا يَغْرُبُ الشَّفَقُ أَوْ قَبْلَ أَنْ يَغِيبَ الشَّفَقُ لَمْ يَجِبَا عَلَيْهِ . هَكَذَا فِي التَّبْيِينِ . الفتاوى الهندية ۱ / ٥۱ كِتَابُ الصَّلَاةِ الْفَصْلُ الْأَوَّلُ فِي أَوْقَاتِ الصَّلَاةِ .

د احتياط په بناء باندې د نورو فقهاؤ په نسبت د علامه شامي رحمه الله قول زيات مناسب دی.(۱)

په مانځه کې د کپړو (جامو) صحيح کول

بغير عُذره په مانځه کې کپړې (جامې) صحيح کول مکروه دي، خو چې دا عمل کثير سره نه وي ، ځکه که بار بار يې صحيح کولی او عملِ کثير موجود شو نو بيا يې مونځ فاسديږي. البته د عُذر په وجه خبر دی.(۲)

په مانځه کې بار بار په ګيره کې ګوتې وهل

که يو کس بِلاضرورته د مانځه په يو رُکن کې مسلسل درې ځلې يو کار اوکړي نو په دې

---

(۱) فتاوی عثمانيه ج۲ ص۱٦ ، فتاوی حقانيه ج۳ ص۳۷ . هکذا في فتاوی فريدية ج ۲ ص ۱٦۱ باب المواقيت و ما يتصل بها. **نوټ** : په شامي کې دا مسئله پوره په تفصيل سره ذکر ده ددې عنوان لاندې : مَطْلَبٌ فِي فَاقِدِ وَقْتِ الْعِشَاءِ كَأَهْلِ بُلْغَارَ. رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۳٦۲ .

(۲) يُكْرَهُ لِلْمُصَلِّي ... أَنْ يَكُفَّ ثَوْبَهُ بِأَنْ يَرْفَعَ ثَوْبَهُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ أَوْ مِنْ خَلْفِهِ إذَا أَرَادَ السُّجُودَ. كَذَا فِي مِعْرَاجِ الدِّرَايَةِ. الفتاوی الهندية ۱ / ۱۰۵ الْفَصْلُ الثَّانِي فِيمَا يُكْرَهُ فِي الصَّلَاةِ وَمَا لَا يُكْرَهُ

په در مختار کې ذکر دي : (وَ) كُرِهَ (كَفُّهُ) أَيْ رَفْعُهُ وَلَوْ لِتُرَابٍ كَمُشَمِّرِ كُمٍّ أَوْ ذَيْلٍ. الدر المختار ۱ / ٦٤۰ مَطْلَبٌ فِي الْكَرَاهَةِ التَّحْرِيمِيَّةِ وَالتَّنْزِيهِيَّةِ.

همدارنګې په مانځه کې د جامو سره لوبې کولو نه کولو هم منع راغلی :

عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ . أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : « إِنَّ اللهَ كَرِهَ لَكُمُ الْعَبَثَ فِي الصَّلَاةِ وَالرَّفَثَ فِي الصِّيَامِ وَالضَّحِكَ عِنْدَ الْمَقَابِرِ » . مسند الشهاب القضاعي رقم الحديث ۱۰۸۷ إِنَّ اللهَ كَرِهَ لَكُمُ الْعَبَثَ فِي الصَّلَاةِ.

په هدايه کې ذکر دي : وَيُكْرَهُ لِلْمُصَلِّي أَنْ يَعْبَثَ بِثَوْبِهِ أَوْ بِجَسَدِهِ . الهداية في شرح بداية المبتدي ج۱ فصل ويكره للمصلي..

په در مختار کې ذکر دي : (وَ) كُرِهَ... (عَبَثُهُ بِهِ) أَيْ بِثَوْبِهِ (وَبِجَسَدِهِ) لِلنَّهْيِ إلَّا لِحَاجَةٍ وَلَا بَأْسَ بِهِ خَارِجَ صَلَاةٍ . الدر المختار ۱ /٦٤۰ مَطْلَبٌ فِي الْكَرَاهَةِ التَّحْرِيمِيَّةِ وَالتَّنْزِيهِيَّةِ.

په عالمګيري کې ذکر دي : يُكْرَهُ لِلْمُصَلِّي أَنْ يَعْبَثَ بِثَوْبِهِ أَوْ لِحْيَتِهِ أَوْ جَسَدِهِ.... الفتاوی الهندية ۱ / ۱۰۵ الْفَصْلُ الثَّانِي فِيمَا يُكْرَهُ فِي الصَّلَاةِ وَمَا لَا يُكْرَهُ.

Scanned with CamScanner

سره مونځ ماتيږي . فقهاؤ دا خبره په تفصيل سره ليکلې . (۱)

په مانځه کې په دواړو لاسونو سره د څادر اوچتولو يا څوغې صحيح کولو حکم

په مانځه کې څادر پورته کول ، څوغه سمول ، يا کپړې صحيح کول عملِ قليل دی او په عملِ قليل سره مونځ نه ماتيږي ، ليکن د مانځه په يو رُکن کې عملِ قليل درې ځلې يا زيات د درې ځلو نه کولو سره مونځ فاسديږي ، ځکه عملِ قليل په بار بار کولو سره عملِ کثير جوړيږي ، او په عملِ کثير سره خو مونځ ماتيږي . (۲)

د عملِ کثير تعريف او د دې حکم

هر هغه کار چې هغه د مانځه د اعمالو او د مانځه د اِصلاح د پاره نه وي او دا په مانځه کې دومره اندازه اوکړې چې عملِ کثير ته اورسي نو په دې سره مونځ ماتيږي . د عملِ کثير په باره کې د علماؤ پنځه اقوال دي :

خو ډير مشهور په کې دا دی چې کله مونځ گزار دا کار کوي او بل کس دا اوگوري نو هغه پرې دا گمان نه کوي چې گنې دې په مانځه کې دی (يعنی دا ددې کار په کولو سره مونځ

---

(۱) قَالَ فِي الْفَيْضِ : اَلْحَكُّ بِيَدٍ وَاحِدَةٍ فِي رُكْنٍ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ يُفْسِدُ الصَّلَاةَ إِنْ رَفَعَ يَدَهُ فِي كُلِّ مَرَّةٍ . رد المحتار على الدر المختار ۱/۶۴۰ مَطْلَبٌ فِي الْكَرَاهَةِ التَّحْرِيمِيَّةِ وَالتَّنْزِيهِيَّةِ .

قال المرغيناني رحمه الله : أَمَّا فَسَادُ الصَّلَاةِ فَبِالْعَمَلِ الْكَثِيرِ ... قال ابن همام ... أَوْ نَتَفَ ثَلَاثَ شَعَرَاتٍ بِمَرَّاتٍ أَوْ حَكَّ ثَلَاثًا فِي رُكْنٍ يَرْفَعُ يَدَهُ كُلَّ مَرَّةٍ ... تفسد . هداية مع فتح القدير ج۱ ص ۴۰۳ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّلَاةَ وَمَا يُكْرَهُ فِيهَا . فتاوى فريدية ج ۲ ص ۱۶۱ باب المواقيت وما يتصل بها .

(۲) وَكَذَا إِذَا تَرَدَّى بِرِدَاءٍ أَوْ حَمَلَ شَيْئًا خَفِيفًا يُحْمَلُ بِيَدٍ وَاحِدَةٍ أَوْ حَمَلَ صَبِيًّا أَوْ ثَوْبًا عَلَى عَاتِقِهِ لَمْ تَفْسُدْ صَلَاتُهُ كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ . وَإِنْ حَمَلَ شَيْئًا بِحَيْثُ يَتَكَلَّفُ بِحَمْلِهِ وَلَهُ مُؤْنَةٌ فَسَدَتْ صَلَاتُهُ . كَذَا فِي الظَّهِيرِيَّةِ . الفتاوى الهندية ۱/۱۰۲ الْبَابُ السَّابِعُ فِيمَا يُفْسِدُ الصَّلَاةَ وَمَا يُكْرَهُ فِيهَا .

وَمَا عُمِلَ بِوَاحِدَةٍ قَلِيلٌ وَإِنْ عُمِلَ بِهِمَا كَحَلِّ السَّرَاوِيلِ وَلُبْسِ الْقَلَنْسُوَةِ وَنَزْعِهَا إِلَّا إِذَا تَكَرَّرَ ثَلَاثًا مُتَوَالِيَةً . رد المحتار على الدر المختار ۱/۶۲۵ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّلَاةَ وَمَا يُكْرَهُ فِيهَا . فتاوى عثمانيه ج۲ ص ۱۲۰ .

ګزار نه معلوميږي) .(۱)

---

(۱) (وَ) يُفْسِدُهَا (كُلُّ عَمَلٍ كَثِيرٍ) لَيْسَ مِنْ أَعْمَالِهَا وَلَا لِإِصْلَاحِهَا، وَفِيهِ أَقْوَالٌ خَمْسَةٌ أَصَحُّهَا (مَالَا يَشُكُّ) بِسَبَبِهِ (النَّاظِرُ) مِنْ بَعِيدٍ (فِي فَاعِلِهِ أَنَّهُ لَيْسَ فِيهَا) ... الدر المختار

(قَوْلُهُ: وَفِيهِ أَقْوَالٌ خَمْسَةٌ أَصَحُّهَا مَا لَا يَشُكُّ) صَحَّحَهُ فِي الْبَدَائِعِ، وَتَابَعَهُ الزَّيْلَعِيُّ وَالْوَلْوَالِجِيُّ. وَفِي الْمُحِيطِ: أَنَّهُ الْأَحْسَنُ. وَقَالَ الصَّدْرُ الشَّهِيدُ: إِنَّهُ الصَّوَابُ. وَفِي الْخَانِيَّةِ وَالْخُلَاصَةِ: إِنَّهُ اخْتِيَارُ الْعَامَّةِ. وَقَالَ فِي الْمُحِيطِ وَغَيْرِهِ: رَوَاهُ الثَّلْجِيُّ عَنْ أَصْحَابِنَا. حِلْيَةٌ. الْقَوْلُ الثَّانِي: أَنَّ مَا يُعْمَلُ عَادَةً بِالْيَدَيْنِ كَثِيرٌ وَإِنْ عُمِلَ بِوَاحِدَةٍ كَالتَّعْمِيمِ، وَشَدِّ السَّرَاوِيلِ. وَمَا عُمِلَ بِوَاحِدَةٍ قَلِيلٌ وَإِنْ عُمِلَ بِهِمَا كَحَلِّ السَّرَاوِيلِ. وَلُبْسِ الْقَلَنْسُوَةِ وَنَزْعِهَا إِلَّا إِذَا تَكَرَّرَ ثَلَاثًا مُتَوَالِيَةً. وَضَعَّفَهُ فِي الْبَحْرِ بِأَنَّهُ قَاصِرٌ عَنْ إِفَادَةِ مَا لَا يُعْمَلُ بِالْيَدِ كَالْمَضْغِ وَالتَّقْبِيلِ. الثَّالِثُ: الْحَرَكَاتُ الثَّلَاثُ الْمُتَوَالِيَةُ كَثِيرٌ وَإِلَّا فَقَلِيلٌ. الرَّابِعُ: مَا يَكُونُ مَقْصُودًا لِلْفَاعِلِ بِأَنْ يُفْرِدَ لَهُ مَجْلِسًا عَلَى حِدَةٍ. قَالَ فِي التَّتَارْخَانِيَّةِ: وَهَذَا الْقَائِلُ يَسْتَدِلُّ بِامْرَأَةٍ صَلَّتْ فَلَمَسَهَا زَوْجُهَا أَوْ قَبَّلَهَا بِشَهْوَةٍ أَوْ مَصَّ صَبِيٌّ ثَدْيَهَا وَخَرَجَ اللَّبَنُ تَفْسُدُ صَلَاتُهَا.

الْخَامِسُ: التَّفْوِيضُ إِلَى رَأْيِ الْمُصَلِّي. فَإِنِ اسْتَكْثَرَهُ فَكَثِيرٌ وَإِلَّا فَقَلِيلٌ. قَالَ الْقُهُسْتَانِيُّ: وَهُوَ شَامِلٌ لِلْكُلِّ. وَأَقْرَبُ إِلَى قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ. فَإِنَّهُ لَمْ يُقَدِّرْ فِي مِثْلِهِ بَلْ يُفَوِّضُ إِلَى رَأْيِ الْمُبْتَلَى. قَالَ فِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ: وَلَكِنَّهُ غَيْرُ مَضْبُوطٍ. وَتَفْوِيضُ مِثْلِهِ إِلَى رَأْيِ الْعَوَامِّ مِمَّا لَا يَنْبَغِي. وَأَكْثَرُ الْفُرُوعِ أَوْ جَمِيعُهَا مُفَرَّعٌ عَلَى الْأَوَّلَيْنِ. وَالظَّاهِرُ أَنَّ ثَانِيَهُمَا لَيْسَ خَارِجًا عَنِ الْأَوَّلِ. لِأَنَّ مَا يُقَامُ بِالْيَدَيْنِ عَادَةً يَغْلِبُ ظَنُّ النَّاظِرِ أَنَّهُ لَيْسَ فِي الصَّلَاةِ. وَكَذَا قَوْلُ مَنِ اعْتَبَرَ التَّكْرَارَ ثَلَاثًا مُتَوَالِيَةً فَإِنَّهُ يَغْلِبُ الظَّنُّ بِذَلِكَ. فَلِذَا اخْتَارَهُ جُمْهُورُ الْمَشَايِخِ. رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۶۲۴ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّلَاةَ وَمَا يُكْرَهُ فِيهَا.

(قَوْلُهُ: أَمَّا فَسَادُ الصَّلَاةِ فَبِالْعَمَلِ الْكَثِيرِ) وَاخْتَلَفُوا فِي حَدِّهِ. فَقِيلَ مَا يَحْصُلُ بِيَدٍ وَاحِدَةٍ قَلِيلٌ وَبِيَدَيْنِ كَثِيرٌ. وَقِيلَ لَوْ كَانَ بِحَالٍ لَوْ رَآهُ إِنْسَانٌ مِنْ بَعِيدٍ تَيَقَّنَ أَنَّهُ لَيْسَ فِي الصَّلَاةِ فَهُوَ كَثِيرٌ. وَإِنْ كَانَ يَشُكُّ أَنَّهُ فِيهَا أَوْ لَمْ يَشُكَّ أَنَّهُ فِيهَا فَقَلِيلٌ وَهُوَ اخْتِيَارُ الْعَامَّةِ. وَقِيلَ يُفَوَّضُ إِلَى رَأْيِ الْمُصَلِّي إِنِ اسْتَكْثَرَهُ فَكَثِيرٌ مُفْسِدٌ وَإِلَّا لَا. قَالَ الْحَلْوَانِيُّ: هَذَا أَقْرَبُ إِلَى مَذْهَبِ أَبِي حَنِيفَةَ. فتح القدير للكمال ابن الهمام ۱ / ۴۰۲ كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّلَاةَ وَمَا يُكْرَهُ فِيهَا. هكذا في فتاوى عثمانيه ج۲ ص ۱۳۳ فصل في المفسدات، فتاوى فريديه ج۲ ص ۵۱۳ باب ما يفسد الصلاة.

Scanned with CamScanner

په داسې بنیان کې مونځ کول مکروه دی چې لستوڼي يې نه وي

بعضې خلقو د قمیص په ځای داسې بَنیان اغوستې وي چې د هغې نیم لستوڼي نه وي ، نو بلا ضرورت په داسې بَنیان کې مونځ کول مکروه دی ځکه په دې کې لاسونه ښکاره وي ، دا داسې دی لکه یو کس چې لستوڼي راټول وهلي ، او د لستوڼو راټول وهلو په حالت کې مونځ کول مکروه دی . (١) البته که دده سره قمیص نه ؤ نو بیا په داسې بَنیان کې مونځ کول خیر دی .

په **فتاوی عثمانیه** کې ذکر دي چې د لستوڼي پورته کولو په حالت کې مونځ کول مکروه دی ، او چې کله د سړي سره د لستوڼو واله قمیص موجود وي او دې د هاف شرټ واله قمیص (یعنی په کوم قمیص کې چې لستوڼي نه وي او لاسونه په کې ښکاره وي ، دې په داسې قمیص) کې مونځ کوي نو دده مونځ مکروه دی . البته که دده سره د لستوڼو واله قمیص نه وي نو بیا خیر دی .

په **عالمگیري** کې ذکر دي : وَلَوْ صَلَّى رَافِعًا كُمَّيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ كُرِهَ . (٢)

---

(١) په در مختار کې ذکر دي : (وَ) كُرِهَ (كَفُّهُ) أَيْ رَفْعُهُ وَلَوْ لِتُرَابٍ كَمُشَمِّرِ كُمٍّ أَوْ ذَيْلٍ . الدر المختار ١/ ٦٤٠ مَطْلَبٌ فِي الْكَرَاهَةِ التَّحْرِيمِيَّةِ وَالتَّنْزِيهِيَّةِ .

په عالمگیري کې ذکر دي : وَلَوْ صَلَّى رَافِعًا كُمَّيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ كُرِهَ كذا في فتاوى قاضي خان. عالمگيري ١/ ١٠٦

قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالي رحمه الله : وكره ... "وتشمير كميه عنهما" للنهي عنه لما فيه من الجفاء المنافي للخشوع . قال السيد احمد الطحطاوي رحمه الله : (قوله : "وتشمير كميه عنهما") أي عن ذراعيه سواء كان إلى المرفقين أو لا على الظاهر كما في البحر لصدق كف الثوب على الكل ، ولو شمرهما قبل الصلاة ثم دخل فيها اختلف في الكراهة كذا في النهر (قوله: "لما فيه من الجفاء") عبر بعضهم بقوله لما فيه من التكبر المنافي لموضوع الصلاة . حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ١/ ٣٣٩ فصل في المكروهات، ومثله في البحر الرائق ج٢ ص ٣ باب مايفسد الصلاة و مايكره .

(٢) الفتاوى الهندية كتاب الصلاة الباب السابع فيما يفسد الصلاة وما يكره فيها ١/ ١٠٦ كذا في فتاوى قاضي خان ،

فتاوى عثمانيه ج٢ ص ١٦٣ فصل في المكروهات .

که چیرته چا داسې مونځ اوکړو چې لستوڼړي یې د څنګلو پورې بډ وهلې وي نو دا مکروه دی .

په کفاية المفتي کې ذکر دي : د نیم لستوڼړي واله قمیص کې مونځ کول مکروهِ تنزیهي دی ، ځکه دا د مسلمانانو د عبادت طریقه نه ده . (۱)

د جُمات په ټوپۍ (خولۍ) کې مونځ کول مکروه دی

مونځ چونکه داسې اَهم عبادت دی چې په دې کې انسان د الله ﷻ په بارګاه کې ولاړ وي ، لهٰذا په بهترین لباس کې مونځ په کار دی ، یا کم از کم په داسې جامو کې مونځ په کار دی چې په هغې کې انسان یو معزز مجلس ته بغیر د شرم نه تللې شي .

نن صبا چې په جوماتونو کې دا کومې ټوپۍ پرتې دي په دې کې انسان نورو مجلسونو ته نشي تللی ، فقهاء کرامو په دې کې مونځ مکروه ګڼلی او دا یې په ثِیابِ بِذله کې شاملې کړی ، یعنی لکه څرنګې چې په خیرَنو او د کار په جامو کې مونځ مکروه دی نو همداسې په دې ټوپو (خولو) کې هم مونځ مکروه دی . (۲)

---

(۱) كفاية المفتي ج۳ ص ۱۰۷ كتاب الصلوة .

(۲) په عالمګیري کې ذکر دي : وَتُكْرَهُ الصَّلَاةُ فِي ثِيَابِ الْبِذْلَةِ . كَذَا فِي مِعْرَاجِ الدِّرَايَةِ . الفتاوى الهندية ۱ / ۱۰۷ اَلْفَصْلُ الثَّانِي فِيمَا يُكْرَهُ فِي الصَّلَاةِ وَمَا لَا يُكْرَهُ

په در مختار کې ذکر دي : (وَ) كُرِهَ ... (صَلَاتُهُ فِي ثِيَابِ بِذْلَةٍ) يَلْبَسُهَا فِي بَيْتِهِ (وَمِهْنَةٍ) أَيْ خِدْمَةٍ إنْ لَهُ غَيْرُهَا وَإِلَّا لَا . الدر المختار په شامي کې د دې تشریح داسې ذکر ده .... قَالَ فِي الْبَحْرِ ، وَفَسَّرَهَا فِي شَرْحِ الْوِقَايَةِ بِمَا يَلْبَسُهُ فِي بَيْتِهِ وَلَا يَذْهَبُ بِهِ إلَى الْأَكَابِرِ ، وَالظَّاهِرُ أَنَّ الْكَرَاهَةَ تَنْزِيهِيَّةٌ . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۶۴۱ مَطْلَبٌ فِي الْكَرَاهَةِ التَّحْرِيمِيَّةِ وَالتَّنْزِيهِيَّةِ .

قال العلامةُ حسن بن عمار الشرنبلالي : "و" تكره "الصلاة في ثياب بذلة" بكسر الباء وسكون الذال المعجمة ثوبٌ لا يُصان عن الدنس ممتهن ، وقيل ما لا يذهب به إلى الكبراء ، ورأى عمر رضي الله عنه رجلا فعل ذلك فقال: أرأيت لو كنت أرسلتك إلى بعض الناس أكنت تمر في ثيابك هذه؟ فقال : لا ، فقال عمر رضي الله عنه: اَللهُ أحق أن تتزين له . مراقي الفلاح على صدر الطحطاوي ۱ / ۳۵۹ فصل في المكروهات .

Scanned with CamScanner

په **فتاوی حقانیه** کې هم د جُمات په ټوپۍ کې مونځ کولو ته مکروه ویل شوی ، خو که چا اوکړو نو سره د کراهته مونځ جائز دی .(۱)

همدارنګې د محنت او مزدورۍ په جامو کې مونځ کول هم مکروه دي .

په **فتاوی عثمانیه** کې هم دا مسئله ذکر ده ..... په جُماتونو کې چې دا کومې د مَزدي یا مَسالې ټوپۍ وي په دې کې انسان یو مُعزز مجلس ته تلل نه خوښوي لهذا په دې ټوپو کې مونځ کول مکروه دي ، او داسې ټوپۍ په جُمات کې ایښودل مناسب ندي . دلیل یې دادی : وَكَذَا يُكْرَهُ الصَّلَاةُ فِيْ ثِيَابِ الْبِذْلَةِ .(۲)

په **فتاوی فریدیه** کې ذکر دي : د هر مسلمان د پاره دا ضروري ده چې د مانځه په حالت کې یې په سَر باندې ټوپۍ وي ، خو که دده سره ټوپۍ نه وي نو بیا دې ددې جُمات په ټوپۍ کې مونځ اوکړي ، ځکه اګر چې د جُمات په دې ټوپو کې مونځ کول مکروه دي لیکن بې باکه خلق به بیا په سَرتور سَر مونځ کول شروع کړي چې دا ددې نه هم بَدتره ده .(۳)

په کومه مُصَلّی (جَا نماز) باندې چې د خانه کعبې یا د رَوضې مُبارکې تصویر وي په هغې باندې د مونځ کولو حُکم

په کومه مُصَلّی (جَا نِماز) یا قالین باندې چې د سجدې په ځای کې د خانه کعبې یا د نبي علیه السلام د رَوضې مُبارکې تصویر وي په هغې باندې بغیر د کراهته مونځ کول جائز دی . وجه داده چې دا د غیر ذِي رُوح تصویران دي ، او د غیر ذِي رُوح په تصویرانو سره مونځ بِلا کراهته جائز دی .(۴)

---

(۱) فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۷۵ ، وص ۲۰۵ .

(۲) الفتاوی التاتارخانیة کتاب الصلاة الفصل الرابع في بيان ما يكره للمصلي الا يفعل في صلاته ۱ / ۴۱۰ . فتاوی عثمانیه ج۲ ص ۱۶۶ ، وص ۱۸۷ فصل في المكروهات .

(۳) فتاوی فریدیه ج۲ ۴۸۷ ، و ص ۴۸۳ باب مكروهات الصلاة

(۴) لما قال العلامة ابراهيم الحلبي رحمه الله : واما صورة غير ذي روح فلا خلاف في عدم كراهة الصلاة عليها او اليها . كبيري ص ۳۴۶ مكروهات الصلاة .

Scanned with CamScanner

دويم دا چې د تصوير حُکم د عينِ شي حُکم نه وي.

دريم دا چې کله په خانه کعبه کې دننه او د خانه کعبې د پاسه مونځ کول جائز دي نو د خانه کعبې د تصوير واله جَا نماز باندې خو به په طريقِ اولى جائز وي. (اګر چې د خانه کعبې د پاسه مونځ کول د بې اَدبي په وجه مکروهِ تنزيهي دی).(۱)

څلورم دا چې په دې تصويرانو د پاسه خو صرف سَر ايخودې شي او په دې سره خو دې نور هم تعظيم کيږي، البته که دا د خانه کعبې تصوير د خپو په ځاى کې وُ نو په بيا په داسې جَاى نماز او قالين باندې مونځ بې اَدبي او ناجائز دی.(۲)

په کوم قالين يا دَرَى باندې چې د صَليب نخه وي په هغې مونځ کول مکروه دی

په اِسلامي شريعت کې د غير مُسلمو سره د دوى په مذهبي شعائرو کې تَشبِيه مکروه ګرځول شوى ، فقهاء کرامو ددې مثالونه هم ذکر کړي ، صليب هم چونکه د عيسايانو مذهبي نَخه ده ، لهذا په کوم قالين يا دَرَى باندې چې د صليب نَخه وي نو په هغې مونځ کول د کافرانو سره د مشابهت په وجه مکروه دی. (۳)

---

(۱) وَلَوْ صَلَّى عَلَى جِدَارِ الْكَعْبَةِ فَإِنْ كَانَ وَجْهُهُ إلَى سَطْحِ الْكَعْبَةِ يَجُوزُ وَإِلَّا فَلَا. هَكَذَا فِي الْمُحِيطِ. الفتاوى الهندية ۱/ ٦۳ كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْبَابُ الثَّالِثُ فِي شُرُوطِ الصَّلَاةِ وَفِيهِ فُصُولٌ أَرْبَعَةٌ اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ فِي اسْتِقْبَالِ الْقِبْلَةِ.

لما قال العلامة عالم بن العلاء الانصاري رحمه الله: ولو صلى في جوف الكعبة او على سطحها جاز الى اي جهة. الفتاوى التاتارخانية ج۱ ص ٤۳٥ باب صلاة في الكعبة.

"صح فرض ونفل فيها" أي في داخلها إلى أي جزء منها توجه لقوله تعالى: ﴿أن طهرا بيتي﴾ الآية. لأن الأمر بالتطهير للصلاة فيه ظاهر في صحتها فيه "وكذا" صح فرض ونفل "فوقها وإن لم يتخذ" مصليها "سترة" لما ذكرنا "لكنه مكروه" له الصلاة فوقها "لإساءة الأدب باستعلائه عليها" وترك تعظيمها. حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ۱/ ٤۱۷ باب الصلاة في الكعبة

(۲) فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۲۱٦. فتاوى محمودية ج۷ ص ۱۱۱ كتاب الصلاة.

(۳) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ». سنن ابي داؤد كِتَاب اللِّبَاسِ بَابٌ فِي لُبْسِ الشُّهْرَةِ رقم الحديث ٤۰۳۱. قال الالباني: هذا حديث حسن صحيح.

قَالَ العلامة فخر الدين الزيلعي رَحِمَهُ اللهُ: (أَوْ شَمْعٍ أَوْ سِرَاجٍ) لِأَنَّهُمَا..................

د ټائي سره مونځ کول مکروه دی

ټائي (کومه چې دې بعضې خلقو د ځر د لکی په شان د مرۍ نه لاندې په سینه رازوړنده کړې وي دا) د صلیب نخه ده ، او دا د عیسایانو په دیني شعائرو کې داخله ده ، چې څوک ټائي اچوي په دې سره د عیسایانو د مذهبي نخې تائید کیږي او د کافرانو سره مشابهت راځي ، لهذا د کافرانو سره د مشابهت په وجه د ټائي سره مونځ کول مکروه دی .(۱)

په پېنټ شرټ (یعنی کوټ پتلون) کې د مونځ کولو حکم

پېنټ شرټ (یعنی کوټ پتلون) اګر چې په غیر مسلمو ملکونو کې ډیر استعمالیږي لیکن په بعضې اسلامي ملکونو کې هم ډیر خلق دا اچوي ، چونکه دا د غیر مسلمو مذهبي لباس ندی او نه د دوی شعار دی ، لهذا د دې اغوستل حرام ندي .

لیکن زمونږ په معاشره کې عام طور نیک او دینداره خلق دا نه آغوندي ، بل دا چې په دې کې د ستر او پردې لحاظ هم پوره نه کیږي لهذا د دې نه ځان ساتل بهتر دي ، لیکن د دې باوجود بیا هم په دې کې مونځ صحیح دی .

.... لَا يُعْبَدَانِ وَالْكَرَاهَةُ بِاعْتِبَارِهَا ، وَإِنَّمَا تَعْبُدُهَا الْمَجُوسُ إِذَا كَانَتْ فِي الْكَانُونِ وَفِيهَا الْجَمْرُ أَوْ فِي التَّنُّورِ فَلَا يُكْرَهُ التَّوَجُّهُ إِلَيْهَا عَلَى غَيْرِ ذَٰلِكَ الْوَجْهِ . تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ۱ / ۱۶۷ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّلَاةَ وَمَا يُكْرَهُ فِيهَا ، ومثله في البحر الرائق ج۲ ص ۳۲ باب مكروهات الصلاة ، فتاوی حقانیه ج۳ ص ۲۱۴ .

(۱) لقوله علیه السلام : مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ . رواه احمد و ابوداؤد . سنن ابي داؤد كِتَاب اللِّبَاسِ بَابٌ فِي لُبْسِ الشُّهْرَةِ رقم الحديث ۴۰۳۱ ، مشكوة المصابيح رقم الحديث ۴۳۴۷ . قال الالباني: هذا حديث حسن صحيح

قال العلامة ملا علي قاري رحمه الله : (مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ) : أَيْ مَنْ شَبَّهَ نَفْسَهُ بِالْكُفَّارِ مَثَلًا فِي اللِّبَاسِ وَغَيْرِهِ ، أَوْ بِالْفُسَّاقِ أَوِ الْفُجَّارِ أَوْ بِأَهْلِ التَّصَوُّفِ وَالصُّلَحَاءِ الْأَبْرَارِ . (فَهُوَ مِنْهُمْ) : أَيْ فِي الْإِثْمِ وَالْخَيْرِ . قَالَ الطِّيبِيُّ : هَٰذَا عَامٌّ فِي الْخَلْقِ وَالْخُلُقِ وَالشِّعَارِ ، وَلَمَّا كَانَ الشِّعَارُ أَظْهَرَ فِي التَّشَبُّهِ ذُكِرَ فِي هَٰذَا الْبَابِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح كِتَابُ اللِّبَاسِ الْفَصْلُ الْأَوَّلُ ۷ / ۲۷۸۲ في تشريح رقم الحديث ۴۳۴۷ ، فتاوی حقانیه ج۳ ص ۲۰۷ .

(وَلَا يَضُرُّ اِلْتِصَاقُهُ) أَيْ بِالْأَلْيَةِ مَثَلًا ... أَمَّا لَوْ كَانَ غَلِيظًا لَا يُرٰى مِنْهُ لَوْنُ الْبَشَرَةِ إِلَّا أَنَّهُ اِلْتَصَقَ بِالْعُضْوِ وَتَشَكَّلَ بِشَكْلِهِ فَصَارَ شَكْلُ الْعُضْوِ مَرْئِيًّا فَيَنْبَغِي أَنْ لَا يَمْنَعَ جَوَازَ الصَّلَاةِ لِحُصُولِ السَّتْرِ .(۱)

د لباس د ګناتېو سره پيوست كيدل نقصاني ندي ... پس كه دا لباس مضبوط وي ، دديته دننه د څرمني رنګ نه ښكاره كيدو خو د آندام سره داسې پيوست شوي وي چې د هغه اندام صورت يې اختيار كړي وي تر دې پورې چې (په دې تنګ لباس كې) د هغه اندام شكل ښكاره كيدو نو بيا هم مناسب داده چې په دې كې دې مونځ جائز شي ، ځكه (اګر چې ددې تنګ لباس د وجې د اندام شكل ښكاري ليكن دده) عورت خو پټ دى . (دا په كپړو كې خو يې صرف د هغه شكل معلوميږي) .(۲)

د امام نه مخكې سلام ګرځول مكروه دى

كه مقتدي د امام نه مخكې السلام عليكم ورحمة الله ووايي ، يا د امام د مخ ګرځولو نه مخكې دې مخ اوګرځوي نو په دې سره اګر چې دده مونځ كيږي خو دا مكروه دى .(۳)

په اووه (۷) ځايونو كې مونځ مكروه دى

۱ . د ګندګۍ په ځاى (يعنى ډيران) كې . ۲ . په قصاب خانه كې . ۳ . په مقبره كې
۴ . د لارې په مينځ كې . ۵ . په غسل خانه كې . ۶ . د اُوښانو تړلو په ځاى كې .
۷ . د بيتُ الله شريف د پاسه . (۴)

---

(۱) رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۴۱۰ مَطْلَبٌ فِي سَتْرِ الْعَوْرَةِ .

(۲) فتاوى هنديه ج۲ ص۱۶۹ فصل في المكروهات .

(۳) وَإِنَّمَا كُرِهَ لِلْمُؤْتَمِّ ذٰلِكَ لِتَرْكِهِ مُتَابَعَةَ الْإِمَامِ بِلَا عُذْرٍ . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۲۵ فَصْلٌ فِي بَيَانِ تَأْلِيفِ الصَّلَاةِ إِلَى انْتِهَائِهَا . فتاوى دار العلوم ديوبند ج۲ ص ۱۲۱ كتاب الصلوة .

(۴) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى أَنْ يُصَلّٰى فِي سَبْعَةِ مَوَاطِنَ: فِي الْمَزْبَلَةِ، وَالْمَجْزَرَةِ، وَالْمَقْبَرَةِ، وَقَارِعَةِ الطَّرِيقِ، وَفِي الْحَمَّامِ، وَفِي مَعَاطِنِ الْإِبِلِ، وَفَوْقَ ظَهْرِ بَيْتِ اللهِ. سنن الترمذي أَبْوَابُ الصَّلَاةِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ مَا يُصَلّٰى إِلَيْهِ وَفِيهِ رقم الحديث ۳۴۶ .

وجه : په مذکوره ځايونو کې د مونځ کولو نه ځکه ممانعت راغلی چې په دې کې بعضې ځايونه د ګندګۍ نه محفوظ ندي ، په بعضې ځايونو کې د بُتانو سره مُشابهت راځي ، په بعضې ځايونو کې د يهودو سره مشابهت راځي ، بعضې ځايونه د خطرې دي ، او بعضې ډير مُقدّس دي .

په در مختار کې ددې نه علاوه نور ځايونه هم ذکر دي چې هلته مونځ کول مکروه دی .(۱)

په مقبره کې د مونځ کولو حکم

په **فتاوی دارالعلوم ديوبند** کې ذکر دي : که په مقبره کې د مونځ کولو د پاره صفا ځای وي ، څه نجاست په کې نه وي ، او قبلې طرف ته څه قبر هم نه وي نو بغير د کراهته په دې کې مونځ جائز دی .

او که مخې ته قبرونه ، يا په همدې ځای کې قبرونه چيرته چې په مانځه ولاړوي نو بيا مونځ مکروهِ تحريمي دی . په شامي کې ذکر دي :

وَلَا بَأْسَ بِالصَّلَاةِ فِيهَا إِذَا كَانَ فِيهَا مَوْضِعٌ أُعِدَّ لِلصَّلَاةِ وَلَيْسَ فِيهِ قَبْرٌ وَلَا نَجَاسَةٌ كَمَا فِي الْخَانِيَّةِ وَلَا قِبْلَتُهُ إِلَى قَبْرٍ . حلية .(۲)

د لَا بَأْسَ نه دومره ضرور معلوميږي چې په مقبره کې مونځ کول بهتر نه دی .(۳)

په **فتاوی عثمانيه** کې ذکر دي : د احاديثو مبارکو او د فقهاوو د عباراتو نه صراحتًا

---

(۱) په در مختار کې ذکر دي ...... فَهٰذِهِ نَيِّفٌ وَثَلَاثُونَ وَقْتًا . وَكَذَا تُكْرَهُ فِي أَمَاكِنَ كَفَوْقِ كَعْبَةٍ وَفِي طَرِيقٍ وَمَزْبَلَةٍ ، وَمَجْزَرَةٍ ، وَمَقْبَرَةٍ ، وَمُغْتَسَلٍ ، وَحَمَّامٍ ، وَبَطْنِ وَادٍ ، وَمَعَاطِنِ إِبِلٍ وَغَنَمٍ وَبَقَرٍ . زَادَ فِي الْكَافِي : وَمَرَابِطِ دَوَابَّ وَإِصْطَبْلٍ وَطَاحُونٍ وَكَنِيفٍ وَسُطُوحِهَا وَمَسِيلِ وَادٍ وَأَرْضٍ مَغْصُوبَةٍ أَوْ لِلْغَيْرِ لَوْ مَزْرُوعَةً أَوْ مَكْرُوبَةً وَصَحْرَاءَ فَلَا سُتْرَةَ لِمَارٍّ . الدر المختار كتاب الصلاة ۱ / ۳۷۹ .

(۲) رد المحتار على الدر المختار كتاب الصلاة ۱ / ۳۷۹ .

(۳) فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۳ ص ۱۲۱ كتاب الصلوة .

معلوميږي چې په مقبره کې مونځ مکروه دی ، علت يې دادی چې داسې ځايونه اکثر د ګندګۍ نه محفوظ نه وي ، بل دا چې په دې کې د يهوديانو سره مشابهت راځي چې هغوی به د انبياء کرامو قبرونو ته سجدې کولې ، نو ځکه په مقبره کې مونځ مکروه دی .

البته که په قبرستان کې ځانله ځمات جوړ شوی وي ، يا داسې پاک ځای وي چې هلته مخامخ يا نژدې قبرونه نه وي ، يا ددې مونځ ګزار او قبرونو په مينځ کې دومره فاصله وي چې شرعي طور باندې ددې مونځ ګزار مخې ته تېريدل جائز وي نو په دې ټولو صورتونو کې په مقبره کې بغير د کراهت نه مونځ جائز دی . (۱)

په **فتاوی فريديه** کې ذکر دي : په مقبره کې چې کله مخې ته يا ښي يا چپ طرف ته قبرونه وي نو بيا دلته مونځ مکروه دی ، خو چې کله قبرونه لرې وي نو بيا څه پرواه نه کوي ، او د لرې والي مقدار فقهاء کرامو په مسافت اوګزونو سره ندې متعين کړی ، البته د نظائرو نه معلوميږي چې کم از کم قبرونه دومره لرې وي چې کله انسان د سجدې ځای ته ګوري نو په قبرونو يې نظر نه لږي ، نو بيا دلته مونځ مکروه نه دی . (۲)

---

(۱) ويكره الصلوة في سبعة مواطن .... ومنها الصلوة في المقبرة لانه تشبه باليهود ، فإن كان فيها موضع أعد للصلوة ليس فيه قبر ولانجاسة لابأس ... وإن كان بينه و بين القبر مقدار لوكان في الصلوة و يمر الإنسان لايكره فههنا أيضاً لايكره . الفتاوى التاتارخانية كتاب الصلوة الفصل الرابع في بيان مايكره للمصلي ... ۱ / ۴۱۵ ، فتاوی عثمانیه ج۲ ص ۱۷۴ فصل فی المکروهات .

(۲) وتكره الصلاة في المقبرة إلا أن يكون فيها موضع أعد للصلاة لا نجاسة فيه ولا قذر فيه . قال الحلبي لأن الكراهة معلّلة بالتشبه وهو منتف حينئذ . وفي القهستاني عن جنائز المضمرات لاتكره الصلاة إلى جهة القبر إلا إذا كان بين يديه بحيث لو صلى صلاة الخاشعين وقع بصره عليه . حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ۱ / ۳۵۶ فصل في المكروهات ، فتاوی فريديه ج۲ ص ۴۸۸ باب مكروهات الصلاة .

وفي الهندية : وَفِي الْحَاوِي : وَإِنْ كَانَتِ الْقُبُورُ مَا وَرَاءَ الْمُصَلِّي لَا يُكْرَهُ ، فَإِنَّهُ إِنْ كَانَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقَبْرِ مِقْدَارُ مَا لَوْ كَانَ فِي الصَّلَاةِ وَيَمُرُّ إِنْسَانٌ لَا يُكْرَهُ فَهَهُنَا أَيْضًا لَا يُكْرَهُ . كَذَا فِي التَّتَارْخَانِيَّةِ . الفتاوى الهندية ۱ / ۱۰۷ كتاب الصلاة الباب السابع فيما يفسد الصلاة وما يكره فيها وفيه فصلان الفصل الثاني فيما يكره في الصلاة وما لا يكره . فتاوی فريديه ج۲ ص ۲۲۶ باب صفة الصلاة .

Scanned with CamScanner

په کوم جُمات کښې چې قبر وي په هغې کښې د مونځ کولو حکم

په **فتاوی حقانيه** کښې ذکر دي : قبر ته مخامخ مونځ کول مکروه دی ، البته که د قبر مخې ته څه ديوال وغيره وي نو بيا صحيح دی ، خو د قبر پرستی د تهمت نه د بچ کيدلو د پاره بيا هم ديته مخامخ مونځ ندې پکار . (۱)

په **فتاوی عثمانيه** کښې ذکر دي : په کوم جُمات کښې چې د مونځ گزار مخې ته قبر وي نو ديته مونځ کول مکروه دی ځکه په دې کښې د غیرُ الله د عبادت شُبهه راځي ، البته که قبر د

---

(۱) قَالَ العلامة الحصكفي رحمه الله : وَكَذَا تُكْرَهُ فِي أَمَاكِنَ كَفَوْقِ كَعْبَةٍ ... وَمَقْبَرَةٍ .... قال ابن عابدين : وَاخْتُلِفَ فِي عِلَّتِهِ . فَقِيلَ : لِأَنَّ فِيهَا عِظَامَ الْمَوْتَى وَصَدِيدَهُمْ وَهُوَ نَجِسٌ ، وَفِيهِ نَظَرٌ . وَقِيلَ : لِأَنَّ أَصْلَ عِبَادَةِ الْأَصْنَامِ اِتِّخَاذُ قُبُورِ الصَّالِحِينَ مَسَاجِدَ . وَقِيلَ : لِأَنَّهُ تَشَبُّهٌ بِالْيَهُودِ . وَعَلَيْهِ مَشَى فِي الْخَانِيَّةِ . وَلَا بَأْسَ بِالصَّلَاةِ فِيهَا إذَا كَانَ فِيهَا مَوْضِعٌ أُعِدَّ لِلصَّلَاةِ وَلَيْسَ فِيهِ قَبْرٌ وَلَا نَجَاسَةٌ كَمَا فِي الْخَانِيَّةِ وَلَا قِبْلَتُهُ إلَى قَبْرٍ . حِلْيَةٌ . رد المحتار على الدر المختار كِتَابُ الصَّلَاةِ ۱/ ۳۷۹ .

قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالي رحمه الله : "و" تكره الصلاة " في المقبرة " .... قال الطحاوي : قوله : "وفي المقبرة" لأنه تشبه باليهود والنصارى . قال صلى الله عليه وسلم : " لعنة الله على اليهود والنصارى اتخذوا قبور أنبيائهم مساجد" وسواء كانت فوقه أو خلفه أو تحت ما هو واقف عليه . ويستثنى مقابر الأنبياء عليهم الصلاة والسلام فلا تكره الصلاة فيها مطلقا منبوشة أو لا بعد أن لا يكون القبر في جهة القبلة لأنهم أحياء في قبورهم ألا ترى أن مرقد اسمعيل عليه السلام في الحجر تحت الميزاب ، وأن بين الحجر الأسود و زمزم قبر سبعين نبيا . ثم ان ذلك المسجد أفضل مكان يتحرى للصلاة . بخلاف مقابر غيرهم أفاده في شرح المشكاة .

وفي زاد الفقير : وتكره الصلاة في المقبرة إلا أن يكون فيها موضع أعد للصلاة لا نجاسة فيه ولا قذر فيه . قال الحلبي : لأن الكراهة معللة بالتشبه وهو منتف حينئذ . وفي القهستاني عن جنائز المضمرات لا تكره الصلاة إلى جهة القبر إلا إذا كان بين يديه بحيث لو صلى صلاة الخاشعين وقع بصره عليه . حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ۱/ ۳۵۶ فصل في المكروهات. فتاوی حقانيه ج۳ ص۲۰۳

مونځ ګزار مخې ته نه وي بلکه بل جانب طرف ته وي نو بيا په دې کې بغير د کراهت نه مونځ جائز دی . .

وَفِي الْحَاوِي : وَإِنْ كَانَتِ الْقُبُوْرُ مَا وَرَاءَ الْمُصَلِّيْ لَا يُكْرَهُ . (۱)

که قبرونه د مونځ ګزار شاته وي نو بيا مونځ کول مکروه نه دی .

په هر رکعت کې يو مُعَيّن سورت ويل

که يو کس ته نور سورتونه ياد وي نو بيا د فرضو په هر رکعت کې يو سورة ويل مکروه دی ، خو که نور ورته ياد نه وو نو بيا د همدې يو سورة په ويلو کې څه کراهت نشته . (۲)

همدارنګې که ده ته نور سورتونه ياد وو خو په هېره سره يې په دويم رکعت کې هماغه مخکيني سورت وويل نو بيا هم مکروه نه دی . (۳)

په نوافلو کې په هر رکعت کې يو سورت ويل مطلقا مکروه نه دی (يعنی که ده ته نور سورتونه ياد وي او که نه) . (۴)

---

(۱) الفتاوى الهندية ۱ / ۱۰۷ كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْبَابُ السَّابِعُ فِيمَا يُفْسِدُ الصَّلَاةَ وَمَا يُكْرَهُ فِيهَا وَفِيهِ فَصْلَانِ اَلْفَصْلُ الثَّانِي فِيمَا يُكْرَهُ فِي الصَّلَاةِ وَمَا لَا يُكْرَهُ ، الفتاوى التاتارخانية كتاب الصلوة الفصل الرابع في بيان مايكره للمصلي ... ۱ / ۴۱۵ ، فتاوى عثمانيه ج۲ ص۱۸۶ فصل فى المكروهات . فتاوى فريديه ج ۲ ص ۲۲۶ باب صفة الصلاة .

(۲) وكذا (يكره) تكرارها في الركعتين إن حفظ غيرها وتعمده لعدم وروده . فإن لم يحفظه وجب قراءتها لوجوب ضم السورة للفاتحة . مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۱ / ۱۲۹ فصل في المكروهات

(۳) وإذا قرأ في الأولى ﴿ قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ... ﴾ لا عن قصد يكررها في الثانية ولا كراهة فيه حذرا عن كراهة القراءة منكوسة . مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۱ / ۱۲۹ فصل في المكروهات ، شامي ج ۲ ص ۲۶۸ فصل في القراءة مطلب الاستماع للقرآن ، عالمگيري ج۱ ص ۷۸ الفصل الرابع في القراءة .

(۴) "و" يكره "تكرار السورة في ركعة واحدة من الفرض" .... وقيد بالفرض لأنه لا يكره التكرار في النفل لأن شأنه أوسع . لأنه صلى الله عليه وسلم قام إلى الصباح بآية واحدة يكررها في تهجده . وجماعة من السلف كانوا يحيون ليلتهم بآية العذاب أو الرحمة أو الرجاء أو الخوف . مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۱ / ۱۲۹ فصل في المكروهات ، عالمگيري ص ۷۸ الفصل الرابع في القراءة ط. كوئته ، فتاوى محموديه ج۱۰ ص ۴۹۷ ، وص ۴۹۹ سورت اور آيت كا تكرار وترتيب .

که په هېره سره يې په اول رکعت کې سورۃ الناس وويل نو په دې نورو کې به هم همدا سورت وايي

که يو کس په هېره سره د فرض په اول رکعت کې سورة النّاس (قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ...) وويل نو په دې راتلونکي رکعت کې به هم همدا سورت وايي.

همدغه رنګې که د سُنتو په اول رکعت کې يې په هېره سره سورة النّاس وويل نو په دې باقي درې واړه رکعتونو کې به هم همدا سورة وايي. (۱)

په يو رکعت کې يو سورت يا يو آيت بار بار ويل

د فرضو په يو رکعت کې قصدًا يو سورة يا يو آيت بار بار ويل مکروه دی، اګر چې مونځ ورسره کيږي. البته دا په نفلو کې بغير د کراهته جائز دی. (۲)

---

(۱) لَا بَأْسَ أَنْ يَقْرَأَ سُورَةً وَيُعِيدَهَا فِي الثَّانِيَةِ. الدرالمختار. (قَوْلُهُ: لَا بَأْسَ أَنْ يَقْرَأَ سُورَةً) أَفَادَ أَنَّهُ يُكْرَهُ تَنْزِيهًا. وَعَلَيْهِ يُحْمَلُ جَزْمُ الْقُنْيَةِ بِالْكَرَاهَةِ، وَيُحْمَلُ فِعْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لِذَلِكَ عَلَى بَيَانِ الْجَوَازِ. هَذَا إذَا لَمْ يُضْطَرَّ. فَإِنِ اضْطُرَّ بِأَنْ قَرَأَ فِي الْأُولَى ﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ﴾ أَعَادَهَا فِي الثَّانِيَةِ إنْ لَمْ يَخْتِمْ. نَهْرٌ. لِأَنَّ التَّكْرَارَ أَهْوَنُ مِنَ الْقِرَاءَةِ مَنْكُوسًا. بَزَّازِيَّةٌ. رد المحتار على الدر المختار ١ / ٥٤٦ فَصْلٌ فِي الْقِرَاءَةِ فُرُوعٌ يَجِبُ الِاسْتِمَاعُ لِلْقِرَاءَةِ مُطْلَقًا. النهر الفائق ج١ ص ٢٣٧ باب صفة الصلوة، بزازيه على الهندية ج٣ ص ٣٠. فتاوى محموديه ج١٠ ص ٤٩٩ سورت اور آيت کا تکرار و ترتيب.

وإذا قرأ في الأولى ﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ﴾ لا عن قصد يكررها في الثانية ولا كراهة فيه حذرا عن كراهة القراءة منكوسة. مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ١ / ١٢٩ فصل في المكروهات، عالمگيري ج١ ص ٧٨ الفصل الرابع في القراءة.

(۲) "و" يكره "تكرار السورة في ركعة واحدة من الفرض" .... وقيد بالفرض لأنه لا يكره التكرار في النفل لأن شأنه أوسع. لأنه صلى الله عليه وسلم قام إلى الصباح بآية واحدة يكررها في تهجده، وجماعة من السلف كانوا يحيون ليلتهم بآية العذاب أو الرحمة أو الرجاء أو الخوف. مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ١ / ١٢٩ فصل في المكروهات، عالمگيري ص ٧٨ الفصل الرابع في القراءة ط. كوئته، فتاوى محموديه ج١٠ ص ٤٩٧، وص ٤٩٩ سورت اور آيت کا تکرار و ترتيب.

په مانځه کې د خلاف ترتیب سورتونو ویلو حکم

که یو کس په مانځه کې خلافِ ترتیب سورتونه وویل ، مثلا په اول رکعت کې یې سورة الفیل (أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ ...) وویل ، او په دویم رکعت کې یې سورة الهمزة (وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ ...) وویل ، یا مثلا په اول رکعت کې یې سورة الفلق وویل او په دویم رکعت کې یې سورة الاخلاص وویل ، نو ددې حکم دادی چې :

په تلاوت کې ترتیب واجب دی ، مګر دا د مانځه د واجباتو نه ندی چې ګڼي ددې په پریخودو سجده سهوه لازم شي ، بلکه دا د تلاوت واجب دی ، ددې په پریخودو سجده سهوه نه لازمیږي . لهذا قصداً خلافِ ترتیب سورتونه ویل ګناه ده ، خو که چا قصدا یا سهوا وویل نو په دې سجده سهوه نشته . (۱)

د دوه سورتونو په مینځ کې وړوکې سورة قصدًا پریخودل مکروهِ تنزیهي دی

په فرض مانځه کې د دوه سورتونو په مینځ کې وړوکې سورت قصدا پریخودل

---

(۱) وَيُكْرَهُ .... أَنْ يَقْرَأَ مَنْكُوسًا . الدرالمختار (قَوْلُهُ : وَأَنْ يَقْرَأَ مَنْكُوسًا) بِأَنْ يَقْرَأَ الثَّانِيَةَ سُورَةً أَعْلَى مِمَّا قَرَأَ فِي الْأُولَى لِأَنَّ تَرْتِيبَ السُّوَرِ فِي الْقِرَاءَةِ مِنْ وَاجِبَاتِ التِّلَاوَةِ ؛ وَإِنَّمَا جُوِّزَ لِلصِّغَارِ تَسْهِيلًا لِضَرُورَةِ التَّعْلِيمِ . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۴۷ وَاجِبَاتُ الصَّلَاةِ .

قَالُوا : يَجِبُ التَّرْتِيبُ فِي سُوَرِ الْقُرْآنِ . فَلَوْ قَرَأَ مَنْكُوسًا أَثِمَ لَكِنْ لَا يَلْزَمُهُ سُجُودُ السَّهْوِ لِأَنَّ ذَلِكَ مِنْ وَاجِبَاتِ الْقِرَاءَةِ لَا مِنْ وَاجِبَاتِ الصَّلَاةِ كَمَا ذَكَرَهُ فِي الْبَحْرِ فِي بَابِ السَّهْوِ . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۴۵۷ وَاجِبَاتُ الصَّلَاةِ ، طحطاوي على المراقي ص ۳۷۴ باب سجود السهو .

وَفِي التَّجْنِيسِ لَوْ قَرَأَ سُورَةً ثُمَّ قَرَأَ فِي الثَّانِيَةِ سُورَةً قَبْلَهَا سَاهِيًا لَا يَجِبُ عَلَيْهِ السُّجُودُ لِأَنَّ مُرَاعَاةَ تَرْتِيبِ السُّوَرِ مِنْ وَاجِبَاتِ نَظْمِ الْقُرْآنِ لَا مِنْ وَاجِبَاتِ الصَّلَاةِ فَتَرْكُهَا لَا يُوجِبُ سُجُودَ السَّهْوِ . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۲ / ۱۰۲ بَابُ سُجُودِ السَّهْوِ .

وَإِذَا قَرَأَ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَى سُورَةً وَقَرَأَ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ سُورَةً قَبْلَهَا فَلَا سَهْوَ عَلَيْهِ . كَذَا فِي الْمُحِيطِ . الفتاوى الهندية ۱ / ۱۲۶ اَلْبَابُ الثَّانِي عَشَرَ فِي سُجُودِ السَّهْوِ ، المحيط البرهاني ج۲ ص ۳۱۰ نوع آخر في بيان ما يجب به سجود السهو ، فتاوى تاتارخانية ج۱ ص۷۱۷ ، فتاوى محموديه ج۱۰ ص ۵۰۶ ، وص ۵۰۷ سورت اور آیت کا تکرار وترتیب .

Scanned with CamScanner

مکروهِ تنزيهي دی .

مثلا يو کس د مابنام په مانځه کې په اول رکعت کې قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ ...وويل ، او په دويم رکعت کې يې تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ ... وويل ، او د دې دوه سورتونو په مينځ کې يې إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ ... پريخود نو قصدا په فرض مانځه کې داسې کول مکروهِ تنزيهي دی ، ځکه په دې کې د يو سورة په بل باندې د فضيلت شُبهه او د بل سورت نه اِعراض راځي (حالانکه د قرآن کريم د ټولو سورتونو مرتبه يو شان ده يو ته په بل باندې فوقيت ندې حاصل ، البته د بعضو سورتونو ثواب زيات دی خو مرتبه د ټولو سورتونو يو شان ده) .

خو که دوه يا زيات واړه سورتونه په مينځ کې پريږدي ، يا يو غټ سورت په مينځ کې پريږدي نو بيا هيڅ کراهت نه لازميږي .

همدارنګې که په هېره سره يو وړوکې سورت په مينځ کې پريږدي نو بيا هم څه کراهت نه لازميږي . (۱)

د پګړې په وَل باندې د سجدې کولو حُکم

بَغير عُذره د پګړې په وَل باندې سجده کول مکروهِ تنزيهي ده ، خو دا مکروه تنزيهي هغه وخت ده چې د پګړې وَل د تندي د پاسه وي او دا په دې وَل باندې سجده اوکړي .

خو که د پګړې دا وَل د تَندي نه پورته په سَر باندې وُ او ده په دې وَل باندې سجده اوکړه ، تَندې د زمکې نه پورته پاتې شو نو په دې سره سجده نه کيږي ځکه تندې او پوزه په

(۱) "و" يكره " فصله بسورة بين سورتين قرأهما في ركعتين" لما فيه من شبهة التفضيل والهجر وقال بعضهم لا يكره إذا كانت السورة طويلة كما لو كان بينهما سورتان قصيرتان . مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۱ / ۱۲۹ فصل في المكروهات . فتاوى تاتارخانية ج۲ ص ۴۵۲ نوع آخر في الافضل بان يقرأ كل ركعة بفاتحة .. وَيُكْرَهُ الْفَصْلُ بِسُورَةٍ قَصِيرَةٍ . الدرالمختار . (قَوْلُهُ : وَيُكْرَهُ الْفَصْلُ بِسُورَةٍ قَصِيرَةٍ) أَمَّا بِسُورَةٍ طَوِيلَةٍ بِحَيْثُ يَلْزَمُ مِنْهُ إطَالَةُ الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ إطَالَةً كَثِيرَةً فَلَا يُكْرَهُ شَرْحُ الْمُنْيَةِ . كَمَا إذَا كَانَتْ سُورَتَانِ قَصِيرَتَانِ . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۴۶ فَصْلٌ فِي الْقِرَاءَةِ . فتاوى محموديه ج ۱۰ ص ۴۹۵ ، و ص ۵۰۲ سورت اور آيت کا تکرار و ترتيب .

زمکه او نه لږول شو نو دا مونځ نه کيږي. (۱)

په داسې نرۍ جامو کې مونځ نه کيږي چې په هغې کې د ښځې يا سړي عورت ښکاري

په مانځه کې د عورت پټول فرض دي ، لهذا کومې جامې چې داسې نرۍ وي چې په

---

(۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « أُمِرْتُ أَنْ أَسْجُدَ عَلَى سَبْعٍ ، وَلَا أَكُفَّ الشَّعْرَ وَلَا الثِّيَابَ ، الْجَبْهَةِ، وَالْأَنْفِ، وَالْيَدَيْنِ، وَالرُّكْبَتَيْنِ، وَالْقَدَمَيْنِ » . صحيح مسلم كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ أَعْضَاءِ السُّجُودِ، وَالنَّهْيِ عَنْ كَفِّ الشَّعْرِ وَالثَّوْبِ وَعَقْصِ الرَّأْسِ فِي الصَّلَاةِ رقم الحديث ۲۳۱ (۴۹۰)

... (كَمَا يُكْرَهُ تَنْزِيهًا بِكَوْرِ عِمَامَتِهِ) إِلَّا بِعُذْرٍ (وَإِنْ صَحَّ) عِنْدَنَا (بِشَرْطِ كَوْنِهِ عَلَى جَبْهَتِهِ) كُلِّهَا أَوْ بَعْضِهَا كَمَا مَرَّ . (أَمَّا إِذَا كَانَ) الْكَوْرُ (عَلَى رَأْسِهِ فَقَطْ وَسَجَدَ عَلَيْهِ مُقْتَصِرًا) أَيْ وَلَمْ تُصِبِ الْأَرْضَ جَبْهَتُهُ وَلَا أَنْفُهُ عَلَى الْقَوْلِ بِهِ (لَا) يَصِحُّ لِعَدَمِ السُّجُودِ عَلَى مَحَلِّهِ . الدر المختار

.... أَنَّ صِحَّةَ السُّجُودِ عَلَى الْكَوْرِ إِذَا كَانَ عَلَى الْجَبْهَةِ أَوْ بَعْضِهَا ، أَمَّا إِذَا كَانَ عَلَى الرَّأْسِ فَقَطْ وَسَجَدَ عَلَيْهِ وَلَمْ تُصِبْ جَبْهَتُهُ الْأَرْضَ عَلَى الْقَوْلِ بِتَعْيِينِهَا وَلَا أَنْفُهُ عَلَى مُقَابِلِهِ لَا تَصِحُّ . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۰۰ فَصْلٌ فِي بَيَانِ تَأْلِيفِ الصَّلَاةِ إِلَى انتهائها .

قَالَ العلامة ابو البركات النسفي رحمه الله : وَكُرِهَ بِأَحَدِهِمَا أَوْ بِكَوْرِ عِمَامَتِهِ ... قال ابن نجيم رحمه الله : ... أَنَّ صِحَّةَ السُّجُودِ عَلَى الْكَوْرِ إِذَا كَانَ الْكَوْرُ عَلَى الْجَبْهَةِ أَوْ بَعْضِهَا. أَمَّا إِذَا كَانَ عَلَى الرَّأْسِ فَقَطْ وَسَجَدَ عَلَيْهِ وَلَمْ تُصِبْ جَبْهَتُهُ الْأَرْضَ عَلَى الْقَوْلِ بِتَعْيِينِهَا وَلَا أَنْفُهُ عَلَى الْقَوْلِ بِعَدَمِ تَعْيِينِهَا فَإِنَّ الصَّلَاةَ لَا تَصِحُّ لِعَدَمِ السُّجُودِ عَلَى مَحَلِّهِ وَكَثِيرٌ مِنَ الْعَوَامِّ يَتَسَاهَلُ فِي ذَلِكَ وَيَظُنُّ الْجَوَازَ ، وَظَاهِرُ أَنَّ الْكَرَاهَةَ تَنْزِيهِيَّةٌ لِنَقْلِ فِعْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابِهِ السُّجُودَ عَلَى الْعِمَامَةِ تَعْلِيمًا لِلْجَوَازِ فَلَمْ تَكُنْ تَحْرِيمِيَّةً ، وَقَدْ أَخْرَجَ أَبُو دَاوُد عَنْ صَالِحِ بْنِ حَيْوَانَ أَنَّ « رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلًا يَسْجُدُ، وَقَدْ اعْتَمَّ عَلَى جَبْهَتِهِ فَحَسَرَ عَنْ جَبْهَتِهِ » إِرْشَادًا لِمَا هُوَ الْأَفْضَلُ وَالْأَكْمَلُ ، وَلَا يَخْفَى أَنَّ مَحَلَّ الْكَرَاهَةِ عِنْدَ عَدَمِ الْعُذْرِ أَمَّا مَعَهُ فَلَا . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۱ / ۳۳۷ بَابُ صِفَةِ الصَّلَاةِ آدَابُ الصَّلَاةِ ، ومثله في الطحطاوي حاشيه مراقي الفلاح ص ۱۱۴ فصل شروط الصلاة و اركانها .

وَيُكْرَهُ أَنْ يَسْجُدَ عَلَى كَوْرِ عِمَامَتِهِ كَذَا فِي الذَّخِيرَةِ . إِنَّمَا يُكْرَهُ إِذَا لَمْ يَمْنَعْ وِجْدَانَ حَجْمِ الْأَرْضِ فَإِنَّهُ لَوْ مَنَعَ ذَلِكَ لَمْ يَجُزْ أَصْلًا. كَذَا فِي الْبُرْجَنْدِيِّ . الفتاوى الهندية ۱/ ۱۰۸ . هكذا في فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۸۲ .

هغې کې د ښځې يا سرې عورت ښکاري نو په دې کې مونځ نه کيږي ، او که په کې وې کړي نو داسې مونځ دوباره کول واجب دي. (۱)

همدارنګې که ښځه په داسې نرۍ لوپټه (زړوکي) کې مونځ اوکړي چې په هغې کې ددې ويښتان د بهر نه ښکاري نو دا مونځ نه صحيح کيږي ، دوباره به يې راګرځوي ، ځکه د ښځې ويښتان په عورت کې داخل دي. (۲)

که د ښځې د سَر ويښتان څلورمه حصه ښکاره وي نو مونځ نه کيږي

په مانځه کې د عورت پټول د سرې او ښځې دواړو د پاره فرض دي. د ښځې د لاس ، مخ او قدمونو نه علاوه نور ټول وجود عورت دي ، د ښځې د سَر د پاسه ويښتان هم بغير د څه اختلاف نه په عورت کې داخل دي. (۳)

---

(۱) قَالَ العلامة الحصكفي رحمه الله ... (وَلِلْحُرَّةِ) وَلَوْ خُنْثَى (جَمِيعُ بَدَنِهَا) حَتَّى شَعْرُهَا النَّازِلُ فِي الْأَصَحِّ (خَلَا الْوَجْهِ وَالْكَفَّيْنِ) فَظَهْرُ الْكَفِّ عَوْرَةٌ عَلَى الْمَذْهَبِ (وَالْقَدَمَيْنِ) عَلَى الْمُعْتَمَدِ. الدر المختار بَابُ شُرُوطِ الصَّلَاةِ مَطْلَبٌ فِي سَتْرِ الْعَوْرَةِ ۱/ ۴۰۵.

وفي الهندية : اَلْعَوْرَةُ لِلرَّجُلِ مِنْ تَحْتِ السُّرَّةِ حَتَّى تُجَاوِزَ رُكْبَتَيْهِ فَسُرَّتُهُ لَيْسَتْ بِعَوْرَةٍ عِنْدَ عُلَمَائِنَا الثَّلَاثَةِ وَرُكْبَتُهُ عَوْرَةٌ عِنْدَ عُلَمَائِنَا جَمِيعًا هٰكَذَا فِي الْمُحِيطِ . بَدَنُ الْحُرَّةِ عَوْرَةٌ إلَّا وَجْهَهَا وَكَفَّيْهَا وَقَدَمَيْهَا كَذَا فِي الْمُتُونِ . وَشَعْرُ الْمَرْأَةِ مَا عَلَى رَأْسِهَا عَوْرَةٌ ، وَأَمَّا الْمُسْتَرْسِلُ فَفِيهِ رِوَايَتَانِ الْأَصَحُّ أَنَّهُ عَوْرَةٌ. كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ وَهُوَ الصَّحِيحُ وَبِهِ أَخَذَ الْفَقِيهُ أَبُو اللَّيْثِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى ... وَالثَّوْبُ الرَّقِيقُ الَّذِي يَصِفُ مَا تَحْتَهُ لَا تَجُوزُ الصَّلَاةُ فِيهِ. كَذَا فِي التَّبْيِينِ . الفتاوى الهندية ۱ / ۵۸ كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْبَابُ الثَّالِثُ فِي شُرُوطِ الصَّلَاةِ ... اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ فِي الطَّهَارَةِ وَسَتْرِ الْعَوْرَةِ ، ومثله في تبيين الحقائق ج۱ ص۹۶ باب شروط الصلاة .

(۲) دا مسئله په دې کتابونو کې هم ذکر ده : فتاوى حقانيه ج۳ ص۱۹۹ و ص۲۲۶ . فتاوى فريديه ج۲ ص۲۱۸ باب شروط الصلاة واركانها .

(۳) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «لَا يَقْبَلُ اللهُ صَلَاةَ حَائِضٍ إِلَّا بِخِمَارٍ». سنن ابي داود كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ الْمَرْأَةِ تُصَلِّي بِغَيْرِ خِمَارٍ رقم الحديث ۶۴۱ ، سنن الترمذي كتاب الصلاة رقم الحديث ۳۷۷ ، سنن ابن ماجه كتاب الطهارة رقم ۶۵۵ . (والمراد من الحائض : البالغة ، او من شأنها الحيض لتعم المراهقة)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَقْبَلُ اللهُ ....

لهذا که د ښځې د سَر څلورمه حصه ويښتان، يا د بل اندام څلورمه حصه عورت د درې تسبيحاتو په مقدار کلاؤ پاتې شي نو مونځ يې نه کيږي . البته که د ښکاره کيدو سره مُتصل يې پټ کړل نو بيا خبره دی. (۱)

که د ښځې د سَر رازوړند ويښتان ښکاره شي ددې حکم

که په مانځه کې د ښځې د سَر رازوړند ويښتان ښکاره شي (کوم چې د غوږونو نه راښکته وي يعنی کمڅۍ) نو ددې په باره کې د بعضو فقهاؤ قول دادی چې دا اګرچې په عورت کې داخل ندي خو ديته کتل ناجائز دي ، ليکن د اکثره فقهاؤ قول دادی چې داهم (د سَر د پاس ويښتانو په شان) په عورت کې داخل دي . په همدې قول کې احتياط دی او دا مُفتی بِهٖ قول دی .

لهذا که په مانځه کې ددې د رازوړندو ويښتانو څلورمه حصه ښکاره شي نو مونځ يې نه کيږي . خو که د څلورمې حصې نه کم مقدار عورت ښکاره شي نو مونځ يې اګرچې کيږي خو د عورت ښکاره کيدو په وجه ګناهګاريږي . (۲)

.... مِنَ امْرَأَةٍ صَلَاةً حَتّٰى تُوارِيَ زِينَتَهَا، وَلَا مِنْ جَارِيَةٍ بَلَغَتِ الْمَحِيضَ حَتّٰى تَخْتَمِرَ » .

المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ۷۶۰۶ ، والمعجم الصغير للطبراني رقم ۹۲۰ ، مجمع الزوائد ۲ / ۵۲ مصنف عبدالرزاق ۳ / ۱۳۱ رقم ۵۰۴۲ .

(۱) کبيري ص ۲۱۵ .

(۲) قال العلامة الحصکفي رحمه الله ... (وَلِلْحُرَّةِ) وَلَوْ خُنْثٰى (جَمِيعُ بَدَنِهَا) حَتّٰى شَعْرُهَا النَّازِلُ فِي الْأَصَحِّ (خَلَا الْوَجْهِ وَالْكَفَّيْنِ) فَظَهْرُ الْكَفِّ عَوْرَةٌ عَلَى الْمَذْهَبِ (وَالْقَدَمَيْنِ) عَلَى الْمُعْتَمَدِ . الدر المختار

قال ابن عابدين رحمه الله : (قَوْلُهُ : النَّازِلُ) أَيْ عَنِ الرَّأْسِ ، بِأَنْ جَاوَزَ الْأُذُنَ . وَقَيَّدَ بِهِ إذًا لَا خِلَافَ فِيمَا عَلَى الرَّأْسِ (قَوْلُهُ : فِي الْأَصَحِّ) صَحَّحَهُ فِي الْهِدَايَةِ وَالْمُحِيطِ وَالْكَافِي وَغَيْرِهَا، وَصَحَّحَ فِي الْخَانِيَّةِ خِلَافَهُ مَعَ تَصْحِيحِهِ لِحُرْمَةِ النَّظَرِ إلَيْهِ . وَهُوَ رِوَايَةُ الْمُنْتَقَى وَاخْتَارَهُ الصَّدْرُ الشَّهِيدُ، وَالْأَوَّلُ أَصَحُّ وَأَحْوَطُ كَمَا فِي الْحِلْيَةِ عَنْ شَرْحِ الْجَامِعِ لِفَخْرِ الْإِسْلَامِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى كَمَا فِي الْمِعْرَاجِ . رد المحتار على الدر المختار بَابُ شُرُوطِ الصَّلَاةِ مَطْلَبٌ فِي سَتْرِ الْعَوْرَةِ ۱ / ۴۰۵ . فتاوى عثمانيه ج ۲ ص ۹۳ صفة الصلاة و شروطها و اركانها و واجباتها .

چې په مانځه کې څادر د يو طرف اوکې نه اوغورځيږي ددې حکم

که چيرته په مانځه کې د مونځ ګزار د يو طرف اوګې (اوږي) نه څادر اوغورځيږي او په دې سره د سدل صورت جوړ شي (يعنی د څادر دواړه طرفونه زوړند شي) نو که په عملِ قليل سره کار کيدې شو نو په يو لاس به دا څادر په اوږي دوباره واچوي ، ددې د پاره چې د سدل صورت ختم شي ، ځکه په مانځه کې سدل مکروهِ تحريمي دی . (۱)

دويم دا چې په دې څادر رااوچتولو سره به ددې مونځ ګزار ذهني تشويش هم ختم شي کوم چې د څادر غورځيدو سره پيدا شوې وي . (۲)

چې په مانځه کې د سَر نه ټوپۍ يا پګړۍ اوغورځيږي ددې حکم

د فقهاؤ دعباراتو نه معلوميږي چې که په مانځه کې يو کس په عملِ کثير سره غورځيدلې پګړۍ دوباره اوتړي ، يا ټوپۍ په سَر کړي نو ددې سره مونځ ماتيږي .

ليکن که عملِ قليل سره يې دا کار اوکړو نو مونځ ورسره نه ماتيږي خو مکروهه کيږي .

په عالمګيري کې ذکر دي :

وَيُكْرَهُ نَزْعُ الْقَمِيْصِ وَالْقَلَنْسُوَةِ وَلُبْسُهُمَا وَخَلْعُ الْخُفِّ فِي الصَّلَاةِ بِعَمَلٍ يَسِيْرٍ . (۳)

په مانځه کې په عملِ قليل سره د قميص او ټوپۍ لرې کول او آچول ، او موزې د خپو نه ويستل مکروه دي .

لهذا د سجدې کولو په وخت که د سَر نه پګړۍ يا ټوپۍ اوغورځيږي نو دا دوباره رااوچتول ندي په کار .

چونکه دده د سَر نه دا ټوپۍ او پګړۍ غير اختياري غورځيدلې ده نو دې اوس معذور دی ، په سَرتور سَر د مونځ کولو کراهت نه لازميږي . (۴)

---

(۱) **نوټ** : د سدل پوره تشريح مخکې د مانځه د مکروهاتِ تحريمي په بحث کې تيره شوې . ابوالشمس عفي عنه

(۲) فتاوی حقانيه ج۳ ص۲۰۶ .

(۳) وَإِنْ رَفَعَ الْعِمَامَةَ مِنْ رَأْسِهِ وَوَضَعَهَا عَلَى الْأَرْضِ أَوْ رَفَعَهَا مِنَ الْأَرْضِ وَوَضَعَهَا عَلَى رَأْسِهِ لَا يُفْسِدُ وَلٰكِنَّهُ يُكْرَهُ . كَذَا فِي السِّرَاجِ الْوَهَّاجِ . الفتاوی الهندية ۱ / ۱۰۸ كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْفَصْلُ الثَّانِي فِيمَا يُكْرَهُ فِي الصَّلَاةِ وَمَا لَا يُكْرَهُ

(۴) فتاوی عثمانيه ج۲ ص۱۸۳ .

د اَلتَّحِيَّات په حالت کې بغير عُذره لمَن صحيح کول مکروه ده *

بعضې خلق اَلتَّحِيَّات ته د کیناستو په حالت (یعنی تَشَهّد) کې خپله لمَن صحیح کوي، یا دویم رکعت ته د راپورته کیدو په وخت شاته لمن صحیح کوي، یا د بدن د نورو اَندامونو او کپړو سره لوبې کوي نو په دې سره مونځ مکروهه کیږي. (۱)

البته که عُذر وُ مثلا اَلتَّحِيَّات ته د کیناستلو په وخت لمَن د زَنګونانو لاندې ګېره شي. او ده ته په ناسته کې تکلیف وي نو بیا یې په عملِ قلیل سره صحیح کولې شي.

په تختهٔ پُوش باندې د مونځ کولو حُکم

کوم تَخته پُوش چې د لرګي نه جوړ شوې وي، سخت وي او په زمکه باندې ایخې وي نو په دې باندې مونځ جائز دی، البته که دا تخته پوش په اُونه کې رازورَند وي یا د یو حیوان

---

(۱) عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « إِنَّ اللهَ كَرِهَ لَكُمُ الْعَبَثَ فِي الصَّلَاةِ وَالرَّفَثَ فِي الصِّيَامِ وَالضَّحِكَ عِنْدَ الْمَقَابِرِ » . مسند الشهاب القضاعي رقم ۱۰۸۷ إِنَّ اللهَ كَرِهَ لَكُمُ الْعَبَثَ فِي الصَّلَاةِ

عَنْ عَطَاءٍ أَنَّهُ كَانَ يَكْرَهُ كُلَّ شَيْءٍ مِنَ الْعَبَثِ فِي الصَّلَاةِ " . قَالَ الثَّوْرِيُّ : « جَاءَتِ الْأَحَادِيثُ أَنَّهُ كَانَ يَكْرَهُ الْعَبَثَ فِي الصَّلَاةِ » . مصنف عبدالرزاق الصنعاني رقم الحديث ۳۳۱۰ كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ الْعَبَثِ فِي الصَّلَاةِ

په هدایه کې ذکر دي : (وَيُكْرَهُ لِلْمُصَلِّي أَنْ يَعْبَثَ بِثَوْبِهِ أَوْ بِجَسَدِهِ) لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ « إِنَّ اللهَ تَعَالَى كَرِهَ لَكُمْ ثَلَاثًا ، وَذَكَرَ مِنْهَا الْعَبَثَ فِي الصَّلَاةِ » وَلِأَنَّ الْعَبَثَ خَارِجَ الصَّلَاةِ حَرَامٌ فَمَا ظَنُّكَ فِي الصَّلَاةِ . الهداية في شرح بداية المبتدي ج۱ فصل ويكره للمصلي...

په در مختار کې ذکر دي : (وَ) كُرِهَ ... (عَبَثُهُ بِهِ) أَيْ بِثَوْبِهِ (وَبِجَسَدِهِ) لِلنَّهْيِ ، إِلَّا لِحَاجَةٍ وَلَا بَأْسَ بِهِ خَارِجَ صَلَاةٍ . الدر المختار ۱ /۶۴۰ مَطْلَبٌ فِي الْكَرَاهَةِ التَّحْرِيمِيَّةِ وَالتَّنْزِيهِيَّةِ .

په عالمګیري کې ذکر دي ، يُكْرَهُ لِلْمُصَلِّي أَنْ يَعْبَثَ بِثَوْبِهِ أَوْ لِحْيَتِهِ أَوْ جَسَدِهِ .... وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَنْفُضَ ثَوْبَهُ كَيْ لَا يَلْتَفَّ بِجَسَدِهِ فِي الرُّكُوعِ . الفتاوى الهندية ۱ / ۱۰۵ الْفَصْلُ الثَّانِي فِيمَا يُكْرَهُ فِي الصَّلَاةِ وَمَا لَا يُكْرَهُ

قال العلامة ابوالبركات النسفي : وَكُرِهَ عَبَثُهُ بِثَوْبِهِ وَبَدَنِهِ ... كنز الدقائق بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّلَاةَ وَمَا يُكْرَهُ فِيهَا ، و مثله في مراقي الفلاح على صدر طحطاوي ص ۲۸۰ فصل في مكروهات الصلاة .

Scanned with CamScanner

په شا باندې ايخې وي نو بيا پرې مونځ جائز ندی. (۱)

په قالين او اسپنج باندې د مونځ کولو حُکم

په مانځه کې د سجدې صحيح کيدلو د پاره دا ضروري ده چې انسان به د سجدې کولو په وخت د زمکې د سختوالي اِدراک کوي، لهذا که په قالين باندې د سجدې کولو په وخت مونځ گزار د لاندې زمکې د سختوالي اِدراک اوکړو نو مونځ صحيح دی، او که د زمکې د سختوالي اِدراک يې او نه کړو نو مونځ نه صحيح کيږي.

چونکه نن صبا په قالين باندې د زمکې د سختوالي اِدراک کولې شي لهذا په دې قالين، کارپټ، دَرې، وغيره باندې مونځ کول جائز دی.

البته په غټ لچکداره اَسپَنج باندې مونځ جائز ندی. (۲)

(۱) قال ابن عابدين رحمه الله (قَوْلُهُ: وَأَنْ يَجِدَ حَجْمَ الْأَرْضِ) تَفْسِيرُهُ أَنَّ السَّاجِدَ لَوْ بَالَغَ لَا يَتَسَفَّلُ رَأْسُهُ أَبْلَغَ مِنْ ذَلِكَ. فَصَحَّ عَلَى طُنْفُسَةٍ وَحَصِيرٍ وَحِنْطَةٍ وَشَعِيرٍ وَسَرِيرٍ وَعَجَلَةٍ وَإِنْ كَانَتْ عَلَى الْأَرْضِ لَا عَلَى ظَهْرِ حَيَوَانٍ كَبِسَاطٍ مَشْدُودٍ بَيْنَ أَشْجَارٍ. رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۰۰ فَصْلٌ فِي بَيَانِ تَأْلِيفِ الصَّلَاةِ إلَى انْتِهَائِهَا.

قال العلامة ابن نجيم المصري رحمه الله: وَالْأَصْلُ كَمَا أَنَّهُ يَجُوزُ السُّجُودُ عَلَى الْأَرْضِ يَجُوزُ عَلَى مَا هُوَ بِمَعْنَى الْأَرْضِ مِمَّا تَجِدُ جَبْهَتُهُ حَجْمَهُ وَتَسْتَقِرُّ عَلَيْهِ وَتَفْسِيرُ وِجْدَانِ الْحَجْمِ أَنَّ السَّاجِدَ لَوْ بَالَغَ لَا يَتَسَفَّلُ رَأْسُهُ أَبْلَغَ مِنْ ذَلِكَ فَيَصِحُّ السُّجُودُ عَلَى الطُّنْفُسَةِ وَالْحَصِيرَةِ وَالْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالسَّرِيرِ وَالْعَجَلَةِ إنْ كَانَتْ عَلَى الْأَرْضِ؛ لِأَنَّهُ يَجِدُ حَجْمَ الْأَرْضِ. بِخِلَافِ مَا إذَا كَانَتْ عَلَى ظَهْرِ الْحَيَوَانِ؛ لِأَنَّ قَرَارَهَا حِينَئِذٍ عَلَى الْحَيَوَانِ كَالْبِسَاطِ الْمَشْدُودِ بَيْنَ الْأَشْجَارِ. الفتاوى الهندية ۱ / ۳۳۷ بَابُ صِفَةِ الصَّلَاةِ آدَابُ الصَّلَاةِ. فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۷۰ باب شروط الصلاة وأركانها.

(۲) وَكَذَا إذَا أَلْقَى الْحَشِيشَ فَسَجَدَ عَلَيْهِ إنْ وَجَدَ عَلَيْهِ حَجْمَهُ جَازَ وَإِلَّا فَلَا. وَكَذَا فِي التِّبْنِ وَالْقُطْنِ وَمِنْ هُنَا يُعْلَمُ جَوَازُ أَدَاءِ الصَّلَاةِ عَلَى الطَّرَّاحَةِ الْقُطْنِ. فَإِنْ وَجَدَ الْحَجْمَ جَازَ وَإِلَّا فَلَا. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۱ / ۳۳۸ بَابُ صِفَةِ الصَّلَاةِ آدَابُ الصَّلَاةِ.

قال العلامة ابن نجيم المصري رحمه الله: وَالْأَصْلُ كَمَا أَنَّهُ يَجُوزُ السُّجُودُ ..... (پاس عبارت ذکر شو هغه اوګوره). الفتاوى الهندية ۱ / ۳۳۷ بَابُ صِفَةِ الصَّلَاةِ آدَابُ الصَّلَاةِ. فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۷۰ باب شروط الصلاة وأركانها، فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۸۳

د ركعت رالاندې كولو د پاره په جُمات كې مَنډه وهل صحيح نده

د ركعت رالاندې كول د پاره په جُمات كې مَنډه وهل د جُمات د آدابو خلاف دي ، همدارنګې دا د مانځه د سكون او وَقار هم منافي ده ، لهذا په جُمات كې په سُكون او آرام سره تلل په كار دي ، كه ركعت د سړي نه لاړ شي نو د اِمام د سلام ګرځولو نه روستو دې پوره كړي . ځكه د ركعت تلل او روستو پوره كول ډير بهتر دي ددې نه چې انسان په جُمات كې مَنډه اُووهي او ركعت رالاندې كړي . (۱)

د سجدهٔ شكر كولو حكم

په عالمګيري كې ذكر دي : د سجده شكر په باره كې دعلماؤ مختلف اقوال دي : د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد باندې دا مكروه ده ، ددې نه كول بهتر دي ، او په دې كې هيڅ ثواب نشته . ليكن د صاحبينو په نزد باندې د يو نِعمت شكريې اداء كولو د پاره په سجدهٔ شكر كولو كې هيڅ حرَج نشته ، بلكه افضل ده ، او په دې باندې ثواب هم ملاويږي . فتوىٰ د صاحبينو په قول ده (د سجده شكر طريقه د سجده تلاوت په شان ده) خو دا په هغه وختونو كې مكروه ده په كومو وختونو كې چې مونځ مكروه دى . (۲)

---

(۱) (فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ) أي امشوا إليه بدون إفراط في السرعة . تفسير الآلوسي (روح المعاني) ۱۴ / ۲۹۶ سورة الجمعة آية ۹ . فتاوی عثمانيه ج۲ ص ۱۸۵ فصل في المكروهات

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: « إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا تَأْتُوهَا تَسْعَوْنَ، وَأْتُوهَا تَمْشُونَ وَعَلَيْكُمُ السَّكِينَةُ ، فَمَا أَدْرَكْتُمْ فَصَلُّوا، وَمَا فَاتَكُمْ فَأَتِمُّوا » . صحيح البخاري رقم الحديث ۹۰۸ كِتَابُ الجُمُعَةِ بَابُ المَشْيِ إِلَى الجُمُعَةِ ، صحيح مسلم رقم الحديث ۱۵۱ (۶۰۲) كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةَ بَابُ اسْتِحْبَابِ إِتْيَانِ الصَّلَاةِ بِوَقَارٍ وَسَكِينَةٍ، وَالنَّهْيِ عَنْ إِتْيَانِهَا سَعْيًا ، سنن ابي داؤد رقم الحديث ۵۷۲ كِتَاب الصَّلَاةِ بَابُ السَّعْيِ إِلَى الصَّلَاةِ .

(۲) و في الهندية : وَسَجْدَةُ الشُّكْرِ لَا عِبْرَةَ لَهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى وَهِيَ مَكْرُوهَةٌ عِنْدَهُ لَا يُثَابُ عَلَيْهَا وَتَرْكُهَا أَوْلَى. وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالَى هِيَ قُرْبَةٌ يُثَابُ عَلَيْهَا . وَصُورَتُهَا عِنْدَهُمَا أَنَّ مَنْ تَجَدَّدَتْ عِنْدَهُ نِعْمَةٌ ظَاهِرَةٌ أَوْ رَزَقَهُ اللهُ تَعَالَى وَلَدًا ....

Scanned with CamScanner

يا خاصکر چې کله سبب د شکر هم موجود وي نو بيا د مانځه نه بغير هم سجده د شکر جائز ده لکه په احاديثو کې دا خبره ذکر ده چې کله حضرت کعب بن مالک ﷺ ته د توبې قبليدو خبر ملاؤ شو نو هغه فوراً سجده اوکړه . (۱)

د مانځه نه پس صرف سجده کول مکروه ده

د مانځه نه پس چې دا بعضې خلق صرف سجده کوي نو دا مکروه ده ، ځکه چې عوامُ النّاس او جاهِل خلق بيا دا سُنّت يا واجب ګڼي ، او هر هغه کار چې د هغې په کولو سره خلقو ته د سُنّت يا واجب کيدو عقيده پيدا کيږي دغه کار مکروه دی .

وَأَمَّا إِذَا سَجَدَ بِغَيْرِ سَبَبٍ فَلَيْسَ بِقُرْبَةٍ وَلَا مَكْرُوْهٍ . وَمَا يَفْعَلُ عَقِيْبَ الصَّلَوَاتِ مَكْرُوْهٌ ؛ لِأَنَّ الْجُهَّالَ يَعْتَقِدُوْنَهَا سُنَّةً أَوْ وَاجِبَةً ، وَكُلُّ مُبَاحٍ يُؤَدِّيْ إِلَيْهِ فَمَكْرُوْهٌ . (۲)

که يو کس بغير د څه سبب نه سجده اوکړي نو په دې کې نه ثواب شته او نه مکروه ده ، او د مانځه نه پس چې کومه سجده کولې شي نو دا مکروه ده ، ځکه جاهِل خلق دا سُنّت او واجب ګڼړي ، او هر هغه عمل چې هغه واجب او سُنّتو ته رسي (او خلق ورباندې بيا د سُنّتو

.... أَوْ مَالًا أَوْ وَجَدَ ضَالَّةً أَوِ انْدَفَعَتْ عَنْهُ نِقْمَةٌ أَوْ شُفِيَ مَرِيْضٌ لَهُ أَوْ قَدِمَ لَهُ غَائِبٌ يُسْتَحَبُّ لَهُ أَنْ يَسْجُدَ شُكْرًا لِلّٰهِ تَعَالَى مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ يَحْمَدُ اللهَ فِيْهَا وَيُسَبِّحُهُ ثُمَّ يُكَبِّرُ أُخْرٰى فَيَرْفَعُ رَأْسَهُ كَمَا فِيْ سَجْدَةِ التِّلَاوَةِ . كَذَا فِي السِّرَاجِ الْوَهَّاجِ . قَالَ فِي الْحُجَّةِ : وَلَا يُمْنَعُ الْعِبَادُ مِنْ سَجْدَةِ الشُّكْرِ لِمَا فِيْهَا مِنَ الْخُضُوْعِ وَالتَّعَبُّدِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوٰى . كَذَا فِي التَّتَارْخَانِيَّةِ . وَيُكْرَهُ أَنْ يَسْجُدَ شُكْرًا بَعْدَ الصَّلَاةِ فِي الْوَقْتِ الَّذِيْ يُكْرَهُ فِيْهِ النَّفْلُ وَلَا يُكْرَهُ فِيْ غَيْرِهِ . كَذَا فِي الْقُنْيَةِ . الفتاوى الهندية ۱/ ۱۳۶ مَسَائِلُ سَجْدَةِ الشُّكْرِ . فتاوى عثمانيه ج۲ ص ۲۹۴ باب السنن والنوافل.

(۱) فتاوى عثمانيه ج۲ ص ۲۹۶ باب السنن والنوافل.

(۲) الفتاوى الهندية ۱ / ۱۳۶ كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْبَابُ الثَّالِثَ عَشَرَ فِيْ سُجُوْدِ التِّلَاوَةِ ، فتاوى عثمانيه ج۲ ص ۱۸۴ فصل فى المكروهات و ص ۲۹۶ باب السنن والنوافل.

وما يفعل عقيب الصلاة فمكروه ، لانّ الجهال يعتقدونها سنة او واجبة منية المستملي المعروف بالكبيري ص ۶۰۹ فصل في مسائل شتى ، فتاوى فريديه ج۲ ص ۵۵۱ باب السنن والنوافل.

او واجبو ګمان کوي) هغه مکروه دی.

د مالي نقصان راپېښېدو په وجه مونځ ماتول جائز دي

که يو کس په مانځه ولاړ وي ، او په دې وخت د ده ته د يو درهم مقدار مالي نقصان رارسيږي ، يا مثلاً غَل ورنه د يو درهم قيمت واله څيز تختوي نو ده ته په دې صورت کې مونځ ماتول جائز دي ، خپل مال به د ضائع کيدو نه بچ کړي ، او مونځ به دوباره اوکړي.(۱)

په مانځه کې د يو سورت شروع کولو نه پس بغير عُذره بل سورت شروع کول مکروه دی

که يو کس په مانځه کې يو سورت شروع کړې وي ، څه آيتونه يې وويل ، او س بغير د څه عُذر نه دا پرېږدي او بل سورت شروع کوي نو په دې سره مونځ مکروه کيږي .(۲)

په مانځه کې د عربي نه علاوه په نورو ژبو کې دُعا غوښتل مکروه تنزيهي ده

سُنت طريقه دا ده چې په مانځه کې صرف په عربي ژبه کې دُعا اوغوښتلې شي ، د عربي نه علاوه په بله ژبه کې دُعا غوښتل مکروهِ تنزيهي ده .(۳)

---

(۱) رَجُلٌ قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ فَسُرِقَ مِنْهُ شَيْءٌ قِيمَتُهُ دِرْهَمٌ لَهُ أَنْ يَقْطَعَ الصَّلَاةَ وَيَطْلُبَ السَّارِقَ سَوَاءٌ كَانَتْ فَرِيضَةً أَوْ تَطَوُّعًا ، لِأَنَّ الدِّرْهَمَ مَالٌ . الفتاوى الهندية كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْفَصْلُ الثَّانِي فِيمَا يُكْرَهُ فِي الصَّلَاةِ وَمَا لَا يُكْرَهُ.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله : وَيُبَاحُ قَطْعُهَا لِنَحْوِ قَتْلِ حَيَّةٍ ، وَنَدِّ دَابَّةٍ ، وَفَوْرِ قِدْرٍ ، وَضَيَاعِ مَا قِيمَتُهُ دِرْهَمٌ لَهُ أَوْ لِغَيْرِهِ . قال ابن عابدين : (قَوْلُهُ : وَيُبَاحُ قَطْعُهَا) أَيْ وَلَوْ كَانَتْ فَرْضًا كَمَا فِي الْإِمْدَادِ . (قَوْلُهُ : وَضَيَاعِ مَا قِيمَتُهُ دِرْهَمٌ) قَالَ فِي مَجْمَعِ الرِّوَايَاتِ : لِأَنَّ مَا دُونَهُ حَقِيرٌ فَلَا يَقْطَعُ الصَّلَاةَ لِأَجْلِهِ . رد المحتار على الدر المختار بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّلَاةَ وَمَا يُكْرَهُ فِيهَا ۱/ ۶۵۴ . فتاوى حقانيه ج۳ ۲۰۸.

(۲) اِفْتَتَحَ سُورَةً وَقَصَدَ سُورَةً أُخْرَى فَلَمَّا قَرَأَ آيَةً أَوْ آيَتَيْنِ أَرَادَ أَنْ يَتْرُكَ السُّورَةَ وَيَفْتَتِحَ الَّتِي أَرَادَهَا يُكْرَهُ وَكَذَا لَوْ قَرَأَ أَقَلَّ مِنْ آيَةٍ وَإِنْ كَانَ حَرْفًا . الفتاوى الهندية كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْفَصْلُ الرَّابِعُ فِي الْقِرَاءَةِ ۱/ ۷۹، هكذا في خلاصة الفتاوى ج۱ ص۹۸ فصل في القراءة . فتاوى حقانيه ج۳ ص۲۱۳ .

(۳) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله... وَلِهَذَا كَانَ الدُّعَاءُ بِالْعَرَبِيَّةِ أَقْرَبَ إِلَى الْإِجَابَةِ ، فَلَا يَقَعُ غَيْرُهَا مِنَ الْأَلْسُنِ فِي الرِّضَا وَالْمَحَبَّةِ لَهَا مَوْقِعَ كَلَامِ الْعَرَبِ..........

Scanned with CamScanner

د سجدې او تشهد نه د پورته کيدو په وخت په زمکه د لاس اچيک لړولو حکم

د سجدې يا تشهد نه د پورته کيدو په وخت بغير عذره په زمکه باندې د لاس آټيک لړول (يعنې په زمکه لاس ايخودل او پورته کيدل) مکروه تنزيهي دي.(۱)

چې نسوار او سګريټ په جيب کې وي، ددې سره د مونځ کولو حکم

بعضې خلق مانځه ته ولاړ وي او دده سره په جيب کې نسوار يا سګريټ وي نو ددې حکم دادی چې د تمباکو استعمال شرعًا مباح دی که دا په جيب کې وي نو ددې سره مونځ جائز دی.(۲)

..........وَظَاهِرُ التَّعْلِيلِ أَنَّ الدُّعَاءَ بِغَيْرِ الْعَرَبِيَّةِ خِلَافُ الْأَوْلَى، وَأَنَّ الْكَرَاهَةَ فِيهِ تَنْزِيهِيَّةٌ. رد المحتار على الدر المختار ۱/ ۵۲۱ بَابُ صِفَةِ الصَّلَاةِ فُرُوعٌ قَرَأَ بِالْفَارِسِيَّةِ أَوْ التَّوْرَاةِ أَوْ الْإِنْجِيلِ

قال العلامة عبد الحي الكهنوي رحمه الله: ومنها ان يدعوا بالعربية ليكون أقرب الى الإجابة. فإن اللسان العربي من الفضل ما ليس لغيره.... غرر الافكار شرح درر البحار في بحث الدعاء بعد التشهد كره الدعاء بالاعجمية... السعاية ج۲ ص۲۲۵ باب صفة الصلاة. فتاوى حقانيه ج۳ ص۲۰۹.

(۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله: (وَيُكَبِّرُ لِلنُّهُوضِ) عَلَى صُدُورِ قَدَمَيْهِ (بِلَا اعْتِمَادٍ وَقُعُودِ اسْتِرَاحَةٍ) وَلَوْ فَعَلَ لَا بَأْسَ. الدر المختار

قال ابن عابدين رحمه الله: (قَوْلُهُ: بِلَا اعْتِمَادٍ) أَيْ عَلَى الْأَرْضِ قَالَ فِي الْكِفَايَةِ: أَشَارَ بِهِ إلَى خِلَافِ الشَّافِعِيِّ فِي مَوْضِعَيْنِ: أَحَدُهُمَا يَعْتَمِدُ بِيَدَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ عِنْدَنَا وَعِنْدَهُ عَلَى الْأَرْضِ. وَالثَّانِي الْجِلْسَةُ الْخَفِيفَةُ. قَالَ شَمْسُ الْأَئِمَّةِ الْحَلْوَانِيُّ: الْخِلَافُ فِي الْأَفْضَلِ حَتَّى لَوْ فَعَلَ كَمَا هُوَ مَذْهَبُنَا لَا بَأْسَ بِهِ عِنْدَ الشَّافِعِيِّ، وَلَوْ فَعَلَ كَمَا هُوَ مَذْهَبُهُ لَا بَأْسَ بِهِ عِنْدَنَا كَذَا فِي الْمُحِيطِ... فَيُكْرَهُ فِعْلُهُ تَنْزِيهًا لِمَنْ لَيْسَ بِهِ عُذْرٌ. رد المحتار على الدر المختار ۱/ ۵۰۶ فَصْلٌ فِي بَيَانِ تَأْلِيفِ الصَّلَاةِ إلَى انْتِهَائِهَا فُرُوعٌ قَرَأَ بِالْفَارِسِيَّةِ أَوْ التَّوْرَاةِ أَوْ الْإِنْجِيلِ إطَالَةُ الرُّكُوعِ أَوْ الْقِرَاءَةِ لِإِدْرَاكِ الْجَائِي. فتاوى فريديه ج۲ ص۲۸۰ باب مكروهات الصلاة.

(۲) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: فَإِنَّهُ لَمْ يَثْبُتْ إسْكَارُهُ وَلَا تَفْتِيرُهُ وَلَا إضْرَارُهُ. بَلْ ثَبَتَ لَهُ مَنَافِعُ. فَهُوَ دَاخِلٌ تَحْتَ قَاعِدَةِ: الْأَصْلُ فِي الْأَشْيَاءِ الْإِبَاحَةُ. وَأَنَّ فَرْضَ إضْرَارِهِ لِلْبَعْضِ لَا يَلْزَمُ مِنْهُ تَحْرِيمُهُ عَلَى كُلِّ أَحَدٍ. رد المحتار ج۵ ص۲۹۶ كتاب الاشربة. فتاوى حقانيه ج۳ ص۲۰۱

اګر چې په مانځه کې د بدن، جامو او ځای پاکوالې شرط دی خو نسوار په خپله پاک دي که دا په جیب کې وي نو دې سره په مانځه کې څه فساد نه راځي. (۱)

لیکن که ددې نسوارو او سګریټو سره څه نجس شی ملاؤ شوې وُ او دا په جیب کې وي نو بیا ددې سره مونځ صحیح ندی.

که د سُوټو اِیره په نسوارو کې ملاؤ شوې وي نو اِیره چونکه پاکه ده نو ددې په وجه د نسوارو په طهارت باندې څه اثر نه غورځي. یعنی که دا نسوار په جیب کې وي نو مونځ ورسره صحیح دی. (۲)

همدا خبره په فتاوی دارالعلوم دیوبند کې هم ذکر ده. (۳)

خو دا خبره ضروري ده چې بدبوداره او ضرري څیز جُمات ته وړل منع دي. (۴)

د نسوارو استعمالولو حکم: دا پاس مسئله چې تېره شوه دا خو د نسوارو سره د مونځ کولو متعلق وه، اوس دا مسئله چې نسوار استعمالول څنګه دي؟

---

(۱) فتاوی حقانیه ج۳ ص۷۲. فتاوی فریدیه ج۲ ص۲۱۵ باب شروط الصلاة و ارکانها.

(۲) فتاوی حقانیه ج۳ ص۲۰۱.

(۳) قُلْتُ: فَيُفْهَمُ مِنْهُ حُكْمُ النَّبَاتِ الَّذِي شَاعَ فِي زَمَانِنَا الْمُسَمَّى بِالتُّتُنِ فَتَنَبَّهْ. وَقَدْ كَرِهَهُ شَيْخُنَا الْعِمَادِيُّ فِي هَدِيَّتِهِ إلْحَاقًا لَهُ بِالثُّومِ وَالْبَصَلِ بِالْأَوْلَى فَتَدَبَّرْ. الدر المختار.

قال ابن عابدين رحمه الله: (قَوْلُهُ فَيُفْهَمُ مِنْهُ حُكْمُ النَّبَاتِ) وَهُوَ الْإِبَاحَةُ عَلَى الْمُخْتَارِ أَوِ التَّوَقُّفُ. رد المحتار على الدر المختار ۶/ ۴۶۰ كِتَابُ الْأَشْرِبَةِ. فتاوی دارالعلوم دیوبند ج۴ ص۹۶ فصل ثالي مکروهات صلوة.

(۴) وَأَكْلُ نَحْوِ ثُومٍ. وَيُمْنَعُ مِنْهُ. الدر المختار ۱/ ۶۶۱ فُرُوعٌ أَفْضَلُ الْمَسَاجِدِ.

و في رد المحتار: (قَوْلُهُ: وَأَكْلُ نَحْوِ ثُومٍ) أَيْ كَبَصَلٍ وَنَحْوِهِ مِمَّا لَهُ رَائِحَةٌ كَرِيهَةٌ لِلْحَدِيثِ الصَّحِيحِ فِي النَّهْيِ عَنْ قُرْبَانِ آكِلِ الثُّومِ وَالْبَصَلِ الْمَسْجِدَ. قَالَ الْإِمَامُ الْعَيْنِيُّ فِي شَرْحِهِ عَلَى صَحِيحِ الْبُخَارِيِّ قُلْتُ: عِلَّةُ النَّهْيِ أَذَى الْمَلَائِكَةِ وَأَذَى الْمُسْلِمِينَ وَلَا يَخْتَصُّ بِمَسْجِدِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ، بَلِ الْكُلُّ سَوَاءٌ لِرِوَايَةِ مَسَاجِدِنَا بِالْجَمْعِ. خِلَافًا لِمَنْ شَذَّ. وَيَلْحَقُ بِمَا نُصَّ عَلَيْهِ فِي الْحَدِيثِ كُلُّ مَا لَهُ رَائِحَةٌ كَرِيهَةٌ مَأْكُولًا أَوْ غَيْرَهُ. رد المحتار على الدر المختار ۱/ ۶۶۱ فُرُوعٌ أَفْضَلُ الْمَسَاجِدِ طبع دار الفکر بیروت، فتاوی فریدیه ج۲ ص۲۱۵ باب شروط الصلاة و ارکانها.

Scanned with CamScanner

نو دا مسئله په پوره تفصیل او دلائلو سره ددې (اِصلاحي مُدلّل تقريرونه) کتاب په شپږم جلد کې په صفحه ۲۵۱ باندې د فقهي مسائلو په بحث کې تېره شوې . هلته يې ضرور اوګوره . ابوالشمس عفي عنه

په داسې حالت کې مونځ کول يا جُمات ته تلل چې د خلې نه د نسوارو يا سګرټو بَدبُويي ځي

چې کله يو کس بَدبوداره څيز اوخوري لکه پياز اوږه وغيره ، يا نسوار ، سګريټ يا چرس استعمالوي او په دې وخت کې دده د خُلې نه بَدبويي ځي نو په داسې حالت کې دده د پاره مونځ کول ، يا جُمات ته تلل مکروهِ تحريمي او ناجائز دي ، ځکه په دې سره نورو مونځ ګزارو او فرښتو ته تکليف رسي ، بلکه دې به اول خُله صفا کوي بيا به جُمات ته ځي . (۱)

په احاديثو کې هم ددې نه منع راغلې ، او فقهاء کرامو هم ددې پوره وضاحت کړی .

نوټ : ددې مسئلې پوره تشريح ددې (اِصلاحي مُدلّل تقريرونه) کتاب په اووم جلد کې د صفحه ۲۴۶ نه تر د صفحه ۲۴۹ پورې ددې عنوان " بعضې خلق جُمعې ته د راتلو نه منع کول جائز دي " د لاندې ذکر ده ، هلته يې ضرور اوګوره ، ځکه هلته احاديث او د فقهاؤ عبارات د حوالو سره تفصيلاً ذکر دي . ابوالشمس عفي عنه

چې د چا د خُلې نه بَدبوئي ځي د هغه نه جُمعه ساقط ده

په **فتاوی محموديه** کې ذکر دي : دا مسئله په شامي کې ذکر ده چې د چا د خُلې نه داسې بَدبُويي ځي چې ددې په وجه نورو ته تکليف رسي او نږدې مونځ ګزار پرې پريشانه کيږي نو دداسې کس نه جُمعه ساقط ده ، ده ته په کار دي چې په کور کې مونځ اوکړي ، چونکه داسې کس د يو شرعي عُذر په وجه د جُمات نه منع شوې دی لهذا دې به د جُمعې د ثواب نه نه محرومه کيږي . (۲)

---

(۱) فتاوی فريديه ج ۲ ص ۴۸۷ ، وص ۳۶۷ .

(۲) وَكَذَلِكَ أُلْحِقَ بَعْضُهُمْ بِذَلِكَ مَنْ بِفِيهِ بَخَرٌ أَوْ بِهِ جُرْحٌ لَهُ رَائِحَةٌ . وَكَذَلِكَ الْقَصَّابُ وَالسَّمَّاكُ وَالْمَجْذُومُ وَالْأَبْرَصُ أَوْلَى بِالْإِلْحَاقِ . وَقَالَ سَحْنُونٌ لَا أَرَى الْجُمُعَةَ عَلَيْهِمَا ....

په فتاوی دارالعلوم دیو بند کې ذکر دي : د چا د خُلې نه چې داسې بدبويي ځي چې ددې په وجه دده سره په څنګ مونځ ګزارو ته تکليف وي داسې کس به په جُمعه کې شِرکت نه کوي بلکه ځانله به مونځ کوي . (ځکه دې معذور دی) . (۱)

چې په جُمات کې ځای نه وي په خپلو دُکانونو کې د امام پسې د اقتداء کولو حُکم

بعضې وخت جُمات ډک شي ، نور ځای په کې نه وي نو بیا د خپلو دُکانو نه د امام پسې اِقتداء په هغه وخت کې صحیح ده چې دوه شرطونه موجود شي : اول دا چې د جُمات او ددې دُکانونو په مینځ کې لاره بنده شي او د صفونو اتصال وي .

دویم دا چې مقتدیانو ته د امام د حالت عِلم وي .

البته که د صفونو اتصال نه وُ ، په مینځ کې لاره کلاؤ وه ، یا مقتدیانو ته د امام د حالت عِلم نه وُ نو بیا ددې دُکانونو نه د امام پسې اِقتداء صحیح نه ده . (۲)

.... وَاحْتَجَّ بِالْحَدِيثِ . رد المحتار علی الدر المختار ۱ / ٦٦١ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّلَاةَ وَمَا يُكْرَهُ فِيهَا فُرُوعٌ أَفْضَلُ الْمَسَاجِدِ . فتاوی محمودیه ج۹ ص۲۰۸ ترک جماعت .

همداسې خبره حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کې هم ليکلي دي : وَأَلْحَقَ بَعْضُهُمْ بِذَٰلِكَ مَنْ بِفِيهِ بَخَرٌ ... فتح الباري شرح صحيح البخاري لابن حجر رحمه الله ۲ / ۳۴۴ قَوْلُهُ بَابُ مَا جَاءَ فِي الثُّومِ دار المعرفة بيروت .

(۱) فتاوی دارالعلوم دیو بند ج۳ ص۳۷ باب الامامة والجماعة .

(۲) قال الحصكفي رحمه الله : (وَيَمْنَعُ مِنَ الِاقْتِدَاءِ) ... (طَرِيقٌ تَجْرِي فِيهِ عَجَلَةٌ) آلَةٌ يَجُرُّهَا الثَّوْرُ (أَوْ نَهْرٌ تَجْرِي فِيهِ السُّفُنُ) وَلَوْ زَوْرَقًا وَلَوْ فِي الْمَسْجِدِ (أَوْ خَلَاءٌ) أَيْ فَضَاءٌ (فِي الصَّحْرَاءِ) أَوْ فِي مَسْجِدٍ كَبِيرٍ جِدًّا كَمَسْجِدِ الْقُدْسِ (يَسَعُ صَفَّيْنِ) فَأَكْثَرَ إِلَّا إِذَا اتَّصَلَتِ الصُّفُوفُ فَيَصِحُّ مُطْلَقًا . كَأَنْ قَامَ فِي الطَّرِيقِ ثَلَاثَةٌ . وَكَذَا اثْنَانِ عِنْدَ الثَّانِي لَا وَاحِدٌ اتِّفَاقًا لِأَنَّهُ لِكَرَاهَةِ صَلَاتِهِ صَارَ وُجُودُهُ كَعَدَمِهِ فِي حَقِّ مَنْ خَلْفَهُ . (وَالْحَائِلُ لَا يَمْنَعُ) الِاقْتِدَاءَ (إِنْ لَمْ يَشْتَبِهْ حَالُ إِمَامِهِ) بِسَمَاعٍ أَوْ رُؤْيَةٍ وَلَوْ مِنْ بَابٍ مُشَبَّكٍ يَمْنَعُ الْوُصُولَ فِي الْأَصَحِّ (وَلَمْ يَخْتَلِفِ الْمَكَانُ) حَقِيقَةً كَمَسْجِدٍ وَبَيْتٍ فِي الْأَصَحِّ قُنْيَةٌ . وَلَا حُكْمًا عِنْدَ اتِّصَالِ الصُّفُوفِ . الدر المختار ۱ / ۵۸۴ كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ الْإِمَامَةِ ....

Scanned with CamScanner

په کور کې جمعې کولو سره د جمعې فضیلت حاصلیږي لیکن د جمات د جمعې فضیلت نه حاصلیږي

په کور کې جمعې کولو سره اګر چې د جمعې ثواب ملاویږي لیکن په جمات کې د جمعې سره د مونځ کولو چې کوم ثواب دی هغه ده ته نه ملاویږي. (۱)

.... وَذَكَرَ فِي الْكَافِي لِلْحَاكِمِ أَنَّهُ إِذَا كَانَ بَيْنَ الْمُصَلِّي وَالْإِمَامِ طَرِيقٌ يَمُرُّ فِيهِ النَّاسُ أَوْ نَهْرٌ عَظِيمٌ لَمْ تَجُزْ صَلَاتُهُ إِلَّا أَنْ تَكُونَ الصُّفُوفُ مُتَّصِلَةً عَلَى الطَّرِيقِ فَيَجُوزُ حِينَئِذٍ. وَقَدَّمَ قَبْلَهُ أَنَّ صَفَّ النِّسَاءِ مُفْسِدٌ لِصَلَاةِ الصُّفُوفِ الَّتِي وَرَاءَهُ كُلِّهَا اِسْتِحْسَانًا فَالْمَانِعُ ثَلَاثَةٌ. وَفِيهِ أَنَّهُ لَوْ كَانَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْإِمَامِ حَائِطٌ أَجْزَأَتْهُ صَلَاتُهُ. أَطْلَقَ فِي الْحَائِطِ فَشَمِلَ الصَّغِيرَ وَالْكَبِيرَ وَمَا يَشْتَبِهُ فِيهِ حَالُ الْإِمَامِ أَوْ لَا. لَكِنْ قَيَّدَهُ فِي الْخُلَاصَةِ وَغَيْرِهَا بِعَدَمِ الْاِشْتِبَاهِ. فَإِنْ أَمْكَنَهُ الْوُصُولُ إِلَى الْإِمَامِ فَهُوَ صَحِيحٌ اتِّفَاقًا. وَإِنْ لَمْ يُمْكِنْهُ وَلَمْ يَشْتَبِهْ اِخْتَلَفُوا فِيهِ. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۱ / ۳۸۴ باب الإمامة.

(مِنْهَا) طَرِيقٌ عَامٌّ يَمُرُّ فِيهِ الْعَجَلَةُ وَالْأَوْقَارُ هَكَذَا فِي شَرْحِ الطَّحَاوِيِّ إِذَا كَانَ بَيْنَ الْإِمَامِ وَبَيْنَ الْمُقْتَدِي طَرِيقٌ إِنْ كَانَ ضَيِّقًا لَا يَمُرُّ فِيهِ الْعَجَلَةُ وَالْأَوْقَارُ لَا يَمْنَعُ. وَإِنْ كَانَ وَاسِعًا يَمُرُّ فِيهِ الْعَجَلَةُ وَالْأَوْقَارُ يَمْنَعُ. كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ وَالْخُلَاصَةِ. هٰذَا إِذَا لَمْ تَكُنِ الصُّفُوفُ مُتَّصِلَةً عَلَى الطَّرِيقِ. أَمَّا إِذَا اتَّصَلَتِ الصُّفُوفُ لَا يَمْنَعُ الْاِقْتِدَاءَ. وَلَوْ كَانَ عَلَى الطَّرِيقِ وَاحِدٌ لَا يَثْبُتُ بِهِ الْاِتِّصَالُ. وَبِالثَّلَاثِ يَثْبُتُ بِالْاِتِّفَاقِ. وَفِي الْمَثْنَى خِلَافٌ: عَلَى قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى يَثْبُتُ. وَعَلَى قَوْلِ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى لَا. كَذَا فِي الْمُحِيطِ. الفتاوى الهندية ۱ / ۸۷ الْبَابُ الْخَامِسُ فِي الْإِمَامَةِ الْفَصْلُ الرَّابِعُ فِي بَيَانِ مَا يَمْنَعُ صِحَّةَ الْاِقْتِدَاءِ وَمَا لَا يَمْنَعُ. فتاوى حقانيه ۲۲۳.

(۱) ويحصل فضل الجماعة بواحد ولو صبيا يعقل أو امرأة ولو في البيت مع الإمام. مراقي الفلاح ۱/۲۸۷ باب الإمامة.

لو صلى في بيته بزوجته أو جاريته أو ولده فقد أتى بفضيلة الجماعة كذا في الشرح. ولكن فضيلة المسجد أتم. حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ۱ / ۲۸۷ باب الإمامة.

قال ابن عابدين ... وَإِنْ صَلَّى أَحَدٌ فِي الْبَيْتِ بِالْجَمَاعَةِ لَمْ يَنَالُوا فَضْلَ جَمَاعَةِ الْمَسْجِدِ ... رد المحتار على الدر المختار ۲ / ۴۵ كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ الْوِتْرِ وَالنَّوَافِلِ. الفتاوى الهندية ج۱ ص ۱۱۶ الباب التاسع في النوافل فصل في التراويح. فتاوى محموديه ج۹ ص ۳۶۹ جماعت کی اہمیت وفضیلت.

په حُجره کښې د جمعې کولو حُکم

اګر چې په کور او حُجره کښې جَمعه کول جائز ده لیکن په دې سره یقیناً انسان ته هغه ثواب نه ملاویږي کوم چې د جُمات په جَمعه کښې ملاویږي ، بل دا چې په دې سره د مسلمانانو خپل مینځي اتفاق و اتحاد هم کمزورې کیږي ، لهذا بغیر د سخت ضرورت نه په حُجره کښې مونځ ندې په کار ، بلکه جُمات ته تلل په کار دي .(۱)

نوټ : د جَمعې د مانځه اهمیت او تاکید ددې (اِصلاحي مُدلل تقريرونه) کتاب په اووم جلد کښې په تفصیل سره تیر شوی ، هلته یې اوګوره . ابوالشمس عفي عنه

که په جُمات کښې د جمعې څوک نه وي نو دې به څه کوي ؟

که یو کس جُمات ته د جَمعې د پاره لاړ خو هلته په جُمات کښې هیڅ څوک نه وُ نو دې به آذان اوکړي ، بیا به اِقامت اوکړي او ځان له به مونځ اوکړي ، اِن شاء الله ده ته به د جَمعې ثواب ملاویږي ، ځکه دا په ده باندې د جُمات حق دی .(۲)

خو ورسره ورسره به خلقو ته په جُمات کښې د جَمعې سره د مونځ کولو ترغیب هم ورکوي

---

(۱) ... لَا يُقَالُ : يُمْكِنُهُ أَنْ يَجْمَعَ بِأَهْلِهِ فِي بَيْتِهِ فَلَا يَلْزَمُ شَيْءٌ مِنَ الْمَحْذُورَيْنِ ؛ لِأَنَّا نَقُولُ : إنَّ مَذْهَبَ الْإِمَامِ الْحَلْوَانِيِّ أَنَّهُ بِذَلِكَ لَا يَنَالُ ثَوَابَ الْجَمَاعَةِ وَأَنَّهُ يَكُونُ بِدْعَةً وَمَكْرُوهًا بِلَا عُذْرٍ . نَعَمْ قَدْ عَلِمْت أَنَّ الصَّحِيحَ أَنَّهُ لَا يُكْرَهُ تَكْرَارُ الْجَمَاعَةِ إذَا لَمْ تَكُنْ عَلَى الْهَيْئَةِ الْأُولَى وَسَيَأْتِي فِي الْإِمَامَةِ أَنَّ الْأَصَحَّ أَنَّهُ لَوْ جَمَعَ بِأَهْلِهِ لَا يُكْرَهُ وَيَنَالُ فَضِيلَةَ الْجَمَاعَةِ . لَكِنَّ جَمَاعَةَ الْمَسْجِدِ أَفْضَلُ . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۳۹۶ مطلب في كراهة تكرار الجماعة في المسجد .

وَفِي الْبَدَائِعِ : تَجِبُ عَلَى الرِّجَالِ الْعُقَلَاءِ الْبَالِغِينَ الْأَحْرَارِ الْقَادِرِينَ عَلَى الصَّلَاةِ بِالْجَمَاعَةِ مِنْ غَيْرِ حَرَجٍ . الفتاوى الهندية الْبَابُ الْخَامِسُ فِي الْإِمَامَةِ وَفِيهِ سِتَّةُ فُصُولٍ الْفَصْلُ الْأَوَّلُ فِي الْجَمَاعَةِ ۱ / ۸۲ طبع دار الفكر بيروت . فتاوى عثمانية ج۲ ص ۲۵۱ باب الجماعة .

(۲) فِي الْخَانِيَّةِ : لَوْ لَمْ يَكُنْ لِمَسْجِدِ مَنْزِلِهِ مُؤَذِّنٌ فَإِنَّهُ يَذْهَبُ إلَيْهِ وَيُؤَذِّنُ فِيهِ وَيُصَلِّي وَلَوْ كَانَ وَحْدَهُ لِأَنَّ لَهُ حَقًّا عَلَيْهِ فَيُؤَدِّيهِ . رد المحتار على الدر المختار فُرُوعٌ أَفْضَلُ الْمَسَاجِدِ ۱ / ۶۵۹ ، حاشية على الهداية ج۱ ص ۶۷ كتاب الطهارة فصل في المسجد قبل كتاب الصلاة ، فتاوى محموديه ج۹ ص ۳۷۰ جماعت کی اہمیت و فضیلت

په سرتور (برېنډ) سر د مونځ کولو حکم

(**نوټ** : چونکه دا مسئله نن صبا ډېره عامه ده ، ډېر خلق د سستئ په وجه په سرتور سر مونځونه کوي ، نو ځکه په پوره تفصيل سره يې ليکم ، چې ددې هر اړخ واضح شي . ابوالشمس عفي عنه) .

په دې خبره د ټولو مُتقدمينو او متأخرينو ، عربو او عجمو علماؤ اِتفاق دی چې د مانځه په حالت کې سَر پټول مُستحب دی .

او په برېنډ سَر د مونځ کولو يو شو صورتونه دي د هر صورت حُکم جدا جدا دی :

١ . د عُذر او مجبوريت په وجه په برېنډ سَر مونځ کول بِلا کراهته جائز دی .

٢ . بَغير عُذره د سستئ په وجه په برېنډ سَر مونځ کول مکروهِ تنزيهي دی . ځکه په دې کې د يو آدب او د يو مُستحب کار (يعنې سَر پټول) پاتې کيږي ، او د مانځه په آدابو کې د يو آدب په پرېښودو سره د مانځه په ثواب کې کمې راځي .

٣ . که يو کس په برېنډ سَر مونځ کول عادت جوړ کړې وي او دا سُنت نه ګڼړي نو دا بيا مکروهِ تحريمي دی .

٤ . که يو کس بَغير عُذره په برېنډ سَر مونځ کول سُنت ګڼي نو بيا دا بدعت دی .

٥ . که برېنډ سَر مونځ کولو سره دده مقصد د مانځه سپکاوې وي (يعنې مونځ معمولي او بې کاره عمل ګڼي) نو دا کُفر دی .

٦ . د خُشوع او عاجزئ پيدا کولو د پاره په برېنډ سَر مونځ کول اګر چې جائز دی خو بيا هم دا بهتر نه دی ځکه د عاجزئ تعلق د زړه سره دی .[1]

د فقهاء کرامو أقوال

فقهاء کرامو هم په تفصيل سره دا خبره ليکلې چې بَغير عُذره د سستئ په وجه په سَر تور سَر

---

(١) وَلَا بَأْسَ إِذَا فَعَلَهُ أَيْ إِذَا كَشَفَ الرَّأْسَ تَذَلُّلًا وَخُشُوعًا لِأَنَّ ذٰلِكَ هُوَ الْمَقْصُوْدُ الْأَصْلِيُّ فِي الصَّلَاةِ . وَ فِيْ قَوْلِهٖ لَابَأْسَ إِشَارَةٌ إِلَى أَنَّ الْأَوْلَى أَنْ لَا يَفْعَلَهُ وَأَنْ يَتَذَلَّلَ وَ يَخْشَعَ بِقَلْبِهٖ فَإِنَّهُمَا مِنْ أَفْعَالِ الْقَلْبِ .
غنية المستملي شرح منية المصلي ج١ ص ٣٣٧ .

مونځ کول مکروه دی ، لکه نن صبا چې د بعضې لوڅکو خلقو عادت ګرځیدلې دی ، البته د عُذر یا د عاجزۍ پیدا کولو د پاره په بربنډ سَر مونځ کول جائز دی .

اوس درته د یو څو فقهاء کرامو أقوال رانقل کوم :

۱ . "وَ" تُكْرَهُ وَهُوَ "مَكْشُوْفُ الرَّأْسِ" تَكَاسُلًا لِتَرْكِ الْوَقَارِ . (۱)

د سستۍ په وجه په بربنډ سَر مونځ کول مکروه دی ، ځکه په دې کې وَقار او عزت نشته .

۲ . لَوْ صَلَّى مَكْشُوْفَ الرَّأْسِ وَهُوَ يَجِدُ مَا يَسْتُرُ بِهِ الرَّأْسَ إِنْ كَانَ تَهَاوُنًا بِالصَّلَاةِ يُكْرَهُ . (۲)

که یو کس په بربنډ سَر مونځ اوکړو حالانکه دده سره د سَر پټولو د پاره څه شی (یعنی ټوپۍ یا پټکې) وُ نو که دده دا کار د سستۍ په وجه کړې وُ نو بیا دده مونځ مکروه دی .

۳ . وَتُكْرَهُ الصَّلَاةُ حَاسِرًا رَأْسَهُ لِلتَّكَاسُلِ وَعَدَمِ الْمُبَالَاةِ . (۳)

د هغه سړي مونځ مکروهه دی کوم چې د سستۍ او بې پَرواهۍ په وجه په مانځه کې خپل سَر بربنډ کړې وي .

۴ . په فتح القدیر کې ذکر دي : وَتُكْرَهُ الصَّلَاةُ أَيْضًا مَعَ تَشْمِيْرِ الْكُمِّ عَنِ السَّاعِدِ وَمَكْشُوْفِ الرَّأْسِ إِلَّا لِقَصْدِ التَّضَرُّعِ . (۴)

همدارنګې مونځ مکروهه دی په هغه حالت کې چې انسان لستوڼي د متونو پورې راټول کړي وي ، یا یې سَر بربنډ کړې وي ، البته که د تواضع او عاجزۍ د پاره وي نو بیا خیر دی .

۵ . ټولو احنافو فقهاؤ د سستۍ په وجه په سرتور سَر مونځ کولو ته مکروه ویلی :

اَلْحَنَفِيَّةُ عَدُّوا الْمَكْرُوْهَاتِ ... مِنْهَا الصَّلَاةُ وَهُوَ مَكْشُوْفُ الرَّأْسِ تَكَاسُلًا . (۵)

---

(۱) مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۱ / ۱۳۱ فصل في المكروهات

(۲) المحيط البرهاني في الفقه النعماني فقه الإمام أبي حنيفة رضي الله عنه ۵ / ۳۱۰ الفصل الرابع في الصلاة ...

(۳) درر الاحكام ج۱ ص ۳۷۵ ./ وَتُكْرَهُ الصَّلَاةُ حَاسِرًا رَأْسَهُ إِذَا كَانَ يَجِدُ الْعِمَامَةَ وَقَدْ فَعَلَ ذٰلِكَ تَكَاسُلًا أَوْ تَهَاوُنًا بِالصَّلَاةِ . وَلَا بَأْسَ بِهِ إِذَا فَعَلَهُ تَذَلُّلًا وَخُشُوْعًا بَلْ هُوَ حَسَنٌ . كَذَا فِي الذَّخِيْرَةِ . الفتاوى الهندية ۱ / ۱۰۸

(۴) فتح القدير للكمال ابن الهمام ۱ / ۴۱۸ فَصْلٌ يُكْرَهُ لِلْمُصَلِّي أَنْ يَعْبَثَ بِثَوْبِهِ أَوْ بِجَسَدِهِ .

(۵) الفقه على المذاهب الأربعة ۱ / ۲۵۵ عد مكروهات الصلاة مجتمعة .

Scanned with CamScanner

احنافو چې د مانځه کوم مکروهات شمار کړي په هغې کې يو مکروه دا هم دی چې انسان د سستۍ په وجه په سرتور سر مونځ کوي.

د مانځه د سپکاوي په وجه په سرتور سر مونځ کول کفر دی

په دې خبره ځان پوهه کړئ چې په سرتور سر مونځ کول هغه وخت مکروه دی چې انسان د سستۍ او بې پرواهۍ په وجه په سرتور سر مونځ کوي، او که ده د مانځه د سپکاوي او بې عزتۍ په وجه په برينډ سر مونځ اوکړو نو د ټولو فقهاؤ په نزد دا سړی کافر دی.

په مجمع الانهر کې ذکر دي: (وَحَاسِرَ الرَّأْسِ) أَيْ كَاشِفًا إِيَّاهُ وَهٰذَا إِذَا كَانَ لِلتَّكَاسُلِ وَقِلَّةِ رِعَايَتِهَا. لَا الْإِهَانَةِ بِهَا لِأَنَّهَا كُفْرٌ ... (۱)

په برينډ سر مونځ کول مکروه دي، خو دا هغه وخت مکروه دي چې انسان د سستۍ او بې پرواهۍ په وجه په سرتور سر مونځ کوي، د مانځه د سپکاوي په وجه يې نه کوي، ځکه که د مانځه د سپکاوي (او بې عزتۍ) په وجه يې په سرتور سر مونځ اوکړو نو دا کفر دی.

همدا خبره په در مختار او شامي کې هم ذکر شوی. (۲)

په فتاوی عثمانيه کې هم دا خبره ليکلې چې د سستۍ په وجه په سرتور سر مونځ کول مکروه دی ... د عذر او عاجزۍ پيدا کولو د وجې خېر دی، او که يو کس د مانځه د اهانت او سپکاوي د پاره په سرتور سر مونځ اوکړي نو په دې کې د کفر خطره ده. (۳)

---

(۱) مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر ۱/۱۲۳ فَصْلٌ مَا يُكْرَهُ فِي الصَّلَاةِ.

(۲) قال الحصكفي رحمه الله: :(وَ) يكره... (صَلَاتُهُ حَاسِرًا) أَيْ كَاشِفًا (رَأْسَهُ لِلتَّكَاسُلِ)، وَلَا بَأْسَ بِهِ لِلتَّذَلُّلِ، وَأَمَّا لِلْإِهَانَةِ بِهَا فَكُفْرٌ. الدر المختار.

قال ابن عابدين: (قَوْلُهُ لِلتَّكَاسُلِ) أَيْ لِأَجْلِ الْكَسَلِ، بِأَنْ اسْتَثْقَلَ تَغْطِيَتَهُ وَلَمْ يَرَهَا أَمْرًا مُهِمًّا فِي الصَّلَاةِ فَتَرَكَهَا لِذٰلِكَ، وَهٰذَا مَعْنَى قَوْلِهِمْ تَهَاوُنًا بِالصَّلَاةِ، وَلَيْسَ مَعْنَاهُ الِاسْتِخْفَافَ بِهَا وَالِاحْتِقَارَ لِأَنَّهُ كُفْرٌ شَرْحُ الْمُنْيَةِ. قَالَ فِي الْحِلْيَةِ: وَأَصْلُ الْكَسَلِ تَرْكُ الْعَمَلِ لِعَدَمِ الْإِرَادَةِ، فَلَوْ لِعَدَمِ الْقُدْرَةِ فَهُوَ الْعَجْزُ. رد المحتار على الدر المختار ۱/۶۴۱ بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّلَاةَ وَمَا يُكْرَهُ فِيهَا......

(۳) فتاوى عثمانيه ج۲ ص۱۸۷ فصل في المكروهات.

همدا خبره په فتاوی حقانيه کې هم ذکر ده. (۱)

په فتاوی فريديه کې ذکر دي چې بغير د ټوپۍ يا بغير د پټکي نه په سرتور سر مونځ کول خلاف سنت دي. . . (۲)

مفتي صاحب دا هم ليکلي چې د احرام په حالت کې او د عاجزۍ پيدا کولو د پاره په سرتور سر مونځ کول جائز دي، خو په عاجزۍ او تصنّع کې ډير غټ فرق دی. (۳)

په مانځه کې د سر پټولو ثبوت د قرآن کريم نه

الله تعالی فرمايي: ﴿ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ خُذُواْ زِينَتَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ ﴾. (۴)

ترجمه: اې د آدم اولاده! تاسو د هر مانځه په وخت خپلې ښائسته جامې واغوندئ.

پګړۍ او ټوپۍ (خولۍ) هم په زينت کې داخل ده.

مفتي شفيع رحمه الله په معارف القرآن کې د دې آيت په تشريح کې ليکلي چې د دې آيت نه دا معلومه شوه چې انسان ته په کار دي چې د مانځه د پاره د خپل وس مطابق بهترينې کپړې واغوندي.

حضرت حسن رضي الله عنه به هم د مانځه د پاره غوره لباس اغوستو، او ويل به يې چې: الله تعالی جمال خوښوي نو ځکه زه د خپل رب په وړاندې زينت او جمال اختياروم، الله تعالی فرمايي: ﴿ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ خُذُواْ زِينَتَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ ﴾.

مفتي شفيع رحمه الله دا هم ليکلي چې د نارينه د پاره په برېنډو څنګلو سره مونځ کول مکروه دي، که دا قميص د لنډو لستوڼو واله وي، يا ده لستوڼي رابډ وهلي وي.

همدا رنګې په داسې جامو کې هم مونځ مکروه دی چې په هغې کې انسان دوستانو او عامو خلقو ته ورتللو کې شرم محسوسوي لکه د قميص نه بغير بنيان اغوستل، يا د ټوپۍ په ځای په سر باندې د پوزې پاکولو دسمال (رومال) تړل.

---

(۱) فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۲۱۳ باب مکروهات الصلاة.

(۲) فتاوی فريديه ج ۲ ص ۳۱۳.

(۳) فتاوی فريديه ج ۲ وص ۳۱۲ باب الامامة فصل في الجماعة.

(۴) سورة الاعراف آية ۳۱.

ځکه په دې لباس کې انسان د دوستانو او نورو خلقو مخې ته ورتلل نه خوښوي نو بيا دا څنګه په دې لباس کې د الله ﷻ د وړاندې او دريږي ؟ (۱)

په مانځه کې د سَر پټولو ثبوت د احاديثو نه

۱. علامه ابن تيميه رحمه الله په مجموع الفتاوى کې دا خبره رانقل کړې .... چې کله عبدالله بن عمر رضي الله عنهما خپل غلام نافع اوليد چې په بربنډ سَر يې مونځ کولو ، نو ورته وې ويل : أَرَأَيْتَ لَوْ خَرَجْتَ إِلَى النَّاسِ كُنْتَ تَخْرُجُ هٰكَذَا ؟

دا راته اُووايه چې که چيرته ته د خلقو مجلس ته ورځې نو آيا ته به همداسې بربنډ سَر وراُوځې ؟

نافع ورته وويل : نه (بربنډ سر نه ورځم) .

ابن عمر رضي الله عنهما ورته وفرمايل : فَاللهُ أَحَقُّ مَنْ يُتَجَمَّلُ لَهُ . (۲)

الله تعالى ډير حقدار دى چې د هغه د پاره په مانځه کې ښائسته لباس واغوستې شي .

۲. امام شعراني رحمه الله د څه احاديثو ذکر کولو نه روستو ليکلي :

وَكَانَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُ بِسَتْرِ الرَّأْسِ فِي الصَّلَاةِ بِالْعِمَامَةِ أَوِ الْقَلَنْسُوَةِ . وَيَنْهٰى عَنْ كَشْفِ الرَّأْسِ فِي الصَّلَاةِ . وَيَقُوْلُ : إِذَا أَتَيْتُمُ الْمَسَاجِدَ فَأْتُوْهَا مُعَصِّبِيْنَ . وَالْعِصَابَةُ هِيَ الْعِمَامَةُ . (۳)

رسول الله صلى الله عليه وسلم به په مانځه کې په پټکي يا ټوپۍ سره د سَر پټولو حکم کولو ، او په مانځه کې به يې د سَر ښکاره کولو نه منع کوله ، او فرمائل به يې چې کله تاسو جُماتونو ته راځئ نو پټکي وهئ .

---

(۱) معارف القرآن سورة الاعراف في تشريح آية ۳۱ .

(۲) .... وَلِهٰذَا قَالَ ابْنُ عُمَرَ لِغُلَامِهِ نَافِعٍ لَمَّا رَآهُ يُصَلِّيْ حَاسِرًا : أَرَأَيْتَ لَوْ خَرَجْتَ إِلَى النَّاسِ كُنْتَ تَخْرُجُ هٰكَذَا؟ قَالَ : لَا. قَالَ : فَاللهُ أَحَقُّ مَنْ يُتَجَمَّلُ لَهُ . مجموع الفتاوى لابن تيميه ۲۲ / ۱۱۷ فصل في لباس الصلاة للمرءة والرجل .

(۳) كشف الغمة عن جميع الامة ج۱ ص ۱۲۲ .

فایده : امام شعراني رحمه الله چې دا کومه خبره ذکر کړې (چې وَيَنْهَى عَنْ كَشْفِ الرَّأْسِ فِي الصَّلَاةِ . نبي علیه السلام په مونځ کې د سَر بَرَبنډ کولو نه منع کړې) نو کیدې شي چې دده د نظر نه د نهي واله حدیث تېر شوې وي او دده د هغې خلاصه رانقل کړې وي، خو غالب گمان دادی چې دوی به په بَرَبنډ سَر باندې د مونځ کولو ممانعت ددې قاعدې نه معلوم کړې وي چې :

اَلْأَمْرُ بِالشَّيْءِ نَهْيٌ عَنْ ضِدِّهِ . د يو شي اَمر كول گويا چې دا د هغې د ضِد نه نهي ده.

نو چې کله نبي علیه السلام په مونځ کې د سَر پټولو حُکم کړی گویا چې دا په بَربنډ سَر د مونځ کولو نه نهي ده.

خلاصه : بهر حال خلاصه دا رااُوته چې په مانځه کې سَر پټول مُستحب دی، او دا د مانځه په آدابو کې داخل دی.

دا د کتابُ الله ، سُنت، اِجماع، د صحابه وُ او تابعینو د آثارو، او د عربو او عجمو علماؤ او فقهاؤ د اقوالو نه ثابت دی.

همدارنگې په دې باندې د اُمت د صُلحاؤ تَعامُل او عمَلي تواتُر هم رارَوان دی، تر دې پورې چې د غیرو مُقَلِّدینو د اکابرو فتوٰی هم په دې ده چې د مانځه په حالت کې په سَر باندې تو پۍ یا پټکې په سَر کول مستحب دی، او بِلا عُذره د سستۍ په وجه په بَربنډ سَر مونځ کول ندي په کار.

د نبي علیه السلام سَر مبارک به په عامو حالاتو کې هم پټ وُ

د رسول الله صلی الله علیه وسلم سَر مبارک به په عامو حالاتو کې هم پټ وُ ، یا به یې په سَر مبارک باندې پګړی وه، او یا به یې تو پۍ وه.

۱. حضرت انس ﷺ فرمایي : كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ الْقِنَاعَ ...(۱)

(۱) الشمائل المحمدية للترمذي رقم الحديث ۱۱۹ باب ما جاء في تقنع رسول الله صلى الله عليه وسلم . و رقم الحديث ۳۲ باب ما جاء في ترجل رسول الله صلى الله عليه وسلم

رسول الله صلی الله علیه وسلم به اکثره خپل سَر مبارک په کپړه باندې پټول .(۱)

فائده : چې کله به په عامو حالاتو کې د نبي علیه السلام سَر مبارک پټ ؤ نو په مانځه کې خو به یې په طریقِ اولی باندې پټ ؤ .

۲. صرف د احادیثو په دې پنځو کتابونو " ابوداؤد ، ترمذي ، نسائي ، ابن ماجه او مصنَّف ابن ابي شیبه " کې په یو سل او شپږ څلویښتو (۱۴۶) مرفوع او موقوف احادیثو کې د نبي علیه السلام ، صحابه کرامو ، او تابعینو د پټکي او ټوپۍ (خولۍ) ذکر راغلی .

ددینه علاوه په سوونو کتابونو کې د سَر د پټولو متعلق احادیث راغلي دي . بیا خاصکر مُحدِّثینو او شارحینو د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د پګړۍ او ټوپۍ متعلق مختلف قسمه بحثونه کړي :

مثلاً د پیغمبر علیه السلام د پګړۍ رنګ څنګه ؤ ؟ دوی ته کوم قِسم رنګ خوښ ؤ ؟ په کومه موقع باندې یې کوم رنګ واله پټکې وهلې ؤ ؟ د پټکي نه لاندې یې ټوپۍ وه او که نه ؟ د پَټکي اُوږدوالې یې څومره ؤ ؟ د پَټکي یې څو شملې پریخودی ؟ دا شملې یې خې طرف پریخودی او که چَپ (ګس) طرف ؟ پټکې به یې څنګه تاوول ؟ او دوی څو قسمه ټوپۍ په سَر کړې وی ؟

نو که چیرته په عامو حالاتو او بیا خاصکر په مانځه کې د سَر پټولو څه اَهمیت نه وی نو بیا په احادیثو کې د پَټکي او ټوپۍ متعلق دا دومره ډیر احادیث ولې ذکر کیدل ؟

همدا رنګې د نبي علیه السلام د ژوند ټول حالات په احادیثو کې محفوظ دي تر دې پورې چې د پیغمبر علیه السلام د ګیرې مبارک د سپینو ویښتانو تعداد هم په احادیثو کې ذکر دی ، لیکن ددې باوجود تر اوسه پورې یو مُحدِّث یا یو شارح هم دا خبره نده نقل کړې چې ګني د پیغمبر علیه السلام عادتِ مبارکه دا ؤ چې په بَربَنډ سر به ګرځیدو ، یا یې همیشه په سَرتور سَر مونځ کړی .

---

(۱) والقناع : خرقة توضع علی الرأس حين استعمال الدهن.

په احاديثو کې د نبي ﷺ د پټکي (پګړۍ) تذکره

١ . د مسلم شريف حديث دی ... اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ النَّاسَ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ . (١)

رسولُ الله ﷺ خلقو ته خُطبه ويله ، او د دوی په سَر مبارک باندې توره پګړۍ وه.

٢ . د نبي عليه السلام آخري خُطبې ورکولو په وخت باندې هم د دوی په سَرِمبارک باندې پَټکې وُ ، امام بخاري رحمه الله دا حديث څو ځايه رانقل کړی ، د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ په حديث کې دا الفاظ ذکر دي : ... قَدْ عَصَبَ رَأْسَهُ بِعِصَابَةٍ دَسِمَةٍ . (٢)

نبي عليه السلام په خپل سَر باندې تور پَټکې تړلې وُ . (٣)

٣ . امام بخاري رحمه الله په دې باندې مستقِل باب هم قائم کړی "بَابُ التَّقَنُّعِ . (٤) "

او بيا يې په دې کې د نبي عليه السلام د آخِري خُطبې په وخت په پټکې سره د سَر تړلو

---

(١) صحيح مسلم كِتَابُ الْحَجِّ بَابُ جَوَازِ دُخُولِ مَكَّةَ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ رقم الحديث ٤٥٢ (١٣٥٩).

و في رواية: عَنْ جَعْفَرِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: «كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ، وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ، قَدْ أَرْخَى طَرَفَيْهَا بَيْنَ كَتِفَيْهِ» . صحيح مسلم كِتَابُ الْحَجِّ بَابُ جَوَازِ دُخُولِ مَكَّةَ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ رقم الحديث ٤٥٣ (١٣٥٩).

وفي رواية: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ، وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ» . صحيح مسلم كِتَابُ الْحَجِّ بَابُ جَوَازِ دُخُولِ مَكَّةَ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ رقم الحديث (١٣٥٨) ، و رقم الحديث ٤٥١ (١٣٥٨).

(٢) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: صَعِدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمِنْبَرَ، وَكَانَ آخِرَ مَجْلِسٍ جَلَسَهُ مُتَعَطِّفًا مِلْحَفَةً عَلَى مَنْكِبَيْهِ، قَدْ عَصَبَ رَأْسَهُ بِعِصَابَةٍ دَسِمَةٍ .... صحيح البخاري كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ مَنْ قَالَ فِي الْخُطْبَةِ بَعْدَ الثَّنَاءِ: أَمَّا بَعْدُ رقم الحديث ٩٢٧ .

(٣) (بِعِصَابَةٍ دَسِمَةٍ) : بعمامة تغير لونها من كثرة الطيب والدهن . أو هي سوداء كلون الزيت الدسم. تعليق مصطفى البغا على البخاري

(٤) په عمدة القاري کې ، تقنّع معنی ليکلې ده چې سَر په پګړۍ و غيره سره تړل.

احاديث را نقل کړي . حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي :

خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ عِصَابَةٌ دَسْمَاءُ . (۱)

نبي عليه السلام را اووت ، او د دوی په سر مبارک باندې تور رېښکې و .

۴ . حضرت علي رضي الله عنه فرمايي :

كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْبَسُ الْعِمَامَةَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ... (۲)

رسول الله صلی الله علیه وسلم به د جمعې په ورځ پټکې وهلو .

۵ . حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي :

كَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ يَلْبَسُهَا فِي الْعِيدَيْنِ ، وَيُرْخِيهَا خَلْفَهُ . (۳)

د نبي کريم صلی الله علیه وسلم تور پټکې و چې دا به يې په اخترونو کې تړل ، او د دې شمله به يې شاته پريخوده .

۶ . حضرت ابوهريرة رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بعضې صحابه کرامو نه دا خبره را نقل کوي :

مَا خَرَجَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ إِلَّا وَهُوَ مُعْتَمٌّ ... وَإِنْ لَمْ تَكُنْ عِمَامَتُهُ وَصَلَ الْخِرْقَةَ بَعْضَهَا عَلَى بَعْضٍ وَاعْتَمَّ بِهَا . (۴)

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ اللِّبَاسِ بَابُ التَّقَنُّعِ.

وَقَالَ الْكِرْمَانِي: و دسماء. قيل: الْمُرَاد بِهَا سَوْدَاء. وَيُقَال: ثوب دسم أَي: وسخ. وَجزم ابْن الْأَثِير أَن دسماء سَوْدَاء. عمدة القاري شرح صحيح البخاري ۲۱/ ۳۰۸ باب التقنع

(۲) سبل الهدى والرشاد في سيرة خير العباد ۸/ ۲۰۷ جماع أبواب سيرته صلى الله عليه وسلم في يوم الجمعة وليلتها في تجمله صلّى الله عليه وسلم . واخرجه ابن عدي في كامله ۷/ ۶۵ ، وأخرجه من طريق عبد الله بن الزبير الطبراني في الكبير والبزار وفيه ابن لهيعة المجمع ۲/ ۱۹۰.

(۳) سبل الهدى والرشاد في سيرة خير العباد ۷ / ۲۱۲ الباب الثاني عشر في ألوان الثياب التي لبسها صلّى الله عليه وسلم الرابع: في لبسه صلّى الله عليه وسلم الأسود.

(۴) ورواه ابن عدي الهيثم بن جميل عن موسى بن مطير عن أبيه عن عبد الله بن عمر، وأبي هريرة فذكره، قال ابن عساكر: هذا الإسناد أشبه ، سبل الهدى والرشاد في سيرة خير العباد ۷ / ۲۷۱ جماع أبواب سيرته صلى الله عليه وسلم في لباسه وذكر ملبوساته الباب الثاني في سيرته صلّى الله عليه وسلم في العمامة ، ابن عساكر ج ۴ ص ۱۹۱ .

Scanned with CamScanner

رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته د جُمعې په ورځ بغیر د پټکي نه ندي راوتی (بلکه همیشه به یې پټکی و) او که چیرته پټکي به نهٔ نو بیا به یې څه کپړې سره یو ځای کړي او د هغې نه به یې پټکی اووهل.

فایده: د دې حدیث نه معلومه شوه چې پیغمبر علیه السلام به په مانځه کې د سرپټولو دومره اِهتمام کولو چې که د دوی سره به پګړۍ نه وه نو د کپړو څه ټوټې به یې سره یو ځای کړې او د هغې نه به یې پګړۍ جوړه کړه، او د سر نه به یې تاؤ کړه.

۷. حضرت انس ﷺ فرمايي: عَصَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رَأْسِهِ حَاشِيَةَ بُرْدٍ .(۱)

نبي کريم ﷺ د خپل سر مبارک نه د څادر غاړه د پټکي په شکل تاؤ کړې وه.

۸. د پیغمبر علیه السلام د آخِري مونځ کولو په وخت هم د دوی په سر باندې پټکی وُ.

په احاديثو کې د نبي ﷺ د ټوپۍ (خولۍ) تذکره

په احاديثو کې د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د ټوپۍ په سر کولو تذکره هم راغلې:

۱. حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي:

رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ قَلَنْسُوَةٌ بَيْضَاءُ شَامِيَّةٌ .(۲)

ما رسولُ الله صلی الله علیه وسلم اُولید چې د دوی په سر باندې سپینه شامي ټوپۍ وه (کوم چې اُوچته نه وه).

۲. حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي: انَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَلْبَسُ مِنَ الْقَلَانِسِ فِي السَّفَرِ ذَوَاتِ الْآذَانِ، وَفِي الْحَضَرِ الْمُشَمَّرَةَ. يَعْنِي الشَّامِيَّةَ. (۳)

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ اللِّبَاسِ بَابُ التَّقَنُّعِ.

(۲) اخلاق النبي وآدابه لابي الشيخ الاصبهاني رقم الحديث ۳۱۳ ذِكْرُ قَلَنْسُوَتِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. سبل الهدى والرشاد في سيرة خير العباد ۷/ ۲۸۴

(۳) اخلاق النبي وآدابه لابي الشيخ الاصبهاني رقم الحديث ۳۱۴ ذِكْرُ قَلَنْسُوَتِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وفي رواية: عَنْ جَرِيرِ بْنِ عُثْمَانَ، قَالَ: لَقِيتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ بُسْرٍ، فَقُلْتُ: أَخْبِرْنِي، قَالَ: رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَهُ قَلَنْسُوَةٌ طَوِيلَةٌ، لَهَا أُذُنَانِ، وَقَلَنْسُوَةٌ لَاطِيَةٌ. اخلاق النبي وآدابه لابي الشيخ الاصبهاني رقم ۳۱۶.

Scanned with CamScanner

نبي كريم صلى الله عليه وسلم به په سفر كې هغه ټوپۍ په سر كوله چې غوږونه به يې وو، او په حضر (يعنى مُقيم والي په حالت) كې به يې هغه ټوپۍ په سر كوله چې د غوږونو والا به نه وه، او ډيره اوچته به هم نه وه (يعنى شامي ټوپۍ).

۲. همدارنګې د پيغمبر عليه السلام په باره كې نقل دي چې كله به دوى سپينه ټوپۍ په سر كوله، كله به يې ښائسته مُنقشه ټوپۍ، او كله د غوږونو واله ټوپۍ په سر كوله. (۱)

صحابه كرامو به په عامو حالاتو او مانځه كې د سر پټولو اهتمام كولو

صحابه كرامو او تابعينو به هم په عامو حالاتو او بيا خاصكر په مانځه كې د سر پټولو پوره اِهتمام كولو، دوى په سرتور سر مونځ كول هيڅ كله عادت ندې ګرځولى.

۱. په بخاري شريف كې دا خبره ذكر ده:

وَقَالَ الحَسَنُ: «كَانَ القَوْمُ يَسْجُدُونَ عَلَى العِمَامَةِ وَالقَلَنْسُوَةِ ...». (۲)

حسن بصري رحمه الله فرمايي چې قوم (يعنى صحابه كرامو) به (د ګرمۍ په وجه) د پګړۍ په وَل او ټوپۍ باندې سجده كوله. (يعنى د ډيرې ګرمۍ په وجه به يې د پګړۍ وَل يا ټوپۍ تندي طرف ته راوست او په دې به يې سجده او كړه).

۲. حضرت علاء فرمايي: رَأَيْتُ الحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا يُصَلِّي وَهُوَ مُقَنَّعٌ

---

(۱) وفي رواية: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ: كَانَ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثُ قَلَانِسَ: قَلَنْسُوَةٌ بَيْضَاءُ مُضَرَّبَةٌ، وَقَلَنْسُوَةٌ بُرْدٍ حِبَرَةٌ، وَقَلَنْسُوَةٌ ذَاتُ آذَانٍ، يَلْبَسُهَا فِي السَّفَرِ، وَ رُبَّمَا وَضَعَهَا بَيْنَ يَدَيْهِ إِذَا صَلَّى. اخلاق النبي وآدابه لابي الشيخ الاصبهاني رقم الحديث ۳۱۵. سبل الهدى والرشاد في سيرة خير العباد ۷/ ۲۸۴ الباب الثالث في قلنسوته صلى الله عليه وسلم.

و روى الأربعة وأبو الشيخ وابن حبّان عن عبد الله بن بسر رضي الله تعالى عنه قال: رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم وله قلنسوة مصريّة، وقلنسوة لها آذان، وقلنسوة لاطئة. سبل الهدى والرشاد في سيرة خير العباد ۷/ ۲۸۴ الباب الثالث في قلنسوته صلى الله عليه وسلم

(۲) صحيح البخاري، كِتَابُ الصَّلَاةِ، بَابُ السُّجُودِ عَلَى الثَّوْبِ فِي شِدَّةِ الحَرِّ.

Scanned with CamScanner

رَأْسَهُ . (۱)

ما حضرت حسن بن علي ﷺ اوليد چې مونځ يې كولو او سَريې پټ كړې وُ.

۳ . د بخاري شريف حديث دی :

عَنْ مُعْتَمِرٍ ، سَمِعْتُ أَبِي قَالَ : « رَأَيْتُ عَلَى أَنَسٍ ﷺ بُرْنُسًا أَصْفَرَ مِنْ خَزٍّ » . (۲)

معتمر وايي چې ما د خپل پلار نه آوريدلي دي چې فرمايل يې : ما د حضرت انس ﷺ په سَر باندې د وريښمو او وَړې نه جوړه شوی زيړه ټوپۍ اوليده .

٤ . امام بخاري رحمه الله د ابواِسحاق په باره كې نقل كړي :

وَضَعَ أَبُو إِسْحَاقَ قَلَنْسُوَتَهُ فِي الصَّلَاةِ وَرَفَعَهَا . (۳)

ابو اسحاق په مانځه كې خپله ټوپۍ ښكته او پورته كړه .

۵ . د حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما په باره كې نقل دي :

أَنَّهُ كَانَ إِذَا مَسَحَ رَأْسَهُ رَفَعَ الْقَلَنْسُوَةَ ، وَمَسَحَ مُقَدَّمَ رَأْسِهِ . (۴)

ابن عُمر رضي الله عنهما به چې كله په سَر باندې مَسح كوله نو ټوپۍ به يې اوچته كړه او د سَر په مخكې حصه به يې مَسح اوكړه .

نو چې كله صحابه كرامو په عامو حالاتو كې پټكي يا ټوپۍ په سَر كوله نو په مانځه كې خو به يې په طريقِ اَولی په سَر كوله .

---

(۱) رواه سعيد بن منصور وابن أبي شيبة وابن سعد في الطبقات عن العلاء ، سبل الهدى والرشاد في سيرة خير العباد ۷ / ۲۹۱ الباب الثالث في قلنسوته صلى الله عليه وسلم

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ اللِّبَاسِ بَابُ البَرَانِسِ رقم ۵۸۰۲ .

(خز) هو حرير يخلط بوبر وشبهه ، وقيل : هو ما أحن نوعيه _ السدى أو اللحمة _ حرير . تعليق مصطفى البغا على البخاري .

(۳) صحيح البخاري أَبْوَابُ العَمَلِ فِي الصَّلَاةِ بَابُ اسْتِعَانَةِ اليَدِ فِي الصَّلَاةِ إِذَا كَانَ مِنْ أَمْرِ الصَّلَاةِ .

(۴) السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۲۸۵ جِمَاعُ أَبْوَابِ سُنَّةِ الْوُضُوءِ وَفَرْضِهِ بَابُ إِيجَابِ الْمَسْحِ بِالرَّأْسِ وَإِنْ كَانَ مُتَعَمِّمًا

Scanned with CamScanner

پټکي د عزت لباس دی

رسول الله صلی الله علیه وسلم پټکي د عزت جامه ګرځولی ، دغه وجه ده چې نبي علیه السلام او صحابه کرامو به په عامو حالاتو او مانځه کې پټکي وهلې ؤ :

۱. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

اَلْعَمَائِمُ تِيْجَانُ الْعَرَبِ . فَإِذَا وَضَعُوا الْعَمَائِمَ وَضَعُوْا عِزَّهُمْ . (۱)

پټکي د عربو تاج دی ، پس کله چې دوی خپل پټکي لرې کړل نو دوی خپل عزت اوغورځول.

۲. نبي علیه السلام فرمايي :

اَلْعَمَائِمُ وَقَارٌ لِلْمُؤْمِنِ وَعِزٌّ لِلْعَرَبِ ، فَإِذَا وَضَعَتِ الْعَرَبُ عَمَائِمَهَا وَضَعَتْ عِزَّهَا . (۲)

پټکي د مومنانو د پاره وقار دی ، او د عربو د پاره عزت دی ، پس کله چې عربو خپل پټکي لرې کړل نو دوی خپل عزت اوغورځول.

(۱) کنز العمال کتاب المعيشة والعادات من قسم الأقوال الباب الثالث: في اللباس فرع في العمائم رقم الحديث ۴۱۱۳۳.

(۲) ورالذيلی مرجع رقم الحديث ۴۱۱۳۷ .

پګړۍ (پټکي) سره د مونځ کولو شرعي حيثيت

ددې په باره کې درته د يو څو معتمدو فتاؤو حوالې رانقل کوم ددې د پاره چې ددې مسئلې هر اړخ پوره واضح شي.

په **فتاوی حقانيه** کې ذکر دي: په دې کې هيڅ شک نشته چې پګړۍ وهل د رسول الله صلی الله عليه وسلم سُنت ده، خو دا په سُننِ عاديه ؤ کې داخل ده. يعنی نبي عليه السلام پټکې استعمال کړی او خوښ کړی. او د دوی لِباس خو د عزت لباس ګڼلې شي.

ددې د وجې نه که يو سړې په مانځه کې د الله ﷻ د وړاندې اُودريږي نو په کار ده چې د عزت لباس استعمال کړي، فقهاء کرامو هم پټکي سره د مونځ کولو ترغيب ورکړی. (۱)

البته دا پټکې د مانځه سره خاص ندی، بلکه هر وخت يې تړل مستحب دي. همدا رنګې دا د اِمام سره هم خاص ندی بلکه د هر کس د پاره مستحب دی.

خو که د چا سره پټکې نه وي نو بغير د پټکي نه هم په مونځ کولو کې څه حرَج نشته. (۲)

---

(۱) وَالْمُسْتَحَبُّ أَنْ يُصَلِّيَ فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ قَمِيصٍ وَإِزَارٍ وَعِمَامَةٍ. البحر الرائق شرح كنز الدقائق بَابُ شُرُوطِ الصَّلَاةِ ۱ / ۲۸۳، و ۲ / ۲۷، تحفة الفقهاء ۱ / ۱۴۶ بَابُ مَا يُسْتَحَبُّ فِي الصَّلَاةِ، بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱ / ۲۱۹ فَصْلٌ بَيَانُ مَا يُسْتَحَبُّ فِي الصَّلَاةِ وَمَا يُكْرَهُ، المحيط البرهاني في الفقه النعماني ۱ / ۳۷۷، البناية شرح الهداية ۲ / ۴۴۷ كف الثوب في الصلاة، مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۱ / ۱۲۸، مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر ۱ / ۸۰ بَابُ شُرُوطِ الصَّلَاةِ، حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ۱ / ۳۴۹.

(۲) قال طاهر رحمه الله: وفى الاصل لابأس بأَنْ يُصَلِّيَ الرجل في ثوب واحد متوشحا، ويؤم كذلك. وَالْمُسْتَحَبُّ أَنْ يُصَلِّيَ الرَّجُلُ فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ: قَمِيصٍ، وَإِزَارٍ، وَعِمَامَةٍ. أَمَّا لَوْ صَلَّى فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ مُتَوَشِّحًا بِهِ جميع بدنه كازار الميت يَجُوزُ صَلَاتُهُ مِنْ غَيْرِ كَرَاهَةٍ. خلاصة الفتاوی ج۱ ص ۷۳ الفصل السادس في ستر العورة. حلبي كبير ص ۲۱۶ شرائط الصلاة فروع في الستر، مراقي الفلاح مع الطحطاوي ص ۱۷۰ باب شروط الصلاة، البحر الرائق ج۱ ص ۲۶۹ باب شروط الصلاة.

وَالْمُسْتَحَبُّ أَنْ يُصَلِّيَ الرَّجُلُ فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ: قَمِيصٍ، وَإِزَارٍ، وَعِمَامَةٍ. أَمَّا لَوْ صَلَّى فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ مُتَوَشِّحًا بِهِ تَجُوزُ صَلَاتُهُ مِنْ غَيْرِ كَرَاهَةٍ. الفتاوی الهندية ۱ / ۹۵ اَلْبَابُ الثَّالِثُ فِي شُرُوطِ الصَّلَاةِ اَلْبَابُ الثَّالِثُ فِي شُرُوطِ الصَّلَاةِ

.... نور د آينده صفحي په لاندې حاشيه کې اوګوره ....

البته که يو کس پټکي (پګړۍ) د عزت لباس ګڼي ، بهر مجلس ته د تللو په وخت هم پټکي وهي نو د داسې کس د پاره بغير د پټکي نه مونځ کول مکروه دي .

خو که يو کس د پټکي وهلو پابند ندی ، او نه پګړی وهل دده عادت وي نو که دا بغير د پټکي نه صرف په ټوپۍ کې خلقو ته امامت کوي نو هم خير دی .

ليکن که په يوه علاقه کې په پټکي نه وهلو سره فتنه او فساد پيدا کيږي نو بيا په کار ده چې هلته بغير د پټکي نه مونځ اونشي ، ځکه د پټکي د استحباب په باره کې ډير روايات راغلي دي ، بل دا چې د فتنې او فساد نه بچ کيدل هم ضروري دي . (۱)

په **فتاوی عثمانيه** کې ذکر دي : بې د شک و شبهې نه رسول الله صلی الله عليه وسلم پګړی په سر کړی ، او دا سُنت ده ، خو ليکن د علماؤ په نزد دا په سُنن عاديه ؤ کې شامله ده ، په سُنن هُدیٰ (يعنی سُنتِ مؤکد) کې نده چې ګڼي ددې په نه وهلو سره سړې ګناهګار يږي . البته که يو کس د رسول الله ﷺ سره د محبت او عقيدت په وجه په سُنن عاديه ؤ باندې عمل کوي نو دا د ثواب او برکت ذريعه ګرځي .

په پګړی سره مونځ کول مستحب او د ثواب ذريعه ده ، ليکن پګړی دومره لازم ګرځول غلط دي چې ګڼي ددې نه بغير مونځ نه کيږي .

په عوامو کې چې دا کومه خبره مشهوره شوی چې " د پګړی نه بغير مونځ کول مکروه دی " دا خبره غلطه ده ، ځکه صرف په ټوپۍ باندې مونځ کولو کې هم هيڅ کراهت نشته ، البته د پګړی سره مونځ کول بهتر او افضل دی .

و قد ذكروا أنّ المستحبّ أَنْ يُصلّي فِيْ قَمِيصٍ، وَإِزَارٍ، وَعِمَامَةٍ . و لايكره الاكتفاءُ بالقلنسوةِ . ولا عبرةَ بما اشتُهر بينَ العوام مِنْ كراهة ذلك ، وكذا ما اشتهر أنّ المؤتمّ لوكان

(۲) قَالَ العلامة الحصكفي رحمه الله : وَلَيْسَ لِلْخَاصِّ أَنْ يَعْمَلَ لِغَيْرِهِ ، وَلَوْ عَمِلَ نَقَصَ مِنْ أُجْرَتِهِ بِقَدْرِ مَا عَمِلَ . فَتَاوَى النَّوَازِلِ . الدر المختار . قَالَ ابن عابدين رحمه الله : (قَوْلُهُ : وَلَيْسَ لِلْخَاصِّ أَنْ يَعْمَلَ لِغَيْرِهِ) بَلْ وَلَا أَنْ يُصَلِّيَ النَّافِلَةَ. قَالَ فِي التتارخانية : وَفِي فَتَاوَى الْفَضْلِيِّ وَإِذَا اسْتَأْجَرَ رَجُلًا يَوْمًا يَعْمَلُ كَذَا فَعَلَيْهِ أَنْ يَعْمَلَ ذَلِكَ الْعَمَلَ إلَى تَمَامِ الْمُدَّةِ وَلَا يَشْتَغِلُ بِشَيْءٍ آخَرَ سِوَى الْمَكْتُوبَةِ. وَفِي فَتَاوَى سَمَرْقَنْدَ : وَقَدْ قَالَ بَعْضُ مَشَايِخِنَا لَهُ أَنْ يُؤَدِّيَ السُّنَّةَ أَيْضًا. وَاتَّفَقُوا أَنَّهُ لَا يُؤَدِّي نَفْلًا وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى. رد المحتار على الدر المختار ٦ / ٧٠ كِتَابُ الإِجَارَةِ مَبْحَثُ الأَجِيرِ الخَاصِّ مَطْلَبٌ لَيْسَ لِلأَجِيرِ الخَاصِّ أَنْ يُصَلِّيَ النَّافِلَةَ . فتاوى فريديه ج ۲ ص ۵۵۸ باب السنن والنوافل.

Scanned with CamScanner

ورله ضروري ندي، خو مونځ به هرګز نه قضاء کوي ۰ (۱)

د زلزلې په وخت مونځ ماتول جائز دي

بغير عُذره مونځ ماتول جائز ندي خو ځنې عُذرونه داسې دي چې د هغې په وجه مونځ ماتول جائز دي ؛ مثلاً د مال د هلاکت خطره وي ، يا د بدن ضائع کيدو يره وي ....

زلزله هم داسې اتفاقي حادثه ده چې په دې کې د کورونو راغورځيدو او هلاکت خطره وي ، لهذا که يو کس ځانله مونځ کوي يا په جَمعې سره مونځ کوي او په دې دَوران کې زلزله راشي نو مونځ ماتول جائز دي . په عالمګيري کې ذکر دي :

رَجُلٌ كَانَ فِي الْبَيْتِ أَخَذَتْهُ الزَّلْزَلَةُ لَا يُكْرَهُ لَهُ الْفِرَارُ إِلَى الْفَضَاءِ ، بَلْ يُسْتَحَبُّ لِمَا رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ « أَنَّهُ مَرَّ بِحَائِطٍ مَائِلٍ فَأَسْرَعَ فِي الْمَشْيِ ، فَقِيلَ لَهُ : أَتَفِرُّ مِنْ قَضَاءِ اللهِ ؟ قَالَ : أَفِرُّ مِنْ قَضَاءِ اللهِ إِلَى قَضَاءِ اللهِ » . (۲)

که يو کس په کور کې وي او په دې وخت کې زلزله راشي نو ده ته بهر ميدان طرف ته منډه وهل مکروه نده ، بلکه مستحب ده ، ځکه رواياتو کې راځي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم د يو کوږ ديوال سره تيريدو (چې د هغې د غورځيدو خطره وه) نو پيغمبر عليه السلام په تللو کې جلتي اوکړه ، د دوی نه پوښتنه اوشوه :

أَتَفِرُّ مِنْ قَضَاءِ اللهِ ؟ آيا تاسو د الله ﷻ د قضاء (او تقدير) نه تختئ ؟

دوی ورته وفرمايل : أَفِرُّ مِنْ قَضَاءِ اللهِ إِلَى قَضَاءِ اللهِ » .

زه د الله ﷻ د قضاء نه هم د الله قضاء طرف ته تختم ۰ (۳)

---

(۱) فصل : يسقط حضور الجماعة بواحد من ثمانية عشر شيئاً . منها ... وخوف " ظالم " . قوله : "وخوف ظالم" أي على نفسه أو ماله أو خوف ضياع ماله أو خوف ذهاب قافله لو اشتغل بالصلاة جماعة . حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ۱ / ۲۹۷ كتاب الصلاة فصل: يسقط حضور الجماعة بواحد من ثمانية عشر شيئا . فتاوى فريديه ج ۲ ص ۱۴۲ كتاب الصلاة .

(۲) الفتاوى الهندية ۵ / ۳۷۹ كِتَابُ الْكَرَاهِيَةِ اَلْبَابُ الثَّلَاثُونَ فِي الْمُتَفَرِّقَاتِ .

(۳) فتاوى عثمانى ج ۲ ص ۱۳۶ .

بيا خاصکر که زلزله دومره سخته وي چې د آبادۍ راغورځيدو ظنّ غالب وي نو بيا خو د مونځ ماتول ضروري دي . (۱)

بل دا چې کله د مالي نقصان نه د بچ کيدو په خاطر مونځ ماتول جائز دي نو په زلزله کې خو د جاني نقصان خطره ده لهذا په دې کې خو به په طريقِ اولیٰ مونځ ماتول جائز وي. (۲)

د مانځه نه پس د ذکر بِالجَهر حُکم ، او په لاؤډسپيکر باندې د ذکر کولو حکم

بعضې خلق د جُمعې د مانځه پس دومره په زوره باندې لااله الا الله او نور ذکرونه کوي چې په دې سره مسبوق اکثر په مانځه کې خطا شي نو ددې حُکم دادی چې : ذکر بِالجَهر جائز دی خو چې کله ددې په وجه بل چاته ضرر رسي نو بيا مکروه دی .

همدارنګې چې کله په لاؤډ سپيکر باندې په ذکر کولو سره نورو خلقو ته تکليف رسي نو دا هم مکروه دی . (۳)

---

(۱) قَال العلامة حسن بن علي الشرنبلالي رحمه الله : "و" يجوز قطعها لخشية "خوف" من "ذئب" ونحوه "على غنم" ونحوها "أو خوف تردي" أي سقوط "أعمى" أو غيره ممن لا علم عنده "في بئر ونحوه" كحفرة وسطح . وإذا غلب على الظن سقوطه وجب قطع الصلاة ولو فرضاً . مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۱ / ۱۳۸ باب ما يفسد الصلاة فصل فيما يوجب قطع الصلاة وما يجيزه وغير ذلک ، فتاوی فريديه ج۲ ص ۲۹۶ باب ما يفسد الصلاة .

(۲) قال ابن عابدين رحمه الله : نُقِلَ عَنْ خَطِّ صَاحِبِ الْبَحْرِ عَلَى هَامِشِهِ أَنَّ الْقَطْعَ يَكُونُ حَرَامًا وَمُبَاحًا وَمُسْتَحَبًّا وَوَاجِبًا. فَالْحَرَامُ لِغَيْرِ عُذْرٍ وَالْمُبَاحُ إذَا خَافَ فَوْتَ مَالٍ . وَالْمُسْتَحَبُّ الْقَطْعُ لِلْإِكْمَالِ. وَالْوَاجِبُ لِإِحْيَاءِ نَفْسٍ. رد المحتار على الدر المختار ۲ / ۵۲ مَطْلَبٌ قَطْعُ الصَّلَاةِ يَكُونُ حَرَامًا وَمُبَاحًا وَمُسْتَحَبًّا وَوَاجِبًا.

وفي الهندية : وَكَذَا الْأَجْنَبِيُّ إذَا خَافَ أَنْ يَسْقُطَ مِنْ سَطْحٍ أَوْ تُحْرِقَهُ النَّارُ أَوْ يَغْرَقَ فِي الْمَاءِ وَاسْتَغَاثَ بِالْمُصَلِّي وَجَبَ عَلَيْهِ قَطْعُ الصَّلَاةِ. رَجُلٌ قَامَ إلَى الصَّلَاةِ فَسُرِقَ مِنْهُ شَيْءٌ قِيمَتُهُ دِرْهَمٌ لَهُ أَنْ يَقْطَعَ الصَّلَاةَ وَيَطْلُبَ السَّارِقَ سَوَاءٌ كَانَتْ فَرِيضَةً أَوْ تَطَوُّعًا ، لِأَنَّ الدِّرْهَمَ مَالٌ. الفتاوى الهندية ۱ / ۱۰۹ كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْبَابُ السَّابِعُ فِيمَا يُفْسِدُ الصَّلَاةَ وَمَا يُكْرَهُ فِيهَا الْفَصْلُ الثَّانِي فِيمَا يُكْرَهُ فِي الصَّلَاةِ وَمَا لَا يُكْرَهُ. فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۲۲۳ .

(۳) قال ابن عابدين رحمه الله : وَفِي حَاشِيَةِ الْحَمَوِيِّ عَنْ الْإِمَامِ الشَّعْرَانِيِّ: أَجْمَعَ الْعُلَمَاءُ سَلَفًا وَخَلَفًا عَلَى اسْتِحْبَابِ ذِكْرِ الْجَمَاعَةِ فِي الْمَسَاجِدِ وَغَيْرِهَا إلَّا أَنْ يُشَوِّشَ جَهْرُهُمْ عَلَى نَائِمٍ أَوْ مُصَلٍّ أَوْ قَارِئٍ . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۶۶۰ كِتَابُ الصَّلَاةِ مَطْلَبٌ فِي رَفْعِ الصَّوْتِ بِالذِّكْرِ .

Scanned with CamScanner

كومو خلقو ته چې په لاؤډ سپيكر باندې ذكر كولو سره جذب راځي او بغير د لاؤډ سپيكر نه ورته ذِكر مزه نه وركوي نو داسې ذاكِر بيمار دى.(١)

او كومو خلقو ته چې د لاؤډ سپيكر ذِكر ضرور رسوي ليكن په زوره سَندرې اوريدل ورته ضرر نه رسوي نو داسې كس هم بيمار دى.(٢)

بَغير عُذره د خپل كلي جُمات پريښودل او بل جُمات ته تلل ندي په كار

د جُمات د آبادۍ دارو مدار په مونځ گزارو باندې موقوف دى، بيا خاصكر د خپل كلي او خپلې مَحلې واله په مونځ گزارو باندې.

---

(١) ﴿تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ﴾. قال العلامة آلوسي رحمه الله: .. وليس فيها نعتهم بالصعق والتواجد والصفق كما يفعله بعض الناس. أخرج سعيد بن منصور وابن المنذر وابن مردويه وابن أبي حاتم وابن عساكر عن عبد الله بن عروة بن الزبير قال: قلتُ لجدتي أسماء كيف كان يصنع أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا قرؤوا القرآن؟ قالت: كانوا كما نعتهم الله تعالى تدمع أعينهم وتقشعر جلودهم. قلتُ: فإنّ ناسا هاهنا إذا سمعوا ذلك تأخذهم غشية. قالت: أعوذ بالله تعالى من الشيطان.

وأخرج الزبير بن بكار في الموفقيات عن عامر عن عبد الله بن الزبير قال: جئتُ أمي فقلتُ وجدتُ قومًا ما رأيتُ خيرا منهم قط يذكرون الله تعالى فيرعد أحدهم حتى يغشى عليه من خشية الله تعالى. فقالتْ: لا تقعد معهم. ثم قالتْ: رأيتُ رسول الله صلى الله عليه وسلم يتلو القرآن ورأيتُ أبا بكر وعمر يتلوان القرآن فلا يصيبهم هذا أفتراهم أخشى من أبي بكر وعمر.

وقال ابن عمر وقد رأى ساقطا من سماع القرآن فقال إنا لنخشى الله تعالى وما نسقط هؤلاء يدخل الشيطان في جوف أحدهم. وأخرج عبد الرزاق وعبد بن حميد وابن المنذر عن قتادة أنه قال في الآية هذا نعت أولياء الله تعالى قال: تقشعر جلودهم وتبكي أعينهم وتطمئن قلوبهم إلى ذكر الله تعالى ولم ينعتهم الله سبحانه بذهاب عقولهم والغشيان عليهم إنما هذا في أهل البدع وإنما هو من الشيطان. وأخرج ابن أبي شيبة عن ابن جبير: قال الصعقة من الشيطان.

وقال ابن سيرين: بيننا وبين هؤلاء الذين يصرعون عند قراءة أن يجعل أحدهم على حائط باسطاً رجليه ثم يقرأ عليهم القرآن كله فإنْ رمى بنفسه فهو صادق. روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني ١٢/ ٢٣٨ سورة الزمر آية ٢٣.

(٢) فتاوى فريديه ج٢ ص ٢٥٣ باب سنن الصلاة.

اوس که چيرته د خپلې محلې خلق جُمات ته نه ځي نو په دې سره جُمات شاړيږي ، ددې د وجې علماؤ ليکلي دي چې تر څو پورې شرعي عُذر نه وي نو د خپلې محلې او خپل کلي په جُمات کې مونځ کول د بل کلي د جُمات نه بهتر دی. بلکه فقهاؤ خو تر دې پورې ليکلي :

مؤذن مسجد لايحضر مسجده أحدٌ قالوا يؤذن هو ويقيم ، ويصلي وحده . فذلک أحبّ مِن أن يصلي في مسجدٍ آخر . (۱)

که دجُمات د مؤذن نه علاوه بل څوک جُمات ته جَمعې ته نه راځي نو فقهاؤ کرام فرمايي چې دا مؤذن به آذان اوکړي ، بيا به اقامت اوکړي ، او ځان له به مونځ اوکړي . دا (د خپل کلي په جُمات کې ځانله مونځ کول) د بل کلي په جُمات کې د مونځ کولو نه ډير بهتر دی . (۲)

دُعا د فرضونه روستو بهتر ده يا د سُنتونه روستو ؟

نوټ : ددې مسئلې پوره تفصيل سره د دلائلو د فقيه العصر مفتي اعظم حضرت مولانا مفتي فريد رحمه الله په فتاوی "فتاوی فريديه" دويم جلد کې د صفحه ۲۵۷ نه تر صفحه ۲۸۱ پورې اوګوره ، مفتي صاحب ددې مسئلې وضاحت په ډير مُعتدل آنداز کې کړی.

خو دا يوه خبره (زه ابوالشمس) ضروري ګنړم چې په دې موجوده دور کې که مونږ يو طرف ته اوګورو نو ټوله کُفري دُنيا مُتّحِده ده ، د مسلمانانو د ختمولو او بې اِتفاقه کولو کوشش کوي نو که بل طرف مونږ په دې ورو ورو مسئلو کې په يو بل باندې د کُفر فتوې لپوو نو يقيني چې دا به د مسلمانانو د اتفاق ختمولو او د دوی د کمزورۍ کولو لويه ذريعه وي ، او سبب به يې همدا کس وي چې څوک په دې ورو ورو خبرو مسلمانان په خپل مينځ کې جنګوي . لهذا په دې دور کې د کافرانو دَسيسې شَندول او ختمول په کار دي ، نه دا چې مسلمانان د ورو ورو مسئلو په وجه په خپل مينځ کې بې اِتفاقه کول او جنګول .

(۱) الفتاوى الخانية على هامش الفتاوى الهندية كتاب الطهارة باب التيمم فصل في المسجد ۱/ ۶۷ .

(۲) فتاوی عثمانيه ج ۲ ص ۱۸۲ فصل في المكروهات.

البته د علماؤ علمي اختلاف او تحقیق خان له شی دی خو د دې خپل آداب دي، دوی په یو بل باندې غلطې ټاپې او کفري فتوی نه لګوي . ابوالشمس عفي عنه

چې په مونځ ولاړ وي او ده ته والدين يا بل کس آواز اوکړي

که چیرته یو کس په مانځه ولاړ وي او ده ته مور او پلار آواز اوکړي نو که دې په فرض مانځه ولاړ وي او دوی ته څه تکلیف نه وي نو بیا به دې دا فرض مونځ پوره کوي او هغوی ته به ورشي .(۱)

او که والدینو ته سخت تکلیف وي نو بیا به مونځ مات کړي او هغوی ته به جواب ورکړي.

او که دې په نفل مانځه ولاړ وي نو په دې کې د علماؤ مختلف اقوال شته خو د احنافو یو لوی جماعت په دې متفق دی چې سړی په نفل مانځه ولاړ وي او والدین ورته آواز وکړي نو په ده باندې جواب ورکول واجب دي.

وَلِذٰلِكَ ذَهَبَ مُعْظَمُ الْحَنَفِيَّةِ إِلٰى وُجُوْبِ الْإِجَابَةِ فِيْ صَلَاةِ النَّفْلِ .(۲)

د علماء احناف لوی جماعت په دې قائل دی چې په نفلي مانځه کې والدینو ته جواب ورکول واجب دي.

او دې علماؤ استدلال کړې د جریج د واقعې نه، کومه چې په بخاري شریف او مسلم شریف کې ذکر ده.

---

(۱) څکه نبي علیه السلام فرمایي : لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوْقٍ فِيْ مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ . مشکوة شریف ص ۳۲۱ کتاب الامارة الفصل الثاني. دخالق په نافرماني کې د چا مخلوق فرمانبرداري جائز نه ده. وَحَقُّ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ الَّذِيْ شَرَعَ فِيْهِ آكَدُ مِنْ حَقِّ الْأَبَوَيْنِ حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْهُ . عمدة القاري ۳/۷۱٦.

(۲) تکملة فتح الملهم ج۵ ص ۱٦۹ باب تقديم بر الوالدين على التطوع بالصلاة وغيرها.

وَقَالَ الْحَصْكَفِيُّ فِي الدُّرِّ الْمُخْتَارِ : وَلَوْ دَعَاهُ أَحَدُ أَبَوَيْهِ فِي الْفَرْضِ لَا يُجِيْبُهُ إِلَّا أَنْ يَسْتَغِيْثَ بِهِ . وَفِي النَّفْلِ : فَإِنْ عَلِمَ أَنَّهُ فِي الصَّلَاةِ لَا يُجِيْبُهُ وَإِلَّا أَجَابَهُ . وَقَالَ ابْنُ عَابِدِيْنَ : وَالظَّاهِرُ أَنَّ مَحَلَّهُ إِذَا تَأَذّٰى مِنْهُ بِتَرْكِ الْإِجَابَةِ لِكَوْنِهِ عُقُوْقًا . وَالَّذِيْ يَظْهَرُ أَنَّ هٰذَا أَعْدَلُ الْأَقْوَالِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى . والله اعلم.
تکملة فتح الملهم ج۵ ص ۱٦۹ باب تقديم بر الوالدين على التطوع بالصلاة وغيرها

په فتاوى حقانيه کې ذکر دي : که يو کس په نفلو ولاړ وي او ده ته مور او پلار آواز اوکړي نو هغوی ته د جواب ورکولو د پاره ده ته نفل ماتول جائز دي . البته بلا ضرورت فرض ماتول جائز نه دي .

خو که دده مور او پلار يا بل چا ته د مدد سخت ضرورت وُ او ده ته يې آواز اوکړو نو بيا دده د پاره فرض مونځ ماتول هم واجب دي ، مونځ به مات کړي او د هغوی مدد به اوکړي .

همدغه رنګې که دې په فرض مانځه ولاړ وُ او ده محسوسه کړه چې زما مور او پلار ته يا بل چا ته د مدد سخت ضرورت دی نو د هغوی د آواز نه بغير دده د پاره فرض مونځ ماتول واجب دي ، د هغوی مدد به کوي .(۱)

(۱) وَلَوْ دَعَاهُ أَحَدُ أَبَوَيْهِ فِي الْفَرْضِ لَا يُجِيبُهُ إِلَّا أَنْ يَسْتَغِيثَ بِهِ . وَفِي النَّفْلِ إِنْ عَلِمَ أَنَّهُ فِي الصَّلَاةِ فَدَعَاهُ لَا يُجِيبُهُ وَإِلَّا أَجَابَهُ . الدر المختار .

قال ابن عابدين : (قَوْلُهُ : إِلَّا أَنْ يَسْتَغِيثَ بِهِ) أَيْ يَطْلُبَ مِنْهُ الْغَوْثَ وَالْإِعَانَةَ . وَظَاهِرُهُ وَلَوْ فِي أَمْرٍ غَيْرِ مُهْلِكٍ . وَاسْتِغَاثَةُ غَيْرِ الْأَبَوَيْنِ كَذَلِكَ . وَالْحَاصِلُ أَنَّ الْمُصَلِّيَ مَتَى سَمِعَ أَحَدًا يَسْتَغِيثُ وَإِنْ لَمْ يَقْصِدْهُ بِالنِّدَاءِ ، أَوْ كَانَ أَجْنَبِيًّا وَإِنْ لَمْ يَعْلَمْ مَا حَلَّ بِهِ أَوْ عَلِمَ وَكَانَ لَهُ قُدْرَةٌ عَلَى إِغَاثَتِهِ وَتَخْلِيصِهِ وَجَبَ عَلَيْهِ إِغَاثَتُهُ وَقَطْعُ الصَّلَاةِ فَرْضًا كَانَتْ أَوْ غَيْرَهُ . رد المحتار على الدر المختار ۲ / ۵۱ بَابُ إِدْرَاكِ الْفَرِيضَةِ ، وايضا في ج۲ ص ۴ .

قال ابن نجيم المصري رحمه الله : وَفِي فَتَاوَى الْوَلْوَالِجِيِّ : الْمُصَلِّي إِذَا دَعَاهُ أَحَدُ أَبَوَيْهِ فَلَا يُجِيبُهُ مَا لَمْ يَفْرُغْ مِنْ صَلَاتِهِ إِلَّا أَنْ يَسْتَغِيثَ بِهِ لِأَنَّ قَطْعَ الصَّلَاةِ لَا يَجُوزُ إِلَّا لِضَرُورَةٍ ، وَكَذَلِكَ الْأَجْنَبِيُّ إِذَا خَافَ أَنْ يَسْقُطَ مِنْ سَطْحٍ أَوْ تُحْرِقَهُ النَّارُ أَوْ يُغْرِقَهُ الْمَاءُ وَجَبَ عَلَيْهِ أَنْ يَقْطَعَ الصَّلَاةَ . هَذَا إِذَا كَانَ فِي الْفَرْضِ فَأَمَّا فِي النَّوَافِلِ إِذَا نَادَاهُ أَحَدُ أَبَوَيْهِ إِنْ عَلِمَ أَنَّهُ فِي الصَّلَاةِ وَنَادَاهُ لَا بَأْسَ بِهِ أَنْ لَا يُجِيبَهُ وَإِنْ لَمْ يَعْلَمْ يُجِيبُهُ . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۲ / ۷۷ بَابُ إِدْرَاكِ الْفَرِيضَةِ ، ومثله في الهندية ج۱ ص ۱۰۹ الباب السابع فيما يفسد الصلاة . فتاوى حقانيه ج۳ ص ۲۹۴ باب ادراک الفريضة .

د مسافر د مانځه متعلق ضروري فقهي مسائل

اوس درته د مسافر د مانځه متعلق يو څو ضروري فقهي مسائل ذکر کوم:

د شرعي سفر مقدار

په **فتاوى عثمانيه** کې ذکر دي: که يو کس ځاى په ځاى د ضروري قيام کولو باوجود د درې شوارورزه درمياني مزل کولو سره د سفر په اراده روان شي نو داسې کس شرعي مسافر دى.

په موجوده دوَر کې علماؤ د شرعي سفر د پاره اته څلويښت (۴۸) ميله، يا اته آويا (۷۸) کلوميټره فاصله مقرر کړې.

(يعنې که نن صبا يو کس د اته څلويښت (۴۸) ميله، يا اته آويا (۷۸) کلوميټره فاصله سفر کولو په اراده روان شي نو داسې کس به شرعي مسافروي) په داسې کس باندې به د شرعي سفر احکام مرتب کولې شي.

د دې مذکوره مقدار نه کم سفر کوونکې شرعي مسافر نه دى. (۱)

په **فتاوى حقانيه** کې ذکر دي: د مطلق سفر کولو سره به انسان قصر نه کوي، بلکه د شرعي سفر د پاره کم از کم د درې ورځو په مقدار سفر کول ضروري دى، په موجوده دوَر

---

(۱) مَنْ خَرَجَ مِنْ عِمَارَةِ مَوْضِعِ إِقَامَتِهِ قَاصِدًا مَسِيرَةَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ وَلَيَالِيهَا بِالسَّيْرِ الْوَسَطِ مَعَ الْاِسْتِرَاحَاتِ الْمُعْتَادَةِ صَلَّى الْفَرْضَ الرُّبَاعِيَّ رَكْعَتَيْنِ. تنوير الابصار على صدر رد المحتار ۲/ ۱۲۱ بَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ.

وَأَمَّا بَيَانُ مَا يَصِيرُ بِهِ الْمُقِيمُ مُسَافِرًا: فَالَّذِي يَصِيرُ الْمُقِيمُ بِهِ مُسَافِرًا نِيَّةُ مُدَّةِ السَّفَرِ وَالْخُرُوجُ مِنْ عُمْرَانِ الْمِصْرِ فَلَا بُدَّ مِنِ اعْتِبَارِ ثَلَاثَةِ أَشْيَاءَ: أَحَدُهَا: مُدَّةُ السَّفَرِ... وَاخْتَلَفُوا فِي التَّقْدِيرِ قَالَ أَصْحَابُنَا: مَسِيرَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ سَيْرَ الْإِبِلِ وَمَشْيَ الْأَقْدَامِ وَهُوَ الْمَذْكُورُ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَاتِ. بدائع الصنائع فى ترتيب الشرائع ۱/ ۹۳ كِتَابُ الصَّلَاةِ فَصْلٌ بَيَانُ مَا يَصِيرُ بِهِ الْمُقِيمُ مُسَافِرًا. فتاوى عثمانيه ج ۳ ص ۶۲، ۶۳ صلوة المسافر.

کي علماؤ ددې د پاره اته څلوېښت (۴۸) مِيله، يا دوه اويا (۷۲) کلوميټره فاصله مقرر کړی. ددې نه په کم سفر کولو سره انسان شرعي مسافر نه جوړيږي. (۱)

په فتاوی محموديه کې ذکر دي: که يو کس د درې ورځو په سفر اووځي نو دا شرعي مسافر دی، توله ورځ تلل ضروري ندي، بلکه په يخنی کې د سهر نه نيولې تر زوال پورې تلل معتبر دي، او د هر ځاى په سفر کې د همغې موافق رَفتار معتبر دی.

مثلاً په اُوچه زمکه باندې پيدل يا د متوسط سوَرلی رَفتار معتبر دی، د ريل ګاډي سفر معتبر ندی. او په درياب کې د متوسطې کشتی رفتار معتبر دی. ددې اندازه تقريبا اته څلوېښت (۴۸) مِيله جوړيږي. (۲)

که دا اته څلوېښت (۴۸) مِيله سفر انسان پياده کوي يا په سورلی باندې په دوارو صورتونو کي دا انسان شرعي مسافر جوړيږي. (۳)

---

(۱) قَالَ برهان الدين المرغيناني رحمه الله: اَلسَّفَرُ الَّذِي يَتَغَيَّرُ بِهِ الْأَحْكَامُ أَنْ يَقْصِدَ الْإِنْسَانُ مَسِيْرَةَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ وَلَيَالِيْهَا سَيْرَ الْإِبِلِ وَمَشْيَ الْأَقْدَامِ. لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ «يَمْسَحُ الْمُقِيْمُ كَمَالَ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ. وَالْمُسَافِرُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيْهَا». الهداية ج۱ بَابُ صَلَاةِ السَّفَرِ.

وفي الهندية: أَقَلُّ مَسَافَةٍ تَتَغَيَّرُ فِيْهَا الْأَحْكَامُ مَسِيْرَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ كَذَا فِي التَّبْيِيْنِ. هُوَ الصَّحِيْحُ. الفتاوى الهندية ۱/۱۳۸ اَلْبَابُ الْخَامِسَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْمُسَافِرِ، ومثله في الزيلعي ج۱ ص۲۰۹ باب صلاة المسافر. فتاوى حقانيه ج۳ ص۳۴۸ باب صلاة المسافر.

نوټ: په عمدې فتاوی حقانيه کې روستو په صفحه ۳٦٦ باندې پنځه شپيته کلوميټره ذکر دي، ليکن صحيح داده چې نن صبا شرعي سفر د پاره اته څلوېښت (۴۸) ميله، يا اته اويا (۷۸) کلوميټره فاصله ضروري ده. لکه څرنګې چې په فتاوی عثمانيه کې ذکر دي، ځکه دا عدد د حساب موافق برابر راځي. ابوالشمس عفي عنه

(۲) فتاوی محموديه ج۱۱ ص۵٦۰ مسافر کی نماز.

(۳) فتاوی محموديه ج۱۱ ص۵۵۷، ۵۵۸ مسافر کی نماز. / وفي الهندية: وَالْمُعْتَبَرُ السَّيْرُ الْوَسَطُ. كَذَا فِي السِّرَاجِيَّةِ. وَهُوَ سَيْرُ الْإِبِلِ وَمَشْيُ الْأَقْدَامِ فِي أَقْصَرِ أَيَّامِ السَّنَةِ. كَذَا فِي التَّبْيِيْنِ. وَهَلْ يُشْتَرَطُ سَيْرُ كُلِّ يَوْمٍ إِلَى اللَّيْلِ؟ اِخْتَلَفُوْا فِيْهِ. اَلصَّحِيْحُ أَنَّهُ لَا يُشْتَرَطُ حَتَّى لَوْ بَكَّرَ فِي الْيَوْمِ الْأَوَّلِ وَمَشَى إِلَى الزَّوَالِ وَبَلَغَ الْمَرْحَلَةَ وَنَزَلَ وَبَاتَ فِيْهَا. ثُمَّ بَكَّرَ فِي الْيَوْمِ الثَّانِي كَذَلِكَ فِي الْيَوْمِ الثَّالِثِ كَذَلِكَ يَصِيْرُ مُسَافِرًا. كَذَا فِي السِّرَاجِ الْوَهَّاجِ. وَلَا مُعْتَبَرَ بِالْفَرَاسِخِ هُوَ الصَّحِيْحُ. كَذَا فِي الْهِدَايَةِ. الفتاوى الهندية ۱/۱۳۸ اَلْبَابُ الْخَامِسَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْمُسَافِرِ

په شرعي سفر باندې مُرتب کيدونکي احکام

په شرعي سفر باندې چې کوم احکامات مرتب کيږي هغه دادي :

۱. مسافر به د څلور رکعته فرضو په ځای دوه رکعته کوي .

۲. مسافر ته د سفر په دَوران کې روژه خوراک جائز ده .

۳. د مسافر د پاره په موزو باندې د درې ورځو پورې مَسح کولو اِجازت شته (ليکن مقيم ته په موزو باندې د يو شواروز مَسح کولو اجازت وي) .

۴. د مسافر نه د سفر په دَوران کې د جُمعې او اَخترونو د مونځ وُجوب ساقِط دی (که وې کړو نو جائز دی) .

۵. که په يو کس باندې قرباني واجب وي خو چې په سفر باندې اُوځي نو بيا ورنه د قرباني وُجوب ساقطيږي .

۶. که دا مسافره ښځه وي نو ددې د پاره د محرم نه بَغير سفر کول ناجائز دي .(۱)

د مسافر د پاره قصدًا فرض څلور رکعته کول ګناه ده

د مسافر د پاره په سفر کې قصر کول (يعنی د څلورو رکعتونو په ځای دوه رکعته کول) شرعًا عزيمت دی (يعنی په ده باندې قصر واجب دی ، خامخا به دې قصر کوي) که چا قصدًا څلور رکعته فرض پوره اوکړل نو دې ګناهګار دی ، ددې نه توبه ويستل په کار دي .(۲)

---

(۱) اَلْأَحْكَامُ الَّتِي تَتَغَيَّرُ بِالسَّفَرِ هِيَ قَصْرُ الصَّلَاةِ وَإِبَاحَةُ الْفِطْرِ وَامْتِدَادُ مُدَّةِ الْمَسْحِ إِلَى ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ وَسُقُوطُ وُجُوبِ الْجُمُعَةِ وَالْعِيدَيْنِ وَالْأُضْحِيَّةِ وَحُرْمَةُ الْخُرُوجِ عَلَى الْحُرَّةِ بِغَيْرِ مَحْرَمٍ . كَذَا فِي الْغَيَاثِيَّةِ . الفتاوى الهندية ۱ /۱۳۸ اَلْبَابُ الْخَامِسَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْمُسَافِرِ .

(۲) قال الحصكفي رحمه الله : (صَلَّى الْفَرْضَ الرُّبَاعِيَّ رَكْعَتَيْنِ) وُجُوبًا لِقَوْلِ ابْنِ عَبَّاسٍ : « إِنَّ اللهَ فَرَضَ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّكُمْ صَلَاةَ الْمُقِيمِ أَرْبَعًا وَالْمُسَافِرِ رَكْعَتَيْنِ » . وَلِذَا عَدَلَ الْمُصَنِّفُ عَنْ قَوْلِهِمْ قَصَرَ لِأَنَّ الرَّكْعَتَيْنِ لَيْسَتَا قَصْرًا حَقِيقَةً عِنْدَنَا بَلْ هُمَا تَمَامُ فَرْضِهِ وَالْإِكْمَالُ لَيْسَ رُخْصَةً فِي حَقِّهِ بَلْ إِسَاءَةٌ . الدر المختار ۲ /۱۲۳ بَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ .

وفي الهندية : وَفَرْضُ الْمُسَافِرِ فِي الرُّبَاعِيَّةِ رَكْعَتَانِ . كَذَا فِي الْهِدَايَةِ . وَالْقَصْرُ وَاجِبٌ عِنْدَنَا . كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ . الفتاوى الهندية ۱ /۱۳۹ اَلْبَابُ الْخَامِسَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْمُسَافِرِ

که دې مسافر په څلور رکعته فرضو کې اولنۍ قعده کړې وي نو دا اول دوه رکعته يې فرض شو ، او آخري دوه رکعته يې نفل شو ، مونځ يې اوشو خو د سلام په تاخير سره دا ګناهګار دی . د علامه ابن عابدين رحمه الله د قول مطابق دده مونځ مکروه تحريمي دی . (۱)

او که ده په څلور رکعته فرضو کې اوله قعده نه وه کړې بلکه څلور رکعته فرض يې پوره اداء کړل نو دا مونځ يې باطل شو ، دوباره به دا مونځ کوي ، ځکه دده د پاره دا اوله قعده فرض ده ، او دا ده نده کړې . (۲)

دا مسئله په فتاوی حقانيه ، فتاوی عثمانيه ، فتاوی فريديه ، او فتاوی محموديه کې همدا سې ذِکر ده . (۳)

---

(۱) قَالَ العلامة برهان الدين المرغيناني رحمه الله : (وَفَرْضُ الْمُسَافِرِ فِي الرُّبَاعِيَّةِ رَكْعَتَانِ لَا يَزِيدُ عَلَيْهِمَا) ... (وَإِنْ صَلَّى أَرْبَعًا وَقَعَدَ فِي الثَّانِيَةِ قَدْرَ التَّشَهُّدِ أَجْزَأَتْهُ الْأُولَيَانِ عَنِ الْفَرْضِ وَالْأُخْرَيَاتُ لَهُ نَافِلَةٌ) اِعْتِبَارًا بِالْفَجْرِ ، وَيَصِيرُ مُسِيئًا لِتَأْخِيرِ السَّلَامِ . الهداية ج۱ ص ۱۴۶ بَابُ صَلَاةِ السَّفَرِ. الفتاوی الهندية ج۱ ص ۱۳۹ الباب الخامس عشر في صلاة المسافر ، ومثله في البحر الرائق ج۲ ص ۱۳۰ باب المسافر

قَالَ الحصكفي : (فَلَوْ أَتَمَّ مُسَافِرٌ إنْ قَعَدَ فِي) الْقَعْدَةِ (الْأُولَى تَمَّ فَرْضُهُ وَ) لَكِنَّهُ (أَسَاءَ) لَوْ عَامِدًا لِتَأْخِيرِ السَّلَامِ وَتَرْكِ وَاجِبِ الْقَصْرِ وَوَاجِبِ تَكْبِيرَةِ افْتِتَاحِ النَّفْلِ وَخَلْطِ النَّفْلِ بِالْفَرْضِ ، وَهَذَا لَا يَحِلُّ كَمَا حَرَّرَهُ الْقُهُسْتَانِيُّ بَعْدَ أَنْ فَسَّرَ أَسَاءَ بِأَثِمَ وَاسْتَحَقَّ النَّارَ (وَمَا زَادَ نَفْلٌ) كَمُصَلِّي الْفَجْرِ أَرْبَعًا . الدر المختار قال ابن عابدين رحمه الله تحت قوله اساء : فَعُلِمَ أَنَّ الْإِسَاءَةَ هُنَا كَرَاهَةُ التَّحْرِيمِ رَحْمَتِيٌّ (قَوْلُهُ وَاسْتَحَقَّ النَّارَ) أَيْ إذَا لَمْ يَتُبْ أَوْ يَعْفُ عَنْهُ الْعَزِيزُ الْغَفَّارُ . رد المحتار على الدر المختار ۱۲۸/۲ بَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ ، النهر الفائق ج۱ ص ۳۴۶ باب صلاة المسافر ، حلبي كبيري ص ۵۳۹ فصل في صلاة المسافر .

(۲) قَالَ المرغيناني رحمه الله : (وَإِنْ لَمْ يَقْعُدْ فِي الثَّانِيَةِ قَدْرَهَا بَطَلَتْ) لِاخْتِلَاطِ النَّافِلَةِ بِهَا قَبْلَ إكْمَالِ أَرْكَانِهَا . الهداية ج۱ ص ۱۴۶ بَابُ صَلَاةِ السَّفَرِ ، حقانيه ج۳ ص ۳۶۳ ، وص ۳۴۹ باب صلاة المسافر .

قَالَ الحصكفي رحمه الله : (وَإِنْ لَمْ يَقْعُدْ بَطَلَ فَرْضُهُ) وَصَارَ الْكُلُّ نَفْلًا لِتَرْكِ الْقَعْدَةِ الْمَفْرُوضَةِ .

الدر المختار ۱۲۸/۲ بَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ

(۳) فتاوی حقانيه ج۳ ص ۳۴۹ ، وص ۳۶۳ باب صلاة المسافر ، فتاوی عثمانيه ج۳ ص ۵۵ ، وص ۹۸ وص ۱۰۲ صلوة المسافر ، فتاوی فريديه ج۳ ص ۸۱ ، وص ۸۷ فصل في قصر الصلوة ، فتاوی محموديه ج۱۱ ص ۵۸۳ مسافر کی نماز ،

چې مسافر سهوًا څلور ركعته فرض پوره اوكړي

كه مسافر سهوًا (په هېره سره) څلور ركعته فرض پوره اوكړل، او دا اوله قعده كړې وه نو مونځ يې صحيح دى، او گناهگار هم نه دى، خو د واجبو (يعنى د سلام) په تاخير سره په ده باندې سجده سهوه لازم ده. كه سجده سهوه يې هم اونكړه نو مونځ به دوباره كوي.

او كه آخري قعده يې نه وه كړې نو مونځ يې او نه شو، او س به دوباره مونځ كوي ځكه په څلور ركعته فرضو كې د مسافر د پاره اوله قعده فرض ده.(۱)

چې مسافر امام سهوًا څلور ركعته فرض مونځ اوكړي، د دې حكم

په مسافر باندې قصر كول (يعنى د څلور ركعته فرضو په ځاى دوه ركعته كول) واجب دي، كه يو مسافر امام څلور ركعته فرض مونځ پوره اوكړو، او اولنۍ قعده يې كړې وه نو د امام او مسافرو مقتديانو مونځ اوشو، خو قصدًا پوره مونځ كولو سره گناهگار دى، اول دوه ركعته يې فرض شو او آخرني دوه ركعته يې نفل شو، (كه وخت باقي وُ نو دوباره به يې را اوگرځوي، او كه وخت اوتې وُ نو دوباره راگرځول واجب نه دي).(۲)

---

(۱) "والقصر عزيمة عندنا" لما قدمناه "فإذا أتم الرباعية و" الحال أنه "قعد القعود الأول" قدر التشهد "صحت صلاته" لوجود الفرض في محله وهو الجلوس على الركعتين وتصير الأخريان نافلة له "مع الكراهة" لتأخير الواجب وهو السلام عن محله إن كان عامدا. فإن كان ساهيا يسجد للسهو "وإلا" أي وإن لم يكن قد جلس قدر التشهد على رأس الركعتين الأوليين "فلا تصح" صلاته لتركه فرض الجلوس في محله، واختلاط النفل بالفرض قبل كماله "إلا إذا نوى الإقامة لما قام للثالثة" في محل تصح الإقامة فيه لأنه صار مقيما بالنية فانقلب فرضه أربعا وترك واجب القعود الأول لا يفسد. مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۱/۱۶۳ باب صلاة المسافر، فتاوى محموديه ج۱۱ ص ۵۸۲ سفركي نماز. وهكذا في رد المحتار على الدر المختار ۲/۱۲۸ بَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ. الهداية ج۱ ص ۱۴۶ بَابُ صَلَاةِ السَّفَرِ. الفتاوى الهندية ج۱ ص ۱۳۹ الباب الخامس عشر في صلاة المسافر، فتاوى حقانيه ج۳ وص ۳۶۲ باب صلاة المسافر.

(۲) قال الحصكفي رحمه الله: (فَلَوْ أَتَمَّ مُسَافِرٌ إنْ قَعَدَ فِي) الْقَعْدَةِ (الْأُولَى تَمَّ فَرْضُهُ وَ) لَكِنَّهُ (أَسَاءَ) لَوْ عَامِدًا لِتَأْخِيرِ السَّلَامِ وَتَرْكِ وَاجِبِ الْقَصْرِ ....

که ددې مسافر امام پسې شاته مقیم مقتدیان هم ولاړ وو او ده څلور رکعته فرض پوره اوکړل نو ددې مقیم مقتدیانو مونځ فاسد شو.

لیکن که دې مسافر امام اوله قعده نه وه کړې نو بیا د امام او مقتدیانو د هیچا فرض مونځ نه اداء کیږي، بلکه ټول مونځ یې نفل شو، دوه رکعته فرض به اوس دوباره اداء کوي.

وجه داده چې د مسافر امام د پاره په څلور رکعته فرضو کې دا آخري دوه رکعته نفل اوګرځیدل، او د مقیم مقتدیانو د پاره څلور واړه رکعتونه فرض دي، نو په دې کې اقتداء د مُفترِض راځي د مُتنفِّل پسې، او اقتداء د مُفترِض د مُتنفِّل پسې باطل ده. (۱)

د سلام ګرځولو نه پس د مسافر امام اعلان

کله چې مسافر اِمام په داسې ځای کې جُمعه کوي چې هلته دده پسې مُقیمین مقتدیان هم اُودریږي، او دې مقیمینو ته دا پته نه وي چې دا امام مسافر دی نو ددې مسافر امام د پاره دا مستحب دي چې په څلور رکعته فرض مانځه کې په دوه رکعته باندې د سلام ګرځولو نه پس خلقو ته په اُوچت آواز سره اووایي:

"تاسو خپل مونځ پوره کړئ، زه مسافریم" دا اِعلان ددې د پاره مستحب دی چې شاته مقیم مقتدیان د سلام ګرځولو نه پس د مانځه مُنافي کار اونکړي، بلکه د باقي پاتې

...... وَوَاجِبٌ تَكْبِيرَةِ افْتِتَاحِ النَّفْلِ وَخَلْطِ النَّفْلِ بِالْفَرْضِ، وَهٰذَا لَا يَحِلُّ ... (وَإِنْ لَمْ يَقْعُدْ بَطَلَ فَرْضُهُ) وَصَارَ الْكُلُّ نَفْلًا لِتَرْكِ الْقَعْدَةِ الْمَفْرُوضَةِ. الدر المختار ۲/۱۲۸ بَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ. النهر الفائق ج ۱ ص ۳۳۶ باب صلاة المسافر، حلبي كبيري ص ۵۳۹ فصل في صلاة المسافر. فتاوى محموديه ج ۱۱ ص ۵۸۳، وص ۵۸۴ مسافرکی نماز.

(۱) قال ابن عابدين رحمه الله: فَلَوْ أَتَمَّ الْمُقِيمُونَ صَلَاتَهُمْ مَعَهُ فَسَدَتْ لِأَنَّهُ اقْتِدَاءُ الْمُفْتَرِضِ بِالْمُتَنَفِّلِ. رد المحتار على الدر المختار ۲/۱۳۰ بَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ. منحة الخالق حاشية بحر الرائق ۲/۱۴۶ بَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ. ومثله في خلاصة الفتاوى ج ۱ ص ۳۲ صلوة المسافر، فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۳۵۸ باب صلوة المسافر. فتاوى عثمانيه ج ۳ ص ۸۶ صلوة المسافر، فتاوى فريديه ج ۳ ص ۹۳ فصل في قصر الصلوة. فتاوى محموديه ج ۱۱ ص ۵۸۳، وص ۵۸۴ مسافرکی نماز.

Scanned with CamScanner

دوه رکعتونو کولو د پاره پاڅي.(۱)

په سفر کې د سُنتو کولو حکم

په **فتاوى حقانيه** کې ذکر دي: په دې خبره خو د ټولو فقهاؤ اتفاق دی چې په سفر کې د فرضو نه علاوه د بل مونځ قصر نشته.(۲)

البته د سُنتو په پرېښودو او نه پرېښودو کې د فقهاؤ مختلف اقوال دي، بهتر قول دا دی چې که د يو کس سره موقع وه، قافله ورنه نه تلله، او په مقصود کې خلل نه واقع کېدو نو بيا د سُنتو کول په کار دي.

خو که د سُنتو کولو موقع نه وه نو بيا سُنتو کولو ته ضرورت نشته.(۳)

په **فتاوى عثمانيه** کې ذکر دي: په سفر کې د سُنتو کولو په باره کې د فقهاؤ د اقوالو نه معلومېږي چې د سهر د سنتو علاوه په دې نورو سنتو کې څه تفصيل دی: که د مسافر سفر جاري وُ نو بيا د سُنتو نه کولو اجازت شته، او که سفر يې مکمل کړې وُ (خو هلته يې د

---

(۱) ﴿ وَيُسْتَحَبُّ لِلْإِمَامِ إِذْ سَلَّمَ أَنْ يَقُولَ: أَتِمُّوا صَلَاتَكُمْ فَإِنَّا قَوْمٌ سَفْرٌ ﴾؛ لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ قَالَهُ حِينَ صَلَّى بِأَهْلِ مَكَّةَ وَهُوَ مُسَافِرٌ. الهداية كتاب الصلوة باب صلوة المسافر ۱/ ۱۷۵، الهندية ج۱ ص ۱۴۲ الباب الخامس عشر في صلاة المسافر. فتاوى عثمانيه ج۳ ص۱۲۷ صلوة المسافر.

(۲) قال علاء الدين الكاساني: وَكَذَا لَا قَصْرَ فِي السُّنَنِ وَالتَّطَوُّعَاتِ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱/ ۹۲ فَصْلٌ فِي صَلَاةِ الْمُسَافِرِ، ومثله في الهندية ج۱ ص۱۳۹ الباب الخامس عشر في صلاة المسافر.

(۳) قال الحصكفي رحمه الله: (وَيَأْتِي) الْمُسَافِرُ (بِالسُّنَنِ) إنْ كَانَ (فِي حَالِ أَمْنٍ وَقَرَارٍ وَإِلَّا) بِأَنْ كَانَ فِي خَوْفٍ وَفِرَارٍ (لَا) يَأْتِي بِهَا هُوَ الْمُخْتَارُ لِأَنَّهُ تَرْكٌ لِعُذْرٍ تَجْنِيسٌ. قِيلَ إلَّا سُنَّةَ الْفَجْرِ. الدر المختار ۲/ ۱۳۱ بَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ.

وفي الهندية: وَلَا قَصْرَ فِي السُّنَنِ، كَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ، وَبَعْضُهُمْ جَوَّزُوا لِلْمُسَافِرِ تَرْكَ السُّنَنِ وَالْمُخْتَارُ أَنَّهُ لَا يَأْتِي بِهَا فِي حَالِ الْخَوْفِ وَيَأْتِي بِهَا فِي حَالِ الْقَرَارِ وَالْأَمْنِ، هَكَذَا فِي الْوَجِيزِ لِلْكَرْدَرِيِّ. الفتاوى الهندية ۱/ ۱۳۹ الْبَابُ الْخَامِسَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْمُسَافِرِ، ومثله في الفقه الاسلامي وادلته ج۲ ص ۳۲۹ سابعًا صلاة السنن في السفر. فتاوى حقانيه ج۳ ص۳۶۳، وص ۳۳۸ باب صلاة المسافر.

اقامت نیت نه وي کړی) نو بیا یې کول افضل دي.
سُنت په سفر کې مطلقا د نوافلو په حُکم کې دي، نو که مسافر سُنت پرېږدي څه پروا نشته.(۱)

په **فتاوی محمودیه** کې ذکر دي: که یو کس په سفر باندې روان وي او یو ځای کې د مانځه د پاره اُودرېد، یاد سورلی نه د پاتې کېدو خطره وي نو بیا د سُنتو کولو ضرورت او تاکید نشته، خو که تادي یې نه وه نو سُنت کول افضل دي.
همدارنګې که ده سفر پوره کړې وُ، او په یو ځای کې دې د پنځلسو ورځو نه د کم وخت د پاره دېره وُ نو بیا سُنت پوره کول په کار دي. همدا راجح قول دی، اګر چې په دې کې نور اَقوال هم شته.(۲)

په **فتاوی فریدیه** کې ذکر دي: د شرعي مسافر د پاره د سُنتِ مؤکده وُ په کولو کې توَسّع ده، البته راجح داده: که دې په سفر کې په حالت د قرارې کې وُ نو سُنت به کوي، او که په حالت د سفر او یَره کې وُ نو بیا به یې نه کوي، لکه دا خبره په شامي کې ذکر ده.

---

(۱) وتكلموا في الافضل في السنن. فقيل: هو متروك ترخصاً. وقيل: هو الفعل تقرباً. وكان الشيخ ابو جعفر يقول: بالفعل في حالة النزول، والترك في حالة السير. الفتاوى التاتارخانية كتاب الصلوة الفصل الثاني والعشرون في صلوة المسافر، فتاوى عثمانيه ج۳ ص۸۱ صلوة المسافر.

(۲) قال الحصكفي رحمه الله: (وَيَأْتِي) الْمُسَافِرُ (بِالسُّنَنِ) إنْ كَانَ (فِي حَالِ أَمْنٍ وَقَرَارٍ وَإِلَّا) بِأَنْ كَانَ فِي خَوْفٍ وَفِرَارٍ (لَا) يَأْتِي بِهَا هُوَ الْمُخْتَارُ لِأَنَّهُ تَرَكَ لِعُذْرٍ. الدر المختار. قال ابن عابدين رحمه الله: (قَوْلُهُ: هُوَ الْمُخْتَارُ) وَقِيلَ: الْأَفْضَلُ التَّرْكُ تَرْخِيصًا، وَقِيلَ: الْفِعْلُ تَقَرُّبًا. وَقَالَ الْهِنْدُوَانِيُّ: الْفِعْلُ حَالَ النُّزُولِ وَالتَّرْكُ حَالَ السَّيْرِ، وَقِيلَ يُصَلِّي سُنَّةَ الْفَجْرِ خَاصَّةً. وَقِيلَ سُنَّةَ الْمَغْرِبِ أَيْضًا بَحْرٌ. قَالَ فِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ وَالْأَعْدَلُ مَا قَالَهُ الْهِنْدُوَانِيُّ. قُلْتُ: وَالظَّاهِرُ أَنَّ مَا فِي الْمَتْنِ هُوَ هَذَا وَأَنَّ الْمُرَادَ بِالْأَمْنِ وَالْقَرَارِ النُّزُولُ، وَبِالْخَوْفِ وَالْفِرَارِ السَّيْرُ. لَكِنْ قَدَّمْنَا فِي فَصْلِ الْقِرَاءَةِ أَنَّهُ عَبَّرَ عَنْ الْفِرَارِ بِالْعَجَلَةِ لِأَنَّهَا فِي السَّفَرِ تَكُونُ غَالِبًا مِنْ الْخَوْفِ تَأَمَّلْ. رد المحتار على الدر المختار ۲/ ۱۳۱ بَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ. فتاوى محموديه ج۱۱ ص۵۶۵ ساركلية.

لهذا که يو مسافر د سفر په حالت کې صرف د مانځه د پاره راښکته شو نو بيا سُنت پريښودې شي ، او که ځاى ته رسيدلې وُ خو هلته يې د پنځلس ورځو تيرولو نه کمه اراده وه نو بيا هم اګر چې دا مسافر دى ليکن بهتر داده چې سُنت او کړي ۰ (۱)

د مسافرانه مونځ کولو د پاره په سفر کې د مشقت موجوديدل ضروري ندي

که يو کس د اَته څلويښت (۴۸) ميله ، يا اَته اويا (۷۸) کلوميټره اندازه سفر کولو د پاره روان شي نو دې به خامخا په دې سفر کې قصر کوي (يعنى د څلور رکعته فرض مونځ په ځاى به دوه رکعته فرض اداء کوي) دا ضروري نده چې ګني ده ته دې په دې سفر کې مشقت وي ، بلکه که ده ته په دې سفر کې پوره سهوليات موجود وي او هيڅ مشقت ورته نه وي خو بيا به هم قصر کوي .

تر دې پورې که يو کس د جديد سهولياتو په وجه مذکوره مسافت په يو څو ګنټو کې قطع کوي نو بيا به هم دې قصر کوي ، ځکه اِعتبار مسافت ته دى .

مثلا يو ځاى ته د رسيدو د پاره پيدل يا په اُوښ باندې مزل درې ورځې وي ، ليکن په ريل ګاډي کې په يو ورځ کې رسي ، يا په هوائي جهاز کې په يوه ګنټه کې رسي نو بيا به هم دا سړې قصر کوي ، او همدا مسئله فقهاء کرامو ذکر کړې .

ددې نه دا خبره هم واضحه شوه چې د نن دوَر د تيز رفتاره ګاډو په وجه په حکمِ شرعي کې تبديلي ناجائز ده . همداسې مسئله مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په امداد الفتاوى اول جلد کې هم ذکر کړې . (۲)

---

(۱) (وَيَأْتِي) الْمُسَافِرُ .... (د درمختار او شامي عبارت پاس تير شو هغه اوګوره) . رد المحتار على الدر المختار ۲ / ۱۳۱ بَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ . فتاوى فريديه ج ۳ ص ۸۴ ، ۸۵ فصل في قصر الصلاة .

(۲) مَنْ خَرَجَ مِنْ عِمَارَةِ مَوْضِعِ إِقَامَتِهِ قَاصِدًا مَسِيرَةَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ وَلَيَالِيهَا (بِالسَّيْرِ الْوَسَطِ مَعَ الِاسْتِرَاحَاتِ الْمُعْتَادَةِ) حَتَّى لَوْ أَسْرَعَ فَوَصَلَ فِي يَوْمَيْنِ قَصَرَ . الدر المختار ۲ / ۱۲۱ بَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ
وفى الهندية : وَلَوْ كَانَتِ الْمَسَافَةُ ثَلَاثًا بِالسَّيْرِ الْمُعْتَادِ فَسَارَ إِلَيْهَا ....

Scanned with CamScanner

د شرعي مسافر د پاره نيت د سفر ضروري دی

د شرعي مسافر د پاره د درې ورځو د سفر نيت ضروري دی (چې ددې نه په موجوده دور کې اته څلويښت (۴۸) مِيله ، يا اته اويا (۷۸) کلوميټره فاصله جوړيږي) .

لهذا که يو کس په مياشتو او کلونو سفر کوي خو چې تر څو يې د درې ورځو د سفر (يا اته څلويښت ميله سفر کولو) نيت نه وي کړی نو دا سې کس مسافر ندی ، دې به پوره مونځ کوي .(۱)

دغه وجه ده چې که يو کس د اته څلويښت (۴۸) مِيله نه کم د سفر په نيت روان شو ، په لاره کې په يو ځای کې مقيم شو ، بيا يې دوباره د اته څلويښت ميله نه کم سفر شروع کړو ، نو دا سړی مسافر ندی ، بلکه دې به پوره مونځ کوي .

خلاصه دا چې کله د يو کس د اته څلويښت ميله سفر کولو نيت نه وي نو که دې په ټوله دُنيا کې او ګرځي خو دې بيا هم مسافر ندی .(۲)

.............عَلَى الْفَرَسِ جَرْيًا حَثِيثًا فَوَصَلَ فِي يَوْمَيْنِ أَوْ أَقَلَّ قَصَرَ. كَذَا فِي الْجَوْهَرَةِ النَّيِّرَةِ. الفتاوى الهندية ۱/۱۳۹ اَلْبَابُ الْخَامِسَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْمُسَافِرِ .فتاوى حقانيه ج۳ ص ۳۵۰ ، وص ۳۷۱ باب صلوة المسافر .

(۱) قَالَ الحصكفي : وَمَنْ طَافَ الدُّنْيَا بِلَا قَصْدٍ لَمْ يَقْصُرْ . الدر المختار ۲ / ۱۲۲ بَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ .

قَالَ العلامة ابوبكر الكاساني رحمه الله : فَلَا بُدَّ مِنْ اعْتِبَارِ ثَلَاثَةِ أَشْيَاءَ : أَحَدُهَا: مُدَّةُ السَّفَرِ.... وَاخْتَلَفُوا فِي التَّقْدِيرِ قَالَ أَصْحَابُنَا : مَسِيرَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ سَيْرَ الْإِبِلِ وَمَشْيَ الْأَقْدَامِ ... وَالثَّانِي: نِيَّةُ مُدَّةِ السَّفَرِ لِأَنَّ السَّيْرَ قَدْ يَكُونُ سَفَرًا وَقَدْ لَا يَكُونُ ، لِأَنَّ الْإِنْسَانَ قَدْ يَخْرُجُ مِنْ مِصْرِهِ إِلَى مَوْضِعٍ لِإِصْلَاحِ الضَّيْعَةِ ثُمَّ تَبْدُو لَهُ حَاجَةٌ أُخْرَى إِلَى الْمُجَاوَزَةِ عَنْهُ إِلَى مَوْضِعٍ آخَرَ لَيْسَ بَيْنَهُمَا مُدَّةُ سَفَرٍ ثُمَّ وَثُمَّ إِلَى أَنْ يَقْطَعَ مَسَافَةً بَعِيدَةً أَكْثَرَ مِنْ مُدَّةِ السَّفَرِ لَا لِقَصْدِ السَّفَرِ فَلَا بُدَّ مِنَ النِّيَّةِ لِلتَّمْيِيزِ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱/۹۳ فَصْلٌ بَيَانُ مَا يَصِيرُ بِهِ الْمُقِيمُ مُسَافِرًا .

(۲) قَالَ الحصكفي رحمه الله : وَمَنْ طَافَ الدُّنْيَا بِلَا قَصْدٍ لَمْ يَقْصُرْ . الدر المختار ۲ / ۱۲۲ بَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ . فتاوى حقانيه ج۳ ص۳۶۶ .

وفي الهندية : لَا بُدَّ لِلْمُسَافِرِ مِنْ قَصْدِ مَسَافَةٍ مُقَدَّرَةٍ..............................

د اقامت د پاره نيت ضروري دى

د مقيم والي د پاره نيت د اقامت ضروري دى ، لهذا که يو مسافر يو ښار ته داخل شي د پنځلس (۱۵) ورځو د اقامت نيت يې نه وي ، بلکه اراده يې دا وي چې دا ضرورت مې پوره شي نو واپس به ځم ، په دې کې دوه يا درې کاله تېر شو نو هم دا سړې به مسافر وي ، او مسافرانه مونځ به کوي . (۱)

چې د کلي د حدودو نه اوو ځي نو قصر مونځ به کوي

چې کله يو کس د درې ورځو د سفر (يعنې د اته څلويښت ۴۸ ميله سفر کولو) اراده

.... بِثَلَاثَةِ أَيَّامٍ حَتَّى يَتَرَخَّصَ بِرُخْصَةِ الْمُسَافِرِينَ ، وَإِلَّا لَا يَتَرَخَّصُ أَبَدًا وَلَوْ طَافَ الدُّنْيَا جَمِيعَهَا بِأَنْ كَانَ طَالِبَ آبِقٍ أَوْ غَرِيمٍ أَوْ نَحْوِ ذٰلِكَ . وَيَكْفِي فِي ذٰلِكَ الْقَصْدِ غَلَبَةُ الظَّنِّ يَعْنِي إِذَا غَلَبَ عَلَى ظَنِّهِ أَنَّهُ يُسَافِرُ قَصَرَ وَلَا يُشْتَرَطُ فِيهِ التَّيَقُّنُ . الفتاوى الهندية ۱ /۱۳۹ الْبَابُ الْخَامِسَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْمُسَافِرِ . المحيط ج۲ ص ۳۸۹ صلوٰة السفر .

وَذَكَرَ الْإِسْبِيجَابِيُّ : الْمُقِيمُ إِذَا قَصَدَ مِصْرًا مِنَ الْأَمْصَارِ ، وَهُوَ مَا دُونَ مَسِيرَةِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ لَا يَكُونُ مُسَافِرًا . وَلَوْ أَنَّهُ خَرَجَ مِنْ ذٰلِكَ الْمِصْرِ الَّذِي قَصَدَ إِلَى مِصْرٍ آخَرَ وَهُوَ أَيْضًا أَقَلُّ مِنْ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فَإِنَّهُ لَا يَكُونُ مُسَافِرًا ، وَإِنْ طَافَ آفَاقَ الدُّنْيَا عَلَى هٰذَا السَّبِيلِ لَا يَكُونُ مُسَافِرًا . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۲/ ۱۴۰ بَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ . فتاوى محموديه ج۱۱ ص ۵۶۰ مسافر كى نماز .

(۱) وفي الهندية : وَإِنْ نَوَى الْإِقَامَةَ أَقَلَّ مِنْ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا قَصَرَ . هٰكَذَا فِي الْهِدَايَةِ . وَلَوْ بَقِيَ فِي الْمِصْرِ سِنِينَ عَلَى عَزْمِ أَنَّهُ إِذَا قَضَى حَاجَتَهُ يَخْرُجُ وَلَمْ يَنْوِ الْإِقَامَةَ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا قَصَرَ كَذَا فِي التَّهْذِيبِ . الفتاوى الهندية ۱ / ۱۳۹ الْبَابُ الْخَامِسَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْمُسَافِرِ

وفي الهداية : (وَلَوْ دَخَلَ مِصْرًا عَلَى عَزْمِ أَنْ يَخْرُجَ غَدًا أَوْ بَعْدَ غَدٍ وَلَمْ يَنْوِ مُدَّةَ الْإِقَامَةِ حَتَّى بَقِيَ عَلَى ذٰلِكَ سِنِينَ قَصَرَ) لِأَنَّ ابْنَ عُمَرَ أَقَامَ بِأَذْرَبِيجَانَ سِتَّةَ أَشْهُرٍ وَكَانَ يَقْصُرُ (رواه عبدالرزاق) وَعَنْ جَمَاعَةٍ مِنَ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ مِثْلُ ذٰلِكَ . الهداية ج۱ ص ۱۳۹ بَابُ صَلَاةِ السَّفَرِ . فتاوى حقانيه ج۳ ص ۳۷۲ باب صلوٰة المسافر . فتاوى عثمانيه ج۳ ص ۹۷ باب صلوٰة المسافر . فتاوى محموديه ج۱۱ ص ۵۶۱ مسافر كى نماز .

اوکړي او د خپل کلي د حدودو نه اووځي نو دې مسافر حسابیږي ، دې به مسافرانه مونځ کوي ، تر دې پورې چې د خپل کلي دې حدودو ته واپس راداخل شي ، او یا په یو ځای کې د پنځلسو (۱۵) ورځو د اِقامت نیت اوکړي ، نو بیا به پوره مونځ کوي .(۱)

مسافر چې د مُقیم امام پسې اِقتداء اوکړي نو پوره مونځ به کوي

که یو مسافِر د مُقیم اِمام پسې په څلور رکعته فرض مانځه کې اِقتداء اوکړي نو دا مسافر به ددې اِمام د متابعت د وجې پوره مونځ کوي .(۲)

یعنی د امام د اِقتداء په وجه دده مونځ د دوه رکعتونو په ځای څلور رکعته شو ، اوس به دا مسافر د مقیم په شان مونځ کوي .(۳)

---

(۱) مَنْ خَرَجَ مِنْ عِمَارَةِ مَوْضِعِ إِقَامَتِهِ مَسِيْرَةَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ وَلَيَالِيْهَا بِالسَّيْرِ الْوَسَطِ مَعَ الْإِسْتِرَاحَاتِ الْمُعْتَادَةِ صَلَّى الْفَرْضَ الرُّبَاعِيَّ رَكْعَتَيْنِ ... حَتّٰى يَدْخُلَ مَوْضِعَ مُقَامِهِ أَوْ يَنْوِيَ إِقَامَةَ نِصْفِ شَهْرٍ . تنوير الابصار على صدر رد المحتار ۲/۱۲۱ بَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ .

وفى الهداية : (وَإِذَا فَارَقَ الْمُسَافِرُ بُيُوْتَ الْمِصْرِ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ) ؛ لِأَنَّ الْإِقَامَةَ تَتَعَلَّقُ بِدُخُوْلِهَا فَيَتَعَلَّقُ السَّفَرُ بِالْخُرُوْجِ عَنْهَا . وَفِيْهِ الْأَثَرُ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : لَوْ جَاوَزْنَا هٰذَا الْخُصَّ لَقَصَرْنَا (وَلَا يَزَالُ عَلٰى حُكْمِ السَّفَرِ حَتّٰى يَنْوِيَ الْإِقَامَةَ فِيْ بَلْدَةٍ أَوْ قَرْيَةٍ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا أَوْ أَكْثَرَ . وَإِنْ نَوٰى أَقَلَّ مِنْ ذٰلِكَ قَصَرَ) . الهداية ج۱ بَابُ صَلَاةِ السَّفَرِ . فتاوى عثمانيه ج۳ ص ۵٦ باب صلوة المسافر ، فتاوى محموديه ج۱۱ ص ۵۵۹ مسافر کی نماز .

(۲) قال برهان الدين المرغيناني رحمه الله : (وَإِنِ اقْتَدَى الْمُسَافِرُ بِالْمُقِيْمِ فِي الْوَقْتِ أَتَمَّ أَرْبَعًا) ؛ لِأَنَّهُ يَتَغَيَّرُ فَرْضُهُ إِلٰى أَرْبَعٍ لِلتَّبَعِيَّةِ كَمَا يَتَغَيَّرُ بِنِيَّةِ الْإِقَامَةِ لِاتِّصَالِ الْمُغَيِّرِ بِالسَّبَبِ وَهُوَ الْوَقْتُ . الهداية ج۱ ص ۱۳۹ بَابُ صَلَاةِ السَّفَرِ .

قال علاء الدين الحصكفي رحمه الله : وَأَمَّا اقْتِدَاءُ الْمُسَافِرِ بِالْمُقِيْمِ فَيَصِحُّ فِي الْوَقْتِ وَيُتِمُّ . الدر المختار ۲/۱۳۰ باب صلاة المسافر ، ومثله فى البحر الرائق ج۲ ص ۱۳۲ صلوة المسافر . فتاوى حقانيه ج۳ ص ۳۵۷ باب صلوة المسافر فتاوى عثمانيه ج۳ ص ٦١ صلوة المسافر . فتاوى محموديه ج۱۱ ص ۵٦۸ مسافر کی نماز ، فتاوى فريديه ج۳ ص ۸۲ فصل فى قصر الصلوة .

(۳) فتاوى فريديه ج۳ ص ۹۰ فصل فى قصر الصلوة .

Scanned with CamScanner

مسافر چې د مُقيم اِمام پسې اقتداء اوکړي نو نيت به څنګه کوي ؟

په فتاوی محموديه کې ذکر دي : مسافر چې د مقيم اِمام پسې اقتداء اوکړي نو قصر جائز نه دی ، بلکه پوره مونځ به کوي ، لهذا نيت به هم د پوره مانځه کوي .(۱)

په فتاوی فريديه کې ذکر دي : چې کله امام مقيم وي او مقتدي مسافر وي نو دا مقتدي به اوس د دوه رکعتونو نيت کوي او که د څلورو رکعتونو ؟

نو مفتي صاحب ددې په جواب کې ليکلي چې په دې مسئله کې توسّع ده ، تولو فقهاؤ دا خبره ليکلې چې د مانځه د صِحت د پاره د رکعتونو عدد ذکر کول ضروري نه دی .(۲)

لهذا که دا مسافر مقتدي ددې مقيم پسې د اقتداء په وخت د مانځه عدد ذکر نه کړي نو په دې کې هيڅ حرج نشته .

برجندي ليکلي چې دا مسافر به د مقيم امام پسې خالِصه د فرضو نيت کوي .

او که چيرته دا مسافر د مانځه د عدد تعين کول غواړي نو په جامع الرموز کې ذکر دي چې د دوه رکعتو نيت به کوي ، بعضې فقهاؤ همدا راجح ګڼرلې .

مولانا عبدالحي لکهنوي رحمه الله فرمايي : بهتر داده چې دا مسافر بغير د تعين د رکعتونو نه خالِصه د فرضو نيت اوکړي لکه دا خبره په برجندي کې ذکر ده ، او که نيت کوي نو د دوه رکعتونو نيت به کوي .

---

(۱) وفي الهندية : وَإِنِ اقْتَدٰى مُسَافِرٌ بِمُقِيمٍ أَتَمَّ أَرْبَعًا . الفتاوی الهندية ۱ /۱۴۲ اَلْبَابُ الْخَامِسَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْمُسَافِرِ ، الهداية ج۱ ص ۱۴۹ بَابُ صَلَاةِ السَّفَرِ . النهر الفائق ج۱ ص ۳۴۷ باب المسافر ، مجمع الانهر ج۱ ص ۲۴۲ باب المسافر . فتاوی محموديه ج۱۱ ص ۵۶۹ مسافر کی نماز .

(۲) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله : لِأَنَّ نِيَّةَ عَدَدِ الرَّكَعَاتِ لَيْسَتْ بِشَرْطٍ فِي الْفَرْضِ وَالْوَاجِبِ ؛ لِأَنَّ قَصْدَ التَّعْيِينِ مُغْنٍ عَنْهُ وَلَوْ نَوَى الظُّهْرَ ثَلَاثًا وَالْفَجْرَ أَرْبَعًا جَازَ ، وَقَدْ عُلِمَ مِمَّا قَدَّمْنَاهُ مِنْ أَنَّهُ لَامُعْتَبَرَ بِاللِّسَانِ أَنَّهُ لَوْ نَوَى الظُّهْرَ وَتَلَفَّظَ بِالْعَصْرِ فَإِنَّهُ يَكُونُ شَارِعًا فِي الظُّهْرِ كَمَا صَرَّحُوا بِهِ . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۱ /۲۹۸ بَابُ شُرُوطِ الصَّلَاةِ . ومثله في الدر المختار على صدر رد المحتار ج۱ ص ۴۱۸ باب شروط الصلاة .

Scanned with CamScanner

په جامع الرموز کې ذکر دي : لَوْ أَرَادَ نِيَّةَ الْعَدَدِ نَوَى رَكْعَتَيْنِ . (۱).

که چیرته دا د عدد نیت کول غواړي نو د دوه رکعتونو نیت به کوي .

او بعضې اکابرو ترجیح دیته ورکړې چې د څلور رکعتو نیت به کوي ، او د تحقیق په رڼا کې همدا قول صحیح دی . (۲)

مسافر چې د مُقیم امام سره د مانځه په آخِر کې شریک شي

که یو مسافر د مقیم اِمام سره د څلور رکعته فرض مانځه په آخِر کې شریک شي نو بیا به هم دا مسافر پوره مونځ کوي ، د امام د سلام ګرځولو نه پس به دا مسافر په باقي پاتې رکعتونو کې قِرأت هم کوي . (۳)

مُقیم چې د مسافر اِمام پسې اِقتداء اوکړي نو په باقي دوه رکعتونو کې به قراءت نه کوي

چې کله یو مقیم د مسافر امام پسې اِقتداء اوکړي ، او مسافر امام په دوه رکعتونو باندې سلام اوګرځوي نو دا مقیم چې کله د باقي پاتې دوه رکعتونو کولو د پاره پاڅي نو په

---

(۱) مجموعة الفتاوى ج۱ ص۳۱۴ رقم ۱۴۰ کتاب الصلوة .

(۲) مفتي محمد فريد رحمه الله په يو مجلس کې وفرمايل : چې د څلورو رکعتونو نيت کول راجح دی ، بيا مفتي صاحب وفرمايل : زمونږ شيخ محدّث کبير مولانا نصيرالدين الغرغشتوي النقشبندي المجددي رحمه الله به فرمايل :چې مسافر به د مقيم اِمام پسې د څلورو رکعتونو نيت کوي ، لانّ نيّة الامامة قبل التکبير التحريمة صحيحة لانّه بشرف أن يکون اماماً ، فنيّة الاربعة ايضاً صحيحة لانّه بشرف ان تکون صلاته اربعاً . فتاوى فريديه ج۳ ص ۷۹ وص ۸۰ فصل في قصر الصلاة .

(۳) واذا دخل المسافر في صلاة المقيم يلزمه الإتمام سواء کان في اوّلها او في آخرها . الفتاوى التاتارخانية ۲/ ۲۰ کتاب الصلوة نوع آخر في بيان ما يصير المسافر به مقيما بدون نية الاقامة ، فتاوى عثمانيه ج۳ ص ۶۱ صلوة المسافر

قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالي رحمه الله : "وإن اقتدى مسافر بمقيم" يصلي رباعية ولو في التشهد الأخير "في الوقت صح" اقتداؤه "وأتمها أربعا" تبعا لإمامه . مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۱/ ۱۶۳ باب صلاة المسافر . فتاوى حقانيه ج۳ ص ۳۶۵ .

دې کې به قراءت نه کوي ، بلکه د سورة فاتحې لوستلو په اندازه به خاموش اودرېږي ، بيا به رکوع اوکړي ، ځکه دې اوس هم مقتدي شمارېږي ، او په مقتدي باندې قراءت نه وي ، نو لهذا په ده هم قراءت نشته .

بل دا چې د مسافر امام د سلام ګرځولو نه پس او س دا مقيم مقتدي د لاحق په حکم کې دی ، او په لاحِق باندې قِرأت نه وي نو لهذا په ده هم قراءت نشته . (۱)

دا مسئله په فتاوی حقانيه ، فتاوی عثمانيه ، او فتاوی محموديه کې همدغه شان ذکر ده . (۲)

په روان ګاډي کې د فرض مونځ کولو حکم

په **فتاوی عثمانيه** کې ذکر دي : په دې کې شک نشته چې په مخکينی زمانه کې به د يو ځاى نه بل ځاى ته تللو د پاره د سوَرلو سهولت کم وُ ، سفر کول به ډېر مشکل وُ ، اکثر به چې يوه سوَرلي د ګوتو نه اُووَته نو بيا به دويمه ملاويدل ناممکن وو ، دغه وجه وه چې فقهاء کرامو د هغه وخت حالاتو ته نظر کولو سره په سفر کې په سوَرلی باندې مونځ کول جائز کړي وُ ، او د مانځه بعضې شرائط او آرکان لکه په مانځه کې قبلې ته مخ کول او قِيام يې ساقط کړي وو .

لیکن موجوده زمانه په مخکينی زمانې باندې قياس کول صحيح نه دی ، ددې يو څو

---

(۱) قال علاؤالدين الحصكفي رحمه الله : (وَصَحَّ اِقْتِدَاءُ الْمُقِيمِ بِالْمُسَافِرِ فِي الْوَقْتِ وَبَعْدَهُ فَإِذَا قَامَ) الْمُقِيمُ (إِلَى الْإِتْمَامِ لَا يَقْرَأُ) وَلَا يَسْجُدُ لِلسَّهْوِ (فِي الْأَصَحِّ) لِأَنَّهُ كَاللَّاحِقِ . الدرالمختار ۲ /۱۲۹ باب صلاة المسافر .

وفي الهندية : وَإِنْ صَلَّى الْمُسَافِرُ بِالْمُقِيمِينَ رَكْعَتَيْنِ سَلَّمَ وَأَتَمَّ الْمُقِيمُونَ صَلَاتَهُمْ . كَذَا فِي الْهِدَايَةِ وَصَارُوا مُنْفَرِدِينَ كَالْمَسْبُوقِ إِلَّا أَنَّهُمْ لَا يَقْرَءُونَ فِي الْأَصَحِّ . هٰكَذَا فِي التَّبْيِينِ . الفتاوى الهندية ۱ /۱۳۲ اَلْبَابُ الْخَامِسَ عَشَرَ فِي صَلَاةِ الْمُسَافِرِ . ومثله في البحر الرائق ج۲ ص۱۳۵ صلوة المسافر .

(۲) فتاوی حقانيه ج۳ ص۳۵۷ باب صلوة المسافر . فتاوی عثمانيه ج۳ ص۶۱ ، وص۷۰ ، وص۱۰۹ صلوة المسافر . فتاوی محموديه ج۱۱ ص۷۲ ، ۵س مسافر کی نماز .

Scanned with CamScanner

وجوهات دي: اول دا چې نن صبا هر ځای امن و امان دی او د وسائلو فراخي ده.
دويم دا چې هغه وخت به د حيوان سورلي هم ډيره په مُشکل ملاويده ليکن نن صبا هر ځای د موټرو فراخي ده.

دريم دا چې هغه وخت به خلقو د قافلو په شکل کې ځو ځو ورځې سفر کولو ليکن نن صبا بين الاقوامي سفرې هم ګڼتو ته راغلي (يعنی د يو ملک نه بل ملک ته په يو ځو ګڼتو کې دننه تلل ممکن دي) ، لهذا نن صبا دا ترقي يافته دور په مخکيني زمانې باندې قياس کول غلط دي.

نو په روان بَس کې فرض مونځ په داسې طريقې سره کول صحيح ندی چې په دې کې قيام او قبلې ته مخ کول نه وي. ځکه که مونږ د موجوده دور سهولتونو ته نظر اوکړو نو د مانځه په وخت د ګاډي نه اُودريدل داسې عُذر ندی چې ددې په وجه قيام او قبلې ته مخ کول ساقط شي. بل دا چې دا خو ممکن ده چې دې ددې ګاډي نه راښکته شي او مونځ اوکړي، که دده نه دا ګاډې لاړ شي نو بل ګاډې هم په آسانۍ سره پيدا کيدې شي.

البته که نن صبا په بعضو ځايونو کې د مخکيني زمانې عُذرونه راپيښ شو مثلاً هوائي سفر وي چې په هغې کې خو تقديم او تاخير نشي کيدی، يا دې په داسې شاړه علاقې کې سفر کوي چې که هلته دې د مانځه د پاره ددې ګاډي نه کوز شي بيا ورته بل نه پيدا کيږي نو بيا په دې صورتونو کې په روان ګاډي (بس وغيره) کې مونځ کول جائز دی، چې څنګه دده ته ممکن وي هماغه شان به يې اوکړي.(۱)

په ريل ګاډي کې د مونځ کولو حکم

په **فتاوی حقانيه** کې ذکر دي: په بعضې ريل ګاډو کې د مانځه د پاره ځای جوړ شوې

(۱) قال صاحب الهداية: (وَيَسْتَقْبِلُ الْقِبْلَةَ) لِقَوْلِهِ تَعَالَى ﴿فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ﴾ ثُمَّ مَنْ كَانَ بِمَكَّةَ فَفَرْضُهُ إِصَابَةُ عَيْنِهَا، وَمَنْ كَانَ غَائِبًا فَفَرْضُهُ إِصَابَةُ جِهَتِهَا هُوَ الصَّحِيحُ لِأَنَّ التَّكْلِيفَ بِحَسَبِ الْوُسْعِ (وَمَنْ كَانَ خَائِفًا يُصَلِّي إِلَى أَيِّ جِهَةٍ قَدَرَ) لِتَحَقُّقِ الْعُذْرِ فَأَشْبَهَ حَالَةَ الِاشْتِبَاهِ... (فَرَائِضُ الصَّلَاةِ سِتَّةٌ: التَّحْرِيمَةُ) لِقَوْلِهِ تَعَالَى ﴿وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ﴾، وَالْقِيَامُ لِقَوْلِهِ تَعَالَى ﴿وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ﴾.
الهداية كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ شُرُوطِ الصَّلَاةِ الَّتِي تَتَقَدَّمُهَا. فتاوى عثمانيه ج ۲ ص ۹۸ صفة الصلوة و شروطها.

Scanned with CamScanner

وي نو مسلمان به په هغې کې په ولاړه باندې مخ په قبله مونځ کوي، ځکه په مانځه کې قيام او قبلې ته مخ کول فرض دي، بغير د څه شرعي عُذر نه دې پريخودل صحيح نه دي.

خو که ده اول قبلې ته مونځ شروع کړو، بيا په دې مينځ کې ريل ګاډي بل طرف ته تاؤ شو نو دې به په مانځه کې قبلې طرف ته راتاويږي، خو که په ريل ګاډي کې د خلقو د رش په وجه راتاويدل ممکن نه وو نو بيا د مجبوريت په وجه دده مونځ کيږي، ددې مثال په فقه کې د لنګر اَنداز کشتۍ په شان دی. (۱)

خو که په ريل ګاډي کې د خلقو د ډير والي په وجه په ولاړه مونځ کول ممکن نه وُ نو دې به خپلو ملګرو ته ووايي چې ماله لږ ځاى راکړئ چې زه په ولاړه مونځ اوکړم، که هغوى ځاى ورکړو نو په ولاړه به مونځ اوکړي، او که ځاى يې ورنه کړو نو په ناسته به مونځ اوکړي خو چې د ريل ګاډي نه کوز شي دا مونځ به دوباره بيا راګرځوي.

او که په ده باندې په ولاړه مونځ کولو سره سَر ګرځيدو يا دده د راغورځيدو خطره وه نو بيا به ناسته مونځ اوکړي، ددې مونځ دوباره راګرځول په ده نشته. (۲)

(وجه داده چې کوم عُذر د بندګانو د طرفه وي او د هغې سره مونځ اوشي نو دداسې مونځ دوباره راګرځول واجب دي، او کوم عُذر چې د الله ﷻ د طرفه وي او د هغې سره مونځ اوشي نو دداسې مونځ دوباره راګرځول واجب ندي).

---

(۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله: (وَالْمَرْبُوطَةُ بِلُجَّةِ الْبَحْرِ إِنْ كَانَ الرِّيحُ يُحَرِّكُهَا شَدِيدًا فَكَالسَّائِرَةِ وَإِلَّا فَكَالْوَاقِفَةِ) وَيَلْزَمُ اِسْتِقْبَالُ الْقِبْلَةِ عِنْدَ الْإِفْتِتَاحِ وَكُلَّمَا دَارَتْ. الدر المختار ۲/ ۱۰۱ بَابُ صَلَاةِ الْمَرِيضِ.

(۲) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله: وَفِي الْخُلَاصَةِ وَفَتَاوَى قَاضِي خَانْ وَغَيْرِهِمَا. اَلْأَسِيرُ فِي يَدِ الْعَدُوِّ إِذَا مَنَعَهُ الْكَافِرُ عَنِ الْوُضُوءِ وَالصَّلَاةِ يَتَيَمَّمُ وَيُصَلِّي بِالْإِيمَاءِ ثُمَّ يُعِيدُ إِذَا خَرَجَ. وَكَذَا لَوْ قَالَ لِعَبْدِهِ إِنْ تَوَضَّأْتَ حَبَسْتُكَ أَوْ قَتَلْتُكَ، فَإِنَّهُ يُصَلِّي بِالتَّيَمُّمِ ثُمَّ يُعِيدُ كَالْمَحْبُوسِ... فَعُلِمَ مِنْهُ أَنَّ الْعُذْرَ إِنْ كَانَ مِنْ قِبَلِ اللهِ تَعَالَى لَا تَجِبُ الْإِعَادَةُ وَإِنْ كَانَ مِنْ قِبَلِ الْعَبْدِ وَجَبَتِ الْإِعَادَةُ. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۱/ ۱۳۹ بَابُ التَّيَمُّمِ. فتاوى دارالعلوم حقانيه ج ۳ ص ۸۷، ۷۹ باب شروط الصلوة و اركانها.

Scanned with CamScanner

همداسې مسئله په فتاوی دارالعلوم دیوبند کې هم ذکر ده . (۱)

په فتاوی فریدیه کې ذکر دي : که یو کس په روان ریل گاډي کې په ولاړه د مونځ

(۱) اگر کسي در ریل نماز فرض خواند پس استقبال قبله و قیام و رکوع و سجود وغیره جمله ارکان صلوة اداء کردن ضروري است ، ومحض از سواري ریل استقبال ساقط نمي شود، چرا که باوجود تحویل الواح به قدرے وقت وتکلف استقبال ممکن است، اگر بلا مجبوري ترک استقبال کرد نماز جائز و اداء نمي شود ، و اگر مستقبل قبله بوده نماز شروع کرد و درحالت صلوة سمت قبله مبدل گردد پس مصلي را ضروري است که آن هم متوجه قبله بوده نماز تمام کند که جمله ارکان صلاة اداء شوند ، و مصلي ریل را در نماز فرض قعود قطعًا جائز نیست ، و در صلوة نفل جائز است ، البته اگر في الحقیقت هجوم این قدر باشد که حرکت رکوع و سجود ممکن نیست و نیز بر صلوة از خارج قادر نیست بلا استقبال و بلا قیام اداء کند ، واین صورت نادر است . فتاوی دارالعلوم دیوبند ج۲ ص ۱۰۹ کتاب الصلاة فصل ثالث استقبال قبله .

قال العلامة الحصكفي رحمه الله : (وَالْمَرْبُوطَةُ بِلُجَّةِ الْبَحْرِ إِنْ كَانَ الرِّيحُ يُحَرِّكُهَا شَدِيدًا فَكَالسَّائِرَةِ وَإِلَّا فَكَالْوَاقِفَةِ) وَيَلْزَمُ اِسْتِقْبَالُ الْقِبْلَةِ عِنْدَ الْإِفْتِتَاحِ وَكُلَّمَا دَارَتْ. الدر المختار

قال ابن عابدين رحمه الله : (قَوْلُهُ : وَيَلْزَمُ اِسْتِقْبَالُ الْقِبْلَةِ) أَيْ فِيْ قَوْلِهِمْ جَمِيْعًا بَحْر، وَإِنْ عَجَزَ عَنْهُ يُمْسِكُ عَنِ الصَّلَاةِ ... وَلَعَلَّهُ يُمْسِكُ مَا لَمْ يَخَفْ خُرُوْجَ الْوَقْتِ لِمَا تَقَرَّرَ مِنْ أَنَّ قِبْلَةَ الْعَاجِزِ جِهَةُ قُدْرَتِهِ، وَهٰذَا كَذٰلِكَ وَإِلَّا فَمَا الْفَرْقُ فَلْيَتَأَمَّلْ . رد المحتار على الدر المختار ۲ / ۱۰۲ بَابُ صَلَاةِ الْمَرِيْضِ.

(مَنْ تَعَذَّرَ عَلَيْهِ الْقِيَامُ) أَيْ كُلُّهُ (لِمَرَضٍ) حَقِيْقِيٍّ وَحَدُّهُ أَنْ يَلْحَقَهُ بِالْقِيَامِ ضَرَرٌ بِهِ يُفْتٰى (قَبْلَهَا أَوْ فِيْهَا) أَيِ الْفَرِيْضَةِ (أَوْ) حُكْمِيٍّ بِأَنْ (خَافَ زِيَادَتَهُ أَوْ بُطْءَ بُرْئِهِ بِقِيَامِهِ أَوْ دَوَرَانَ رَأْسِهِ أَوْ وَجَدَ لِقِيَامِهِ أَلَمًا شَدِيْدًا) أَوْ كَانَ لَوْ صَلَّى قَائِمًا سَلَسَ بَوْلُهُ أَوْ تَعَذَّرَ عَلَيْهِ الصَّوْمُ كَمَا مَرَّ (صَلَّى قَاعِدًا) وَلَوْ مُسْتَنِدًا إِلٰى وِسَادَةٍ أَوْ إِنْسَانٍ فَإِنَّهُ يَلْزَمُهُ ذٰلِكَ عَلَى الْمُخْتَارِ (كَيْفَ شَاءَ) عَلَى الْمَذْهَبِ لِأَنَّ الْمَرَضَ أَسْقَطَ عَنْهُ الْأَرْكَانَ فَالْهَيْئَاتُ أَوْلٰى. وَقَالَ زُفَرُ : كَالْمُتَشَهِّدِ، قِيْلَ وَبِهِ يُفْتٰى (بِرُكُوْعٍ وَسُجُوْدٍ) . الدر المختار ۲ / ۹۵ بَابُ صَلَاةِ الْمَرِيْضِ.

کولو نه عاجز وي نو په ناسته به مونځ اوکړي خو قبلې ته مخ کول ضروري دي. (۱)

په **فتاوى محموديه** کې ذکر دي: که په ريل ګاډي کې د خلقو د رش په وجه په ناسته رکوع او سجدې سره د مونځ کولو موقع نه وي، دده او دس هم نه وي، او به هم نه وي، ريل ګاډي او ريږي هم نه، او د مونځ قضا، کيدلو خطره وي نو دې به تيمم اووهي او په ناسته اشارې سره به مونځ اوکړي، کله چې د ريل ګاډي نه کوز شي، او دس به اوکړي او دوباره به همدا مونځ په صحيح طريقې سره اوکړي. (۲)

---

(۱) قَالَ فِي الهندية: وَمَنْ أَرَادَ أَنْ يُصَلِّيَ فِي سَفِينَةٍ تَطَوُّعًا أَوْ فَرِيضَةً فَعَلَيْهِ أَنْ يَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ وَلَا يَجُوزُ لَهُ أَنْ يُصَلِّيَ حَيْثُمَا كَانَ وَجْهُهُ. كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ حَتَّى لَوْ دَارَتِ السَّفِينَةُ وَهُوَ يُصَلِّي تَوَجَّهَ إِلَى الْقِبْلَةِ حَيْثُ دَارَتْ. الفتاوى الهنديه ۱/۶۳ الْفَصْلُ الثَّالِثُ فِي إِسْتِقْبَالِ الْقِبْلَةِ.

وفي منهاج السنن: واما الصلوة في السيارات البرية من القطارات وغيرها فعند الوقوف حكمها كحكم الصلوة على الارض. وعند السير حكمها كحكم الصلوة في السفينة السائرة. فمن صلى فيها قاعدا بركوع وسجود اجزأت. ومن صلى فيها بالإيماء للزحمة وضيق المحل فالظاهر من النظائر ان يعيد الصلوة. واما الصلوة في الطيارات فلعل حكمها كحكم الصلوة في السفينة السائرة. منهاج السنن شرح جامع السنن ج۲ ص۲۳۴ باب الصلوة على الدابة حيث ما توجهت به. فتاوى فريديه ج ۲ ص۲۳۸ باب واجبات الصلوة

(۲) قَالَ ابن عابدين: رَاكِبُ السَّفِينَةِ إِذَا لَمْ يَجِدْ مَوْضِعًا لِلسُّجُودِ لِلزَّحْمَةِ. وَلَوْ أَخَّرَ الصَّلَاةَ تَقِلُّ الزَّحْمَةُ فَيَجِدُ مَوْضِعًا يُؤَخِّرُهَا وَإِنْ خَرَجَ الْوَقْتُ عَلَى قِيَاسِ قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ فِي الْمَحْبُوسِ إِذَا لَمْ يَجِدْ مَاءً وَلَا تُرَابًا نَظِيفًا. لَكِنْ تَقَدَّمَ فِي التَّيَمُّمِ أَنَّ الْأَصَحَّ رُجُوعُ الْإِمَامِ إِلَى قَوْلِهِمَا بِأَنَّهُ لَا يُؤَخِّرُهَا بَلْ يَتَشَبَّهُ بِالْمُصَلِّينَ. رد المحتار على الدر المختار ۲/۴۱ بَابُ الْوِتْرِ وَالنَّوَافِلِ.

فَعُلِمَ مِنْهُ أَنَّ الْعُذْرَ إِنْ كَانَ مِنْ قِبَلِ اللهِ تَعَالَى لَا تَجِبُ الْإِعَادَةُ. وَإِنْ كَانَ مِنْ قِبَلِ الْعَبْدِ وَجَبَتِ الْإِعَادَةُ. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۱/۱۲۹ بَابُ التَّيَمُّمِ، كبيري ص ۷۵ فصل في التيمم، رد المحتار على الدر المختار ۱/۲۳۹ بَابُ التَّيَمُّمِ طبع زكريا.

وَإِنْ لَمْ يَكُنْ عَلَى طَمَعٍ مِنْ وُجُودِ الْمَاءِ لَا يُؤَخِّرُ وَيَتَيَمَّمُ وَيُصَلِّي فِي الْوَقْتِ الْمُسْتَحَبِّ. الفتاوى الهندية ۱/۳۰ الْفَصْلُ الثَّالِثُ فِي سُنَنِ التَّيَمُّمِ. فتاوى محموديه ج۱۱ ص ۶۶۷ مسافر كى نماز.

چې د قدرت باوجود قيام او استقبال قبله پريږدي نو مونځ نه کيږي

که ديو کس په ولاړه او قبلې ته مخ کولو باندې قدرت حاصل وي او دې بيا هم بغير د څه شرعي عُذر نه دا پريږدي نو مونځ يې نه کيږي، که دا په سفر کې وي که په حضر کې، که په ريل ګاډي کې وي يا په هوائي جهاز کې، د دې ټولو حُکم يو شان دی. (۱)

په بَس (او نورو ګاډو) کې د مونځ کولو حکم

په **فتاوی حقانيه** کې ذکر دي: که يو سړي په بس کې سفر کولو، د مانځه وخت راغی، او ډرائيور بَس نه اُودرول نو بيا د عُذر په وجه په ناسته مونځ کول جائز دي، خو چې کله د اول نه يې قبلې طرف ته مخ وي، ليکن بهتر داده چې انتظار اوکړي، اُميد شته چې ډرائيور ورته ګاډي اُودروي، خو که ګاډي اُودريد نو بيا په بس کې په ناسته مونځ جائز نه دی. (۲)

---

(۱) وفى الهندية: وَكُلَّمَا دَارَتِ السَّفِينَةُ يُحَوِّلُ وَجْهَهُ إِلَيْهَا. وَلَوْ تَرَكَ تَحْوِيلَ وَجْهِهِ إِلَى الْقِبْلَةِ وَهُوَ قَادِرٌ عَلَيْهِ لَا يُجْزِيهِ. الفتاوى الهندية ۱/۱۴۴ اَلْبَابُ الْخَامِسَ عَشَرَ فِيْ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ اَلتَّطَوُّعُ عَلَى الدَّابَّةِ وَالسَّفِينَةِ.

قال الحصكفي رحمه الله: (وَ) السَّادِسُ (اِسْتِقْبَالُ الْقِبْلَةِ) حَقِيقَةً أَوْ حُكْمًا كَعَاجِزٍ. وَالشَّرْطُ حُصُولُهُ لَا طَلَبُهُ. وَهُوَ شَرْطٌ زَائِدٌ لِلِابْتِلَاءِ يَسْقُطُ لِلْعَجْزِ. الدر المختار ۱ / ۴۲۷ بَابُ شُرُوطِ الصَّلَاةِ مبحث في استقبال القبلة.

وَمِنْهَا الْقِيَامُ فِيْ فَرْضٍ لِقَادِرٍ عَلَيْهِ. الدر المختار ۱ / ۴۴۵ بَابُ صِفَةِ الصَّلَاةِ بحث القيام، حلبي كبير ص ۲۱۹ الشرط الرابع، وص ۲۶۱ فرائض الصلوة الثاني القيام. فتاوى محموديه ج۱۱ ص ۶۰۸ مسافر كى نماز.

(۲) قال الحصكفي رحمه الله: (صَلَّى الْفَرْضَ فِيْ فُلْكٍ) جَارٍ (قَاعِدًا بِلَا عُذْرٍ صَحَّ) لِغَلَبَةِ الْعَجْزِ (وَأَسَاءَ) وَقَالَا: لَا يَصِحُّ إِلَّا بِعُذْرٍ وَهُوَ الْأَظْهَرُ بُرْهَانٌ. الدر المختار ۲/ ۱۰۱ بَابُ صَلَاةِ الْمَرِيضِ.

(وَأَمَّا الصَّلَاةُ عَلَى الْعَجَلَةِ إِنْ كَانَ طَرَفُ الْعَجَلَةِ عَلَى الدَّابَّةِ وَهِيَ تَسِيرُ أَوْ لَا) تَسِيرُ (فَهِيَ صَلَاةٌ عَلَى الدَّابَّةِ. فَتَجُوزُ فِيْ حَالَةِ الْعُذْرِ) الْمَذْكُورِ فِي التَّيَمُّمِ (لَا فِيْ غَيْرِهَا) وَمِنَ الْعُذْرِ الْمَطَرُ. وَطِينٌ يَغِيبُ فِيهِ الْوَجْهُ. وَذَهَابُ الرُّفَقَاءِ. وَدَابَّةٌ لَا تَرْكَبُ إِلَّا بِعَنَاءٍ أَوْ بِمُعِينٍ وَلَوْ مَحْرَمًا لِأَنَّ قُدْرَةَ الْغَيْرِ لَا تُعْتَبَرُ حَتَّى لَوْ كَانَ أُمَّهُ مَثَلًا فِيْ شِقِّ مَحْمَلٍ وَإِذَا نَزَلَ لَمْ تَقْدِرْ ....

په فتاوى محموديه کې ذکر دي : که درائيور بَس د مانځه د پاره نه اُودرول ، د مونځ قضاء کيدو خطره وه ، او په بَس کې د دير رَش په وجه ځای هم نه وُ چې په ناسته په رکوع او سجدې کولو سره مونځ اوکړي نو په داسې حالت کې به په ناسته په اِشارې سره مونځ اوکړي ، خو چې کله ځای ته اُورسي نو دا مونځ به دوباره را اوګرځوي ، ځکه په دې ځای کې د مونځ کولو نه مانع د بندګانو د طرفه دی . (۱)

.... تَرْكَبُ وَحْدَهَا جَازَلَهُ أَيْضًا . الدر المختار ۲/ ۴۰ بَابُ الْوِتْرِ وَالنَّوَافِلِ .

وفي الهندية : وَلَا تَجُوزُ الْمَكْتُوبَةُ عَلَى الدَّابَّةِ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ ، هٰكَذَا فِي فَتَاوٰى قَاضِيْ خَان . وَكَذَا الْوَاجِبَاتُ مِثْلُ الْوِتْرِ ، وَالْمَنْذُورِ ، وَالْمَشْرُوْعِ الَّذِيْ أَفْسَدَهُ ، وَصَلَاةِ الْجِنَازَةِ ، وَسَجْدَةِ التِّلَاوَةِ الَّتِيْ تُلِيَتْ عَلَى الْأَرْضِ هٰكَذَا فِي الْعَيْنِيْ شَرْحِ الْكَنْزِ . وَمِنَ الْأَعْذَارِ أَنْ يَخَافَ لَوْ نَزَلَ عَنِ الدَّابَّةِ عَلٰى نَفْسِهِ ، أَوْ عَلٰى ثِيَابِهِ ، أَوْ دَابَّتِهِ لِصًّا أَوْ سَبُعًا ، أَوْ عَدُوًّا ، أَوْ كَانَتِ الدَّابَّةُ جَمُوْحًا لَوْ نَزَلَ عَنْهَا لَا يُمْكِنُهُ الرُّكُوْبُ إِلَّا بِمُعِيْنٍ ، أَوْ كَانَ شَيْخًا كَبِيْرًا لَا يُمْكِنُهُ أَنْ يَرْكَبَ وَلَا يَجِدُ مَنْ يُرْكِبُهُ . أَوْ كَانَ فِيْ طِيْنٍ وَرَدْغَةٍ لَا يَجِدُ عَلَى الْأَرْضِ مَكَانًا يَابِسًا هٰكَذَا فِي الْمُحِيْطِ.....

وَأَمَّا الصَّلَاةُ عَلَى الْعَجَلَةِ فَإِنْ كَانَ طَرَفُهَا عَلَى الدَّابَّةِ وَهِيَ تَسِيْرُ أَوْ لَا تَسِيْرُ فَهِيَ صَلَاةٌ عَلَى الدَّابَّةِ وَقَدْ مَرَّ حُكْمُهَا ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فَهِيَ بِمَنْزِلَةِ السَّرِيْرِ . الفتاوى الهندية ۱/ ۱۴۳ اَلتَّطَوُّعُ عَلَى الدَّابَّةِ وَالسَّفِيْنَةِ ، و مثله في معارف السنن ۳ ص ۳۹۵ باب الصلاة على الدابة حيث توجهت به . فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۲۲۲ .

(۱) وَفِي الْخُلَاصَةِ وَفَتَاوٰى قَاضِيْ خَانْ وَغَيْرِهِمَا : اَلْأَسِيْرُ فِيْ يَدِ الْعَدُوِّ إِذَا مَنَعَهُ الْكَافِرُ عَنِ الْوُضُوْءِ وَالصَّلَاةِ يَتَيَمَّمُ وَيُصَلِّيْ بِالْإِيْمَاءِ ثُمَّ يُعِيْدُ إِذَا خَرَجَ .... وَفِي التَّجْنِيْسِ رَجُلٌ أَرَادَ أَنْ يَتَوَضَّأَ فَمَنَعَهُ إِنْسَانٌ عَنْ أَنْ يَتَوَضَّأَ بِوَعِيْدٍ قِيْلَ يَنْبَغِيْ أَنْ يَتَيَمَّمَ وَيُصَلِّيْ ثُمَّ يُعِيْدَ الصَّلَاةَ بَعْدَ مَا زَالَ عَنْهُ ، لِأَنَّ هٰذَا عُذْرٌ جَاءَ مِنْ قِبَلِ الْعِبَادِ فَلَا يُسْقِطُ فَرْضَ الْوُضُوْءِ عَنْهُ . فَعُلِمَ مِنْهُ أَنَّ الْعُذْرَ إِنْ كَانَ مِنْ قِبَلِ اللهِ تَعَالٰى لَا تَجِبُ الْإِعَادَةُ ، وَإِنْ كَانَ مِنْ قِبَلِ الْعَبْدِ وَجَبَتِ الْإِعَادَةُ . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۱ /۱۴۹ بَابُ التَّيَمُّمِ ، كبيري ص ۷۵ فصل في التيمم .

أَسِيْرٌ مَنَعَهُ الْعَدُوُّ مِنَ الْوُضُوْءِ وَالصَّلَاةِ يَتَيَمَّمُ وَيُصَلِّيْ بِالْإِيْمَاءِ ثُمَّ يُعِيْدُ . رد المحتار على الدر المختار ۱/ ۲۳۵ بَابُ التَّيَمُّمِ سُنَنُ التَّيَمُّمِ . فتاوى محموديه ج ۱۱ ص ۶۰۹ ، و ص ۶۲۴ مسافرکی نماز .

په **فتاوی فریدیه** کې ذکر دي : د بس او ریل ګاډي حکم یو شان دی یعنی که په دې کې په ولاړه سره د مونځ کولو نه عاجز وي نو په ناسته به رکوع او سجدې کولو سره مونځ اوکړي خو قبلې ته مخ کول په کې ضروري دي .(۱)

په روان موټر کې په اشارې سره مونځ کول کافي نه دي ، لهذا که چا په موټر کې په ناسته په اشارې سره مونځ اوکړو (یعنی رکوع او سجده یې اونه کړه) نو داسې مونځ دوباره راګرځول واجب دي .(۲)

په **فتاوی عثمانیه** کې ذکر دي : په ګاډي او ریل ګاډي کې د مونځ کولو په مسئله کې څه تفصیل دی : که چیرته ګاډي ولاړ وي نو په دې کې مونځ کول داسې دي لکه په زمکه باندې مونځ کول . یعنی په دې کې قیام ، رکوع ، سجده ، او قبلې طرف ته مخ کول ضروري دي (په اشارې یا په ناسته سره په ولاړ ګاډي کې مونځ صحیح نه دی) .

او که دا ګاډي روان وُ نو دا د روانې کشتۍ په حکم کې دی .

---

(۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله : (وَالْمَرْبُوْطَةُ بِلُجَّةِ الْبَحْرِ إِنْ كَانَ الرِّيْحُ يُحَرِّكُهَا شَدِيْدًا فَكَالسَّائِرَةِ وَإِلَّا فَكَالْوَاقِفَةِ) وَيَلْزَمُ إِسْتِقْبَالُ الْقِبْلَةِ عِنْدَ الْإِفْتِتَاحِ وَكُلَّمَا دَارَتْ . الدر المختار .

قال ابن عابدين رحمه الله : (قَوْلُهُ : وَإِلَّا فَكَالْوَاقِفَةِ) أَيْ إِنْ لَمْ تُحَرِّكْهَا الرِّيْحُ شَدِيْدًا بَلْ يَسِيْرًا فَحُكْمُهَا كَالْوَاقِفَةِ فَلَا تَجُوْزُ الصَّلَاةُ فِيْهَا قَاعِدًا مَعَ الْقُدْرَةِ عَلَى الْقِيَامِ كَمَا فِي الْإِمْدَادِ .

(قَوْلُهُ : وَيَلْزَمُ إِسْتِقْبَالُ الْقِبْلَةِ) أَيْ فِيْ قَوْلِهِمْ جَمِيْعًا بَحْرٌ . وَإِنْ عَجَزَ عَنْهُ يُمْسِكُ عَنِ الصَّلَاةِ . إِمْدَادٌ عَنْ مَجْمَعِ الرِّوَايَاتِ . وَلَعَلَّهُ يُمْسِكُ مَا لَمْ يَخَفْ خُرُوْجَ الْوَقْتِ لِمَا تَقَرَّرَ مِنْ أَنَّ قِبْلَةَ الْعَاجِزِ جِهَةُ قُدْرَتِهِ . وَهٰذَا كَذٰلِكَ وَإِلَّا فَمَا الْفَرْقُ فَلْيُتَأَمَّلْ . رد المحتار على الدر المختار ۲ / ۱۰۲ بَابُ صَلَاةِ الْمَرِيْضِ . فتاوی فریدیه ج ۲ ص ۲۳۸ باب واجبات الصلوة ، و ج۲ ص ۲۲۳ باب شروط الصلاة و ارکانها .

(۲) وفي منهاج السنن : واما الصلوة في السيارات البرية من القطارات وغيرها فعند الوقوف حكمها كحكم الصلوة على الارض ، وعند السير حكمها كحكم الصلوة في السفينة السائرة . فمن صلى فيها قاعدا بركوع وسجود اجزأت ، ومن صلى فيها بالإيماء للزحمة وضيق المحل فالظاهر من النظائر ان يعيد الصلوة . منهاج السنن شرح جامع السنن ج۲ ص ۲۳۴ باب الصلوة على الدابة حيث ما توجهت به . فتاوی فریدیه ج ۲ ص ۲۳۸ باب واجبات الصلوة .

لهذا که یوه سورلي داسې وه چې په هغې کې د فرض او واجب مونځ اداء کولو په وخت د مانځه ټول شرائط " قيام ، رکوع ، سجده ، او قبلې ته مخ کول " پوره کیدې شو نو په دې کې مونځ بغير د څه شبهې نه جائز دی ، مثلاً ریل ګاډي وغیره .

لیکن که په کوم ګاډي کې د قيام شرط نه شو پوره کیدی نو په داسې ګاډي کې په ناسته رکوع او سجدې سره مونځ کول جائز دي خو د مانځه په شروع کې قبلې طرف ته مخ کول ضروري دي . که په ګاډي کې يې په اشارې سره مونځ اوکړو نو داسې مونځ دوباره راګرځول ضروري دي . (١)

چې په ریل ګاډي یا بَس کې اوبه نه وي او مونځ قضاء کیږي

که د یو چا اودس نه وي ، په ریل ګاډي یا بَس کې اوبه هم نه وي ، او دا اُمید هم نه وي چې ګاډي به په یو ځای کې اودریږي ، همدارنګې د خلقو د رَش په وجه په ناسته باندې په رکوع او سجدې سره : مونځ کولو ګنجائش هم نه وي او د مونځ قضاء کیدو خطره وه نو بیا به په آخري وخت کې تیمم اووهي او په ناسته به په اِشارې سره مونځ اوکړي ، کله چې د ګاډي نه کوز شي نو اودس به اوکړي او دوباره به دا مونځ اوکړي . (٢)

---

(١) (وَمِنْهَا الْقِيَامُ فِيْ فَرْضٍ) وَمُلْحَقٍ بِهِ كَنَذْرٍ ، وَسُنَّةِ فَجْرٍ فِي الْأَصَحِّ (لِقَادِرٍ عَلَيْهِ) . الدرالمختار
قال ابن عابدين : (قَوْلُهُ : لِقَادِرٍ عَلَيْهِ) فَلَوْ عَجَزَ عَنْهُ حَقِيقَةً وَهُوَ ظَاهِرٌ ، أَوْ حُكْمًا كَمَا لَوْ حَصَلَ لَهُ بِهِ أَلَمٌ شَدِيدٌ ، أَوْ خَافَ زِيَادَةَ الْمَرَضِ . رد المحتار على الدر المختار ١ /٤٢٥ فَرَائِضُ الصَّلَاةِ بَحْثُ الْقِيَامِ . منهاج السنن شرح جامع السنن ج٢ ص٢٣٤ باب الصلوة على الدابة حيث ما توجهت به ، فتاوى عثمانيه ج٣ ص ٧٢ صلوة المسافر .

(٢) وَفِي الْخُلَاصَةِ وَفَتَاوَى قَاضِي خَان وَغَيْرِهِمَا : الْأَسِيْرُ فِي يَدِ الْعَدُوِّ إِذَا مَنَعَهُ الْكَافِرُ عَنِ الْوُضُوْءِ وَالصَّلَاةِ يَتَيَمَّمُ وَيُصَلِّي بِالْإِيْمَاءِ ثُمَّ يُعِيْدُ إِذَا خَرَجَ .... لِأَنَّ هٰذَا عُذْرٌ جَاءَ مِنْ قِبَلِ الْعِبَادِ فَلَا يُسْقِطُ فَرْضَ الْوُضُوْءِ عَنْهُ . فَعُلِمَ مِنْهُ أَنَّ الْعُذْرَ إِنْ كَانَ مِنْ قِبَلِ اللّٰهِ تَعَالَى لَا تَجِبُ الْإِعَادَةُ ، وَإِنْ كَانَ مِنْ قِبَلِ الْعَبْدِ وَجَبَتِ الْإِعَادَةُ . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ١ /١٤٩ بَابُ التَّيَمُّمِ ، كبيري ص ٧٥ فصل في التيمم .

لِأَنَّ الْعَجْزَ إِنَّمَا تَحَقَّقَ بِصُنْعِ الْعِبَادِ وَصُنْعُ الْعِبَادِ لَا يُؤَثِّرُ فِيْ إِسْقَاطِ حَقِّ اللّٰهِ تَعَالَى . الفتاوى الهندية ١ /٢٨ اَلْبَابُ الرَّابِعُ فِي التَّيَمُّمِ . فتاوى قاضي خان ج١ ص ٥٩ باب التيمم ، حاشية الشلبي ج١ ص ٣٧ باب التيمم ، رد المحتار على الدر المختار ١ /٢٣٥ بَابُ التَّيَمُّمِ . فتاوى محموديه ج١١ ص ٦١٥ ، و ص ٦١٧ مسافر كى نماز .

په هوائي جهاز کې د مونځ کولو حکم

په **فتاوی فريديه** کې ذکر دي : په هوائي جهاز کې د مانځه ټول ارکان په صحيح طريقې سره اداء کيدې شي ، لهذا په دې کې د کشتئ په شان مونځ کول جائز دي . (۱)

په **فتاوی محموديه** کې ذکر دي : که په هوائي جهاز کې د مونځ قضا . کيدو خطره وي نو مونځ به نه قضاء کوي بلکه مونځ به اوکړي ، بيا چې کله د جهاز نه ښکته شي نو دوباره دې دا مونځ اوکړي ، په دې سره به د هغه علماؤ په خبره هم عمل اوشي چې هغوی وايي چې په هوائي جهاز کې مونځ نه کيږي . (۲)

---

(۱) وَإِنْ كَانَتْ سَائِرَةً فَإِنْ أَمْكَنَهُ الْخُرُوجُ إِلَى الشَّطِّ يُسْتَحَبُّ لَهُ الْخُرُوجُ إِلَيْهِ ؛ لِأَنَّهُ يَخَافُ دَوَرَانَ الرَّأْسِ فِي السَّفِينَةِ فَيَحْتَاجُ إِلَى الْقُعُودِ ، وَهُوَ آمِنٌ عَنِ الدَّوَرَانِ فِي الشَّطِّ .
فَإِنْ لَمْ يَخْرُجْ وَصَلَّى فِيهَا قَائِمًا بِرُكُوعٍ وَسُجُودٍ أَجْزَأَهُ ، لِمَا رُوِيَ عَنِ ابْنِ سِيرِينَ أَنَّهُ قَالَ : صَلَّى بِنَا أَنَسٌ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فِي السَّفِينَةِ قُعُودًا ، وَلَوْ شِئْنَا لَخَرَجْنَا إِلَى الْجَدِّ . وَلِأَنَّ السَّفِينَةَ بِمَنْزِلَةِ الْأَرْضِ ؛ لِأَنَّ سَيْرَهَا غَيْرُ مُضَافٍ إِلَيْهِ فَلَا يَكُونُ مُنَافِيًا لِلصَّلَاةِ . بِخِلَافِ الدَّابَّةِ فَإِنَّ سَيْرَهَا مُضَافٌ إِلَيْهِ .
وَإِذَا دَارَتِ السَّفِينَةُ وَهُوَ يُصَلِّي يَتَوَجَّهُ إِلَى الْقِبْلَةِ حَيْثُ دَارَتْ ؛ لِأَنَّهُ قَادِرٌ عَلَى تَحْصِيلِ هَذَا الشَّرْطِ مِنْ غَيْرِ تَعَذُّرٍ ، فَيَجِبُ عَلَيْهِ تَحْصِيلُهُ . بِخِلَافِ الدَّابَّةِ فَإِنَّ هُنَاكَ لَا إِمْكَانَ .
وَأَمَّا إِذَا صَلَّى فِيهَا قَاعِدًا بِرُكُوعٍ وَسُجُودٍ فَإِنْ كَانَ عَاجِزًا عَنِ الْقِيَامِ بِأَنْ كَانَ يَعْلَمُ أَنَّهُ يَدُورُ رَأْسُهُ لَوْ قَامَ وَعَنِ الْخُرُوجِ إِلَى الشَّطِّ أَيْضًا يُجْزِئُهُ بِالِاتِّفَاقِ ، لِأَنَّ أَرْكَانَ الصَّلَاةِ تَسْقُطُ بِعُذْرِ الْعَجْزِ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱ / ۱۰۹ كِتَابُ الصَّلَاةِ فَصْلُ أَرْكَانِ الصَّلَاةِ ، فتاوی فريديه ج ۲ ص ۲۲۷ باب صفة الصلاة ، و ص ۵۱۸ باب ما يفسد الصلوة .

(۲) ومن أراد أن يصلي في سفينة فرضًا أو نفلًا فعليه أن يستقبل القبلة متى قدر على ذلك ، وليس له أن يصلي إلى غير جهتها ، حتى لو دارت السفينة وهو يصلي وجب عليه أن يدور إلى جهة القبلة حيث دارت . فإن عجز عن إستقبالها صلى إلى جهة قدرته ، ويسقط عنه السجود أيضًا إذا عجز عنه .
ومحل كل ذلك إذا خاف خروج الوقت قبل أن تصل السفينة أو القاطرة إلى المكان الذي يصلي فيه صلاة كاملة ، ولا تجب عليه الإعادة ....

Scanned with CamScanner

په جهاز کې د مونځ کولو تفصيلي بحث په جواهر الفقه ، او نظام الفتاوی کې موجود دی .(۱)

نوټ : د بحري جهاز حکم هم د کشتۍ په شان دی ، يعنی په دې کې هم د مانځه ټول ارکان په صحيح طريقې سره اداء کيدې شي نو په دې کې هم مونځ جائز دی .(۲)

.... ومثل السفينة القطر البخارية البرية ، والطائرات الجوية ونحوها. الفقه على المذاهب الأربعة ۱ /۱۸۷ مباحث استقبال القبلة مبحث صلاة الفرض في السفينة وعلى الدابة ونحوها ، فتاوی محموديه ج۱۱ ص۶۱۹ مسافر کی نماز .

(۱) جواهر الفقه ج۳ ص۱۵۸ تا ۱۶۳ ہوائی جہاز میں نماز کے احکام ، نظام الفتاوی ج۵ ص۶۶ تا ۷۸ .

(۲) قال المرغيناني رحمه الله : (وَمَنْ صَلَّى فِي السَّفِينَةِ قَاعِدًا مِنْ غَيْرِ عِلَّةٍ أَجْزَأَهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَالْقِيَامُ أَفْضَلُ.

وَقَالَا: لَا يُجْزِئُهُ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ ، لِأَنَّ الْقِيَامَ مَقْدُورٌ عَلَيْهِ فَلَا يُتْرَكُ إِلَّا لِعِلَّةٍ.

وَلَهُ أَنَّ الْغَالِبَ فِيهَا دَوَرَانُ الرَّأْسِ وَهُوَ كَالْمُتَحَقِّقِ، إِلَّا أَنَّ الْقِيَامَ أَفْضَلُ ، لِأَنَّهُ أَبْعَدُ عَنْ شُبْهَةِ الْخِلَافِ، وَالْخُرُوجُ أَفْضَلُ إِنْ أَمْكَنَهُ ، لِأَنَّهُ أَسْكَنُ لِقَلْبِهِ . وَالْخِلَافُ فِي غَيْرِ الْمَرْبُوطَةِ . وَالْمَرْبُوطَةُ كَالشَّطِّ هُوَ الصَّحِيحُ. الهداية بَابُ صَلَاةِ الْمَرِيضِ . فتاوی فريديه ج ص۵۱۷ باب ما يفسد الصلوة .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

دِامامت متعلق ځنې ضروري مسائل

اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د امام په موجودګۍ کې بغير اجازته بل چا له جمعې ته مخکې کيدل مکروه دي

چې کله د جُمات خپل اِمام د جمعې په وخت موجود وي ، نو دده د اجازت نه بغير د بل کس جمعې ته مخکې کيدل مکروه دي.

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ... وَلَا يَؤُمَّنَّ الرَّجُلُ الرَّجُلَ فِيْ سُلْطَانِهِ . (۱)

قَالَ العلامة الحصكفي رحمه الله : (وَ) اعْلَمْ أَنَّ (صَاحِبَ الْبَيْتِ) وَمِثْلُهُ إِمَامُ الْمَسْجِدِ الرَّاتِبِ (أَوْلٰى بِالْإِمَامَةِ مِنْ غَيْرِهِ) مُطْلَقًا . الدر المختار .

قَالَ ابن عابدين رحمه الله : (قَوْلُهُ : مُطْلَقًا) أَيْ وَإِنْ كَانَ غَيْرُهُ مِنَ الْحَاضِرِيْنَ مَنْ هُوَ أَعْلَمُ وَأَقْرَأُ مِنْهُ . (۲)

---

(۱) پوره حديث داسې دی : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «يَؤُمُّ الْقَوْمَ أَقْرَؤُهُمْ لِكِتَابِ اللهِ . فَإِنْ كَانُوْا فِي الْقِرَاءَةِ سَوَاءً . فَأَعْلَمُهُمْ بِالسُّنَّةِ . فَإِنْ كَانُوْا فِي السُّنَّةِ سَوَاءً . فَأَقْدَمُهُمْ هِجْرَةً . فَإِنْ كَانُوْا فِي الْهِجْرَةِ سَوَاءً . فَأَقْدَمُهُمْ سِلْمًا . وَلَا يَؤُمَّنَّ الرَّجُلُ الرَّجُلَ فِيْ سُلْطَانِهِ . وَلَا يَقْعُدْ فِيْ بَيْتِهِ عَلٰى تَكْرِمَتِهِ إِلَّا بِإِذْنِهِ » قَالَ الْأَشَجُّ فِيْ رِوَايَتِهِ : مَكَانَ سِلْمًا سِنًّا . صحيح مسلم كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةِ بَابُ مَنْ أَحَقُّ بِالْإِمَامَةِ رقم الحديث ۲۹۰ (۶۷۳) مشكوة المصابيح باب الإمامة الفصل الأول رقم الحديث ۱۱۱۷ .

وفي رواية : وَلَا تَؤُمَّنَّ الرَّجُلَ فِيْ أَهْلِهِ . وَلَا فِيْ سُلْطَانِهِ . صحيح مسلم رقم الحديث ۲۹۱ (۶۷۳)

(سِلْمًا) أي إسلاما (وَلَا يَؤُمَّنَّ الرَّجُلُ الرَّجُلَ فِيْ سُلْطَانِهِ) معناه أن صاحب البيت والمجلس وإمام المجلس أحق من غيره وإن كان ذلك الغير أفقه وأقرأ و أورع وأفضل منه ، وصاحب المكان أحق فإن شاء تقدم وإن شاء قدم من يريده وإن كان ذلك الذي يقدمه مفضولا بالنسبة إلى باقي الحاضرين لأنه سلطانه فيتصرف فيه كيف يشاء (تَكْرِمَتِهِ) قال العلماء التكرمة الفراش ونحوه مما يبسط لصاحب المنزل ويخص به . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم .

(۲) رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۵۹ كتاب الصلاة باب الامامة .

اګر چې ددې امام نه علاوه بل کس ډير پوهه، تقوىٰ دار او افضل موجود وي خو بيا هم جَمعې ته د مخکې کيدو حق د جُمات د اِمام دی.

دَخَلَ الْمَسْجِدَ مَنْ هُوَ أَوْلَى بِالْإِمَامَةِ مِنْ إِمَامِ الْمَحَلَّةِ فَإِمَامُ الْمَحَلَّةِ أَوْلَى. كَذَا فِي الْقُنْيَةِ. (۱)

وإمام المسجد أحق بالإمامة من غيره وإن كان الغير أفقه واقرأ وأورع وأفضل منه إن شاء تقدم وإن شاء قدم من يريده وإن كان الذي يقدمه مفضولا بالنسبة إلى باقي الحاضرين لأنه سلطانه فيتصرف فيه كيف شاء. (۲)

قال ابن نجيم رحمه الله: وَأَمَّا الْإِمَامُ الرَّاتِبُ فَهُوَ أَحَقُّ مِنْ غَيْرِهِ، وَإِنْ كَانَ غَيْرُهُ أَفْقَهَ مِنْهُ. (۳)

البته که دا امام چاته اِجازت اوکړي نو بيا خېر دی.

همدا پاس مسئله په فتاوى فريديه، فتاوى محموديه، فتاوى حقانيه او كفاية المفتي کې هم ذکر ده. (۴)

د نائبِ امام په موجودګۍ کې بغير اِجازته بل چاته مخکې کيدل ندي په کار

که د جُمات اِمام په خپل ځای باندې يو نائِب پريښې وي او دا نائب د جَمعې په وخت حاضر وي نو دده په موجودګۍ کې هم بغير اجازته بل چاته جَمعې له مخکې کيدل ندي په کار، بلکه حَق د همدې نائب دی. (۵)

---

(۱) الفتاوى الهندية ۸۳/۱ كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْبَابُ الْخَامِسُ فِي الْإِمَامَةِ اَلْفَصْلُ الثَّانِي فِي بَيَانِ مَنْ هُوَ أَحَقُّ بِالْإِمَامَةِ

(۲) حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ۲۹۹/۱ كتاب الصلاة فصل: في بيان الأحق بالإمامة.

(۳) البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۳۶۸/۱ بَابُ الْإِمَامَةِ اَلْأَحَقُّ بِالْإِمَامَةِ فِي الصَّلَاةِ.

(۴) فتاوى فريديه ج۲ ص۳۳۵، وص ۳۳۴ و ص ۳۶۲ باب الامامة فصل في الاحق بالامامة، فتاوى محمودية ج۱۰ ص۳۱۵ نيابت امام. فتاوى حقانيه ج۳ ص ۱۲۱ باب الجماعة، كفاية المفتي ج۳ ص۹۶، ۱۰۵ كتاب الصلاة.

(۵) (وَ) اعْلَمْ أَنَّ (صَاحِبَ الْبَيْتِ) وَمِثْلَهُ إمَامُ الْمَسْجِدِ الرَّاتِبُ (أَوْلَى بِالْإِمَامَةِ مِنْ غَيْرِهِ) مُطْلَقًا. الدر المختار ۵۵۹/۱ كتاب الصلاة باب الامامة. فتاوى محمودية ج۱۰ ص۳۱۴ نيابت امام.

که امام موجود نه وي نو بل کس بغیر اجازته امامت کولی شي

چې کله د جُمعې وخت پوره وي او د جُماعت خپل امام موجود نه وي نو بیا بل کس بَغیر اجازته جُمعې ته مخکې کیدې شي.

انّ الامام اذا تأخر عن الصلاة تقدّم غيره اذا لم يخف فتنة و انكارًا من الامام.....(۱)

د امام د پاره کم از کم د اُوداسه او د مانځه د مسائلو نه خبریدل ضروري دي

کوم کس چې د خلقو امامت کوي نو دده د پاره کم از کم د اُودس او د مانځه د مسائلو نه خبریدل ضروري دي. (۲)

په امام کې چې علم او تقوی څومره ډیره وي نو دومره ډیره بهتره ده ، خو عام طور د امام د پاره دا شپږ صفات ضروري دي: ۱. اسلام ۲. بلوغ ۳. عقل ۴. نارینه کیدل ۵. علم و قرآت، ۶. د عُذرونو نه سالِم کیدل. (۳)

---

(۱) اوجز المسالک ج۳ ص۲۰۶ باب الالتفات والتصفيق عند الحاجة تحت حديث امامة ابي بكر رضي الله عنه عند ذهابه صلى الله عليه وسلم الى بني عمرو ، عمدة القاري ج۳ ص ۲۱۱ الجزء الخامس باب من دخل ليؤم الناس فجاء الامام الاول ذكر ما يستفاد منه من الاحكام ، فتاوی محمودیة ج۱۰ ص۳۱۵ نیابت امام . و فتاوی فریدیه ج ۲ ص ۳۳۹ باب الامامة فصل في الاحق بالامامة . كفاية المفتي ج۳ ص۹٦ ، ۸۷ كتاب الصلاة.

(۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله : (وَالْأَحَقُّ بِالْإِمَامَةِ) تَقْدِيمًا بَلْ نَصْبًا مَجْمَعُ الْأَنْهُرِ (الْأَعْلَمُ بِأَحْكَامِ الصَّلَاةِ) فَقَطْ صِحَّةً وَفَسَادًا بِشَرْطِ اجْتِنَابِهِ لِلْفَوَاحِشِ الظَّاهِرَةِ، وَحِفْظِهِ قَدْرَ فَرْضٍ. وَقِيلَ وَاجِبٍ، وَقِيلَ سُنَّةٍ . الدر المختار ۱ / ۵۵۷ كتاب الصلاة باب الامامة ، فتاوی فریدیه ج۲ ص۳۳۹ باب الامامة فصل في الاحق بالامامة .

(۳) قال ابن عابدين رحمه الله : وَأَمَّا شُرُوطُ الْإِمَامَةِ فَقَدْ عَدَّهَا فِي نُورِ الْإِيضَاحِ عَلَى حِدَةٍ فَقَالَ: وَشُرُوطُ الْإِمَامَةِ لِلرِّجَالِ الْأَصِحَّاءِ سِتَّةُ أَشْيَاءَ: الْإِسْلَامُ وَالْبُلُوغُ وَالْعَقْلُ وَالذُّكُورَةُ وَالْقِرَاءَةُ وَالسَّلَامَةُ مِنَ الْأَعْذَارِ . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۵۰ باب الامامة. فتاوی حقانیه ج۳ ص۱۴۸ .

قال الشرنبلالي رحمه الله : "وشروط صحة الإمامة للرجال الأصحاء ستة أشياء الإسلام" وهو شرط عام فلا تصح إمامة منكر البعث أو خلافة الصديق ....

د نابالغه ماشوم ، او مُراهق د امامت حکم

په **فتاوي محموديه** کې ذکر دي : په نابالغه باندې مونځ فرض نه وي ، لهذا د بالغ اقتداء د نابالغ پسې په فرضو او نفلو دواړو کې ناجائز ده .(۱)

په **فتاوي دارالعلوم ديوبند** کې ذکر دي : د احنافو صحيح مذهب دادی چې د بالغو خلقو اِقتداء په نابالغه پسې په فرائضو او نوافلو کې صحيح نه ده ، لهذا تراويح هم په نابالغه پسې صحيح نه دي ، او همدا د احنافو صحيح مذهب دی ، د بلوغ موده پنځلس کاله ده ، د پنځلس کالو نه پس دده پسې اِقتداء صحيح ده .

البته که دا نابالغه ماشوم د نفلو نيت اوتړي ، د قرآن مجيد تلاوت کوي ، او بالغين دده پسې د اِقتداء نه بغير هسې هلته ناست وي او دده تلاوت آوري نو بيا خير دی .(۲)

.... أو صحبته أو يسبّ الشيخين أو ينكر الشفاعة أو نحو ذلك ممن يظهر الإسلام مع ظهور صفته المكفرة له "والبلوغ" لأنّ صلاة الصبي نفل ونفله لا يلزمه "والعقل" لعدم صحة صلاته بعدمه كالسكران "والذكورة" خرج به المرأة للأمر بتأخيرهن ،والخنثى امرأة فلا يقتدي به غيرها "والقراءة" بحفظ آية تصح بها الصلاة على الخلاف "و" السادس "السلامة من الأعذار" فإنّ المعذور صلاته ضرورية فلا يصح اقتداء غيره به "كالرعاف" الدائم وانفلات الريح . مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۱ / ۱۱۰ باب الامامة .

(۱) ولا يصح إقتداء البالغ بغير البالغ في الفرض و غيره ، وهو الصحيح . حلبي كبيري ص ۵۱۶ من لايصح الاقتداء به ، طحطاوي على المراقي ص ۲۳۳ اول باب الامامة . رد المحتار ج۱ ص ۵۷۷ باب الامامة مطلب الواجب كفاية هل يسقط بفعل الصبي وحده .

فلا يصح إقتداء بالغ بصبي مطلقاً سواء كان في فرض ، لأنّ صلاة الصبي ولو نوى الفرض نفل أو في نفل لأنّ نفله لا يلزمه أي ونفل المقتدي لازم مضمون عليه فيلزم بناء القوي على الضعيف . حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ۱ / ۲۸۸ باب الإمامة ، حلبي كبيري ص ۵۱۶ فصل في الامامة ، الدر مع الرد ج۱ ص ۵۷۷ مطلب الواجب كفاية هل يسقط بفعل الصبي وحده ، فتاوى محموديه ج۱۰ ص ۲۸۹ تا ۲۹۱ نابالغ کی امامت .

(۲) قال في الدر المختار : (وَلَا يَصِحُّ اِقْتِدَاءُ رَجُلٍ بِامْرَأَةٍ) ....

Scanned with CamScanner

په **فتاوي عثمانيه** کې ذکر دي : د اِمامت د پاره چونکه بلوغ شرط دی ، لهذا د نابالغه ماشوم پسې په فرائضو او نوافلو دواړو اِقتداء کول صحیح نده ، بیا خاصکر چې دا ماشوم د جسم نه هم وړوکې وي نو بیا خو په طریقِ اولی اِمامت نشي کولی .

البته که مُراهِق (یعنی قریبُ البلوغ) وي نو بیا بعضي فقهاؤ په تراویحو کې دده پسې اقتداء جائز ګرځولی ، لیکن د راجح قول مطابق د نابالغه پسې اِقتداء په یو مونځ کې هم جائز نده ، کهٔ دا فرض وي ، کهٔ واجب وي ، کهٔ سُنت وي او کهٔ نفل وي . (۱)

.... وَخُنْثَى (وَصَبِيٍّ مُطْلَقًا) وَلَوْ فِي جِنَازَةٍ وَنَفْلٍ عَلَى الْأَصَحِّ . الدرالمختار ۱ / ۵۷۶ باب الامامة .

قال ابن عابدين : (قَوْلُهُ : وَنَفْلٍ عَلَى الْأَصَحِّ) قَالَ فِي الْهِدَايَةِ : وَفِي التَّرَاوِيحِ وَالسُّنَنِ الْمُطْلَقَةِ جَوَّزَهُ مَشَايِخُ بَلْخٍ وَلَمْ يُجَوِّزْهُ مَشَايِخُنَا . وَمِنْهُمْ مَنْ حَقَّقَ الْخِلَافَ فِي النَّفْلِ الْمُطْلَقِ بَيْنَ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ . وَالْمُخْتَارُ أَنَّهُ لَا يَجُوزُ فِي الصَّلَوَاتِ كُلِّهَا . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۷۸ باب الامامة . فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۳ ص ۸۹ ، وص ۲۰۸ باب الامامة والجماعة . وهكذا في ج۲ ص ۱۹۰ .

(۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله : (وَلَا يَصِحُّ اقْتِدَاءُ رَجُلٍ بِامْرَأَةٍ) وَخُنْثَى (وَصَبِيٍّ مُطْلَقًا) وَلَوْ فِي جِنَازَةٍ وَنَفْلٍ عَلَى الْأَصَحِّ . الدرالمختار ۱ / ۵۷۶ باب الامامة . ومثله في البحرالرائق ج۱ ص ۳۵۹ باب الامامة .

قال ابن عابدين ... لِأَنَّ الْإِمَامَةَ لِلْبَالِغِينَ مِنْ شُرُوطِ صِحَّتِهَا الْبُلُوغُ ... رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۷۸ باب الامامة . فتاوى عثمانيه ج۲ ص ۲۰۵ باب الامامة .

قال فى الهداية : (وَلَا يَجُوزُ لِلرِّجَالِ أَنْ يَقْتَدُوا بِامْرَأَةٍ وَصَبِيٍّ) أَمَّا الْمَرْأَةُ فَلِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : أَخِّرُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَخَّرَهُنَّ اللهُ . فَلَا يَجُوزُ تَقْدِيمُهَا . وَأَمَّا الصَّبِيُّ فَلِأَنَّهُ مُتَنَفِّلٌ فَلَا يَجُوزُ اقْتِدَاءُ الْمُفْتَرِضِ بِهِ .

وَفِي التَّرَاوِيحِ وَالسُّنَنِ الْمُطْلَقَةِ جَوَّزَهُ مَشَايِخُ بَلْخٍ . وَلَمْ يُجَوِّزْهُ مَشَايِخُنَا رَحِمَهُمُ اللهُ . وَمِنْهُمْ مَنْ حَقَّقَ الْخِلَافَ فِي النَّفْلِ الْمُطْلَقِ بَيْنَ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ .

وَالْمُخْتَارُ أَنَّهُ لَا يَجُوزُ فِي الصَّلَوَاتِ كُلِّهَا لِأَنَّ نَفْلَ الصَّبِيِّ دُونَ نَفْلِ الْبَالِغِ حَيْثُ لَا يَلْزَمُهُ الْقَضَاءُ بِالْإِفْسَادِ بِالْإِجْمَاعِ . وَلَا يُبْنَى الْقَوِيُّ عَلَى الضَّعِيفِ . الهداية في شرح بداية المبتدي كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ الْإِمَامَةِ .

په فتاوی حقانيه کې ذکر دي : په فرائضو او نوافلو دواړو کې د نابالغه پسې اِقتداء کول مکروهِ تحريمي ده ، لهذا نابالغه به په هيڅ ځای کې امام نشي جوړولی ۔(۱)

په فتاوی فريديه کې ذکر دي : د بالغو خلقو د نابالغ پسې اِقتداء کول باطل ده ۔(۲)

مفتي صاحب دا هم ليکلي چې په تراويحو کې د نابالغه حافظ پسې اِقتداء کولو سره د انسان غاړه نه خلاصيږي (يعنی د نابالغه پسې تراويح صحيح نه دي) ۔ (۳)

د اَمرد پسې اِقتداء کول مکروهِ تنزيهي ده

داسې بالغ هلک چې تر اوسه يې په مَخ باندې ږيره نه وي راغلي ، او ډير ښائسته وي نو داسې کس جَمعې ته مخکې کول او دده پسې اقتداء کول اګر چې جائز ده ليکن مکروهِ تَنزيهي ده ، ځکه دده په مخکې کيدو کې شاته خلق په مختلفو وَسوَسو او فِتنه کې واقع کيږي ، لهذا د اَمرد په نسبت غير اَمرد مخکې کول بهتر دي ۔

قَالَ ابن عابدين رحمه الله : (قَوْلُهُ : وَكَذَا تُكْرَهُ خَلْفَ أَمْرَدَ) اَلظَّاهِرُ أَنَّهَا تَنْزِيهِيَّةٌ أَيْضًا . وَالظَّاهِرُ أَيْضًا كَمَا قَالَ الرَّحْمَتِيُّ أَنَّ الْمُرَادَ بِهِ الصَّبِيحُ الْوَجْهِ لِأَنَّهُ مَحَلُّ الْفِتْنَةِ. (۴)

---

(۱) وفي الهندية : وَإِمَامَةُ الصَّبِيِّ الْمُرَاهِقِ لِصِبْيَانٍ مِثْلِهِ يَجُوزُ. كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ . وَعَلَى قَوْلِ أَئِمَّةِ بَلْخٍ يَصِحُّ الْاِقْتِدَاءُ بِالصِّبْيَانِ فِي التَّرَاوِيحِ وَالسُّنَنِ الْمُطْلَقَةِ . كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ . اَلْمُخْتَارُ أَنَّهُ لَا يَجُوزُ فِي الصَّلَوَاتِ كُلِّهَا . كَذَا فِي الْهِدَايَةِ وَهُوَ الْأَصَحُّ. هٰكَذَا فِي الْمُحِيطِ وَهُوَ قَوْلُ الْعَامَّةِ وَهُوَ ظَاهِرُ الرِّوَايَةِ. هٰكَذَا فِي الْبَحْرِ الرَّائِقِ ج۱ ص ۳۵۹ باب الامامة . الفتاوى الهندية ۱ / ۸۵ كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْبَابُ الْخَامِسُ فِي الْإِمَامَةِ اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ فِي بَيَانِ مَنْ يَصْلُحُ إِمَامًا لِغَيْرِهِ . فتاوى حقانيه ج۳ ص ۱۳۸ .

(۲) لحديث : اَلْإِمَامُ ضَامِنٌ . ولحديث : إِنَّمَا جُعِلَ الْإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ . فتاوى فريديه ج۲ ص ۳۷۵ فصل في من تصح امامته و من لا تصح .

(۳) قال العلامة الحصكفي رحمه الله : (وَلَا يَصِحُّ اِقْتِدَاءُ رَجُلٍ بِامْرَأَةٍ) وَخُنْثَى (وَصَبِيٍّ مُطْلَقًا) وَلَوْ فِي جِنَازَةٍ وَنَفْلٍ عَلَى الْأَصَحِّ . الدر المختار ۱ / ۵۷۶ باب الامامة . و مثله في البحر الرائق ج۱ ص ۳۵۹ باب الامامة فَتَلْكَ الْوَاجِبُ كِفَايَةً هَلْ يَسْقُطُ بِفِعْلِ الصَّبِيِّ وَحْدَهُ؟ ، فتاوى فريديه ج۲ ص ۳۸۹ فصل في من تصح امامته و من لا تصح .

(۴) رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۶۲ باب الامامة . فتاوى محموديه ج ۱۰ ص ۲۹۲ نابالغ کی امامت . فتاوى فريديه ج۲ ص ۳۵۴ باب الامامة فصل في الاحق بالامامة .

د ګيره خرَيونکي يا د قبضې نه کمونکي کس امامت مکروهِ تحريمي دی

(**نوټ** : " د ګيري پربخودو اهميت او د خريلو يا د قبضې نه د کمولو سزاګانې " دا موضوع ددې (اصلاحي مُدلل تقريرونه) کتاب په څلورم جلد کې په تفصيل سره تېره شوی، هلته يې اوګوره ، دلته به صرف د ګيرې خرَيونکي کس د اِمامت متعلق تفصيلي مسئله د مختلفو فتاؤ نه رانقل کوم. ابوالشمس عفي عنه)

۱ . په **فتاوی دارالعلوم ديوبند** کې ذکر دي : کوم مسلمان چې ګيره خرَوي يا يې د يو موټې نه کموي دا فاسق دی ، دده پسې مونځ کول مکروهِ تحريمي دی . (۱)

ګيره خريونکي پسې تراويح کول هم مکروهِ تحريمي دي . (۲)

ګيره د يو موټې (يعنی قبضې) نه کمول حرام دي :

په " فتحُ القدير " او " درمختار " کې ذکر دي :

وَأَمَّا الْأَخْذُ مِنْهَا وَهِيَ دُوْنَ ذٰلِكَ كَمَا يَفْعَلُهُ بَعْضُ الْمَغَارِبَةِ وَ مُخَنَّثَةُ الرِّجَالِ فَلَمْ يُبِحْهُ أَحَدٌ . وَأَخْذُ كُلِّهَا فِعْلُ يَهُوْدِ الْهِنْدِ وَمَجُوْسِ الْأَعَاجِمِ . (۳)

په درمختار کې داهم ذکر دي : وَالسُّنَّةُ فِيْهَا الْقَبْضَةُ ... وَلِذَا يَحْرُمُ عَلَى الرَّجُلِ قَطْعُ لِحْيَتِهِ . (۴)

---

(۱) قَالَ العلامة الحصكفي رحمه الله : (وَيُكْرَهُ إِمَامَةُ عَبْدٍ وَأَعْرَابِيٍّ وَفَاسِقٍ). الدر المختار

قَالَ ابن عابدين رحمه الله : بَلْ مَشٰى فِيْ شَرْحِ الْمُنْيَةِ عَلٰى أَنَّ كَرَاهَةَ تَقْدِيْمِهِ " اي الفاسق " كَرَاهَةُ تَحْرِيْمٍ . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۶۰ كتاب الصلاة باب الامامة قبيل مَطْلَبُ الْبِدْعَةُ خَمْسَةُ أَقْسَامٍ . فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۳ ص ۱۶۵ باب الامامة والجماعة .

(۲) فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۳ ص ۱۵۶ باب الامامة والجماعة .

(۳) فتح القدير ج ۲ ص ۷۷ كتاب الصوم باب ما يوجب القضاء والكفارة طبع مصر ، الدرالمختار على هامش رد المحتار كتاب الصوم باب ما يفسد الصوم مطلب في الاخذ من اللحية ج ۲ ص ۱۲۵ .

(۴) رد المحتار على الدر المختار ۶ / ۴۰۷ كتاب الحظر والاباحة فصل في البيع

اګر چې ددې حديث " صَلُّوْا خَلْفَ كُلِّ بَرٍّ وَفَاجِرٍ " په وجه دداسې ګيره کموونکې پسې مونځ کيږي ليکن دې به مستقل اِمام نشي جوړولی - لِأَنَّ فِيْ إِمَامَتِهِ تَعْظِيْمَهُ ، وَتَعْظِيْمُ الْفَاسِقِ حَرَامٌ . (١)

٢ . په **فتاوی عثمانيه** کې ذکر دي : دا خبره اتفاقي ده چې د هر مسلمان د پاره ګيره پريخودل واجب دي ، او خريل يا د قبضې (يعني يو موټي) نه کمول يې حرام دي ، لهذا څوک چې ګيره خرَي يا يې د موټي نه کموي نو داسې ګناهِ کبيره کوونکې او فاسق دی ، داسې کس مستقل امام جوړول صحيح ندي .

البته که چا اتفاقا دده پسې مونځ اوکړو نو دا صحيح دی ، او د ځانله مونځ کولو نه دا بهتر دی . خو که په يو ځای کې بل نيک او په شريعت برابر کس موجود وي نو بيا د ګيرخريلي پسې د مونځ کولو نه پرهيز په کار دی . (٢)

(په فتاوی عثمانيه کې يو څو صفحې روستو دا مسئله دوباره ذکر ده) چې څوک ګيره خري يا يې د موټي نه کموي نو د نورو فاسقانو او فاجرانو غوندې دده پسې اقتداء کول مکروهِ تحريمي ده ، او چيرته چې داسې کس امام وي نو د هغه ځای خلقو دا ذمه داري ده چې دې لرې کړي او بل نيک او خدا ترسه عالِم امام مقرر کړي .

خو که چا دداسې فاسق پسې مونځونه کړي وي نو د هغې دوباره راګرځولو ضرورت نشته . (٣)

---

(١) قال ابن عابدين رحمه الله : وَأَمَّا الْفَاسِقُ فَقَدْ عَلَّلُوْا كَرَاهَةَ تَقْدِيْمِهِ بِأَنَّهُ لَا يَهْتَمُّ لِأَمْرِ دِيْنِهِ ، وَبِأَنَّ فِيْ تَقْدِيْمِهِ لِلْإِمَامَةِ تَعْظِيْمَهُ ، وَقَدْ وَجَبَ عَلَيْهِمْ إِهَانَتُهُ شَرْعًا . رد المحتار على الدر المختار ١/ ٥٦٠ باب الامامة قبيل مَطْلَبُ الْبِدْعَةُ خَمْسَةُ أَقْسَامٍ ، فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ٣ ص ١٢٩ باب الامامة والجماعة .

(٢) وَفِي الْفَتَاوٰى لَوْ صَلّٰى خَلْفَ فَاسِقٍ أَوْ مُبْتَدِعٍ يَنَالُ فَضْلَ الْجَمَاعَةِ لٰكِنْ لَا يَنَالُ كَمَا يَنَالُ خَلْفَ تَقِيٍّ وَرِعٍ ، لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « مَنْ صَلّٰى خَلْفَ عَالِمٍ تَقِيٍّ فَكَأَنَّمَا صَلّٰى خَلْفَ نَبِيٍّ » . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ١/ ٣٧٠ إِمَامَةُ الْعَبْدِ وَالْأَعْرَابِيِّ وَالْفَاسِقِ ... فتاوی عثمانيه ج ٢ ص ٢٠٧ باب الامامة .

(١) قال العلامة الحصكفي رحمه الله : وَفِي النَّهْرِ عَنِ الْمُحِيْطِ : ....

Scanned with CamScanner

۳ . په **فتاوی محموديه** کې ذکر دي : چې کوم کس ګيره خروي يا يې د قبضې نه کموي نو داسې کس امام جوړول مکروه تحريمي دي . (۱)

٤ . په **فتاوی حقانيه** کې ذکر دي چې څوک ګيره خروي يا يې کموي نو دداسې کس پسې د نورو فاسقانو او فاجرانو په شان اقتداء کول مکروه تحريمي ده . (۲)

۵ . په **فتاوی فريديه** کې ذکر دي : يو موټې ګيره پريخودل واجب دي چې څوک دا د يو موټي نه کموي يا يې خروي نو داسې کس فاسق دی ، او د نيکو خلقو په موجودګۍ کې

...............صَلَّى خَلْفَ فَاسِقٍ أَوْ مُبْتَدِعٍ نَالَ فَضْلَ الْجَمَاعَةِ . الدر المختار

قال ابن عابدين رحمه الله : (قَوْلُهُ : نَالَ فَضْلَ الْجَمَاعَةِ) أَفَادَ أَنَّ الصَّلَاةَ خَلْفَهُمَا أَوْلَى مِنَ الِانْفِرَادِ، لَكِنْ لَا يَنَالُ كَمَا يَنَالُ خَلْفَ تَقِيٍّ وَرِعٍ ، لِحَدِيثِ « مَنْ صَلَّى خَلْفَ عَالِمٍ تَقِيٍّ فَكَأَنَّمَا صَلَّى خَلْفَ نَبِيٍّ » . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ٥٦٢ باب الامامة ، فتاوی عثمانيه ج۲ ص ۲۲٦ باب الامامة .

(۱) ان إمامة الفاسق مكروهة تحريماً . حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ۱ / ۳۰۲ فصل في بيان الأحق بالإمامة ، شامي كراچي ج۱ ص ٥٥۹ باب الامامة .

و لانه فاسق وكراهة تقديمه كراهة تحريم كما في الغنية و رد المحتار وغيرهما . شامي زكريا ج۲ ص ۲۹۹ باب الامامة قبيل مطلب البدعة خمسة اقسام ، حلبي كبيري ص ٥۱۳ فصل في الامامة ، فتاوی محموديه ج ۱۰ ص ۱۳۰ فاسق کی امامت .

نوټ : دا مسئله په فتاوی محموديه کې په مختلفو عنواناتو نقل شوې د صفحه ۱۳۲ نه تر صفحه ۱۴۴ پورې .

(۲) فتاوی حقانيه ج۳ ص ۱۵۸ .

قال ابن عابدين رحمه الله : وَأَمَّا الْفَاسِقُ فَقَدْ عَلَّلُوا كَرَاهَةَ تَقْدِيمِهِ بِأَنَّهُ لَا يَهْتَمُّ لِأَمْرِ دِينِهِ، وَبِأَنَّ فِي تَقْدِيمِهِ لِلْإِمَامَةِ تَعْظِيمَهُ، وَقَدْ وَجَبَ عَلَيْهِمْ إهَانَتُهُ شَرْعًا ، وَلَا يَخْفَى أَنَّهُ إذَا كَانَ أَعْلَمَ مِنْ غَيْرِهِ لَا تَزُولُ الْعِلَّةُ ، فَإِنَّهُ لَا يُؤْمَنُ أَنْ يُصَلِّيَ بِهِمْ بِغَيْرِ طَهَارَةٍ فَهُوَ كَالْمُبْتَدِعِ تُكْرَهُ إمَامَتُهُ بِكُلِّ حَالٍ ، بَلْ مَشَى فِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ عَلَى أَنَّ كَرَاهَةَ تَقْدِيمِهِ كَرَاهَةُ تَحْرِيمٍ لِمَا ذَكَرْنَا . قَالَ : وَلِذَا لَمْ تَجُزْ الصَّلَاةُ خَلْفَهُ أَصْلًا عِنْدَ مَالِكٍ وَرِوَايَةٌ عَنْ أَحْمَدَ . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ٥٦۰ باب الامامة قبيل مَطْلَبٌ الْبِدْعَةُ خَمْسَةُ أَقْسَامٍ .

د فاسق پسې اقتداء کول مکروهِ تحريمي ده . (١)

البته که بل کس نه وي نو د ځان له مونځ کولو په نسبت د فاسق پسې اقتداء بهتره ده . (٢)

٦. په کفايت المفتي کې ذکر دي چې د ګيره خرېونکي يا کموونکي پسې امامت کول مکروه تحريمي دي . (٣)

٧. په " آپ کے مسائل اور اُن کا حل " او نورو ډيرو فتاوو کې هم دا خبره ليکلې چې کوم کس ګيره خروي يا يې د قبضې نه کموي نو داسې کس مستقل امام جوړول مکروهِ تحريمي دي . (٤)

د ګوسه سړي د امامت حکم

په فتاوی حقانيه کې ذکر دي : د کوم کس چې د بالغ کېدو نه پس بيا هم په مخ باندې ګيره را او نه خيجي يعنې پيدائشي ګوسه وي نو د داسې کس د پاره امامت کول جائز دي.

---

(١) قال محمد امين : إِنَّ الأَخْذَ مِنَ اللِّحْيَةِ وَهِيَ دُوْنَ الْقَبْضَةِ كَمَا يَفْعَلُهُ بَعْضُ الْمَغَارِبَةِ وَمُخَنَّثَةُ الرِّجَالِ لَمْ يُبِحْهُ أَحَدٌ . وَأَخْذُ كُلِّهَا فِعْلُ يَهُوْد وَالْهُنُوْدِ وَمَجُوْسِ الأَعَاجِمِ فَحَيْثُ أَدْمَنَ عَلَى فِعْلِ هٰذَا الْمُحَرَّمِ يَفْسُقُ . تنقيح الفتاوى الحامدية ج١ ص ٢٥١ لايباح الاخذ من اللحية وهي دون القبضة .

وفي شرح الكبير : كراهة تقديمه كراهة تحريم . غنية المستملي شرح منية المصلي ص ٤٧٥ فصل في الامامة . فتاوى فريديه ج ٢ ص ٣٧٥ فصل في من تصح امامته و من لاتصح .

(٢) قال ابن عابدين رحمه الله : فَإِنْ أَمْكَنَ الصَّلَاةُ خَلْفَ غَيْرِهِمْ فَهُوَ أَفْضَلُ وَإِلَّا فَالْإِقْتِدَاءُ أَوْلَى مِنَ الْإِنْفِرَادِ . رد المحتار على الدر المختار ١ / ٥٥٩ باب الامامة .

وفي البحر : فَإِنْ أَمْكَنَ الصَّلَاةُ خَلْفَ غَيْرِهِمْ فَهُوَ أَفْضَلُ وَإِلَّا فَالْإِقْتِدَاءُ أَوْلَى مِنَ الْإِنْفِرَادِ . وَيَنْبَغِي أَنْ يَكُوْنَ مَحَلُّ كَرَاهَةِ الْإِقْتِدَاءِ بِهِمْ عِنْدَ وُجُوْدِ غَيْرِهِمْ . وَإِلَّا فَلَا كَرَاهَةَ كَمَا لَا يَخْفٰى . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ١ / ٣٧٠ إِمَامَةُ الْعَبْدِ وَالْأَعْرَابِيِّ وَالْفَاسِقِ . . . . فتاوى فريديه ج ٢ ص ٣٧٢ و ص ٣٧٥ فصل في من تصح امامته و من لاتصح .

(٣) آپ کے مسائل اور ان کا حل ج٨ ص ٣١٥ ، و ص ٢٩٠ ، و ص ٣٠٢ . فتاوى محمودية ج٢٧ ص ٤٩٤ .

(٤) كفايت المفتي ج ٣ ص ٩٧ ، ٩٩ ، ١٢٨ .

ليکن که ددې ګوسه مخ ډير ښائسته وي (يعنى صَبِيْحُ الْوَجْه آمرد وي) ، نو بيا ددو اِمامت مکروهِ تنزيهي دی . (۱)

په **فتاوي دارالعلوم ديوبند** کې ذکر دي : چې کوم کس بالغ شوې وي خو تراوسه يې ګيره په مخ نه وي راختلي نو ددهٔ د پاره اِمامت کول جائز دی ، ځکه د امامت د پاره بالغ کيدل شرط دي ، ګيره راختل شرط نه دي . (۲)

---

(۱) قَالَ فِي الخلاصة : وفي شرح القدوري يجوز امامة الأمرد اذا كان بالغا ، ويكره اذا كان صبيح الوجه . خلاصة الفتاوى ج۱ ص۱۴۸ الفصل الخامس عشر في الامامة والاقتداء .

قال ابن عابدين رحمه الله : (قَوْلُهُ : وَكَذَا تُكْرَهُ خَلْفَ أَمْرَدَ) اَلظَّاهِرُ أَنَّهَا تَنْزِيهِيَّةٌ أَيْضًا . وَالظَّاهِرُ أَيْضًا كَمَا قَالَ الرَّحْمَتِيُّ أَنَّ الْمُرَادَ بِهِ الصَّبِيحُ الْوَجْهِ لِأَنَّهُ مَحَلُّ الْفِتْنَةِ ، وَهَلْ يُقَالُ هُنَا أَيْضًا : إذَا كَانَ أَعْلَمَ الْقَوْمِ تَنْتَفِي الْكَرَاهَةُ . فَإِنْ كَانَتْ عِلَّةُ الْكَرَاهَةِ خَشْيَةَ الشَّهْوَةِ وَهُوَ الْأَظْهَرُ فَلَا ، وَإِنْ كَانَتْ غَلَبَةَ الْجَهْلِ أَوْ نَفْرَةَ النَّاسِ مِنَ الصَّلَاةِ خَلْفَهُ فَنَعَمْ فَتَأَمَّلْ . وَالظَّاهِرُ أَنَّ ذَا الْعِذَارِ الصَّبِيحَ الْمُشْتَهَى كَالْأَمْرَدِ تَأَمَّلْ هَذَا .

وَفِي حَاشِيَةِ الْمَدَنِيِّ عَنِ الْفَتَاوَى الْعَفِيفِيَّةِ : سُئِلَ الْعَلَّامَةُ الشَّيْخُ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عِيسَى الْمُرْشِدِيُّ عَنْ شَخْصٍ بَلَغَ مِنَ السِّنِّ عِشْرِينَ سَنَةً وَتَجَاوَزَ حَدَّ الْإِنْبَاتِ وَلَمْ يَنْبُتْ عِذَارُهُ ، فَهَلْ يَخْرُجُ بِذٰلِكَ عَنْ حَدِّ الْأَمْرَدِيَّةِ ، وَخُصُوصًا وَقَدْ نَبَتَ لَهُ شَعَرَاتٌ فِي ذَقْنِهِ تُؤْذِنُ بِأَنَّهُ لَيْسَ مِنْ مُسْتَدِيرِي اللِّحَى ، فَهَلْ حُكْمُهُ فِي الْإِمَامَةِ كَالرِّجَالِ الْكَامِلِينَ أَمْ لَا ؟

أَجَابَ : سُئِلَ الْعَلَّامَةُ الشَّيْخُ أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ الْمَعْرُوفُ بِابْنِ الشَّلَبِيِّ مِنْ مُتَأَخِّرِي عُلَمَاءِ الْحَنَفِيَّةِ عَنْ هٰذِهِ الْمَسْأَلَةِ . فَأَجَابَ بِالْجَوَازِ مِنْ غَيْرِ كَرَاهَةٍ . وَنَاهِيكَ بِهِ قُدْوَةً ، وَاللّٰهُ أَعْلَمُ . رد المحتار على الدر المختار ۱/ ۵۶۲ باب الامامة . فتاوى حقانيه ج۳ ص ۱۴۸ .

(۲) وَكَذَا تُكْرَهُ خَلْفَ أَمْرَدَ . الدر المختار . قال ابن عابدين رحمه الله : (قَوْلُهُ : وَكَذَا تُكْرَهُ خَلْفَ أَمْرَدَ) اَلظَّاهِرُ أَنَّهَا تَنْزِيهِيَّةٌ أَيْضًا وَالظَّاهِرُ أَيْضًا كَمَا قَالَ الرَّحْمَتِيُّ أَنَّ الْمُرَادَ بِهِ الصَّبِيحُ الْوَجْهِ لِأَنَّهُ مَحَلُّ الْفِتْنَةِ .... (پوره عبارت پاس ذکر شو هلته يې اوګوره) رد المحتار على الدر المختار ۱/ ۵۶۰ باب الامامة . فتاوى دار العلوم ديوبند ج۳ ص ۹۴ وص ۱۷۱ باب الامامة والجماعة .

د سُود خُور او حرام خور د امامت حکم

د سُود کاروبار او گټه حرامه ده ، سُودخور فاسِق دی ، دا مستقل امام جوړول مکروه تحريمي دی . (۱)

همدا حکم د حرام خور هم دی ، چې دده پسې اقتداء کول هم مکروه تحريمي ده . (۲)

---

(۱) قَالَ العلامة الحصكفي رحمه الله : (وَيُكْرَهُ إِمَامَةُ عَبْدٍ وَأَعْرَابِيٍّ وَفَاسِقٍ). الدر المختار .

و في رد المحتار : (قَوْلُهُ : وَفَاسِق) مِنَ الْفِسْقِ: وَهُوَ الْخُرُوجُ عَنِ الْإِسْتِقَامَةِ . وَلَعَلَّ الْمُرَادَ بِهِ مَنْ يَرْتَكِبُ الْكَبَائِرَ كَشَارِبِ الْخَمْرِ، وَالزَّانِي ، وَآكِلِ الرِّبَا وَنَحْوِ ذٰلِكَ . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵٦۰ كتاب الصلاة باب الامامة قبيل مَطْلَبُ الْبِدْعَةُ خَمْسَةُ أَقْسَامٍ . طحطاوي مع المراقي ص ۲۴۵ فصل في بيان الاحق بالامامة ، فتاوی تاتارخانية ج۱ ص۶۰۳ الفصل السادس اما الكلام في بيان من هو احق بالامامة ، فتاوی محموديه ج ۱۰ ص ۱۱۴ و ص ۱۳۲ فاسق کی امامت ، فتاوی حقانیه ج۲ ص ۲۱۹ .

قَالَ العلامة الحصكفي رحمه الله : وَكَذَا تُكْرَهُ خَلْفَ أَمْرَدَ ... وَشَارِبِ الْخَمْرِ ، وَآكِلِ الرِّبَا... الدر المختار ۱ / ۵٦۲ باب الامامة مَطْلَبٌ فِي إِمَامَةِ الأَمْرَدِ ، فتاوی فريديه ج ۲ ص ۳۱۹ فصل في من تصح امامته و من لا تصح .

(۲) قَالَ ابن نجيم رحمه الله : (قَوْلُهُ : وَكُرِهَ إِمَامَةُ الْعَبْدِ وَالْأَعْرَابِيِّ وَالْفَاسِقِ وَالْمُبْتَدِعِ وَالْأَعْمٰى وَوَلَدِ الزِّنَا) بَيَانٌ لِلشَّيْئَيْنِ : اَلصِّحَّةِ . وَالْكَرَاهَةِ .

أَمَّا الصِّحَّةُ فَمَبْنِيَّةٌ عَلَى وُجُودِ الْأَهْلِيَّةِ لِلصَّلَاةِ مَعَ أَدَاءِ الْأَرْكَانِ وَهُمَا مَوْجُودَانِ مِنْ غَيْرِ نَقْصٍ فِي الشَّرَائِطِ وَالْأَرْكَانِ . وَمِنَ السُّنَّةِ حَدِيثُ « صَلُّوا خَلْفَ كُلِّ بَرٍّ وَفَاجِرٍ » . وَفِي صَحِيحِ الْبُخَارِيِّ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يُصَلِّي خَلْفَ الْحَجَّاجِ وَكَفٰى بِهِ فَاسِقًا كَمَا قَالَهُ الشَّافِعِيُّ ، وَقَالَ الْمُصَنِّفُ إِنَّهُ أَفْسَقُ أَهْلِ زَمَانِهِ . وَقَالَ الْحَسَنُ الْبَصْرِيُّ : لَوْ جَاءَتْ كُلُّ أُمَّةٍ بِخَبِيثَاتِهَا وَجِئْنَا بِأَبِي مُحَمَّدٍ لَغَلَبْنَاهُمْ . وَإِمَامَةُ عِتْبَانَ بْنِ مَالِكٍ الْأَعْمٰى لِقَوْمِهِ مَشْهُورَةٌ فِي الصَّحِيحَيْنِ . وَاسْتِخْلَافُ ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ الْأَعْمٰى عَلَى الْمَدِينَةِ كَذٰلِكَ فِي صَحِيحِ ابْنِ حِبَّانَ .

وَأَمَّا الْكَرَاهَةُ فَمَبْنِيَّةٌ عَلَى قِلَّةِ رَغْبَةِ النَّاسِ فِي الْإِقْتِدَاءِ بِهٰؤُلَاءِ فَيُؤَدِّي إِلَى تَقْلِيلِ الْجَمَاعَةِ الْمَطْلُوبِ تَكْثِيرُهَا تَكْثِيرًا لِلْأَجْرِ . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۱ / ۳٦۹ بَابُ الْإِمَامَةِ الْأَحَقُّ بِالْإِمَامَةِ فِي الصَّلَاةِ . فتاوی فريديه ج۲ ص ۳٦۰ باب الامامة فصل في الاحق بالامامة .

د رِشوت خُور د اِمامت حکم

چې کله د رِشوت خُور نه بهتر اِمام موجود وي نو بيا رِشوت اخيستونکې کس امام جوړول مکروه دی. (۱)

د زِناکار د اِمامت حکم

که يو کس زِناکاروي او ده ددې زِنا نه توبه نه وي ويستلې نو دداسې کس پسې مونځ کول مکروهِ تحريمي دی، داسې کس به دائمي امام نشي جوړولی. (۲)

---

(۱) (وَيُكْرَهُ إِمَامَةُ عَبْدٍ وَأَعْرَابِيٍّ وَفَاسِقٍ). الدر المختار.

قال ابن عابدين رحمه الله: (قَوْلُهُ: وَفَاسِق) مِنَ الْفِسْقِ: وَهُوَ الْخُرُوجُ عَنِ الْإِسْتِقَامَةِ، وَلَعَلَّ الْمُرَادَ بِهِ مَنْ يَرْتَكِبُ الْكَبَائِرَ كَشَارِبِ الْخَمْرِ، وَالزَّانِي، وَآكِلِ الرِّبَا وَنَحْوِ ذٰلِكَ. رد المحتار على الدر المختار ۱ / ٥٦٠ كتاب الصلاة باب الامامة قبيل مَطْلَبٌ اَلْبِدْعَةُ خَمْسَةُ أَقْسَامٍ. طحطاوي مع المراقي ص ۲۴٥ فصل في بيان الاحق بالامامة، فتاوى تاتارخانية ج۱ ص ۶۰۳ الفصل السادس اما الكلام في بيان من هو احق بالامامة، فتاوى محموديه ج ۱۰ ص ۱۱۴ فاسق كى امامت.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: وَكَذَا تُكْرَهُ خَلْفَ أَمْرَدَ..... وَشَارِبِ الْخَمْرِ وَآكِلِ الرِّبَا... الدر المختار ۱ / ٥٦۲ باب الامامة مَطْلَبٌ فِي إِمَامَةِ الْأَمْرَدِ، فتاوى فريديه ج ۲ ص ۴۱۹ فصل في من تصح امامته و من لا تصح.

(۲) (قَوْلُهُ: وَفَاسِق) مِنَ الْفِسْقِ: وَهُوَ الْخُرُوجُ عَنِ الْإِسْتِقَامَةِ، وَلَعَلَّ الْمُرَادَ بِهِ مَنْ يَرْتَكِبُ الْكَبَائِرَ كَشَارِبِ الْخَمْرِ، وَالزَّانِي، وَآكِلِ الرِّبَا وَنَحْوِ ذٰلِكَ. رد المحتار على الدر المختار ۱ / ٥٦۰ كتاب الصلاة باب الامامة

وفي شرح الكبير: كراهة تقديمه كراهة تحريم. غنية المستملي شرح منية المصلي ص ۴۷٥ فصل في الامامة، فتاوى فريديه ج۲ ص ۴۲۴ باب الامامة فصل في من تصح امامته و من لاتصح.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: (وَيُكْرَهُ إِمَامَةُ عَبْدٍ وَأَعْرَابِيٍّ وَفَاسِقٍ). الدر المختار

قال ابن عابدين رحمه الله: بَلْ مَشٰى فِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ عَلٰى أَنَّ كَرَاهَةَ تَقْدِيمِهِ " اي الفاسق " كَرَاهَةُ تَحْرِيمٍ. رد المحتار على الدر المختار ۱ / ٥٦۰ كتاب الصلاة باب الامامة قبيل مَطْلَبٌ اَلْبِدْعَةُ خَمْسَةُ أَقْسَامٍ. بحر الرائق ج۱ ص ۳۴۷ باب الامامة، حلبي كبيري ص ٥۱۳ فصل في الامامة، فتاوى محموديه ج ۱۰ ص ۹۴ فاسق كى امامت، فتاوى دار العلوم ديوبند ج۳ ص ۱۳۷، و ص ۱۶۲ و ص ۱۷۲ باب الامامة والجماعة.

البته د مجبوريت په وجه ځان له مونځ کولو نه د فاسق پسې مونځ کول بهتر دی. (۱)

چې کله د کلي د جُمات امام سُود خور او زِنا کار وي نو دده پسې د مونځ کولو په نسبت دا بهتره ده چې دا کس بل جُمات ته لاړ شي. (۲)

خو چې کله زاني د زِنا نه توبه اوويسته، گناهونه يې پريښودل او نيک اعمال يې شروع کړل نو بيا دا امام جوړول صحيح دی. (۳)

د بَد کرداره او مَفعول د امامت حکم

کوم کس چې بَد کِرداره او مفعول وي (يعني نور خلق دده سره لِواطت کوي) او ده ددې نه توبه نه وي ويستلې نو داسې کس فاسق دی، او فاسق کس امام جوړول مکروهِ تحريمي دی. (۴)

---

(۱) قَالَ العلامة الحصكفي رحمه الله: وَفِي النَّهْرِ عَنِ الْمُحِيطِ: صَلَّى خَلْفَ فَاسِقٍ أَوْ مُبْتَدِعٍ نَالَ فَضْلَ الْجَمَاعَةِ. الدرالمختار قال ابن عابدين رحمه الله: (قَوْلُهُ: نَالَ فَضْلَ الْجَمَاعَةِ) أَفَادَ أَنَّ الصَّلَاةَ خَلْفَهُمَا أَوْلَى مِنَ الِانْفِرَادِ، لَكِنْ لَا يَنَالُ كَمَا يَنَالُ خَلْفَ تَقِيٍّ وَرِعٍ. رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۶۲ باب الامامة فتاوى فريديه ج۲ ص ۴۲۵ باب الامامة فصل في من تصح امامته و من لاتصح.

وَفِي الْفَتَاوَى لَوْ صَلَّى خَلْفَ فَاسِقٍ أَوْ مُبْتَدِعٍ يَنَالُ فَضْلَ الْجَمَاعَةِ لَكِنْ لَا يَنَالُ كَمَا يَنَالُ خَلْفَ تَقِيٍّ وَرِعٍ لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «مَنْ صَلَّى خَلْفَ عَالِمٍ تَقِيٍّ فَكَأَنَّمَا صَلَّى خَلْفَ نَبِيٍّ». البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۱ / ۳۷۰ إمَامَةُ الْعَبْدِ وَالْأَعْرَابِيِّ وَالْفَاسِقِ.

(۲) في الشرح الكبير: وفي فتاوى قاضي خان إذا كان امام الحي زانيًا او آكل ربًا له ان يتحول الى مسجد آخر. غنية المستملي شرح منية المصلي ص ۵۶۵ فصل في احكام المسجد، فتاوى فريديه ج۲ ص ۳۱۸ باب الامامة فصل في الجماعة.

(۳) فتاوى محموديه ج ۱۰ ص ۹۷ فاسق كى امامت، فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۳ ص ۱۷۲ باب الامامة والجماعة.

قَالَ النَّبِيُّ ﷺ اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَا ذَنْبَ لَهُ. رواه ابن ماجه كتاب الزهد باب ۳۰ والطبراني، ورواه ابن ابي الدنيا والبيهقي مرفوعًا، الترغيب والترهيب ج۴ ص ۴۸ كتاب التوبة والزهد، مشكوة ج۱ ص ۲۲۳ باب الاستغفار والتوبة

(۴) قال العلامة الحصكفي رحمه الله: (وَيُكْرَهُ إمَامَةُ عَبْدٍ ....

Scanned with CamScanner

خو كه دي كس د دې نه توبه ويستې وه نو بيا د ده پسې اقتدا كول جائز ده . (١)

د فاسق سړي د امامت حكم

په **فتاوى محموديه** كې ذكر دي : كوم كس چې فاسق وي يعني په كبيره گناهونو (لكه لواطت ، دروغ ، چُغل خوري ، خيانت وغيره) كې اخته وي نو د بل نيک كس په موجودگۍ كې داسې كس مستقل امام جوړول مكروه تحريمي دى . (٢)

.... وَأَعْرَابِيٍّ وَفَاسِقٍ) . الدر المختار .

قال ابن عابدين رحمه الله : وَأَمَّا الْفَاسِقُ فَقَدْ عَلَّلُوا كَرَاهَةَ تَقْدِيمِهِ بِأَنَّهُ لَا يَهْتَمُّ لِأَمْرِ دِينِهِ. وَبِأَنَّ فِي تَقْدِيمِهِ لِلْإِمَامَةِ تَعْظِيمَهُ. وَقَدْ وَجَبَ عَلَيْهِمْ إِهَانَتُهُ شَرْعًا . وَلَا يَخْفَى أَنَّهُ إِذَا كَانَ أَعْلَمَ مِنْ غَيْرِهِ لَا تَزُولُ الْعِلَّةُ . فَإِنَّهُ لَا يُؤْمَنُ أَنْ يُصَلِّيَ بِهِمْ بِغَيْرِ طَهَارَةٍ فَهُوَ كَالْمُبْتَدِعِ تُكْرَهُ إِمَامَتُهُ بِكُلِّ حَالٍ . بَلْ مَشَى فِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ عَلَى أَنَّ كَرَاهَةَ تَقْدِيمِهِ كَرَاهَةُ تَحْرِيمٍ لِمَا ذَكَرْنَا . رد المحتار على الدر المختار ١/ ٥٦٠ باب الامامة قبيل مَطْلَبُ الْبِدْعَةُ خَمْسَةُ أَقْسَامٍ . طحطاوي مع المراقي ص ٢٤٥ فصل في بيان الاحق بالامامة ، فتاوى تاتارخانية ج١ ص ٦٠٣ الفصل السادس اما الكلام في بيان من هو احق بالامامة ، فتاوى فريديه ج٢ ص ٣٧١ .

(قَوْلُهُ : وَفَاسِقٍ) مِنَ الْفِسْقِ : وَهُوَ الْخُرُوجُ عَنِ الْإِسْتِقَامَةِ. وَلَعَلَّ الْمُرَادَ بِهِ مَنْ يَرْتَكِبُ الْكَبَائِرَ كَشَارِبِ الْخَمْرِ. وَالزَّانِي وَآكِلِ الرِّبَا وَنَحْوِ ذٰلِكَ . رد المحتار على الدر المختار ١ / ٥٦٠ كتاب الصلاة باب الامامة قبيل مَطْلَبُ الْبِدْعَةُ خَمْسَةُ أَقْسَامٍ . طحطاوي مع المراقي ص ٢٤٥ فصل في بيان الاحق بالامامة ، فتاوى تاتارخانية ج١ ص ٦٠٣ الفصل السادس اما الكلام في بيان من هو احق بالامامة ، فتاوى حقانيه ص ١٣٥ .

(١) قَالَ النَّبِيُّ ﷺ اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَا ذَنْبَ لَهُ . رواه ابن ماجه كتاب الزهد باب ٣٠ والطبراني ورواه ابن ابي الدنيا والبيهقي مرفوعًا ، الترغيب والترهيب ج٤ ص ٤٨ كتاب التوبة والزهد ، مشكوة ج١ ص ٢٢٣ باب الاستغفار والتوبة ، فتاوى فريديه ج٢ ص ٣٧١ .

(٢) لو قدموا فاسقا يأثمون بناءً على ان كراهة تقديمه كراهة تحريم لعدم اعتنائه بأمور دينه و تساهله بلوازمه فلايبعد منه الاخلال ببعض شروط الصلاة و فعل ما ينافيها بل هو الغالب بالنظر الى فسقه و لذا لم تجز الصلاة خلفه اصلاً عند مالک . غنية المستملي (كبيري) ص ٥١٣ فصل في الامامة ، شامي ج١ ص ٥٦٠ باب الامامة طبع كراچي ، مجمع الانهر ج١ ص ١٦٣ فصل في الجماعة .

ان إمامة الفاسق مكروهة تحريما . حاشية الطحطاوي ....

په فتاوی فریدیه کې ذکر دي : کوم کس چې په سینما کې بې کاره فلمونه ګوري ، یا ګیره د یو موټي نه کموي یا نور کبیره ګناهونه کوي نو دداسې کس پسې د نیکانو خلقو اقتداء کول مکروه تحریمي ده . (١)

لیکن د عوامو یا څوک چې دده نه په دیني حالت کې کمزوري وي د دوی اقتداء دده پسې صحیح ده . (٢)

فاسق سړی به مستقل امام نشي جوړولی ، بلکه دا د امامت نه د معزول کولو مستحق دی . (٣)

.... على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ١ / ٣٠٢ فصل في بيان الأحق بالإمامة. كبيري ص ٥١٣ فصل في الإمامة ، فتاوى محمودية ج ١٠ ص ١٣٢ .

وكره إمامة العبد والأعمیٰ والأعرابي و ولد الزنا والجاهل والفاسق والمبتدع ... نور الإيضاح ونجاة الأرواح في الفقه الحنفي ١ / ٦٥ كتاب الصلاة فصل الأحق بالإمامة. فتاوى محمودية ج ١٠ ص ٨٩ تا ص ٩٣ فاسق کی امامت

(١) قال العلامة الحصكفي رحمه الله : (وَيُكْرَهُ إمَامَةُ عَبْدٍ وَأَعْرَابِيٍّ وَفَاسِقٍ). الدر المختار . و في رد المحتار : (قَوْلُهُ : وَفَاسِق) مِنَ الْفِسْقِ : وَهُوَ الْخُرُوجُ عَنِ الِاسْتِقَامَةِ، وَلَعَلَّ الْمُرَادَ بِهِ مَنْ يَرْتَكِبُ الْكَبَائِرَ كَشَارِبِ الْخَمْرِ، وَالزَّانِي وَآكِلِ الرِّبَا وَنَحْوِ ذَلِكَ. رد المحتار على الدر المختار ١ / ٥٦٠ كتاب الصلاة باب الامامة قبيل مَطْلَبٌ الْبِدْعَةُ خَمْسَةُ أَقْسَامٍ. فتاوى فريديه ج ٢ ص ٣٣٣ باب الامامة فصل في الاحق بالامامة .

قال العلامة الحصكفي رحمه الله : وَكَذَا تُكْرَهُ خَلْفَ أَمْرَدَ ... وَشَارِبِ الْخَمْرِ وَآكِلِ الرِّبَا... الدر المختار ١ / ٥٦٢ باب الامامة مَطْلَبٌ فِي إمَامَةِ الْأَمْرَدِ، فتاوى فريديه ج ٢ ص ٣١٩ فصل في من تصح امامته و من لا تصح .

(٢) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله : وَيَنْبَغِي أَنْ يَكُونَ مَحَلُّ كَرَاهَةِ الِاقْتِدَاءِ بِهِمْ عِنْدَ وُجُودِ غَيْرِهِمْ وَإِلَّا فَلَا كَرَاهَةَ كَمَا لَا يَخْفَى . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ١ / ٣٧٠ إمَامَةُ الْعَبْدِ وَالْأَعْرَابِيِّ وَالْفَاسِقِ ... فتاوى فريديه ج ٢ ص ٣٣٣ باب الامامة فصل في الاحق بالامامة .

(٣) قال ابن عابدين رحمه الله : (قَوْلُهُ : وَيُعْزَلُ بِهِ) أَيْ بِالْفِسْقِ لَوْ طَرَأَ عَلَيْهِ ، وَالْمُرَادُ أَنَّهُ يَسْتَحِقُّ الْعَزْلَ كَمَا عَلِمْتَ آنِفًا . رد المحتار على الدر المختار ١ / ٥٤٩ باب الامامة ، فتاوى فريديه ج ٢ ص ٣٣٣ باب الامامة فصل في الاحق بالامامة .

Scanned with CamScanner

که د فاسق نه علاوه د امامت د پاره بل څوک نه وي نو بيا د ځان له مونځ کولو نه د فاسق پسې اقتداء بهتره ده. (۱)

په فتاوي دارالعلوم ديوبند کې ذکر دي: فاسق او فاجر هغه چاته وايي چې شرعي اوامر پريږدي او د منهياتو مرتکب وي، که لږ کوي او که ډير، دداسې کس امامت کول مکروه تحريمي دی، دده پسې مونځ کيږي خو مکروه دی. (۲)

همدغه شان مسئله په کفاية المفتي کې هم ذکر ده. (۳)

البته د ځان له او کور کې مونځ کولو نه د فاسق سړي پسې اقتداء بهتره ده. (۴)

---

(۱) قَالَ العلامة الحصكفي رحمه الله: (وَيُكْرَهُ إمَامَةُ عَبْدٍ وَأَعْرَابِيٍّ وَفَاسِقٍ) ... وَفِي النَّهْرِ عَنِ الْمُحِيطِ: صَلَّى خَلْفَ فَاسِقٍ أَوْ مُبْتَدِعٍ نَالَ فَضْلَ الْجَمَاعَةِ. الدر المختار ۱ / ۵۵۹.

قال ابن عابدين رحمه الله: (قَوْلُهُ: نَالَ فَضْلَ الْجَمَاعَةِ) أَفَادَ أَنَّ الصَّلَاةَ خَلْفَهُمَا أَوْلَى مِنَ الْإِنْفِرَادِ لَكِنْ لَا يَنَالُ كَمَا يَنَالُ خَلْفَ تَقِيٍّ وَرِعٍ. رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۶۲ كتاب الصلاة باب الامامة قبل مَطْلَبٌ فِي إمَامَةِ الْأَمْرَدِ. فتاوى فريديه ج ۲ ص ۳۵۵.

(۲) "و" لذا كره إمامة "الفاسق" العالم لعدم اهتمامه بالدين فتجب إهانته شرعاً فلا يعظم بتقديمه للإمامة، وإذا تعذر منعه ينتقل عنه إلى غير مسجده للجمعة وغيرها. وإن لم يقم الجمعة إلا هو تصلى معه. مراقي الفلاح ...

والفسق لغة: خروج عن الاستقامة. وهو معنى قولهم خروج الشيء عن الشيء على وجه الفساد. وشرعاً: خروج عن طاعة الله تعالى بارتكاب كبيرة. قال القهستاني أي أو إصرار على صغيرة.... قوله: "فتجب إهانته شرعًا فلا يعظم بتقديمه للإمامة" تبع فيه الزيلعي ومفاده كون الكراهة في الفاسق تحريمية. حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ۱ / ۳۰۳ فصل في بيان الأحق بالإمامة. فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۳ ص ۲۰۱ باب الامامة والجماعة.

(۳) كفاية المفتي ج۳ ص ۱۰۵ كتاب الصلوة.

(۴) په درمختار او شامي کې همدا خبره ذکر ده لکه پاس چې ذکر شوه. فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۳ ص ۵۵ باب الامامة والجماعة.

Scanned with CamScanner

د چُغل خور د امامت حکم

چُغل خُوري (يعنى د دوه کسانو په مينځ کې شيطانت کول او دواړه جنګول) ګناه کبيره ده ، کوم کس چې چُغل خُوري کوي او ددې نه يې توبه نه وي ويستي نو دداسې کس امامت کول مکروهِ تحريمي دى . (١)

د انګريزي ويښتانو واله کس د امامت حکم

په **فتاوى محموديه** کې ذکر دي : چاچې انګريزي ويښتان جوړ کړي وي ، يا يې لباس د شريعت خلاف وي نو داسې کس فاسِق دى ، او د فاسِق سړي مستقل امام جوړول مکروهِ تحريمي دى . (٢)

په **فتاوى عثمانيه** کې دا مسئله په پوره تفصيل سره ذکر ده : چې په فېشنو کې په هره ورځ نوې نوې تبديليانې راځي مګر انګريزي ويښتان جوړول د اول نه د انګريزانو شِعار دى ، انګريزي ويښتان ديته وايي چې د مخکې طرف ويښتان غټ پرېږدي او د شا طرف ويښتان واړه کړي .

---

(١) قال العلامة الحصكفي رحمه الله : وَكَذَا تُكْرَهُ خَلْفَ أَمْرَدَ ... وَشَارِبِ الْخَمْرِ وَآكِلِ الرِّبَا وَنَمَّامٍ... الدر المختار ١ / ٥٦٢ باب الامامة مَطْلَبٌ فِي إِمَامَةِ الْأَمْرَدِ ، مجمع الانهر ج١ ص١٦٣ فصل في الجماعة ، فتاوى محمودية ج١٠ ص٩٨ تاص كراتت.

(٢) ان إمامة الفاسق مكروهة تحريماً . حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ١ / ٣٠٢ فصل في بيان الأحق بالإمامة. كبيري ص٥١٣ فصل في الامامة ، فتاوى محمودية ج١٠ ص١٤٢ .

لو قدموا فاسقا يأثمون بناءً على ان كراهة تقديمه كراهة تحريم . غنية المستملي (كبيري) ص ٥١٣ فصل في الامامة ، شامي ج١ ص٥٦٠ باب الامامة طبع كراچي ، مجمع الانهر ج١ ص١٦٣ فصل في الجماعة .

وكره إمامة العبد والأعمى والأعرابي وولد الزنا والجاهل والفاسق والمبتدع ... نور الإيضاح ونجاة الأرواح في الفقه الحنفي ١ / ٦٥ كتاب الصلاة فصل الأحق بالإمامة . فتاوى محمودية ج١٠ ص٨٩ تا ص٩٣ تاص كراتت.

Scanned with CamScanner

په احاديثو کې د " قَزَع " نه منع راغلې .(١)

او " قَزَع " همدې ته وايي چې انسان بعضې ويښتان کم کړي او بعضې پرېږدي .
(لکه نن صبا چې خلق د سر د مخکې حصې ويښتان غټ پرېږدي او شاته خروي).

مولانا مفتي کفايت الله دهلوي رحمه الله په **کفايت المفتي** کې د نن دور انګريزي
ويښتان هم په " قَزَع " کې شمار کړي ، او ديته يې مکروه ويلي .(٢)

مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله هم په **بهشتي ګوهر** کې انګريزي ويښتانو
جوړولو ته مکروه ويلي .

مفتي عبدالرحيم لاجپوري رحمه الله هم په **فتاوى رحيميه** کې انګريزي ويښتان
د " قزع " په حکم کې شمار کړي ، او ديته يې ناجائز ويلي .(٣)

---

(١) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما : « أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْقَزَعِ » . صحيح البخاري رقم الحديث ٥٩٢١ كِتَابُ اللِّبَاسِ بَابُ القَزَعِ .

عَنْ نَافِعٍ، مَوْلَى عَبْدِ اللهِ : أَنَّهُ سَمِعَ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا يَقُولُ: « سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى عَنِ الْقَزَعِ » قَالَ عُبَيْدُ اللهِ: قُلْتُ : وَمَا الْقَزَعُ ؟ فَأَشَارَ لَنَا عُبَيْدُ اللهِ قَالَ : إِذَا حَلَقَ الصَّبِيَّ وَتَرَكَ هَا هُنَا شَعَرَةً وَهَا هُنَا وَهَا هُنَا. فَأَشَارَ لَنَا عُبَيْدُ اللهِ إِلَى نَاصِيَتِهِ وَجَانِبَيْ رَأْسِهِ... صحيح البخاري رقم الحديث ٥٩٢٠ كِتَابُ اللِّبَاسِ بَابُ القَزَعِ .

وفي رواية : عَنْ عُبَيْدِ اللهِ، أَخْبَرَنِي عُمَرُ بْنُ نَافِعٍ ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما : « أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْقَزَعِ » قَالَ : قُلْتُ لِنَافِعٍ وَمَا الْقَزَعُ ؟ قَالَ: « يُحْلَقُ بَعْضُ رَأْسِ الصَّبِيِّ وَيُتْرَكُ بَعْضٌ ». صحيح مسلم رقم الحديث ١١٣ (٢١٢٠) كتاب اللِّبَاسِ وَالزِّينَةِ بَابُ كَرَاهَةِ القَزَعِ .

(الْقَزَعُ) حلق بعض الرأس مطلقاً وهو الأصح . ومنهم من قال هو حلق مواضع متفرقة منه الصحيح الأول لأنه تفسير الراوي وهو غير مخالف للظاهر . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم

(٢) كفايت المفتي ٩/ ١٧٠ .

(٣) فتاوى رحيميه ١٠ / ١١٥ .

Scanned with CamScanner

معلومه شوه چې د نن دوَر انګريزي ويښتان پريښودل د غير مسلمو سره مشابهت دی ، او د دوی د مشابهت نه څو په احاديثو کې صراحتا منع راغلی ، د ابوداؤد شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي : مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ .(۱)

چا چې د يو قوم سره (د هغوی په مخصوصو اَعمالو کې) مُشابهت وکړو نو دې به د هماغه خلقو په ډَله کې شماريږي (ځکه ده د هغوی په شکل وصورت جوړولو سره د هغوی ډَله زياته کړه) .

بل دا چې دا انګريزي ويښتان په " قَزَع " کې داخل دي ، او د قزع نه خو په احاديثو کې منع راغلي ، لهذا د امام د پاره مناسب ندي چې انګريزي ويښتان پريږدي .

او که کوم امام انګريزي ويښتان پريښي وي نو که د امام مذهبي او دِيني حالت د قوم نه کمزورې وي (يعنی په مقتديانو کې دده نه بهتر کس موجود وي) نو بيا دده پسې اِقتداء کول مکروه ده .

او که د امام او قوم دواړو ديني حالت يو شان وُ ، يا د امام ديني حالت د قوم نه ښه وُ نو بيا دده په امامت کولو کې هيڅ قباحت نشته . په بحر الرائق کې ذکر دي :

رَجُلٌ أَمَّ قَوْمًا وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ . إِنْ كَانَتِ الْكَرَاهِيَةُ لِفَسَادٍ فِيهِ أَوْ لِأَنَّهُمْ أَحَقُّ بِالْإِمَامَةِ يُكْرَهُ لَهُ ذٰلِكَ . وَإِنْ كَانَ هُوَ أَحَقُّ بِالْإِمَامَةِ لَا يُكْرَهُ ذٰلِكَ . (۲)

---

(۱) سنن ابي داود كِتَابُ اللِّبَاسِ بَابٌ فِي لُبْسِ الشُّهْرَةِ رقم الحديث ۴۰۳۱ ، و رواه احمد في مسنده ۲ /۵ . مشكوة المصابيح كِتَابُ اللِّبَاسِ اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۴۳۴۷ .

ملا علي قاري رحمه الله ددې حديث په تشريح کې ليکي : (مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ) : أَيْ مَنْ شَبَّهَ نَفْسَهُ بِالْكُفَّارِ مَثَلًا فِي اللِّبَاسِ وَغَيْرِهِ . أَوْ بِالْفُسَّاقِ أَوِ الْفُجَّارِ . أَوْ بِأَهْلِ التَّصَوُّفِ وَالصُّلَحَاءِ الْأَبْرَارِ (فَهُوَ مِنْهُمْ) : أَيْ فِي الْإِثْمِ وَالْخَيْرِ . قَالَ الطِّيبِيُّ : هٰذَا عَامٌّ فِي الْخَلْقِ وَالْخُلُقِ وَالشِّعَارِ . وَلَمَّا كَانَ الشِّعَارُ أَظْهَرَ فِي التَّشَبُّهِ ذُكِرَ فِي هٰذَا الْبَابِ ... مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۷ / ۲۷۸۲ في تشريح رقم الحديث ۴۳۴۷ كِتَابُ اللِّبَاسِ الْفَصْلُ الثَّانِي .

(۲) البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۱ / ۳۶۹ بَابُ الْإِمَامَةِ الْأَحَقُّ بِالْإِمَامَةِ فِي الصَّلَاةِ

که يو کس يو قوم ته امامت کوي او دوی دده نه خفه وي نو که د دوی دا خفګان د امام د ذاتي خرابۍ په وجه وي ، يا دا خلق د امامت ډير حق دار وي نو بيا دده د پاره دا امامت کول مکروه دي ، او که امام د دوی په نسبت د امامت ډير حقدار وي (او په ده کې څه ذاتي خرابي هم نه وي) نو بيا دده د پاره دا امامت کول مکروه ندی . (۱)

د چرس څکوونکي او افيون خوړونکي کس د امامت حکم

چرس يا پوډر څکل ، يا افيون خوړل حرام دي . (۲)

څوک چې دا څکي نو داسې کس په حکم د فاسِق کې دی ، او د فاسِق پسې اقتداء کول مکروهِ تحريمي ده . (۳)

البته دده پسې چې کوم مونځ شوې وي د هغې راګرځول واجب ندي . (۴)

---

(۱) فتاوی عثمانيه ج۲ ص ۲۲۴ باب الامامة.

(۲) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ . صحيح مسلم رقم الحديث ۷۲ (۲۰۰۲) و رقم ۷۰ (۱۷۳۳) كتاب الأَشْرِبَةِ بَابُ بَيَانِ أَنَّ كُلَّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ وَأَنَّ كُلَّ خَمْرٍ حَرَامٌ . مشكاة المصابيح بَابُ بَيَانِ الْخَمْرِ وَعِيدِ شَارِبِهَا اَلْفَصْلُ الأَوَّلُ رقم الحديث ۳۶۳۹ (۶).

قال العلامة الحصكفي رحمه الله : (وَيَحْرُمُ أَكْلُ الْبَنْجِ وَالْحَشِيشَةِ) هِيَ وَرَقُ الْقِنَّبِ (وَالْأَفْيُونُ) لِأَنَّهُ مُفْسِدٌ لِلْعَقْلِ وَيَصُدُّ عَنْ ذِكْرِ اللهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ . الدر المختار ۶/ ۴۵۷ كِتَابُ الأَشْرِبَةِ .

(۳) قال العلامة الحلبي في شرح المنية : في فتاوى الحجة وفيه اشارة الى انهم قدموا فاسقًا يأثمون بناءً على ان كراهة تقديمه كراهة تحريم . الشرح الكبير ص ۴۷۵ فصل في الامامة . فتاوی فريديه ج ۲ ص ۴۶۱ و ص ۴۲۹ ، و ص ۳۸۴ .

(۴) قال ابن عابدين رحمه الله : فَإِنْ أَمْكَنَ الصَّلَاةُ خَلْفَ غَيْرِهِمْ فَهُوَ أَفْضَلُ وَإِلَّا فَالِاقْتِدَاءُ أَوْلَى مِنَ الِانْفِرَادِ . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۵۹ باب الامامة.

وَفِي النَّهْرِ عَنِ الْمُحِيطِ : صَلَّى خَلْفَ فَاسِقٍ أَوْ مُبْتَدِعٍ نَالَ فَضْلَ الْجَمَاعَةِ . الدر المختار قال ابن عابدين رحمه الله : (قَوْلُهُ : نَالَ فَضْلَ الْجَمَاعَةِ) أَفَادَ أَنَّ الصَّلَاةَ خَلْفَهُمَا أَوْلَى مِنَ الِانْفِرَادِ ، لَكِنْ لَا يَنَالُ كَمَا يَنَالُ خَلْفَ تَقِيٍّ وَرِعٍ . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۶۶ باب الامامة ، هكذا في البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۲ ۳۶ [illegible] الْأَنْوَارِ الْفَائِقِ فتاوی فريديه ج ۲ ص ۴۱۱ فصل في من تصح امامته و من لاتصح .

د سګريټ څکونکي کس د امامت حُکم

په **فتاوی محموديه** کې ذکر دي چې کوم امام تمباکو څکي د ده پسې مونځ کول صحيح دی ، ليکن چې کله يې د خُلې نه بَدبُويي ځي نو په دې حالت کې جُمات ته راتلل مکروهِ تحريمي دي ، لهذا جُمات ته د راتلو نه مخکې خُله په مسواک يا بل شي سره صفا کول په کار دي ، ځکه په بَدبُويۍ سره فرښتو (او نورو انسانانو) ته تکليف رسي .(۱)

(**نوټ** : څوک چې بَدبوداره څيزاوخوري لکه پياز ، اُوګه وغيره نو دداسې کس د پاره جُمات ته راتلل منع دي ، دا خبره د پوره دلائلو او تفصيل سره ددې (اصلاحي مدلل تقريرونه) کتاب په اُووم (۷) جلد کې د صفحه ۲۴۶ نه تر صفحه ۲۴۹ پورې تېره شوې، هلته يې اوګوره . ابوالشمس عفي عنه)

په **فتاوی فريديه** کې ذکر دي : د پياز ، اُوګې او تمباکو حکم يو دی ، څوک چې دا استعمالوي نو د دوی پسې اِقتداء کولو کې کراهت نشته ، البته د خُلې نه د بَدبويي تللو په حالت کې مونځ کول مکروهِ تحريمي دی ، لکه څرنګې چې د هغه چا د پاره جُمات ته تلل مکروهِ تحريمي دي چې د چا د خُلې نه (د پياز ، اُوګې او سګرټو وغيره) بَدبويي ځي .(۲)

---

(۱) يجب ان تصان (المساجد) عن ادخال الرائحة الكريهة . لقوله عليه السلام ... فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَتَأَذَّى مِمَّا يَتَأَذَّى مِنْهُ بَنُو آدَمَ " . صحيح مسلم باب نهي من أكل ثوما أو بصلا أو كراثا أو نحوها رقم الحديث ۷۴ (۵۶۴) ، حلبي كبير ص ۶۱۰ احكام المسجد ، شامي ج۱ ص ۶۶۱ مكروهات الصلاة ، فتاوی محمودية ج ۱۰ ص ۴۰ .

(۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله : وَأَكْلُ نَحْوِ ثُومٍ ، وَيُمْنَعُ مِنْهُ . الدر المختار

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : (قَوْلُهُ : وَأَكْلُ نَحْوِ ثُومٍ) أَيْ كَبَصَلٍ وَنَحْوِهِ مِمَّا لَهُ رَائِحَةٌ كَرِيهَةٌ لِلْحَدِيثِ الصَّحِيحِ فِي النَّهْيِ عَنْ قُرْبَانِ آكِلِ الثُّومِ وَالْبَصَلِ الْمَسْجِدَ . قَالَ الْإِمَامُ الْعَيْنِيُّ فِي شَرْحِهِ عَلَى صَحِيحِ الْبُخَارِيِّ قُلْتُ : عِلَّةُ النَّهْيِ أَذَى الْمَلَائِكَةِ وَأَذَى الْمُسْلِمِينَ وَلَا يَخْتَصُّ بِمَسْجِدِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ، بَلْ الْكُلُّ سَوَاءٌ لِرِوَايَةِ مَسَاجِدَنَا بِالْجَمْعِ ، خِلَافًا لِمَنْ شَذَّ . وَيَلْحَقُ بِمَا نَصَّ عَلَيْهِ فِي الْحَدِيثِ كُلُّ مَا لَهُ رَائِحَةٌ كَرِيهَةٌ مَأْكُولًا أَوْ غَيْرَهُ ....

د نسوار اچوونکي کس د امامت حکم

په فتاوی فریدیه کې ذکر دي : تمباکو استعمالول مُباح دي ، لهذا ددې استعمال د امامت سره متصادم ندی .(۱)

(خو چې کله يې د خُلې نه د نسوارو بَدبويي ځي نو په دې حالت کې مونځ کول یا جُمات ته تلل مکروه تحریمي دی . لکه دا خبره بار بار په تفصیل سره تېره شوه . ابوالشمس عفی عنه)

...... وَإِنَّمَا خَصَّ الثُّومَ هُنَا بِالذِّكْرِ وَفِي غَيْرِهِ أَيْضًا بِالْبَصَلِ وَالْكُرَّاثِ لِكَثْرَةِ أَكْلِهِمْ لَهَا . وَكَذَلِكَ أَلْحَقَ بَعْضُهُمْ بِذَلِكَ مَنْ بِفِيهِ بَخَرٌ أَوْ بِهِ جُرْحٌ لَهُ رَائِحَةٌ . وَكَذَلِكَ الْقَصَّابُ، وَالسَّمَّاكُ، وَالْمَجْذُومُ وَالْأَبْرَصُ أَوْلَى بِالْإِلْحَاقِ . وَقَالَ سَحْنُونٌ لَا أَرَى الْجُمُعَةَ عَلَيْهِمَا. وَاحْتَجَّ بِالْحَدِيثِ .

وَأَلْحَقَ بِالْحَدِيثِ كُلُّ مَنْ آذَى النَّاسَ بِلِسَانِهِ. وَبِهِ أَفْتَى ابْنُ عُمَرَ وَهُوَ أَصْلٌ فِي نَفْيِ كُلِّ مَنْ يَتَأَذَّى بِهِ. وَلَا يَبْعُدُ أَنْ يُعْذَرَ الْمَعْذُورُ بِأَكْلِ مَا لَهُ رِيحٌ كَرِيهَةٌ. لِمَا فِي صَحِيحِ ابْنِ حِبَّانَ عَنِ « الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ انْتَهَيْتُ إلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدَ مِنِّي رِيحَ الثُّومِ فَقَالَ: مَنْ أَكَلَ الثُّومَ. فَأَخَذْتُ يَدَهُ فَأَدْخَلْتُهَا فَوَجَدَ صَدْرِي مَعْصُوبًا. فَقَالَ : إنَّ لَك عُذْرًا » وَفِي رِوَايَةِ الطَّبَرَانِيِّ فِي الْأَوْسَطِ « اشْتَكَيْتُ صَدْرِي فَأَكَلْته » وَفِيهِ: فَلَمْ يُعَنِّفْهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . وَقَوْلُهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « وَلْيَقْعُدْ فِي بَيْتِهِ » صَرِيحٌ فِي أَنَّ أَكْلَ هَذِهِ الْأَشْيَاءِ عُذْرٌ فِي التَّخَلُّفِ عَنِ الْجَمَاعَةِ.

وَأَيْضًا هُنَا عِلَّتَانِ : أَذَى الْمُسْلِمِينَ . وَأَذَى الْمَلَائِكَةِ ، فَبِالنَّظَرِ إلَى الْأُولَى يُعْذَرُ فِي تَرْكِ الْجَمَاعَةِ وَحُضُورِ الْمَسْجِدِ . وَبِالنَّظَرِ إلَى الثَّانِيَةِ يُعْذَرُ فِي تَرْكِ حُضُورِ الْمَسْجِدِ وَلَوْ كَانَ وَحْدَهُ مُلَخَّصًا.

أَقُولُ : قَوْلُهُ يُعْذَرُ بِذَلِكَ يَنْبَغِي تَقْيِيدُهُ بِمَا إذَا أَكَلَ ذَلِكَ بِعُذْرٍ أَوْ أَكَلَ نَاسِيًا قُرْبَ دُخُولِ وَقْتِ الصَّلَاةِ لِئَلَّا يَكُونَ مُبَاشِرًا لِمَا يَقْطَعُهُ عَنِ الْجَمَاعَةِ بِصُنْعِهِ. رد المحتار على الدر المختار ۶۶۱/۱ فُرُوعٌ أَفْضَلُ الْمَسَاجِدِ طبع دار الفكر بيروت ، فتاوى فريديه ج۲ ص۳۶۷ فصل في من تصح امامته و من لا تصح .

(۱) فَإِنَّهُ لَمْ يَثْبُتْ إسْكَارُهُ وَلَا تَفْتِيرُهُ وَلَا إضْرَارُهُ. بَلْ ثَبَتَ لَهُ مَنَافِعُ. فَهُوَ دَاخِلٌ تَحْتَ قَاعِدَةِ : الْأَصْلُ فِي الْأَشْيَاءِ الْإِبَاحَةُ . رد المحتار ج۵ ص۲۹۶ كتاب الاشربة . فتاوى فريديه ج۲ ص۳۰۳ فصل في من تصح امامته ومن لا تصح.

Scanned with CamScanner

(**نوټ** : د نسوارو د استعمالولو متعلق تفصيلي بحث ددې (اِصلاحي مُدلّل تقرِيرونه) كتاب په شپږم (٦) جلد كې د فقهي مسائلو په بحث كې په صفحه ۳۵۱ باندې تېر شوى ، هلته يې ضرور اوګوره . ابوالشمس عفي عنه)

د بِدعتي كس د امامت حُكم

په **فتاوى محموديه** كې ذكر دي : كه بِدعتي په داسې بِدعت كې مبتلاء وُ چې هغه كُفر او شِرك ته رسيدو لكه قبرونو ته سجدې كول ، نو دداسې بِدعتي پسې مونځ بالكل ناجائز دى ، داسې كس امام جوړول هركز جائز ندي . (۱)

او كه دده دا بِدعت معمولي وُ يعنى د ګناهِ صغيره په مرتبه كې وُ او ده د مانځه د فرائضو او واجباتو لحاظ ساتل نو بيا دده پسې مونځ جائز دى . (۲)

او كه دده دا بِدعت د ګناهِ كبيره په درجه كې وُ نو چې بل نيک كس موجود وي نو بيا داسې كس مستقل امام جوړول مكروهِ تحريمي دى . (۳)

خو كه چا دده پسې مونځ كړې وي نو مونځ يې كيږي ، دوباره راګرځول يې واجب ندي ،

---

(۱) وَيُكْرَهُ إِمَامَةُ عَبْدٍ ... وَمُبْتَدِعٌ ... لَا يَكْفُرُ بِهَا . وَإِنْ كَفَرَ بِهَا فَلَا يَصِحُّ الإِقْتِدَاءُ بِهِ أَصْلًا .
تنوير الابصار ج ۱ ص ۳۹۲ باب الامامة ، رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۵۹ باب الامامة ، حلبي كبير ص ۵۱۳ فصل في الامامة ، بحر الرائق ج۱ ص ۳۴۹ باب الامامة ، فتاوى تاتارخانيه ج۱ ص ۶۰۳ الفصل السادس من هو احق بالامامة ، فتاوى محمودية ج ۱۰ ص ۲۳۰ وص ۲۳۲ بدعتی کی امامت .

(۲) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " صَلُّوا خَلْفَ كُلِّ بَرٍّ وَفَاجِرٍ وَصَلُّوا عَلَى كُلِّ بَرٍّ وَفَاجِرٍ ، وَجَاهِدُوا مَعَ كُلِّ بَرٍّ وَفَاجِرٍ . السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۶۸۳۲ جِمَاعُ أَبْوَابِ الشَّهِيدِ وَمَنْ يُصَلِّي عَلَيْهِ وَيُغَسَّلُ بَابُ الصَّلَاةِ عَلَى مَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ غَيْرَ مُسْتَحِلٍّ لِقَتْلِهَا .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « اَلصَّلَاةُ الْمَكْتُوبَةُ وَاجِبَةٌ خَلْفَ كُلِّ مُسْلِمٍ بَرًّا كَانَ أَوْ فَاجِرًا وَإِنْ عَمِلَ الْكَبَائِرَ » . سنن ابي داؤد رقم الحديث ۵۹۴ كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ إِمَامَةِ الْبَرِّ وَالْفَاجِرِ ، و رقم الحديث ۲۵۳۳ كِتَابُ الْجِهَادِ بَابٌ فِي الْغَزْوِ مَعَ أَئِمَّةِ الْجَوْرِ .

(۳) كراهة تقديمه كراهة تحريم . غنية المستملي شرح منية المصلي ص ۴۷۵ فصل في الامامة ، شامي ج۱ ص ۵۶۰ باب الامامة قبيل البدعة خمسة اقسام طبع كراچي .

Scanned with CamScanner

او په کوم حديث کې چې د مانځه نه قبليدل راغلي (قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَبَى اللهُ أَنْ يَقْبَلَ عَمَلَ صَاحِبِ بِدْعَةٍ حَتَّى يَدَعَ بِدْعَتَهُ (۱)) نو د هغې مطلب دادی چې الله ﷻ دده نه راضي ندی، او ده ته قُربِ خداوَندي حاصل ندی. (۲)

په **فتاوي دارالعلوم ديوبند** کې ذکر دي: کوم کس چې په قبر پرستۍ کې مبتلاء وي، نبي عليه السلام عالمُ الغيب او حاضِر ناظِر گنړي، او گډا وغيره کې هم حصه اخلي نو داسې کس د امامت لائق نه دی، دا امام جوړول حرام دي، که داسې کس چيرته امام وي نو د امامت نه مَعزول کول په کار دي، او دده په ځای بل مُتقي او پرهيزگاره عالِم امام جوړول په کار دي. (۳)

په **فتاوي حقانيه** کې ذکر دي: کوم کس چې داسې کارونه کوي چې په شريعت کې هغه ثابت نه وي، او دې دا کارونه دِين گنړي او خلقو ته هم ددې ترغيب ورکوي نو داسې کس بِدعتي دی دده پسې اِقتداء کول مکروه ده.

خو په دې خبره باندې ځان پوهه کول په کار دي چې په هر چا باندې د بِدعتي فتوٰی لږول، او هر کار ته بِدعت ويل صحيح ندی. (۴)

---

(۱) سنن ابن ماجه رقم الحديث ۵۰ بَابُ اِجْتِنَابِ الْبِدَعِ وَالْجَدَلِ.

(۲) القبول قسمان: ... الثاني کون الشيء يترتب عليه من وقوعه عندالله جل ذکره موقع الرضا ويترتب عليه الثواب والدرجات. معارف السنن ج۱ ص ۲۹ باب ما جاء لا تقبل صلاة بغير طهور. فتاوی محمودية ج۱۰ ص ۲۳۰ تا ۲۳۳ بدعتی کی امامت.

(۳) (وَيُكْرَهُ إِمَامَةُ عَبْدٍ) ... (وَمُبْتَدِعٍ) أَيْ صَاحِبِ بِدْعَةٍ. الدرالمختار ۱ / ۵۶۰ باب الامامة. فتاوی دارالعلوم ديوبند ج۳ ص ۱۶۳ باب الامامة والجماعة.

(۴) (وَمُبْتَدِعٍ) أَيْ صَاحِبِ بِدْعَةٍ وَهِيَ اِعْتِقَادُ خِلَافِ الْمَعْرُوْفِ عَنِ الرَّسُوْلِ لَا بِمُعَانَدَةٍ بَلْ بِنَوْعِ شُبْهَةٍ وَكُلُّ مَنْ كَانَ مِنْ قِبْلَتِنَا. الدرالمختار ۱ / ۵۶۰ باب الامامة.

وَأَمَّا الْمُبْتَدِعُ فَهُوَ صَاحِبُ الْبِدْعَةِ ... وَعَرَّفَهَا الشُّمُنِّيُّ بِأَنَّهَا مَا أُحْدِثَ عَلَى خِلَافِ الْحَقِّ الْمُتَلَقَّى عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عِلْمٍ أَوْ عَمَلٍ أَوْ حَالٍ ....

په فتاوى فريديه كې ذكر دي چې كه د دې بدعتي نه علاوه بل څوک نيک كس نه وي نو بيا د ځان له مونځ كولو په نسبت د دې بدعتي پسې اقتداء كول بهتره ده (ماخوذ از هنديه و رد المحتار) . (۱)

په كفاية المفتي كې ذكر دي : د بدعتي امامت مكروه دی . (۲)

د بريلوي پسې د اقتداء حكم

په فتاوى فريديه كې ذكر دي : چې د كوم بريلوي عقائد كفري وي نو د هغه پسې اقتداء باطل او كالعَدَم ده (يعنى د ده پسې مونځ بالكل نه كيږي) ، او چې عقائد يې

.... بِنَوْعِ شُبْهَةٍ وَاسْتِحْسَانٍ وَجُعِلَ دِيْنًا قَوِيْمًا وَصِرَاطًا مُسْتَقِيْمًا . وَأَطْلَقَ الْمُصَنِّفُ فِي الْمُبْتَدِعِ فَشَمِلَ كُلَّ مُبْتَدِعٍ هُوَ مِنْ أَهْلِ قِبْلَتِنَا . وَقَيَّدَهُ فِي الْمُحِيطِ وَالْخُلَاصَةِ وَالْمُجْتَبَى وَغَيْرِهَا بِأَنْ لَا تَكُوْنَ بِدْعَتُهُ تُكَفِّرُهُ . فَإِنْ كَانَتْ تُكَفِّرُهُ فَالصَّلَاةُ خَلْفَهُ لَا تَجُوْزُ . وَعِبَارَةُ الْخُلَاصَةِ هٰكَذَا . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۱ / ۳۷۰ إِمَامَةُ الْعَبْدِ وَالْأَعْرَابِيِّ وَالْفَاسِقِ وَالْمُبْتَدِعِ وَالْأَعْمٰى وَوَلَدِ الزِّنَا ، فتاوى حقانيه ج۳ ص ۱۳۲ .

(۱) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: صَلَاةُ الْجَمَاعَةِ تَفْضُلُ صَلَاةَ الْفَذِّ بِسَبْعٍ وَعِشْرِيْنَ دَرَجَةً . صحيح البخاري كِتَابُ الْأَذَانِ بَابُ فَضْلِ صَلَاةِ الْجَمَاعَةِ رقم الحديث ۶۴۵ ، صحيح مسلم بَابُ فَضْلِ صَلَاةِ الْجَمَاعَةِ وَبَيَانِ التَّشْدِيْدِ فِي التَّخَلُّفِ عَنْهَا رقم الحديث ۲۴۹ (۶۵۰) ، سنن الترمذي باب ما جاء في فضل الجماعة رقم الحديث ، مشكاة المصابيح باب الجماعة وفضلها الفصل الاول رقم ۱۰۵۲ (۱) ، موطاء امام مالک باب فضل صلاة الجماعة على صلاة الفذ رقم ۱ ، شعب الايمان رقم الحديث ۲۵۶۹ .

وفي الهندية : قَالَ الْمَرْغِيْنَانِيُّ تَجُوْزُ الصَّلَاةُ خَلْفَ صَاحِبِ هَوًى وَبِدْعَةٍ ، وَلَا تَجُوْزُ خَلْفَ الرَّافِضِيِّ وَالْجَهْمِيِّ وَالْقَدَرِيِّ وَالْمُشَبِّهَةِ وَمَنْ يَقُوْلُ بِخَلْقِ الْقُرْآنِ . وَحَاصِلُهُ إِنْ كَانَ هَوًى لَا يُكَفَّرُ بِهِ صَاحِبُهُ تَجُوْزُ الصَّلَاةُ خَلْفَهُ مَعَ الْكَرَاهَةِ وَإِلَّا فَلَا . هٰكَذَا فِي التَّبْيِيْنِ وَالْخُلَاصَةِ وَهُوَ الصَّحِيْحُ ... وَلَوْ صَلّٰى خَلْفَ مُبْتَدِعٍ أَوْ فَاسِقٍ فَهُوَ مُحْرِزٌ ثَوَابَ الْجَمَاعَةِ لٰكِنْ لَا يَنَالُ مِثْلَ مَا يَنَالُ خَلْفَ تَقِيٍّ . كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ . الفتاوى الهندية ۱ / ۸۴ اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ فِي بَيَانِ مَنْ يَصْلُحُ إِمَامًا لِغَيْرِهِ ، فتاوى فريديه ج۲ ص ۳۲۰ باب الامامة فصل في الجماعة .

(۲) كفاية المفتي ج۳ ص ۱۰۱ كتاب الصلاة .

کفري نه وي نو بيا ورپسې مونځ کول مکروهِ تحريمي دی ۰ (۱)

د ځان له مونځ نه د فاسق او بدعتي په اقتداء کې مونځ کول بهتر دی ۰ (۲)

مفتي صاحب دا هم ليکلي چې د بريلياڼو واعظين او مقررين په شرک کې مبتلاء وي او عوام هم په شرک کې مبتلاء کوي ، ليکن د دوی علماء اکثره مؤولين دي (يعنی دوی په هغه مشهورو اختلافي مسائلو کې صحيح تاويل کوي . ددې خبرې پوره تفصيل په فتاوی فريديه کې اوګوره) ۰ (۳)

په **فتاوی محموديه** کې ذکر دي چې عالمُ الغيب ، مُختارِ کُل او هر ځای حاضرِ ناظر دا صفتونه د الله ﷻ سره خاص دي ، دا حضور صلی الله عليه وسلم ته ثابتول بې دليله دي ، بلکه د نَص خلاف دي ۰ (۴)

لهذا چې څوک دا صفتونه نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته ثابتوي داسې کس امام جوړول ندي په کار ۰ (۵)

---

(۱) وفي الهندية : .. وَحَاصِلُهُ إِنْ كَانَ هَوًى لَا يَكْفُرُ بِهِ صَاحِبُهُ تَجُوزُ الصَّلَاةُ خَلْفَهُ مَعَ الْكَرَاهَةِ وَإِلَّا فَلَا. هَكَذَا فِي التَّبْيِينِ وَالْخُلَاصَةِ وَهُوَ الصَّحِيحُ . الفتاوی الهندية ۱ / ۸۴ الْفَصْلُ الثَّالِثُ فِي بَيَانِ مَنْ يَصْلُحُ إمَامًا لِغَيْرِهِ، فتاوی فريديه ج۲ ص ۴۰۱ فصل في من تصح امامته ومن لاتصح .

(۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله : وَفِي النَّهْرِ عَنِ الْمُحِيطِ: صَلَّى خَلْفَ فَاسِقٍ أَوْ مُبْتَدِعٍ نَالَ فَضْلَ الْجَمَاعَةِ . الدر المختار قال ابن عابدين رحمه الله : (قَوْلُهُ : نَالَ فَضْلَ الْجَمَاعَةِ) أَفَادَ أَنَّ الصَّلَاةَ خَلْفَهُمَا أَوْلَى مِنَ الِانْفِرَادِ، لَكِنْ لَا يَنَالُ كَمَا يَنَالُ خَلْفَ تَقِيٍّ وَرِعٍ . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۶۲ باب الامامة ، فتاوی فريديه ج۲ ص ۳۸۲ فصل في من تصح امامته ومن لاتصح .

(۳) فتاوی فريديه ج۲ ص ۳۸۳ فصل في من اصح امامته ومن لاتصح .

(۴) وذكر الحنفية تصريحا بالتكفير باعتقاد ان النبي صلى الله عليه وسلم يعلم الغيب لمعارضته قوله تعالى ﴿ قُل لَّا يَعْلَمُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ ﴾ . شرح الفقه الاكبر مجتبائي ص ۱۸۵ .

(۵) (وَيُكْرَهُ إمَامَةُ عَبْدٍ ... وَمُبْتَدِعٍ) أَيْ صَاحِبِ بِدْعَةٍ وَهِيَ اعْتِقَادُ خِلَافِ الْمَعْرُوفِ عَنِ الرَّسُولِ لَا بِمُعَانَدَةٍ بَلْ بِنَوْعِ شُبْهَةٍ . الدر المختار ۱ / ۵۶۰ باب الامامة قبيل امامة الامرد ، زيلعي ج۱ ص ۱۳۴ باب الامامة والحدث في الصلاة ، النهر الفائق ج۱ ص ۲۴۲ باب الامامة .

خلقو ته په کار دي چې داسې کس د امامت نه لرې کړي او د دې په ځای د صحيح عقيدې والا مُتبعُ السُّنة کس امام مقرر کړي، او که داسې او نکړي نو ټول به ګناهګار وي. (۱)

په فتاوی عثمانیه کې ذکر دي: په دې کې شک نشته چې د جمعې سره مونځ د صحيح عقيدې والا باعمله عالِم پسې کول افضل دي، د دې بر عکس د يو بِدعتي، جاهل او فاسق و فاجر پسې د مونځ کولو دومره قدر و قيمت نه وي. لهذا فقهاء کرامو د مذکوره خلقو پسې مونځ کول مکروه ګڼړلي.

که د يو امام عقيده د اهلُ السنّة والجماعت خلاف وي مثلا نبي عليه السلام عالِمُ الغيب او هر ځای حاضر و ناظِر ګڼي نو داسې کس بِدعتي دی، د ده پسې مونځ کول مکروهِ تحريمي دی، ليکن که په يو ځای کې د ده پسې د مونځ نه کولو په وجه فِتنه پيدا کيده، يا جُمعه فوت کيده نو د ده پسې اِقتداء کول صحيح ده. (۲)

د غير مُقلد پسې د مونځ کولو حُکم

د يو څو فتاوُو اصل عبارتونه درته بغير د څه تغير او تبديل نه رانقل کوم:

په فتاوی محموديه کې ذکر دي: کوم غير مقلد (اهلِ حديث) چې مُنصِف مِزاجه وي، تَشدّد او تعصّب په کې نه وي، ائمه کرامو (امام اعظم ابو حنيفه، اِمام شافعي، امام مالک او امام احمد بن حنبل رحمهم الله) ته بَد رَد نه وايي، د اَودس او مانځه په مسائلو کې د مذهبِ حنفي لحاظ ساتي، اګر چې د يو مُعين امام تقليد نه کوي خو په احاديثو کې چې څه ثابت دي په هغې کې باندې په دِيانت داری سره عمل کوي نو د ده پسې مونځ

---

(۱) فتاوی محموديه ج ۱۰ ص ۲۳۹ بدعتي کی امامت

(۲) وفي الهندية: قَالَ الْمَرْغِينَانِيُّ تَجُوزُ الصَّلَاةُ خَلْفَ صَاحِبِ هَوًى وَبِدْعَةٍ، وَلَا تَجُوزُ خَلْفَ الرَّافِضِيِّ وَالْجَهْمِيِّ وَالْقَدَرِيِّ وَالْمُشَبِّهَةِ وَمَنْ يَقُولُ بِخَلْقِ الْقُرْآنِ. وَحَاصِلُهُ إنْ كَانَ هَوًى لَا يُكَفِّرُ بِهِ صَاحِبَهُ تَجُوزُ الصَّلَاةُ خَلْفَهُ مَعَ الْكَرَاهَةِ وَإِلَّا فَلَا. هَكَذَا فِي التَّبْيِينِ وَالْخُلَاصَةِ وَهُوَ الصَّحِيحُ ... وَلَوْ صَلَّى خَلْفَ مُبْتَدِعٍ أَوْ فَاسِقٍ فَهُوَ مُحْرِزٌ ثَوَابَ الْجَمَاعَةِ لَكِنْ لَا يَنَالُ مِثْلَ مَا يَنَالُ خَلْفَ تَقِيٍّ. كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ. الفتاوی الهندية ۱/ ۸۴ الْفَصْلُ الثَّالِثُ فِي بَيَانِ مَنْ يَصْلُحُ إمَامًا لِغَيْرِهِ ، فتاوی عثمانيه ج۲ ص ۲۱۰ باب الامامة

کول جائز دی.(۱)

کوم اهلِ حديث چې په دِيانت داری سره په حديثو باندې عمل کوي او د فقهاء کرامو سره بُغض نه ساتي نو دوی هم د اهل السنّة والجماعة نه جدا ندي.(۲)

او کوم غير مقلد چې په مانځه کې د مذهبِ حنفي رعايت نه کوي نو دده پسې مونځ کول صحيح ندی. او که دده متعلق پوره معلومات نه وي چې دې د مذهبِ حنفي لحاظ ساتي او که نه؟ نو بيا دداسې غير مقلد پسې اقتداء کول مکروه ده.(۳)

---

(۱) إِنْ عَلِمَ أَنَّهُ رَاعَى فِي الْفُرُوْضِ وَالْوَاجِبَاتِ وَالسُّنَنِ فَلَا كَرَاهَةَ. وَإِنْ عَلِمَ تَرْكَهَا فِي الثَّلَاثَةِ لَمْ يَصِحَّ. وَإِنْ لَمْ يَدْرِ شَيْئًا كُرِهَ لِأَنَّ بَعْضَ مَا يَجِبُ تَرْكُهُ عِنْدَنَا يُسَنُّ فِعْلُهُ عِنْدَهُ فَالظَّاهِرُ أَنْ يَفْعَلَهُ. وَإِنْ عَلِمَ تَرْكَهَا فِي الْأَخِيْرَيْنِ فَقَطْ يَنْبَغِيْ أَنْ يُكْرَهَ لِأَنَّهُ إِذَا كُرِهَ عِنْدَ احْتِمَالِ تَرْكِ الْوَاجِبِ فَعِنْدَ تَحَقُّقِهِ بِالْأَوْلَى. وَإِنْ عَلِمَ تَرْكَهَا فِي الثَّالِثِ فَقَطْ يَنْبَغِيْ أَنْ يَقْتَدِيَ بِهِ لِأَنَّ الْجَمَاعَةَ وَاجِبَةٌ فَتُقَدَّمُ عَلَى تَرْكِهِ كَرَاهَةَ التَّنْزِيْهِ. رد المحتار على الدر المختار ۱/ ۵۶۳ باب الامامة مَطْلَبٌ فِي الْإِقْتِدَاءِ بِشَافِعِيٍّ وَنَحْوِهِ هَلْ يُكْرَهُ أَمْ لَا؟. فتاوى محمودية ج۱۰ ص ۳۵۳ غير حنفي كى اقتداء.

(۲) وبالجملة الآن مصداق الحديث اتباع المذاهب الاربعة والظاهري. العرف الشذي ج۲ ص ۹۲ ابواب الايمان باب افتراق هذه الامة ، و راجع امداد الفتاوى ج۱ ص ۲۸۵ و كفايت المفتي ج۱ ص ۳۲۴ و ص ۳۲۵ كتاب العقائد ، فتاوى محمودية ج۱۰ ص ۳۵۳ غير حنفي كي اقتداء.

(۳) اَلْحَاصِلُ أَنَّهُ إِنْ عَلِمَ الْإِحْتِيَاطَ مِنْهُ فِيْ مَذْهَبِنَا فَلَا كَرَاهَةَ فِي الْإِقْتِدَاءِ بِهِ وَإِنْ عَلِمَ عَدَمَهُ فَلَا صِحَّةَ، وَإِنْ لَمْ يَعْلَمْ شَيْئًا كُرِهَ. رد المحتار على الدر المختار ۲/ ۷ بَابُ الْوِتْرِ وَالنَّوَافِلِ مَطْلَبُ الْإِقْتِدَاءِ بِالشَّافِعِيِّ.

نوټ: د نن دور غير مقلدين اكثر مُتعصِّب او مُتشدِّد دي. فتاوى محمودية ج۱۰ ص ۳۵۷ غير حنفي كى اقتداء.

"و" الرابع عشر من شروط صحة الاقتداء "أن لا يعلم المقتدي من حال إمامه" المخالف لمذهبه "مفسدا في زعم المأموم" يعني في مذهب المأموم "كخروج دم" سائل "أو قيء" يملأ الفم وتيقن أنه "لم يعد بعده وضوءه" حتى لو غاب بعدما شاهد منه ذلك بقدر ما يعيد الوضوء ولم يعلم حاله فالصحيح جواز الاقتداء مع الكراهة كما لو جهل حاله بالمرة. وأما إذا علم منه أنه لا يحتاط في مواضع الخلاف فلا يصح الاقتداء به سواء علم حاله في خصوص ما يقتدي به فيه أو لا. وإن علم أنه يحتاط في مواضع الخلاف يصح الاقتداء به على الأصح ويكره كما في المجتبى. وقال الديري في شرحه لا يكره إذا علم الاحتياط في مذهب الحنفي. مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ۱/ ۱۱۱ باب الامامة.

Scanned with CamScanner

بعضې غير مقلّدين مُتعصِب او مُتشدِّد وي چې امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله او نورو ائمه وُ باندې لعَن طعَن کوي ، دوی ته کنځل کوي ، او تقليد ته شِرک وايي نو دداسې کس پسې مونځ کول صحيح ندی ، داسې کس امام جوړول حرام دي . (۱)

په دې دوَر کې هر چا له د ائمه اَربعهؤ نه د يو کس تقليد کول لازم دي ځکه ددې نه بغير کار نه کيږي ، د دوی نه ځان مستغني ګنړل او د تقليد نه ځان آزاد شمار د ګمراهی دَروازه کلاوول دي . (۲)

په **فتاوی دارالعلوم ديوبند** کې په باب الامامة والجماعة کې دا مسئله په ډيرو ځايونو کې ذکر ده ، زه به د يو څو ځايونو نه اصل عبارتونه رانقل کړم :

۱ . د کوم غير مقلِد عقائد چې د اهل السنّة والجماعة موافق وي ، ائمهؤ او اسلافو ته بَد رَد نه وايي نو دده پسې مونځ کول صحيح دی . خو که اسلافو ته يې کنځل کول نو بيا دا فاسِق دی او د فاسق سرې امامت مکروهِ تحريمي دی . (۳)

---

(۱) ومنهم من يختلف معهم في الاجماعيات وتجويز سبّ السلف وامثال ذلك . وحكمهم كأهل البدعة حيث يكره الاقتداء بهم تحريماً (ملخصًا) . امداد الفتاوی ج۱ ص ۳۸۶ باب الامامة غير مقلد کے پیچھے نماز کا حکم ، فتاوی محمودية ج۱۰ ص ۳۵۷ غير حنفی کی اقتداء .

(۲) وَمِمَّا يُنَاسب هٰذَا المَقَام التَّنْبِيْه على مسَائِل ضلّت فِي بواديها الافهام و زلّت الأَقْدَام ، وطغت الأقلام . مِنهَا : أَنّ هٰذِهِ المَذَاهب الأَرْبَعَة المُدَوَّنَة المحررة قد إجْتمعت الأمة أَو من يعتد بِهِ مِنْهَا على جَوَاز تقليدها إِلَى يَوْمنَا هٰذَا ، وَفِيْ ذٰلِك من المَصَالح مَا لَا يخفى ، لَا سِيمَا فِي هٰذِهِ الأَيَّام الَّتِيْ قصرت فِيهَا الهمم جدا ... (پوره تفصيل په حجة الله البالغه کې ذکر دی) حجة الله البالغة ۱ / ۲۶۳ بَاب حِكَايَة حَال النَّاس قبل المِائَة الرَّابِعَة وَبعدهَا ، فتاوی محمودية ج۱۰ ص ۳۵۷ غير حنفی کی اقتداء .

(۳) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « سِبَابُ المُسْلِمِ فُسُوْقٌ ، وَقِتَالُهُ كُفْرٌ » . صحيح البخاري رقم الحديث ۶۰۴۴ بَابُ مَا يُنْهَى مِنَ السِّبَابِ وَاللَّعْنِ ، و رقم الحديث ۷۰۷۶ ، و رقم ۴۸ بَابُ خَوْفِ المُؤْمِنِ مِنْ أَنْ يَحْبَطَ عَمَلُهُ وَهُوَ لَا يَشْعُرُ . صحيح مسلم رقم الحديث ۱۱۶ (۶۴) بَابُ بَيَانِ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : سِبَابُ المُسْلِمِ فُسُوقٌ .

قَالَ العلامة الحصكفي : (وَيُكْرَهُ إِمَامَةُ عَبْدٍ وَأَعْرَابِيٍّ وَفَاسِقٍ) . الدر المختار ....

۲ . کوم غیر مقلد چې په مانځه کې هر هغه کار نه کوي چې په هغې سره د احنافو په نزد مونځ فاسدیږي یا مکروه کیږي ، او متعصّب هم نه وي نو دداسې غیر مقلد پسې مونځ کول صحیح دی . د فقهاؤ په کتابونو کې ددې تذکره شته . (۱)

۲ . کوم غیر مقلد چې د ائمه اربعهٔ تقلید ته شرک وایي دده قول غلط دی او دې په ښکاره گمراهی او خطایی کې دی ، دداسې غیر مقلد پسې مونځ صحیح نه دی . (۲)

۳ . په دې فتاوی کې روستو لیکلي دي : د غیر مقلد امامت فِيْ نَفْسِهٖ جائز دی ، لیکن په دې زمانه کې چې کوم کس د ائمه أربعهٔ تقلید نه کوي او دې په خپل خیال کې دا دعوی کوي چې گني زه په احادیثو عمل کوم نو د دوی بعضې کارونه داسې دي چې په هغې سره مونځ ماتیږي ... لهذا د دوی د امامت نه ځان ساتل په کار دي . (۳)

۴ . عامي کس د پاره د یو مُجتهد امام تقلید ضروري دی ، ځکه څوک چې تقلید نه کوي نو دې د خواهشاتو نفسانیو په وجه اکثر گمراه کیږي ، لکه د نن صبا د زمانې د غیر مقلدینو د احوالو نه دا خبره ښکاره ده .

لوي لوي علماء د تقلید نه مُستغنِي نه وو ، د احادیثو او فِقهې امامان ټول مقلّدین وو ، مونږ گورو چې غیر مقلّدین په ژبه باندې دا دعوی کوي چې مونږ په قرآن کریم او احادیثو

.... قال ابن عابدین رحمه الله : وَأَمَّا الْفَاسِقُ فَقَدْ عَلَّلُوْا كَرَاهَةَ تَقْدِيْمِهٖ بِأَنَّهٗ لَا يَهْتَمُّ لِأَمْرِ دِيْنِهٖ، وَبِأَنَّ فِيْ تَقْدِيْمِهٖ لِلْإِمَامَةِ تَعْظِيْمَهٗ، وَقَدْ وَجَبَ عَلَيْهِمْ إِهَانَتُهٗ شَرْعًا ... بَلْ مَشٰى فِيْ شَرْحِ الْمُنْيَةِ عَلٰى أَنَّ كَرَاهَةَ تَقْدِيْمِهٖ " اي الفاسق " كَرَاهَةُ تَحْرِيْمٍ . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۶۰ كتاب الصلاة باب الامامة قبيل مَطْلَبُ الْبِدْعَةُ خَمْسَةُ أَقْسَامٍ . بحر الرائق ج۱ ص ۳۴۷ باب الامامة ، حلبي كبيري ص ۵۱۳ فصل في الامامة . فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۳ ص ۱۵۰ باب الامامة والجماعة .

(۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله : إِنْ تَيَقَّنَ الْمُرَاعَاةَ لَمْ يُكْرَهْ ، أَوْ عَدَمَهَا لَمْ يَصِحَّ ، وَإِنْ شَكَّ كُرِهَ . الدر المختار ۱ / ۵۶۲ باب الامامة مَطْلَبٌ فِي الْاِقْتِدَاءِ بِشَافِعِيٍّ وَنَحْوِهٖ هَلْ يُكْرَهُ أَمْ لَا ؟ ، فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۳ ص ۲۰۶ باب الامامة والجماعة .

(۲) فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۳ ص ۱۷۴ باب الامامة والجماعة .

(۳) فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۳ ص ۱۹۱ باب الامامة والجماعة .

باندې عمل کوو لیکن بیا په داسې اتباع کې اخته شي چې د اجماع د مخالفت هم څه پرواه نه کوي ، مُحرّماتِ شرعیه په خپله رای باندې حلالوي ، په عقائدو کې د اسلافو خلاف خبرې رااوباسي ، بعضې په کې مُتعه هم جائز ګڼي ، بعضې په کې په یو وخت کې د څلورو نه د زیاتو ښځو سره نکاح هم جائز ګڼري . (۱) سلفو صالحینو ته کنځل کول خو د دوی شعار ګرځیدلی ، نو بیا داسې عقیدې واله خلق په اهل السنّة والجماعة کې داخل نه دي ، او د دوی پسې مونځ کول مکروهِ تحریمي دی .

البته چې د کومو غیر مقلدینو سره زمونږ اختلاف صرف په فروعي مسائلو کې دی دوی په اهل السنّة والجماعة کې داخل دي ، که چیرته دوی په مانځه کې د اختلافي مسائلو لحاظ ساتي نو بیا د دوی پسې مونځ کول صحیح دی . (۲)

همدارنګې دا مسئله په دې فتاوی کې په نورو ځایونو کې هم ذکر ده . (۳)

په **فتاوی عثمانیه** کې ذکر دي : که یو غیر مُقلِد مُتعصِّب نه وي یعنی د سلفو صالحینو او ائمه اربعه ؤ ګستاخ نه وي ، تَقلید ته شِرک نه وایي ، او په فرائضو او واجباتو کې د مذاهبو رِعایت کوي نو دده پسې مونځ کول جائز دی ، بلکه دداسې امام پسې مونځ کول د ځان له مونځ کولو نه ډیر بهتر دی .

البته که دې د مانځه کولو په وخت په ارکانو او شرائطو کې د مذاهبِ فِقهیه ؤ لحاظ نه ساتي نو بیا دده پسې مونځ کول صحیح ندی . (۴)

---

(۱) دا کومې خبرې چې ذکر شوی دا د دوی په کتابونو کې موجود دي ، د هغه کتابونو نومونه او حوالې په فتاوی دارالعلوم دیوبند ج۳ ص۱۹۶ باب الامامة والجماعة کې ذکر دي .

(۲) فتاوی دارالعلوم دیوبند ج۳ ص۱۹۶ باب الامامة والجماعة .

(۳) فتاوی دارالعلوم دیوبند ج۳ ص۲۰۶ ، ۲۲۳ ، باب الامامة والجماعة .

(۴) قَالَ العلامة الحصكفي رحمه الله : إِنْ تَيَقَّنَ الْمُرَاعَاةَ لَمْ يُكْرَهْ، أَوْ عَدَمَهَا لَمْ يَصِحَّ ، وَإِنْ شَكَّ كُرِهَ . الدرالمختار قال ابن عابدين رحمه الله : إِنْ عَلِمَ أَنَّهُ رَاعَى فِي الْفُرُوضِ وَالْوَاجِبَاتِ وَالسُّنَنِ فَلَا كَرَاهَةَ ، وَإِنْ عَلِمَ تَرْكَهَا فِي الثَّلَاثَةِ لَمْ يَصِحَّ .... عَنِ الرَّمْلِيِّ الشَّافِعِيِّ أَنَّهُ مَشَى عَلَى كَرَاهَةِ الْإِقْتِدَاءِ بِالْمُخَالِفِ حَيْثُ أَمْكَنَهُ غَيْرُهُ ، وَمَعَ ذٰلِكَ هِيَ أَفْضَلُ مِنَ الْإِنْفِرَادِ ....

Scanned with CamScanner

د حنفي د پاره د غير حنفي پسې د مونځ کولو حکم

په **فتاوى دارالعلوم ديوبند** کې ذکر دي : فقهاء کرامو صراحتًا دا خبره ذکر کړې که يو غير حنفي کس (مثلاً د امام شافعي رحمه الله يا د نورو ائمه وُ مُقلِّد) مانځه نه مخکې شي نو ددې حکم دادی چې که ده د اختلافي مسائلو لحاظ ساتلو نو دده پسې مونځ صحيح دی .

او که لحاظ يې نه ساتلو نو که دې داسې کار کوي چې د هغې په وجه زمونږ په مسلک کې مونځ ماتيږي نو بيا دده پسې مونځ کول صحيح نه دی ، او که مُفسدِ صلوٰة کار يې نه کولو نو بيا وروسته مونځ مکروه دی . (۱)

بهر حال احتياط په دې کې دی چې دده پسې اقتداء او نشي ، بيا خاصکر چې کله امام غير مقلِّد وي نو بيا خو دا د مانځه د مفسداتو او مکروهاتو نه په آمن نه وي . (۲)

په **فتاوى عثمانيه** کې ذکر دي : که يو کس په داسې ځاى کې اوسيږي چې هلته د جُمات امام غير حنفي وي يعنى د امام شافعي ، يا امام احمد بن حنبل يا د امام مالک رحمهم الله مُقلِّد وي ، او يا امام غير مقلد وي ، نو د دوی پسې د مونځ کولو حُکم دادی :

...... وَيَحْصُلُ لَهُ فَضْلُ الْجَمَاعَةِ. وَبِهِ أَفْتَى الرَّمْلِيُّ الْكَبِيرُ. رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۶۲ باب الامامة مَطْلَبٌ فِي الِاقْتِدَاءِ بِشَافِعِيٍّ وَنَحْوِهِ هَلْ يُكْرَهُ أَمْ لَا ؟ . فتاوى عثمانيه ج۲ ص ۴۰۸ باب الامامة .

(۱) وَكَذَا تُكْرَهُ خَلْفَ أَمْرَدَ وَسَفِيهٍ ... زَادَ ابْنُ مَلَكٍ: وَمُخَالِفٍ كَشَافِعِيٍّ . لَكِنْ فِي وِتْرِ الْبَحْرِ إنْ تَيَقَّنَ الْمُرَاعَاةَ لَمْ يُكْرَهْ . أَوْ عَدَمَهَا لَمْ يَصِحَّ. وَإِنْ شَكَّ كُرِهَ. الدر المختار قال ابن عابدين رحمه الله : (قَوْلُهُ: لَكِنْ فِي وِتْرِ الْبَحْرِ) هَذَا هُوَ الْمُعْتَمَدُ . لِأَنَّ الْمُحَقِّقِينَ جَنَحُوا إلَيْهِ. وَقَوَاعِدُ الْمَذْهَبِ شَاهِدَةٌ عَلَيْهِ. وَقَالَ كَثِيرٌ مِنْ الْمَشَايِخِ: إنْ كَانَ عَادَتُهُ مُرَاعَاةَ مَوَاضِعِ الْخِلَافِ جَازَ وَإِلَّا فَلَا . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۶۳ باب الامامة مَطْلَبٌ فِي الِاقْتِدَاءِ بِشَافِعِيٍّ وَنَحْوِهِ هَلْ يُكْرَهُ أَمْ لَا ؟ فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۳ ص ۱۶۹ باب الامامة والجماعة

(۲) فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۳ ص ۲۰۶ ، ۲۲۳ ، باب الامامة والجماعة

چې که دا غیر حنفي امام د اختلافي مسائلو لحاظ ساتي مثلا د بدن نه د وینې په وتلو سره ، او په ډکه خُله اَلتِی کولو سره دې اودس کوي نو بیا دداسې امام پسې اقتداء کول جائز ده .

او که دا ددې اختلافي مسائلو لحاظ نه ساتي (مثلا دده د بدن نه وینه اووَته د خپل ځای نه روانه شوه ، یا یې په ډکه خُله اَلتِی اوکړي او ده ددې نه پس اودس اونکړو) نو دداسې امام پسې بیا د حنفي اقتداء جائز نه ده . (۱)

کوم امام چې مړو ته غسل ورکوي ، دده پسې د اقتداء حکم

مړي ته غُسل ورکول د مسلمان یو حق دی ، په خپله په دې کې هیڅ قِسمه حَقارت او

(۱) وَالْإِقْتِدَاءُ بِشَافِعِيِّ الْمَذْهَبِ إِنَّمَا يَصِحُّ إِذَا كَانَ الْإِمَامُ يَتَحَامٰى مَوَاضِعَ الْخِلَافِ بِأَنْ يَتَوَضَّأَ مِنَ الْخَارِجِ النَّجِسِ مِنْ غَيْرِ السَّبِيْلَيْنِ كَالْفَصْدِ وَأَنْ لَا يَنْحَرِفَ عَنِ الْقِبْلَةِ اِنْحِرَافًا فَاحِشًا. هٰكَذَا فِي النِّهَايَةِ وَالْكِفَايَةِ فِيْ بَابِ الْوِتْرِ . الفتاوى الهندية ۱ / ۸۴ كِتَابُ الصَّلَاةِ اَلْبَابُ الْخَامِسُ اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ فِيْ بَيَانِ مَنْ يَصْلُحُ إِمَامًا لِغَيْرِهِ.

قَالَ العلامة الحصكفي رحمه الله : إِنْ تَيَقَّنَ الْمُرَاعَاةَ لَمْ يُكْرَهْ ، أَوْ عَدَمَهَا لَمْ يَصِحَّ ، وَإِنْ شَكَّ كُرِهَ.الدر المختار وقال ابن عابدين رحمه الله : وَأَمَّا الْإِقْتِدَاءُ بِالْمُخَالِفِ فِي الْفُرُوْعِ كَالشَّافِعِيِّ فَيَجُوْزُ مَالَمْ يُعْلَمْ مِنْهُ مَا يُفْسِدُ الصَّلَاةَ عَلٰى إِعْتِقَادِ الْمُقْتَدِيْ عَلَيْهِ الْإِجْمَاعُ . إِنَّمَا اُخْتُلِفَ فِي الْكَرَاهَةِ. فَقَيَّدَ بِالْمُفْسِدِ دُوْنَ غَيْرِهِ كَمَا تَرٰى. وَفِيْ رِسَالَةِ [الْإِهْتِدَاء فِي الْإِقْتِدَاءِ] لِمُلَا عَلِيِّ الْقَارِئِ : ذَهَبَ عَامَّةُ مَشَايِخِنَا إِلَى الْجَوَازِ إِذَا كَانَ يَحْتَاطُ فِيْ مَوْضِعِ الْخِلَافِ ، وَإِلَّا فَلَا. وَالْمَعْنٰى أَنَّهُ يَجُوْزُ فِي الْمُرَاعِيْ بِلَاكَرَاهَةٍ وَفِيْ غَيْرِهِ مَعَهَا. ثُمَّ الْمَوَاضِعُ الْمُهِمَّةُ لِلْمُرَاعَاةِ أَنْ يَتَوَضَّأَ مِنَ الْفَصْدِ وَالْحِجَامَةِ وَالْقَيْءِ وَالرُّعَافِ وَنَحْوِ ذٰلِكَ ، لَا فِيْمَا هُوَ سُنَّةٌ عِنْدَهُ مَكْرُوْهٌ عِنْدَنَا ، كَرَفْعِ الْيَدَيْنِ فِي الْإِنْتِقَالَاتِ ، وَجَهْرِ الْبَسْمَلَةِ وَإِخْفَائِهَا. فَهٰذَا وَأَمْثَالُهُ لَا يُمْكِنُ فِيْهِ الْخُرُوْجُ عَنْ عُهْدَةِ الْخِلَافِ ، فَكُلُّهُمْ يَتَّبِعُ مَذْهَبَهُ وَلَايَمْنَعُ مَشْرَبَهُ . وَفِيْ حَاشِيَةِ الْأَشْبَاهِ لِلْخَيْرِ الرَّمْلِيِّ : اَلَّذِيْ يَمِيْلُ إِلَيْهِ خَاطِرِيْ اَلْقَوْلُ بِعَدَمِ الْكَرَاهَةِ. إِذَا لَمْ يَتَحَقَّقْ مِنْهُ مُفْسِدٌ . رد المحتار على الدر المختار ۱/ ۵۶۳ باب الامامة مَطْلَبٌ فِي الْإِقْتِدَاءِ بِشَافِعِيٍّ وَنَحْوِهِ هَلْ يُكْرَهُ أَمْ لَا ؟ ، فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۱۳۴ .

سپک والې نشته، او په دې کې اجر و ثواب هم شته، لهذا که يو کس بغير د طمعې او لالچ نه مړو ته غسل ورکوي، يا صرف د راهنمايۍ د پاره د غسل ورکوونکي سره ولاړ وي نو په دې سره د ده حيثيت نه متأثره کيږي، د داسې امام پسې مونځ بغير د کراهت نه جائز دی.

ليکن که د يو کس مړو ته غسل ورکول خپل کسب جوړ کړې وي، په طمعه او لالچ سره مړو ته غسل ورکوي، او خلق ده ته په سپک نظر گوري، او ده په مخکې کيدو سره خلق بيا جمعې ته نه راځي نو بيا د ده پسې اقتداء کول مکروهِ تحريمي دهٔ.[1]

دا مسئله په فتاوی حقانيه، فتاوی فريديه، فتاوی عثمانيه او کفاية المفتي کې همداسې ذکر ده.[2]

په نابينا (ړوند) پسې د اقتداء کولو حکم

که نابينا (يعنې په دواړو سترگو ړوند) د نجاست نه ځان نه شو ساتلی نو بيا د ده امامت کول مکروه دي.[3]

ليکن که نابينا په خپله يا د يو خادم په ذريعه د نجاست نه ځان محفوظ کولې شو نو د ده پسې بغير د کراهت نه مونځ جائز دی، ځکه نبي کريم ﷺ حضرت ابن مکتوم رضي الله عنه د

---

(١) قال العلامة الحصكفي رحمه الله: (وَالْأَفْضَلُ أَنْ يُغَسِّلَ) الْمَيِّتَ (مَجَّانًا، فَإِنْ ابْتَغَى الْغَاسِلُ الْأَجْرَ جَازَ إنْ كَانَ ثَمَّةَ غَيْرُهُ وَإِلَّا لَا) لِتَعَيُّنِهِ عَلَيْهِ. الدرالمختار ٢/١٩٩ باب صلاة الجنازة.

قال المرغيناني رحمه الله: وَيُكْرَهُ تَقْدِيمُ الْعَبْدِ وَالْأَعْرَابِيِّ وَالْفَاسِقِ وَالْأَعْمَى وَوَلَدِ الزِّنَا ... وَلِأَنَّ فِي تَقْدِيمِ هَؤُلَاءِ تَنْفِيرَ الْجَمَاعَةِ فَيُكْرَهُ (وَإِنْ تَقَدَّمُوا جَازَ) لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ «صَلُّوا خَلْفَ كُلِّ بَرٍّ وَفَاجِرٍ». الهداية ١/٢٥٠ باب الامامة

(٢) فتاوى حقانيه ج٣ ص١٥٦، فتاوى فريديه ج٢ ٣٢٩، فتاوى عثمانيه ج٢ ص٢٢٧. كفاية المفتي ج٣ ص٨٩ كتاب الصلاة.

(٣) "وكره إمامة العبد" إن لم يكن عالما تقيا "والأعمى" لعدم اهتدائه إلى القبلة، وصون ثيابه عن الدنس، وإن لم يوجد أفضل منه فلا كراهة. مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح ١/١١٥ فصل في الأحق بالإمامة وترتيب الصفوف، بحرالرائق ج١ ص٣٤٨ باب الامامة، تبيين الحقائق ج١ ص١٣٤ باب الامامة. فتاوى محموديه ج١٠ ص٢٦٨ _ ٢٧٢ معذور كى امامت.

Scanned with CamScanner

مدينې منورې امام جوړ کړې ؤ حالانکه دې نابينا ؤ .
بلکه کهٔ يو نابينا د نورو خلقو نه ښه عالِم او حافظ وي نو بيا دده امامت د نورو نه ډير بهتر دی . (۱)

دا مسئله په فتاوی محموديه ، فتاوی دارالعلوم ديوبند ، فتاوی حقانيه ، فتاوی عثمانيه او فتاوی فريديه کې ذکر ده . (۲)

د مُحتاط نابينا حافظ امامت عوامُ النّاس ته بغير د څه شک و شبهې نه جائز دی .
ليکن که په بِينا کسانو کې ددې نابينا نه بهتر حافظ او عالِم موجود ؤ نو بيا ددې نابينا امامت مکروه تنزيهي دی . (يعنې ډيره بهتره داده چې دا بِينا کس امامت اوکړي) . (۳)

---

(۱) قَالَ العلامة الحصكفي رحمه الله : وَيُكْرَهُ إِمَامَةُ عَبْدٍ وَأَعْرَابِيٍّ وَفَاسِقٍ وَأَعْمَى إِلَّا أَنْ يَكُونَ أَعْلَمَ الْقَوْمِ فَهُوَ أَوْلَى . الدرالمختار . قَالَ ابن عابدين رحمه الله : قَيَّدَ كَرَاهَةَ إِمَامَةِ الْأَعْمَى فِي الْمُحِيطِ وَغَيْرِهِ بِأَنْ لَا يَكُونَ أَفْضَلَ الْقَوْمِ ، فَإِنْ كَانَ أَفْضَلَهُمْ فَهُوَ أَوْلَى . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۶۰ باب الامامة .

قَالَ ابن نجيم رحمه الله : وَقَيَّدَ كَرَاهَةَ إِمَامَةِ الْأَعْمَى فِي الْمُحِيطِ وَغَيْرِهِ بِأَنْ لَا يَكُونَ أَفْضَلَ الْقَوْمِ . فَإِنْ كَانَ أَفْضَلَهُمْ فَهُوَ أَوْلَى وَعَلَى هَذَا يُحْمَلُ تَقْدِيمُ ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ ﷺ ؛ لِأَنَّهُ لَمْ يَبْقَ مِنَ الرِّجَالِ الصَّالِحِينَ لِلْإِمَامَةِ فِي الْمَدِينَةِ أَحَدٌ أَفْضَلَ مِنْهُ حِينَئِذٍ ، وَلَعَلَّ عِتْبَانَ بْنَ مَالِكٍ كَانَ أَفْضَلَ مَنْ كَانَ يَؤُمُّهُ أَيْضًا . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ۱ / ۳۷۰ إِمَامَةُ الْعَبْدِ وَالْأَعْرَابِيِّ وَالْفَاسِقِ وَالْمُبْتَدِعِ وَالْأَعْمَى وَوَلَدِ الزِّنَا .

(۲) فتاوی محمودية ج ۱۰ ص ۲۶۸ _ ۲۷۲ معذور کی امامت ، فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۳ ص ۸۰ و ص ۱۲۲ باب الامامة والجماعة ، فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۱۴۴ ، فتاوی عثمانيه ج ۲ ص ۲۲۲ باب الامامة . فتاوی فريديه ج ۲ ص ۳۶۳ باب الامامة فصل في الاحق بالامامة .

(۳) في الشرح الكبير : و ذكر في المحيط لا بأس بأن يؤم الاعمى ، والبصير اولى . و في الانفع ذكر الامام المعروف بخواهر زاده في مبسوطه : انما يكره تقديم الاعمى اذا كان غيره افضل منه ، و قد ثبت ان النبي صلى الله عليه وسلم استخلف ابن ام مكتوم يؤم الناس وهو اعمى . رواه ابوداؤد . غنية المستملي شرح منية المصلي . ص ۴۷۶ فصل في الامامة . فتاوی فريديه ج ۲ ص ۳۵۸ باب الامامة فصل في الاحق بالامامة .

همدارنګې که بینا او نابینا په ټولو صفتونو کې برابر وو نو بیا د بینا سړي امامت افضل دی.(۱)

بغیر عُذره د جمعې مونځ پرېخودونکي پسې د اقتداء حکم

که یو کس بغیر عُذره د جُمعې مونځ پرېږدي ، یا د کاروبار په وجه د جُمعې د مانځه هیڅ لحاظ نه ساتي او دا یې عادت جوړ کړې وي نو داسې کس فاسق دی او د فاسق پسې اقتداء کول مکروهِ تحریمي ده ، لهذا که داسې کس کله جُمعې ته مخکې شي نو دده پسې مونځ مکروهِ تحریمي دی، داسې کس مستقل امام جوړول مکروه دی .(۲)

خو که څوک دده پسې د مجبوریت په وجه مونځ اوکړي نو مونځ یې کیږي ، د مونځ

(۱) .... وَالْأَعْمَى يُوَجِّهُهُ غَيْرُهُ إِلَى الْقِبْلَةِ فَيَتَّبِعُ فِي أَمْرِ الْقِبْلَةِ مُقْتَدِيًا بِغَيْرِهِ . وَرُبَّمَا يَمِيلُ فِي خِلَالِ الصَّلَاةِ عَنِ الْقِبْلَةِ. أَلَا تَرَى إِلَى مَا رُوِيَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ كَانَ يَمْتَنِعُ عَنِ الْإِمَامَةِ بَعْدَ مَا كُفَّ بَصَرُهُ وَيَقُولُ: كَيْفَ أَؤُمُّكُمْ وَأَنْتُمْ تَعْدِلُونَنِي؟ وَلِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُهُ التَّوَقِّي عَنِ النَّجَاسَاتِ فَكَانَ الْبَصِيرُ أَوْلَى . إِلَّا إِذَا كَانَ فِي الْفَضْلِ لَا يُوَازِيهِ فِي مَسْجِدِهِ غَيْرُهُ فَحِينَئِذٍ يَكُونُ أَوْلَى. وَلِهَذَا اسْتَخْلَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابْنَ أُمِّ مَكْتُومٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۱ / ۱۵۷ كِتَابُ الصَّلَاةِ فَصْلٌ بَيَانُ مَنْ هُوَ أَحَقُّ بِالْإِمَامَةِ وَأَوْلَى بِهَا ، فتاوى محمودية ج ۱۰ ص ۲۷۲ معذور کی امامت.

(۲) قَالَ العلامة الحصكفي رحمه الله : (وَيُكْرَهُ إِمَامَةُ عَبْدٍ وَأَعْرَابِيٍّ وَفَاسِقٍ). الدر المختار قال ابن عابدين رحمه الله ... بَلْ مَشَى فِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ عَلَى أَنَّ كَرَاهَةَ تَقْدِيمِهِ " اي الفاسق " كَرَاهَةُ تَحْرِيمٍ . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۶۰ كتاب الصلاة باب الامامة قبيل مَطْلَبُ الْبِدْعَةُ خَمْسَةُ أَقْسَامٍ . بحر الرائق ج ۱ ص ۳۴۷ باب الامامة ، حلبي كبيري ص ۵۱۳ فصل في الامامة ، فتاوى محموديه ج ۱۰ ص ۱۰۸ فاسق کی امامت . فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۳ ص ۲۰۳ .

وَقَالَ فِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ : وَالْأَحْكَامُ تَدُلُّ عَلَى الْوُجُوبِ، مِنْ أَنَّ تَارِكَهَا بِلَا عُذْرٍ يُعَزَّرُ وَتُرَدُّ شَهَادَتُهُ، وَيَأْثَمُ الْجِيرَانُ بِالسُّكُوتِ عَنْهُ. وَقَدْ يُوَفَّقُ بِأَنَّ ذَلِكَ مُقَيَّدٌ بِالْمُدَاوَمَةِ عَلَى التَّرْكِ كَمَا هُوَ ظَاهِرُ قَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « لَا يَشْهَدُونَ الصَّلَاةَ » . رد المحتار على الدر المختار ۱ / ۵۵۲ كتاب الصلاة باب الامامة ، البحر الرائق ج ۱ ص ۳۴۵ باب الامامة قبيل مطلب في تكرار الجماعة ، كبيري شرح منية المصلي ص ۳۷۵ فصل في الامامة .

دوباره راګرځول نشته . (۱)

د ښځې د امامت حکم

د يو څو فتاؤو عبارتونه درته رانقل کوم:

په فتاوی محموديه نهم (۹) جلد کې په دې مسئله باندې مستقل فصل قائم شوی (فصل چہارم : عورتوں کی جماعت) . په دې کې ذکر دي : خالصه د ښځو جماعت (يعنی چې ښځه امامه وي او مقتديانې هم ورپسې ښځې وي دا) مکروهِ تحريمي دی ، برابره خبره ده که دا په فرضي مونځونو کې وي او که په تراويحو کې وي ، د دې ټولو همدا يو حکم دی . (۲)

دا مسئله د فقهې په کتابونو متونو او شروحو کې صرحتًا ذکر ده . لکه په نورالايضاح ، قدوري ، کنزالدقائق ، طحطاوي ، بحر ، زيلعي ، رمز ، هداية ، مجمع الانهر ، درمختار ، ردالمحتار ، فتح القدير ، نهايه ، کفايه ، او عنايه کې . (۳)

د هدايه په شرح "عنايه" کې ذکر دي چې د ښځو د جماعت سُنّيت منسوخ شوي دی . (۴)

---

(۱) فتاوی محموديه ج ۱۰ ص ۱۱۰ فاسق کي امامت .

(۲) قَالَ الحصكفي : (وَ) يُكْرَهُ تَحْرِيمًا (جَمَاعَةُ النِّسَاءِ) وَلَوْ التَّرَاوِيحَ . الدرالمختار ۱ / ۵۶۵ باب الامامة

(۳) نورالايضاح ص ۹۵ فصل فی الاحق بالامامة و ترتيب الصفوف ، قدوري ص ۲۹ باب صفة الصلاة ، کنزالدقائق ص ۲۸ باب الامامة ، طحطاوي ص ۲۳۶ فصل في بيان الاحق بالامامة ، بحرالرايق ج۱ ص ۳۵۱ باب الامامة ، زيلعي ج۱ ص ۱۳۵ باب الامامة ، رمز الحقائق ج۱ ص ۳۹ ، هداية ج۱ ص ۱۲۳ باب الامامة ، مجمع الانهر ج۱ ص ۱۶۴ باب صفة الصلاة فصل في الجماعة ، رد المحتار ج۱ ۵۶۵ باب الامامة مطلب اذا صلى الشافع قبل الحنفي ، فتح القدير ج۱ ص ۳۵۲ ، بناية ج۲ ص ۳۹۶ ، كفاية ج۱ ص ۲۵۲ ، عناية ج۱ ص ۳۵۲ باب الامامة ، فتاوی محموديه ج۹ ص ۴۳۹ عورتوں کی جماعت .

(۴) وَقَوْلُهُ : (وَحُمِلَ فِعْلُهَا الْجَمَاعَةَ عَلَى ابْتِدَاءِ الْإِسْلَامِ) جَوَابٌ عَمَّا يُقَالُ إذَا كَانَتْ إمَامَتُهُنَّ مَكْرُوهَةً فَكَيْفَ فَعَلَتْ عَائِشَةُ ؟ وَوَجْهُهُ أَنَّهَا فَعَلَتْ ذَلِكَ فِي ابْتِدَاءِ الْإِسْلَامِ وَكَانَتْ جَائِزَةً سُنَّةً تَقِفُ الْإِمَامُ وَسْطَهُنَّ فَلَمَّا نُسِخَتْ سُنِّيَّتُهَا دُونَ الْجَوَازِ . العناية شرح الهداية ۱ / ۳۵۳ بَابُ الْإِمَامَةِ .

Scanned with CamScanner

همدغه شان خبره په تبيين الحقائق، نصب الراية، طحطاوي او نورو كتابونو كې هم ذكر ده.(١)

بلكه خالصه د ښځو جماعت مكروه تحريمي دى، او علت د كراهت په بحرالرائق، كبيري، بدائع او نورو ډيرو كتابونو كې ذكر دى.(٢)

نوټ: مولانا عبدالحي لكهنوي رحمه الله په دې موضوع يوه رساله ليكلې ده چې نوم يې "تحفة النبلاء في جماعة النساء" دى، دوى په دې رساله كې د ښځو د جماعت مسئله ذكر كړې، خو ددوى رُجحان جواز طرف ته دى.

نو علماؤ ددې جواب دا كړى چې په دوى باندې په يوه زمانه كې د اجتهاد اثر وُ نو دوى دا رساله په همدغه وخت كې ليكلې. يا دا چې دا د دوى د تَفرّداتو نه ده (٣) چې ددې په وجه به اصلِ مذهب نشي پريخودى.(٤)

---

(١) لِأَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فَعَلَتْ كَذٰلِكَ حِيْنَ كَانَ جَمَاعَتُهُنَّ مُسْتَحَبَّةً، ثُمَّ نُسِخَ الْإِسْتِحْبَابُ.

تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ١/ ١٣٦ الأحق بالإمامة.

... لٰكِنْ يُمْكِنُ أَنْ يُقَالَ: إِنَّهُ مَنْسُوْخٌ، وَفَعَلْنَ ذٰلِكَ حِيْنَ كَانَ النِّسَاءُ يَحْضُرْنَ الْجَمَاعَاتِ، ثُمَّ نُسِخَتْ جَمَاعَتُهُنَّ. نصب الراية لأحاديث الهداية ٢/ ٣٣ باب الامامة قبل الحديث السادس والستون. طحطاوي ص ٢٤٦ فصل في بيان الاحق بالامامة.

(٢) وَكُرِهَ جَمَاعَةُ النِّسَاءِ؛ لِأَنَّهَا لَا تَخْلُوْ عَنْ إِرْتِكَابِ مُحَرَّمٍ وَهُوَ قِيَامُ الْإِمَامِ وَسْطَ الصَّفِّ فَيُكْرَهُ.

البحر الرائق شرح كنز الدقائق ١/ ٣٧٢ باب الامامة جَمَاعَةُ النِّسَاءِ فِي الصَّلَاةِ، حلبي كبيري ص ٥١٩ باب الامامة فصل من لايصح الاقتداء به. بدائع الصنائع ج١ ص ١٥٧ فصل في بيان من يصلح للامامة في الجملة.

ولانه يلزمهن احد المحظورين: امّا قيام الامام وسط الصف و هو مكروه، او تقدّم الامام وهو ايضاً مكروه في حقهن كالعراة فلم يشرع في حقهن الجماعة اصلا، ولذا لم يشرع لهن الاذان وهو دعاء الى الجماعة ولولا كراهة جماعتهن شرع ... زيلعي ج١ ص ١٣٥ باب الامامة والحدث في الصلاة.

(٣) مجموعه فتاوى فارسي ج١ ص ١٨٠ كتاب الصلوة.

(٤) انّ صدر الدين قال: إنّ هذه الفتاوى هي اختيارات المشائخ فلا تعارض كتب المذهب. قال وكذا كان يقول غيره من مشائخنا وبه اقول. رسم المفتي ص ١٥٣ مقدمة. فتاوى محموديه ج٩ ص ٤٤٠ عورتوں کی جماعت.

همدارنګې مولانا ابوالحسنات چې د ښځو په جماعت باندې کومه رساله ليکلې ده (او جوازيې راجح کړی) نو دا رساله محققو علماؤ نده خوښه کړې ، بلکه رد کړې يې ده.[1]

همدا د ښځو د جماعت مسئله د فتاوی محموديه په لسم (۱۰) جلد کې هم ذکر ده : چې ښځه امامه وي او نورو ښځو ته جمعه کوي نو دا مکروهِ تحريمي ده.[2]

په **فتاوی حقانيه** کې ذکر دي : صرف د ښځو مستقل جمعه (يعنی چې ښځه يې امامه وي او شاته هم ورپسې ښځې ولاړې وي دا) مکروهِ تحريمي ده . ليکن ددې باوجود که ښځې د جمعې سره مونځ کوي نو امامه ښځه به د اول صف په مينځ کې اودريږي ، د سرو په شان به مخکې ځان له نه اودريږي ، او که د سړو په شان دا مخکې اودريده نو دا ګناه ده.[3]

---

(۱) پوره تفصيل په اعلاء السنن کې اوګوره. اعلاء السنن ج۴ ص ۲۱۴ باب كراهة جماعة النساء ، فتاوی محموديه ج۹ ص ۴۳۷ عورتوں کی جماعت.

(۲) "و" كره جماعة "النساء" بواحدة منهن . مراقي الفلاح . قوله: "وكره جماعة النساء" تحريماً للزوم أحد المحظورين: قيام الإمام في الصف الأول وهو مكروه ، أو تقدم الإمام وهو أيضاً مكروه في حقهن ... حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ۱ / ۳۰۳ فصل في بيان الأحق بالإمامة. مجمع الأنهر ج۱ ص ۱۶۴ باب صفة الصلاة فصل في الجماعة ، شامي ج۱ ص ۵۶۵ باب الامامة مطلب اذا صلى الشافعي قبل الحنفي طبع كراچي ، فتاوی محموديه ج۱۰ ص ۸۰ امام کے اوصاف.

